بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

# شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

د شیخ زاید پوهنتون علمي څېړنیزه درېمیاشتینۍ خپرونه
( ټولنیز او طبیعي علوم )
د ۱۴۰۳ل (۱۴۴۶ق) کال څلورمه ګڼه، کب ـــ پرله‌پسې ۳۷مه ګڼه

۳۷

# شیخ زاید پوهنتون
# علمي څېړنو معاونیت
# علمي مجلې آمریت
# علمي مجلې عمومي مدیریت


**د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون**

**مسؤول مدیر: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب**

**علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي**

**علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل**

**متونو سمونې مدیر: نعمت الله ذهین**

**برېښنالیک: journals@szu.edu.af**



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهنمل گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |



**پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان**

**۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱٦۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لپاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟

- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د لیکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د میتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ لیکلو له سمې طریقې استفاده وشي. د قران کریم او نبوي احادیثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري لیندیو ﴿﴾ کې دې ونیول شي. د مقالې د کلمو شمېر دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (**Bahij Zar**) ، د درى لهپاره(**Bahij**) فونټونه، د عربي لهپاره (**Traditional Arabic**) او د انګلیسي متن لهپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .
- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (**Abstract**) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، بریښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

| گڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| | د ټولنیزو علومو برخه | | |
| ۱ | په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت | پوهندوی اسدالله تڼی | ۱ |
| ۲ | ښنګه کولی شو چې له دین څخه د سیاست جلاوالي فکر اصلاح شي | پوهنمل محمدساقي عادل | ۱۱ |
| ۳ | پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو ساسي نوسان اغېزې: په ۲۰۲۱ ز کال د افغانستان سیاسي نظام د بدلون قضیې مطالعه | پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب | ۲۹ |
| ۴ | د مارکیټېنګ موقف په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې | پوهنمل مامورالدین منګل | ۵۱ |
| ۵ | په خوست ولایت کې د صنعتي پارک اهمیت | پوهنمل خالد پشتون | ٦۱ |
| ٦ | د معنوي ملکیت حقوقو لنډه پېژندنه | پوهنمل فضل الرحمن ایوبي | ۷۵ |
| ۷ | د داخلي تولیداتو لپاره بازار موندنه | پوهنمل حفیظ الله مین امین | ۹۱ |
| ۸ | په اسلامي شریعت کې د ښځو حقوق | پوهنمل پاخون میاخېل | ۱۰۹ |
| ۹ | د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې د ستونزو څېړنه | پوهنمل سیف الله غروال او پوهنمل عصمت الله زیار | ۱۳۵ |
| ۱۰ | د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل | پوهنمل محمد شاهد | ۱۵۱ |
| ۱۱ | تربیت طفل تا دو سالگی در پرتو  اسلام | پوهنمل عبدالصمد روشان | ۱٦۳ |
| ۱۲ | د قضاء او حکمیت ترمنځ توپیرونه | پوهنیار رباني وحدت | ۱۷۳ |
| ۱۳ | اداره کې د تعارض  رامنځته کیدو پروسه او د هغې مدیریت | پوهنیار نذیرجان نوري | ۱۸۷ |
| ۱۴ | پر اقتصاد باندې د برېښنایي سوداګرۍ اغېزې | پوهنیار اکمال ناصر امیري | ۲۰۵ |
| ۱۵ | په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطر مدیریت | پوهنیار توریالی سنګین | ۲۱۷ |
| ۱٦ | د خوست ولایت سیاحتي سیمو لنډه پېژندنه | پوهنیار زینت الله ارمان | ۲۲۹ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د طبیعي علومو برخه | | | |
| ۱۷ | په خاوره کې د غذايي موادو معلومونې لپاره د خاورې نمونه اخیستنه | پوهنوال عبدالخلیل افغاني | ۲۴۵ |
| ۱۸ | د امیندوارۍ پر مهال د ښځو د تغذیوي اړتیاوو څېړنه | پوهندوی خان وزیر عادل | ۲۵۵ |
| ۱۹ | د وزې او غوا د شېدو پرتلنه | پوهنمل خیبر مومند | ۲٦۷ |
| ۲۰ | د خاورې پر حاصلخیزي د شنو سرو اغېزې | پوهنمل محمد اسماعیل مقبل | ۲۷۵ |
| ۲۱ | د څو حده توزیع قانون لپاره د لوی قاسم ارزونه | پوهنمل محمدزبیر تنویر | ۲۸۹ |
| ۲۲ | په ا فغانستان کې د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره اغېزمنې لارې چارې؛ ننګونې او فرصتونه | پوهنیار [1]سمیع الله حسن او پوهنیار [2]حبیب الله سلیمانزی | ۲۹۹ |
| ۲۳ | په زده کړه کې ChatGPT ته د هڅونې عوامل | پوهنیار دلاورشاه څواکمن | ۳۱۳ |
| Page 321 | Abstracts in English | | |

# په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت

پوهندوی اسدالله تنی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه
برېښنالیک: assad.t.wj@gmail.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت څېړو. پیغام نه یوازې د اړیکو بنسټ دی، بلکې دا د انسانانو ترمنځ د تفاهم او افکارو تبادلې ته لاره هواروي. موږ به د پیغام د ارزښت د بېلا بېلو اړخونو، د هغې اغېزو، او د نوو ټکنالوژیو په رڼا کې د دې ارزښت تحلیل وکړو. په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت هغه معلوماتو، مفاهیمو او احساساتو ته وایي چې په پیغام کې څرګندېږي او د استوګنې، اړیکو او تفهیم په بهیر کې مهم رول لري. د پیغام ارزښت نه یوازې د متن محتوا پورې محدود دی، بلکې د هغې د وړاندې کولو طریقه، د اړیکو وضع او د مخاطب په کلتور او تجربو هم اغېزه لري. پیغام باید واضح او په ساده ژبه وي، ترڅو مخاطب یې په اسانۍ سره مفهوم کړي او هغه معلومات ولري چې مخاطب ته ګټه ورسېږي او له اړتیاوو سره سمون ولري. سربېره پر دې د ننني تیکنالوژۍ پرمټ د پیغام رسونې مهم څېړنیز کتابونه هم په پام کې نیول شوي، ځکه چې د پیغام ارزښت د ارتباطاتو په علم کې یوه مهمه موضوع ده، چې د پیغام محتوا، شکل او د هغې د ترلاسه کولو طریقې په اړه بحث کوي. د پیغام ارزښت په مختلفو ساحو کې په ځانګړې توګه په ټولنیزو اړیکو، سوداګري او د معلوماتو ټیکنالوجۍ په برخه کې د اهمیت وړ دی. باید یادونه وکړو چې په شلمه پیړۍ کې د انټرنیټ ظهور د پیغام ارزښت او مفهوم ته نوې بڼه ورکړله، چې معلومات اوس په بېساري کچه او سرعت سره خپرېږي.د پیغام د تشریح طریقه باید د مخاطب د کلتور او عقیدو سره برابره او د احساس څرګندونه وکولی شي، ترڅو د اړیکو کیفیت لوړ کړي او مخاطب ته زیاته دلچسپي ورکړي او د ارتباط پروسه لا ځواکمنه کړي. په ټوله کې د پیغام ارزښت د ارتباطاتو په صمیمیت، وضاحت او تاثیر کې کلیدي ټکي دي او عمده موخه یې دا ده، چې ارتباطات د مختلفو نظرونو او معلوماتو د تبادلې په پروسه کې مرسته کوي، چې پیغام هم د دې پروسې لپاره یوه اساسي وسیله ده. بل دا چې پیغام له ډېرې مودې راهیسې انسانانو پیژندلی دی، د انسانانو د اړیکو او خبرو اترو د پرمختګ سره پیغام هم د وخت په تېرېدو او د ثقافتي تغیراتو په ترڅ کې بدلون موندلی. د پیغام تاریخ د ژبو، هنري نښانونو او غیر لفظي اړیکو له لارې څرګندېږي، چې د بشري تمدن په پرمختګ کې مهم رول لري. د پایلې په توګه ویلی شو چې په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت د ارتباطاتو مؤثریت او د اړیکو د بریالیتوب کلیدي عنصر دی. که پیغام مناسب او اغیزناک وي، نو دا د مطلوبو

پایلو ترلاسه کولو او د اړیکو په پراختیا کې مرسته کوي، پداسې حال کې چې ناسم یا غیر واضح پیغامونه ممکن ګډوډي او ناوړه اړیکې رامنځته کړي.

**کلیدي ټکي:** ارتباطات، اړیکې، پیغام، ټیکنالوژي، مخاطب او مالومات.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.**

الله تعالی د صداقت او ربښتینولۍ په اړه فرمایي: [ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَكُونُواْ مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ ].(القران، التوبه.۱۱۹). د اسلام مقدس دین موږ ته په دې درس راکوي چې د پیغام رسونه او تبادله نه یوازې د اړیکو جوړولو لاره ده، بلکې د ګډون او همغږۍ پیغام هم ورکوي، زمونږ خوږ پیغمبر محمد (ص) فرمايلي: "راستوونکې خبرې د زړه د صداقت نښه ده؛ دا ښيي چې د پیغام ارزښت یوازې د هغه محتوا نه، بلکې د ربښتینولۍ او صداقت په اساس هم دی". قران کریم د خلکو تر منځ د محبت او رحمت پیغام په خپرولو باندې تاکید کوي، چې دا زموږ د اړیکو د پیاوړتیا او د ټولنې د یووالي لپاره ښکاره ثبوت دی". په هره ټولنه کې ارتباطات د انسانانو ترمنځ د اړیکو یوه اساسي برخه ده. د اړیکو جوړول، پیاوړي کول او حتی ساتل په ډېرو عواملو پورې اړه لري، چې په دې کې پیغام یوه بنسټیزه ونډه لري. پیغام په ساده ډول هغه پیغامونه، نښې او سمبولونه دي چې د یوې ډلې یا فرد لخوا پرېکړه کیږي، تر څو د نظریاتو، احساساتو او معلومتو تبادله ترسره کړي. د ارتباطاتو علم د بشري تعاملاتو بنسټیزه برخه ده، چې په کې پیغامونه د تبادلې مهم عنصر دي. هر ډول اړیکه، که هغه شخصي وي، تجارتي وي یا هم مسلکي، د مؤثره پیغام رسونې له لارې ترسره کېږي. له همدې امله، د پیغام ارزښت او رول په ارتباطاتو کې یوه مهمه موضوع ده. په نهایت کې، د ارتباطاتو په برخه کې د پیغام ارزښت نه یوازې د اړخونو د تبادل په اړه وضاحت ورکوي، بلکې د بشر د تعاملاتو د مسایلو او د اړیکو د پیاوړتیا لپاره هم بنسټیزه اهمیت لري. د پیغام د مؤثریت د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې د لیږدونکي او ترلاسه کوونکي د نظر او احساساتو درک وکړو ترڅو مثبت او اغېزمن ارتباطات رامینځته شي.

## موخې

د پیغام ارزښت په ارتباطاتو کې څو مهمې موخې لري چې د خلکو ترمنځ اړیکو ته وده ورکوي، چې د مقالې له لیکلو څخه مې اصلي موخې عبارت دي له:

۱ـ درک : د پیغام ارزښت دا دی چې د اړیکو په ترڅ کې مرسته وکړي چې خلک یو بل سم وپېژني او د دوی نظریات او احساسات په سمه توګه درک کړي.

۲- داخلي اړیکو ښه کول: پیغام د افرادو ترمنځ اړیکې پیاوړې کوي، ځکه چې د خلکو ترمنځ د اعتبار احساس رامنځته کوي.

۳- تناقض کمول: د پیغام ارزښت په ارتباطاتو کې دا دی چې د ناسمه پوهه او تناقض کم کړي او اړیکې همغږې کړي.

۴- موخو ته رسیدل: د ارتباطاتو موخې په اغېزمن ډول ترلاسه کول، ځکه چې ښه پیغام د خلکو هڅونې او تشویق لپاره مهم دی.

۵-احساسات او تاثر: پیغام کولای شي د احساساتو څرګندولو لپاره یو مهم ابزار وي، له دې لارې خلک کولی شي خپل احساسات او تاثر شریک کړي.

٦- تبادله: ارتباطات د مختلفو نظرونو او معلوماتو تبادله کوي، چې پیغام د دې پروسې لپاره یوه اساسي وسیله ده.

۷- فرهنګي تبادله: د پیغامونو له لارې مختلف کلتورونه او ارزښتونه یو له بل سره شریک کېږي، چې دا فرهنګي تبادله د تفاهم او اړیکو ټینګولو لپاره مهمه ده.

۸- وخت او ځای ته پاملرنه: د پیغام د ارزښت یوه مهم اړخ دا دی چې کلتور، مذهب او عمر ته پاملرنه وشي او په مختلفو وختونو او ځایونو کې له ارتباطاتو د اړتیاوو سره سمون وخوري.

په ټوله کې، د پیغام ارزښت په ارتباطاتو کې هغه بنسټ دی چې د سالمو او مؤثرو اړیکو لپاره لازم دی.

**د کار مېتود**

دا څېړنه د کتابتوني څېړنې د میتودلوژۍ پر اساس تر سره شوې ده او د مختلفو تیوریکي او علمي سرچینو په مرسته په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت تحلیلوي. په دې څېړنه کې د علمي کتابونو، څېړنیزو مقالو، ژورنالونو، مختلفو ویب سایټونو او د ارتباطاتو یا (Communication) په اړه د بېلابېلو متخصصینو نظریات او راپورونه مطالعه شوي دي او ترڅنګ یې د معلوماتو د راټولولو لپاره هغه سرچینې انتخاب شوې دي، چې د ارتباطاتو او پیغام رسونې د تیکنالوژیکي وسایلو په اړه د اعتبار لرونکو او پېژندل شویو څېړونکو او متخصصینو له لوري لیکل شوي. سربېره پر دې د نننۍ تیکنالوژۍ پرمټ د پیغام رسونې مهم څېړنیز کتابونه هم په پام کې نیول شوي دي.

**د څېړنې ارزښت**

په ارتباطاتو کې د پیغام د ارزښت په اړه ددې څېړنې ارزښت په مختلفو برخو کې څرګندېږي، چې لاندې ځینې مهمې نقطې په ګوته کولای شو:

۱- فهم او تفسیر: د پیغام د ارزښت څېړنه د دې لامل ګرځي چې پوه شو پیغام څنګه درک او تفسیر کېږي. دا پوهه موږ ته اجازه راکوي چې د ارتباطاتو پروسه ښه کړو.
۲- اغېزناک ارتباط: د پیغام په ارزښت کې اغېزناک ارتباط یوه ممهه موضوع ده چې د اړیکو موثره تګلاره رامنځته کولی شي. کله چې موږ دا درک کړو چې څه ډول پیغامونه ارزښت لري، نو کولای شو د خپلې خبرې اغېزمنتوب زیات کړو.
۳- فرهنګي توپیرونه: مختلف فرهنګي چاپېریالونه مختلف ارزښتونه لري. د پیغام د ارزښت په اړه څېړنه کولی شي دا توپیرونه درک کړي او د بین الثقافتي اړیکو لپاره یوه زمینه برابره کړي.
۴- تصمیم نیونه: پیغامونه د معاشرتي، اقتصادي او سیاسي پرېکړو په جوړولو کې مهم رول لري. د پیغام د ارزښت معلومول کولی شي د مؤثره پرېکړو په نیولو کې مرسته وکړي.
۵- اجتماعي انډول: د ارتباطاتو په نړیواله کچه د پیغام د ارزښت مطالعه کولی شي د ټولنیزو او نړیوالو اړیکو په جوړښت کې مرسته وکړي.
٦- برخه اخیستنه او ګډون: د پیغام د ارزښت تحلیل کولی شي د خلکو د ګډون او فعالیتونو په غوره توب کې مرسته وکړي. کله چې خلک پوه شي چې څه پیغامونه دوی ته غږ کوي، هغوی په هغو کې برخه اخلي.
دا ټول ټکي د دې لپاره مهم دي چې په یوه متنوعه او متداوله نړۍ کې د ارتباطاتو اړتیاوو ته ځواب ووایو او د پیغامونو اغېزمنتوب لوړ کړو.

**ارتباطات**

ارتباطات (Communication) هغه پروسه ده چې د خلکو، ډلو یا سازمانونو ترمنځ د معلوماتو، افکارو او احساساتو تبادله کولو ته وایي. ارتباطات د مختلفو شکلونو له لارې ترسره کیدلی شي، لکه خبرې اترې، لیکنې، بدن ژبه، بصري او ټکنالوژیکي وسایل. د پیغام ارزښت په دې کې دی چې پیغام د انسانانو ترمنځ د تفاهم لاره پرانیزي. کله چې خلک ځانونه د یوه پیغام یا نښې له لارې څرګندوي، نو هغه بل کس ته د دوی احساسات او نظریات رسوي. امریکایي ژورنالیست ( والټر) وایي: د هر انسان په ذهن کې خیالونه او سوچونه په تصویري شکل موجود وي، کله چې د یوه شخص د ذهن تصویر د بل شخص د ذهن له تصویر سره همغږی کیږي، نو د اړیکو عمل پیدا کیږي، چې دې ته ارتباط ( اړیکه ) وایي (نیازی, ۱۳۹۷).
ارتباطات دوه مهمې برخې لري:
لیږدوونکی: هغه څوک چې پیغام وړاندې کوي ( منبع Sender ).

اخيستونکی: هغه څوک چې پيغام ترلاسه کوي.( Receiver)

د ارتباطاتو موخه د معلوماتو تبادله، همغږي، مفاهمه او اړيکې ټينګول دي. ارتباطات کولی شي رسمي يا غير رسمي وي او په مختلفو مسايلو پورې اړه لري، لکه کورنۍ، ښوونځي، کاري ځای او ټولنه. همدارنګه غوره او ښو اړيکو درلودلو پايله هم ډېره غوره او خوږه اغېزه لري او په اسلامي ټولنه کې دا د اخلاقو يو بهترين اړخ دی (پسرلی, ۱۳۸۶).

**د ارتباطاتو ډولونه**

عموماً ارتباطات يا اړيکې په شفاهي او غير شفاهي تقسيمېږي، دا چې د ارتباطاتو ډولونه مختلف دي او هر يو يې خپلې ځانګړتياوې لري، چې لاندې د ارتباطاتو څو پراخ ډولونه وړاندې کوو:

شخصي اړيکې

د دوستانو او کورنۍ ترمنځ اړيکې، احساساتي او ټولنيزې اړيکې چې په نږدې اړيکو کې واقع کېږي.

**مسلکي اړيکې**

دکار ځای په چاپيريال کې د همکارانو او مديريت ترمنځ، د پروژو پر بنسټ اړيکې چې د کار په موخې او دندې پورې تړاو لري.

**رسمي اړيکې**

د دولت او ادارو ترمنځ، لکه د قوانينو، پاليسيو، او نورو رسمي موادو تبادله، د ښوونځيو يا پوهنتونونو ترمنځ اړيکې.

**غير رسمي اړيکې**

هغه اړيکې چې رسمي جوړښتونه او پروسيجرونه نه تعقيبوي، د خلکو ترمنځ په ورځني ژوند کې رامنځته کېږي (نيازی, ۱۳۹۷).

**ليکلې اړيکې**

د ايميلونو، ليکونو، او نورو ليکلي موادو له لارې، د معلوماتو تبادله د ليکل شوي متن له لارې.

**شفاهي اړيکې**

د خبرو اترو سره سم په ويډيو کال، ټلويزيوني خبرو کې، يا په شخصي توګه، د معلوماتو او نظرياتو شراکت له لارې.

**غږيز او بصري اړيکې**

د غږيز موادو (لکه راډيو يا پوډکاسټ) او بصري موادو (لکه تلويزيون يا انټرنيټ ويډيو) له لارې د تاثر او پيغام رسولو لپاره کارول کېږي.

**ډيجيټل اړيکې**

د ټولنيزو رسنيو، ويب پاڼو او نورو انټرنيټي پليټ فارمونو له لارې، د معلوماتو او تجربو تبادله په انلاين فضا کې.

د ارتباطاتو هر ډول د مختلفو اړتياوو او هدفونو په اساس کاروي او د دې اړيکو د مؤثره مديريت لپاره اړينه ده، چې د هر ډول ځانګړتياوو په اړه خبرتيا ولرو (Lasswell, 2024).

**خپل منځي اړيکې**

دا هغه اړيکې دي چې دوه يا له ددو څخه ډېر خلک يې په خپل منځ کې ټينګوي، چې دا هم د اړيکو يوه په زړه پورې بڼه ده چې راښکېل خلک پکې د يو بل نظرونه ښه او په اسانۍ سره درک کولی شي.

په دغه ډول اړيکو کې يوه ښه ځانګړتيا غبرګون دی چې نېغ په نېغه د شخص له خوا رامنځ ته کېږي او په دغه ډول اړيکو کې د اړيکو ماډل ټولې برخې، اړين رول تر سره کوي (حسين, ۲۰۱۵).

**د ارتباطاتو ارزښت او اړتيا**

انسان د الله ج يو ټولنيز مخلوق دی، چې تل ټولنيز ژوند خوښوي او همېش د ځان ښېګړه د بل د ژوند په بقا کې ګوري او کله کله داسې هم پېښيږي، چې يو انسان د بل انسان د ژوند د بقا لپاره ځان قربان کړي، محتلف کړاونه ګالي، څو وکولی شي نورو ملګرو او دوستانو ته يې خير ورسېږي او د پيغمبر (ص ) د دې قول منونکي شي، چې [خير الناس من يفع الناس] بهتر د خلکو هغه څوک دی، چې خلکو ته يې نفع ورسېږي (نيازی, ۱۳۹۷).

د ارتباطاتو ارزښت او اړتيا په مختلفو برخو کې په ځانګړي ډول د پيغام رسونې په برخه کې ډېره مهمه ده. هغه که د شخصي اړيکو، مسلکي اړيکو، يا د ټوليدو په برخه کې وي، ارتباطات د راتلونکو بريالیتوبونو لپاره بنسټيز ټکي دي، چې د مقالې په دې برخه کې د ارتباطاتو ځينې مهمې نقطې راوړم:

- معلوماتو تبادله: د ارتباطاتو له لارې انسانان کولی شي خپل او د نورو معلومات شريک کړي. دا معلومات د زده کړې، پوهې او تجربو تبادله کولو کې مرسته کوي.
- روغتيا او رواني ټينګښت: ارتباطات د انسانانو ترمنځ روحي او احساسي اړيکې جوړوي، چې له لارې يې خلک احساس کوي چې يوازې نه دي او ملاتړ لري.
- د ستونزو حل: په مسلکي او شخصي ژوند کې، مؤثره ارتباطات کولی شي د ستونزو حل کې مرسته وکړي او د شخړو په حل کې مرسته وکړي.

- تیم جوړونه: په کاري چاپېریال کې، ښه ارتباطات د ټیم کار کولو او ګډو فعالیتونو لپاره مهم دي. دا د همکارۍ، انعطاف او اړیکو جوړولو لپاره بنسټیزه ده.
- پرمختګ او وده: د قوي ارتباطاتو له لارې، خلک کولی شي نوي فرصتونه پیدا کړي، نظر تبادله کړي او خپله نظریه پراخه کړي، چې دا د پرمختګ لپاره مهم دی.
- د نوښت او خلاقیت هڅونه: کله چې افراد د خپلو نظریاتو او افکارو د شریکولو لپاره یو مناسب او غوره چاپېریال ولري، نو دا د نوښت او خلاقیت هڅونه کوي.
- تل پاتې اړیکې: د دوستانه او مخلصانه اړیکو جوړول د ښه او سالم راتلونکي لپاره اړین دي. دا ارتباطات خلکو ته د ملاتړ او مرستې احساسورکوي.

په نهایت کې، د ارتباطاتو اړتیا د بشر د ژوند یوه مهمه برخه ده او د دې قوي روابطو درلودل په هره برخه کې د بریالیتوب لپاره اړین دي(Lasswell H. , 1948) .

**پیغام**

پیغام یوه معلوماتي واحد دی چې د یوې سرچینې (لکه فرد، ډله، یا سازمان) له خوا لېږل کېږي ترڅو بلې سرچینې ته ځانګړي معلومات، نظریات، احساسات یا غوښتنې ورسوي. پیغامونه مختلف شکلونه او بڼه لري، چې عبارت دي له:

- لیکلي پیغامونه: لکه ایمېل، متن، نامه یا په ټولنیزو رسنیو کې شریک شوي متون.
- شفاهي پیغامونه: لکه خبرې ګپ شپ یا مذاکرات، چې په مستقیم ډول د وینا له لارې تبادله کېږي.
- غږیز یا بصری پیغامونه: لکه تلیفوني اړیکې، ویډیو کنفرانسونه، یا د ټلویزیوني اعلانونو او ګرافیکونو له لارې.
- احساسي پیغامونه: کوم چې د احساساتو او عقایدو څرګندولو ته ځانګړي شوي وي.
- د بدن ژبه: لکه د چهرې څرګندونې، د سر ټکول یا لاسونه او حرکات، چې هم پیغامونه لېږدوي.

پیغام د ارتباط پروسې یوه برخه ده، او د پیغام لیږونکی (فرستنده) باید په دقت سره د خپل پیغام د ترتیب، منځپانګې او لېږدولو طریقه انتخاب کړي، ترڅو مفهوم او نیت یې روښانه وي. له پیغام څخه موخه د ماخذ په ذهن کې هغه خیالونه دي چې د الفاظو یا د تصویر په بڼه د ماخذ له لوري وړاندې کېږي او بیا

د يوې وسيلې پرمټ تر نورو رسېږي. همدارنګه، د پيغام اخيستونکی هم بايد د پيغام د ترلاسه کولو، تحليل کولو او په سمه توګه درک کولو توان ولري (افروز, ۱۳۷٦).

**د پيغام ارزښت او اغېز**

د پيغام ارزښت په بېلابېلو برخو کې څرګندېږي:

الف. تفاهم او همغږي

پيغام د انسانانو ترمنځ د تفاهم لاره پرانيزي. کله چې خلک ځانونه د يوه پيغام يا نښې له لارې څرګندوي، نو هغه بل کس ته د دوی احساسات او نظريات رسوي.

ب. فرهنګي تبادله

پيغام د مختلفو ثقافتونو ترمنځ د اړيکو د جوړولو لپاره مهمه وسيله ده. مختلف فرهنګونه مختلفې نښې او سمبولونه لري چې د هغو له لارې کولی شي د يوه بل کلتور په اړه پوه شي.

ج. د پرمختګ او نوښت لامل

په نړۍ کې د پيغام د نوښت امکانات زيات دي. نوې ټکنالوژي، د شبکې اړيکې او د ټولنيزو رسنيو پراختيا د پيغام نوو بڼو ته لاره هواروي، چې دا د اړيکو د پياوړتيا او د افکارو د تبادلې يوه انقلابي مرحله ده.

د. د نوو ټکنالوژيو اغېزه

په دې وروستيو کې د ټکنالوژۍ پراختيا د پيغام په مفهوم او کارونې کې بدلون راوستی دی. د انټرنېټ، ټولنيزو رسنيو، او آنلاين ارتباطاتو له لارې، پيغام د ګړنديو اړيکو او د معلوماتو د تبادلې لپاره نوي معيارونه رامينځته کوي، ټکنالوژي د ارتباطاتو په برخه کې انسانانو ته د اړيکو ټينګولو او د پيعام رسولو لپاره زمينه برابروي (Wood, 2019).

د پيغام اساسي هدف او مقصد همدا دی چې پيغام اخيستونکی تر خپل اغېز لاندې راولي او خپل هدف ( مطلوبه ټولنه ) په نظرياتو، مالوماتو او افکارو کې تبديلي او بدلون راولي. نو ځکه د هر پيغام په رسيدو سره مطلوبه ټولنه يا وګړي د پيغام په مقابل کې عمل کوي ( پيغام مني او يا غبرګون ښيي) چې منل او ردول د پيغام اغېز ښيي، که پيغام ومني او عمل ته چمتو شي نو زمونږ د پيغام اغېز مثبت دی او که يې رد کړ، نو زمونږ د پيغام اغېز منفي دی، چې دا کار له ډېرو پلټنو، تحقيق او څېړنو وروسته لاس ته راځي، ډېر وخت ته ضرورت لري چې د ټولنې عامه افکار د پيغام د منلو لپاره چمتو او بيا پيغام ورته ولېږو. ديادولو وړ ده چې د پيغام د منلو لپاره د ټولنې چمتو کول ډېر پيچلی کار دی، پوره مهارت، تجربې، پوهې او ډېرو مصارفو ته ضرورت لري، چې هر سړی، اداره او ارګان يې نه شي تر سره کولی (McEwen, 2006).

**وړاندیزونه**

۱- د پیغام د محتوا اهمیت: د پیغام محتوا باید روښانه، دقیقه او اړونده وي. ځانګړي ټکي باید خپلو هدفونو ته خامخا اشاره وکړي.

۲- د مخاطب پېژندنه: له دې مخکې چې پیغام ولیږئ، مهمه ده چې د مخاطب اړتیاوې، لیدلوری او کلتور وپېژنئ.

۳- ژور تحلیل: د پیغام د لېږد پروسې او د هغې د تاثیر په اړه ژور تحلیل وکړئ، ترڅو د راتلونکي لپاره بهتره تګلاره وټاکل شي.

۴- د بصري عناصرو کارول: د پیغام په وړاندې کولو کې بصري عناصرو لکه انځورونه، د ګرافیکونو کارول او ویدیوګانې د اشخاصو په جذبولو او د اړیکو په ټینګولو کې موثر تمامیدای شي.

**پایله**

پیغام د ارتباطاتو په ډګر کې یوه مهمه وسیله ده چې د انسانانو ترمنځ د اړیکو د جوړولو او پیاوړي کولو لپاره ژور اغېز لري. په کلتوري، ټولنیز او اقتصادي اړخونو کې د پیغام ارزښت د وخت په تېریدو سره نه یوازې زیات شوی، بلکې د نوو ټکنالوژیو په مرسته یې نوې او نوښتګرې بڼې هم رامنځته کړې دي. په دې توګه، د پیغام ارزښت نه یوازې په پخوانیو مناسباتو کې، بلکې د معاصرې نړۍ په پرمختګونو کې هم ځرګند دی. ځکه چې پیغام د اړیکو بنسټیزه برخه ده چې د معلوماتو، احساساتو او افکارو تبادله کوي. پیغام نه یوازې معلومات وړاندې کوي، بلکه احساسات هم انتقالوي. د پیغام د تګلاره، ژبه او سټایل د مخاطب احساسات اغېزمن کوي او دا مهمه ده چې د اړیکو جوړونې لپاره دا عناصر په پام کې ونیول شي. ځکه چې د موثره پیغام رسولو توان د اړیکو کیفیت لوړوي. د ښه او غوره پیغام لخوا چمتو شوي اړیکې د خلکو ترمنځ د باور، تفاهم او همکارۍ فضا رامنځته کوي .نو دې پایلې ته رسیږو چې په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت خورا لوړ دی چې کولی شي چې د مخاطب په ذهانت او سوچ کې بدلون راولي او د خپل اغیز په اساس دخلکو ترمنځ د تصمیم نیونې پروسه اغېزمنه کړي. دا په ځانګړي ډول په کاروبار کې مهمه ده، چیرې چې د پیغام ځواک د سوداګریزو موخو لپاره حیاتي دی. ددې ترڅنګ دا چې پیغام د مختلفو کلتورونو او پس منظرونو درناوی کوي ځکه پیغام په ذریعه د کلتورونو ترمنځ توپیرونه کولی شي د پیغام ارزښت بدل کړي، نو دا اړینه ده چې د مخاطب کلتوري زمینه په پام کې ونیول شي. په لنډه توګه ددې علمي مقالې چې په ارتباطاتو کې د پیغام په ارزښت لیکل شوی، مونږ په ارتباطاتو کې د پیغام ارزښت، رول، اړتیا او اهمیت په ګوته کړل او په خلص ډول مو د پیغام د ارزښت مهمو نقطو ته اشاره وکړه او د دې علمي مقالې پایله دا ده چې د پیغام ارزښت د اړیکو په جوړولو،

احساساتو په انتقالولو او د ثبات او هدف په ترلاسه کولو کې تاکونکی رول لري. د دې ارزښت د پوهیدو له لارې، خلک کولی شي خپل ارتباطات لا ښه کړي او د اړیکو کیفیت لوړ کړي.

## مأخذونه

Lasswell, H. (1948). The structure and function of communication of socity. New York : University of Illinois Press.

Lasswell, H. D. (2024, 12 28). Pumble. Retrieved from pumble.com: https://pumble.com/learn/communication/communication-models/

McEwen, W. J. (2006). The Effects of Message Intensity on Receiver Evaluations of Source, Message and Topic. journal of Communication , 340.

Wood, J. (2019). Interpersonal Communication: Everyday Encounters. North Calorina : Cengage Learning.

القران، التوبه.۱۱۹

فروز ,غ .م.(۱۳۷٦) .(روان شناسی شایعه وروشهای مقابله .کابل :دفتر نشر.

پسرلی ,ا.(۱۳۸٦) .(ان لاین ژورنالیزم .جرمني :د افغانسنان د کتلوري ودې ټولنه .

حسین ,ا .م.(۲۰۱۵) .(کمونیکشن سټډیز .لاهور :لیت پبلکشن .

نیازی ,م .خ.(۱۳۹۷) .(د اړیکو اساسات .خوست :میرویس کاروان مطبعه .

## ځنګه کولی شو چې له دین څخه د سیاست جلاوالي فکر اصلاح کړو

پوهنمل محمدساقي عادل، شیخ زاید پوهنتون، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.

**برېښنالیک:** mohammadsaqi1@gmail.com

**لنډیز**

له دین څخه د سیاست جلا کېدو مسله **له** ډېر پخوا مطرح کېږي، چې دغه مفکوره د سیکولرېزم په نوم یادېږي. ستونزه دا ده چې سیکولرېستان ادعا کوي چې دین وروسته پاتې، کلک، ثابت، غیر معقول، د پرمختګ او عصري کېدو مخالف، د فردي او ټولنیزو آزادیو محدودول، په دیني چارو تمرکز کول او داسې نور دی. آیا د سیکولرېستانو دا ادعا حقیقت لري؟ په دې څېړنه او لیکنه کې لیکوال هڅه کړې چې نوموړې ادعا د معقولو دلایلو پر اساس چیلنج کړي او له دې کوچنۍ لیکنې لیکنې اصل موخه دا ده چې لوستونکو ته وښیو، چې سیاست له دین څخه جلا نه بلکې د دین یوه برخه ده، په ځانګړې توګه د اسلام دین یوه نه جلا کېدونکې برخه ده، په دې اړه څېړنې شوې، اما په دې څېړنه کې هغه خالیګا ډکه شوې ده، چې تر دې دمه پرې بحث او لیکنه نه ده شوې. دې هدف ته د رسېدو لپاره مو په ټوله کې کتابتوني مېتود کارولی، کمي، کیفي یا په ټوله کې مختلط معلومات له ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو راټول کړي چې د تجزیې او تحلیل پروسیس وروسته په مناسبو عنوانونو او مبحثونو کې ترتیب شوي. دې لیکنې اهمیت دا دی چې دا یو پالیسي سازه څېړنه ده، څو مسلمان واکمنان او اسلامي پوهان د خپلو پالیسیو په جوړولو کې ترې ګټه پورته کړي او دغه تاریخي ستونزې ته د پای ټکی کېښودل شي.

**کلیدي کلمې**: اصلاح، جلاوالی، دین، سیاست، سیکولرېزم، لاملونه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین.**

زیاتره اسلامي ټولنې د اسلامي کلتور، تعلیم، سیاست او دیني حکومتونو پیروي کوي، چې همېشه د غیر اسلامي ټولنو له خوا د تاوتریخوالي او انحرافاتو تر برید لاندې راغلي، په منظم ډول فکري او ایډیالوژیک بریدونه ورباندې ترسره شوي، متعصبې کړۍ او هېوادونه هڅه کوي چې په لوی تمویل او لګښت سره خپل پلانونه او هیلې په بنسټیز ډول عملي کړي. له دین څخه د سیاست جلاوالي فکري (سیکولرېزم) غورځنګ د نورو استعماري خوځښتونو او فکري جګړې په څېر اسلامي خاورې ته ننوتی، چې ډېری مسلمان اولادونه یې اغېزمن کړي، زیاتره اسلامي او غیر اسلامي لیکوالانو او پوهانو د دغه

غورځنګ اړخونه او موخې څېړلي دي، چې حقیقت یې مسلمان ملت ته په مختلفو اثارو کې برابر کړی، اما داسې لیکنې نه تر سترګو کېږي چې په هغه کې د حل لارې، مخنیوی او داسې پالیسۍ په ګوته شوي وي چې اسلامي نظامونه یې په پام کې ونیسي، ترڅو دغه غورځنګ کړنو ته ځواب ووایي. په دې لیکنه کې به د دغو اثارو او څېړنو یوه برخه، چې دې غورځنګ مفهوم، ماهیت، تاریخي سیر او حقیقت جوړوي وڅېړو او بله برخه د دې لیکنې دا ده چې څنګه کولی شو د دغه غورځنګ د نفوذ مخنیوی وکړو؟ هیله ده چې له یوې خوا دا لیکنه د ځوانانو او لوستي طبقې په منځ کې د سالمې فکري فضا په رامنځته کولو کې ګټوره تمامه شي او له بلې خوا اسلامي ټولنې او نظامونو ته د دغه حرکت او د هغې د موخو او پایلو په اړه سم پوهاوی وړاندې کړي ترڅو دغه غورځنګ کړنو او نفوذ مخنیوي لپاره ګټورې پالیسۍ په کار واچوي.

د سیکولرېستانو لخوا له سیاست څخه د دین جلا کولو ادعا او هغه جګړې او جنجالونه چې په دیني ټولنو کې رامینځته شوي، د دوامداره داخلي جګړو، تاوتریخوالي او بې شمېره بدو پایلو لامل شوي او لامل کېږي. ستونزه دا ده چې له ډېر پخوا څخه تر نن پورې د دین او سیاست ترمنځ دا ستونزه حل نه شوه او لا هم جریان لري، نو لازمه ده چې لومړی د هر حرکت مفهوم وڅېړل شي، په هغه کې کارول شوي اصطلاحات او تشریحات وارزول شي. دویم د هغه اهداف او غوښتنې سم او ژور درک شي، ترڅو څېړونکي ته دا وړتیا ورکړي چې د هغه حرکت په اړه قضاوت او پرېکړه وکړي او داسې حل لارې یا پالېسیو ته زمینه برابره کړي چې اسلامي نظام وکولی شي د وړاندیز شویو حل لارو یا پالیسو په پام کې نیولو سره پېښې شوي ستونزې ته د پای ټکې کېښږدي. موږ هم په دې څېړنه کې لومړی له دین څخه د سیاست جلاوالی «سیکولارېزم» «علمانیت» مفهوم، لغوي او اصطلاحي پېژندنه، تاریخي سیر او بیا مو د دا ډول فکرونو د اصلاح لپاره ځینې د حل لارې او پالیسیو پیشبیني کړې ده، چې دې هدف ته د رسېدو لپاره له کتابتوني، اکتشافي، توضیحي، انتقادي او نورو مېتودونو څخه ګټه پورته شوي ده.

## د څېړنې موخې

۱- د دغه څېړنې اصلي موخه دا ده، چې روښانه کړي، چې ستونزه په دین کې نه بلکې د سیکولرېستانو په تحلیل او اراده کې ده.

۲-لوستونکو او په ټوله کې اسلامي او غیر اسلامي ټولنو ته د اسلام دین سیاسي انځور په سم ډول وړاندې کول.

۳- د اسلامي حکومتونو مسؤلینو ته د ځینو کړنو په ګوته کول ترڅو له داسې کړنو مخنیوی وکړي چې له امله یې دین ته زیان اړول کېږي او خلک سیکولرېزم ته مجبورېږي.

د څېړنې مېتود: د ټولنیزو علومو په برخه کې څېړنه تر ډېره کتابتوني، ساحوي او د اوسنۍ تکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل دي؛ نو ما هم د دې مقالې په لیکنه کې کمي، کیفي یا په ټوله مختلط معلومات له ملي او نړیوالو معتبرو کتابونو څخه راټول کړي چې د تجزیې او تحلیل پروسیس څخه وروسته مې په مناسبو عنوانونو کې ترتیب کړي. په دې هیله، چې د قدرمنو لوستونکو تنده به تر یوه بریده ورباندې ماته شي.

**لومړی مبحث: له دین څخه د جلاوالي فکر (سیکولرېزم) لغوي او اصطلاحي تعریف**

په دې اړه زیات شمېر تعریفونه شوي، چې ځینو علماوو او پوهانو د (Secularism) اصطلاح د (دین او سیاست جلاوالی) په معنی کارولی او ځینو بیا د (Etheism) (الحاد) په معنی کارولی او دغه تعریفونه په ټوله کې مشابه او ورته والی لري چې موږ دلته له ددواړو ډلو څو تعریفات رانقل کړي:

مصری مفکر ډاکټر یوسف قرضاوي او ملګري یې: د «سیکولارېزم» کلمه که په زور وي او یا په زېر، یوه اروپایي کلمه ده او په کار وه چې په "بې دینی، الحاد او لادینیت" ژباړل شوې وای؛ ځکه چې د کلمې اروپایي اصل د "هغه څه چې دین نه وي" معنی لري او یقیناً هغه څه چې دین نه وي هغه په بې دینۍ پورې اړه لري او په مقابل کې یې د "علمانیت" (علم پالنه) کلمه غوره کول د مسلمانانو احساساتو لپاره فریب دی.

سیکولرېزم یا سیاست له دین جلا کول هغه باور دی چې، دیني بنسټونه باید په دولتي یا سیاسي چارو کې مداخله ونه کړي یا که په لنډ ډول ووایو دین او سیاست باید یو تربله مداخله ونه کړي، دین باید خپلې چارې تنظیم کړي او سیاست باید خپلې چارې تنظیم کړي (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۱۷).

**دویم مبحث، د سیکولرېزم تاریخي سیر**: سیکولرېزم د تاریخ په اوږدو کې د انسان له پیله تر ننه پورې شتون لري او په مختلفو تعبیرونو او ادعاوو سره منځ ته راغلی. سیکولرېزم د لومړي ځل لپاره په منځنیو پېړیو کې څرګند شو، چې اصل لامل یې د کلیسا منفي فعالیتونه وو. د دې غورځنګ د ودې زیات شمېر لاملونه او پړاوونه تېر کړي چې په جلا جلا عنوانونو کې یې د مطالعې لاندې نیسو:

لومړی مطلب: د سیکولارېزم د نشأت او ودې دوره؛ د لومړي ځل لپاره د سیکولریزم کلمه، د «جورج هالي اوک» برتانوي لیکوال لخوا په ۱۸۴۶م کال کې وکارول شوه چې اصلي بنسټ او رېښه یې په منځنیو پېړیو کې وه (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۲۲).

دویم مطلب، د معتدل او آرام سیکولرېزم دوره؛ دا دوره په 17 او 18 پېړیو کې رامنځ ته شوه، په دې دوره کې دین یوازې کلیسا ته ځانګړی شو چې د حکومت په چارو کې لاسوهنه ونه کړي. دین او عبادت یوه فردي مسئله وګڼل شوه، چې ساینس له دین څخه په ټولو برخو کې جلا شو، فکر دا و چې دیني

زده کړه فکر کنګل کوي او د انسان عقل او حواس خرابوي، ديني مضامين ټول لغوه شول، همدا ډول د ادب، اقتصاد او رسنيو په ډګر کې هم وشول، د کليسا منجمد فکر يې وغندلو، ټولې چارې د سيکلوريزم په معيار تحليل او ارزول کېدې.

**درېيم مطلب، د سيکولريزم افراطي مرحله:** دا مرحله د ۱۸ پيړۍ په پای او د ۱۹ پيړۍ په پيل کې رامنځته شوه چې د "هيګل" او "کارل مارکس" په نظرياتو کې موندل کېدی شي. فريدريش هيګل د تضاد په قانون باور درلود او د انسان د پرمختګ لپاره يې اړين ګڼلو. هېګل ماده د انسان د فکر پايله ګڼي، اما کارل مارکس بيا د کائناتو او هر څه اساس ګڼي او دين د ملتونو تخريب او د پرمختګ خنډ يې بولي. مارکس وايي چې اقتصادي اړيکې د ټولنيز او فکري ژوند لاره ټاکي او اړينه ده چې د بشري تاريخ په مادي اساس تفسير شي او ټولې تاريخي جګړې، سياسي، فکري او مذهبي خوځښتونه د مادي شيانو پر بنسټ ولاړ دي (نيازی، ۲۰۱۱م، ص ۲۲).

**درېيم مبحث، د سيکولريزم د لېږد او پيدايښت لاملونه**

**لومړی مطلب، په غربي ټولنه کې د لېږد او پيدايښت لاملونه:** کله چې په منځنيو پيړيو کې مسيحيت تحريف شو، نو د سيکولريزم يا د دين څخه د سياست جلا کېدو مفکورې ته زمينه برابره شوه. ديني مراکزو ديني رسالت هېر کړ، مذهب خپل اصلي خوی او ځانګړتياوې له لاسه ورکړې، کليسا د دين په نوم ځان مطلق اله ظاهر کړ او د ظالمانه قوانينو په وضع کولو سره يې ورځ په ورځ د ژوند چاري ننګولې، لومړی ګام يې دا و چې د تثليث عقيده يې فرض کړه، هغه چا به چې نه منله د تيغ نه به يې تېرولو، هر څه به يې چې د طبيعت خلاف وو حرام اعلانول، هېچا د اعتراض حق نه درلود، که چا به يې پر ضد خبره وکړه د بې دينۍ او تکفير مُهر به پرې وهل کېدو، له تکفير شويو اشخاصو سره هر ډول مراوده (تګ راتګ) بند و. تکفير ځانګړي تشريفات درلودل، لکه د لعنتپاڼه، د متوفی وصيت پاڼه، د خاوند او ښځې واده، پاچاهانو ته د هر ډول جنايت او ظلم جواز ورکول.

ټولنه مادي حريصه او فاسده شوه، روحانيت د تعادل په نوم افراطي شو، علوم يې د دين په نوم خفه کړل، يوازې ديني علوم يې علوم وبلل، د نورو علومو دروازې يې وتړلې، بې ګټې او حصول يې د وخت ضايع او د اخرت تاوان وبللو، علماء يې فرار، مړه او ژوندي ځوړند کړل. د دين په نوم يې حکومت کاوه او مخالفين يې د دين په توره وهل، هر چا به ديني تظاهر کاوه. د دين په نوم سالم تحرک منجمد شو، علماء او روحانيون مفتخوره شول، نالايقه، عياش او فحاش اولادونه په لويو منصبونو وګمارل شول، چور او تالان شروع شو. مدنيت په وحشت، پيشرفت په پسرفت بدل شو. نه يوازې دا دنيا يې توره تياره کړې وه، بلکې هغه دنيا يې هم پر خلکو خرڅوله. د جنت او دوزخ کيلي له پاپانو سره وه. سړی به چې مړ شو؛

زوی به یې له پاپ یا کاردینال څخه مړ پلار ته په جنت کې کور اخېسته، که به وارث پیسې نه درلودې نو یوه خالي نمره ځمکه به یې اخېستله او بیا به یې په قسط ابادوله، مړی به تر هغه ځنډېدلی و چې وارث به پاپ ته ټولې پیسې ور کړې نه وې (نیازی، ۲۰۱۱م، ص ۱۷- ۷۰).

جنتي ځمکې په موقعیت پورې اړه درلوده؛ د حضرت عیسی علیه السلام قصر او یا کوم سینټ بنګلې ته نژدې ځمکه ګرانه وه. دا د مړي وارث په پیسو، زور، عذر او واسطه پورې اړه درلوده چې څنګه کور یا ځمکه واخلي. دا وخت د استعدادونو رشد، ابتکار، کشفیاتو او د علومو شوق زولانه شوی و؛ ټوله اروپا په سخت جهالت کې راګیره وه، مسلمانانو اروپا ته په هغه وخت کې ساعت یووړ، هغوی د ساعت له زنګه ویرېدل او د خاص مجلس په وخت کې به یې لیرې ایښودو چې مسلمانانو پیریان پکښې کښینولي دي او زموږ حال اخلي. د کور دروازې ترشا هم چا د ښځې څخه پوښتنه نشوای کوله، ځکه چې د دوی په اند ښځه نجسه او د شیطان له ذات څخه وه چې نکاح او نزدیکت ورسره ښه سړي نه کاوه. همدا وجه وه چې روحانیونو واده نه کاوه او ویل به یې چې که ښځه ښه وای عیسی علیه السلام به کړې وای. د ښځې سره په کار کې مشوره عیب او خطا کار و. کوچني زوی به د مور او خور سره پر یوه کاسه ډوډۍ نه خوړله چې رعب او ستاره یې کمه نشي، دا ځکه چې ښځه بې عزته او بې غیرته شی و؛ هسې نه چې دا ماشوم بیا بې غیرته لوی نشي، ان که ښځه به د نارینه پر جامو ولګیده هغه به مرداره وې، پرې کوله به یې، ښځه په بازار کې د خرې او غوا سره سودا کېده، یوه سړي به چې زړه یا بدرنګه ښځه په ځوانه یا ښایسته بدلوله، نو د ځوانې ښځې سړي ته به یې په تفاوت کې غوا، خره یا څو منه جوار سر ورکاوه. حکومت د اشرافو، خانانو او پاپانو په لاس کې و، عام خلک یې په مختلفو نومونو زبېښل، چې دغه حالت اروپا په ذلت او خوارۍ کې واقع کړه او مسلمانان تر اطریش ورسېدل او نژدې وو چې ټوله اروپا تر تسلط لاندې راولي. په دغه وخت (15-18 پېړۍ) په اروپا کې یو شمېر مفکرین پیدا شول چې د وضعې بدلون غوښتونکي شول، خو دا کار تر هغه نه کېده چې د علم تعریف بدل او پاپان په کلیسا پورې محدود نه کړل شي. پاپانو چې د اخرت په نوم خندا حرامه کړې وه، دوی خلکو ته وویل چې وخاندئ، وګډېږئ او له دغه څو ورځو خوند واخلئ، د غیبي خبرو او فلسفي تفکر پرځای مادي ژوند ته توجه په کار ده، یو څو ورځې ژوند دی او پاپان یې د خپل عیش لپاره د اخرت په نوم راباندې خرابوي، څه چې دي همدا دنیا ده، باید ګټه او لذت ترې واخلئ. دا ډول مفکرین او غیرمذهبي علماء ورځ په ورځ ډېرېدل. روحانیونو د دغه نوې طبقې پر خلاف سخت عکس العمل وښود، ډېر یې بندیان، مړه او ژوندي پوست کړل، خو دغه نوي ډلې، خپل فکري انکشاف، تبلیغ او مبارزې ته ادامه ورکړه، خلکو ته یې د پاپانو اصلي څېرې رسوا کړه.

دغه نوې طبقې ته روشنفکران وویل شول، چې د خپلو خلکو هوساینې لپاره یې فکر کاوه او د سر په بیه یې د نجات او پرمختګ مبارزه کوله. یعنې هم یې ځان او هم یې ټولنه له تاریکه ایستله، هم مفکر وو او هم خدمتګار، په دغه لار کې زرګونه روشنفکران مړه شول چې په نتیجه کې د پروتستانت مذهب راپیدا شو او مسلحانه مبارزه یې وکړه، په لکهاوو پروتستانتان مړه شول، اما پاپان او روحانیون یې له قدرته وغورځول او د کلیسا دروازې یې ورپسې وتړلې، هرچا ته د مدرسو دروازې خلاصې شوې، حکومت د عوامو په اختیار کې شو، ټوله توجه تولید او مصرف ته وه. په سرعت سره د بې دینۍ او ماده ګرۍ فرهنګ خپور او مسلط شو، هر چا په بې دینۍ فخر کاوه، مادي ترقي وشوه، پخوانی برم یې اعاده شو. دغه وخت مسلمانان، د غرب برعکس، متمدن وو. کله چې اروپا د اشرافیت او مذهب تر تسلط لاندې د تاریخ توره دوره تېروله، په اسلامي قلمرو کې علم و، تمدن و او پرمختګ و. مسلمانانو د ابونصر فارابي، ابن رشد، ابن عربی، امام غزالي، البیروني، ابن سینا، ابن خلدون، بهزاد، خوشحال خان ختک، سنائي، مولوی... علماء او مفکرین درلودل. د اسلامي تعلیم له برکته دغو مفکرینو رشد وکړ، مسلمانانو د دغو علماوو د تلاش په نتیجه کې ترقي وکړه، د بشري تاریخ زرین باب یې جوړ کړ چې د غرب اوسني پرمختګ بنیاد یې تشکیل کړ، اما اسلامي نړۍ هېڅ استفاده ترې ونه کړه. اسلام د علومو حصول او په کائناتو کې تفکر، تلاش او د هغه تسخیر د هر مسلمان وجیبه وګڼله. د انسان شرافت یې په علم و ادب کې کتلو نه په مال او نسب کې. دلته ملا او روحانیون تر هر چا ډېر د اخرت له حسابه ویرېدل، مادي ژوند یې د ټولنې تر متوسطې طبقې کښته و.

د پورته لاملونو علاوه نور ګڼ شمېر لاملونه شتون لري چې له سیاست څخه د دین جلا کولو مفکورې ته یې لاره برابره کړه، دا چې د مقالې متن زیات اوږد نشي یوازې د ځینو مهمو لاملونه نومونه ذکر کوو او که مناسبه وبلل شوه په راتلونکي کې به د یو کتاب په بڼه په تفصیل سره بحث پرې وشي:

**۱- د عیسویت او انجیل تحریف**

**۲- د کلیسا بغاوتونه:** لکه مذهبي بغاوت، سیاسي بغاوت، مالي او مادي سرغړونې، اوقاف، عشر، صدقه، خیرات، ګمارنې، د لومړی کال مالیه، د علم او پوهې سره د کلیسا جګړه، اوولسمه پېړۍ او له کلیسا سره د علمي نظریاتو د مخالفت پیل، د نیوټن د جاذبې او انقلاب نظریه، اتلسمه پېړۍ، د فرانسې انقلاب او لاملونه یې، پټ شیطاني ځواکونه، سیکولرېزم، نیکولا ماکیاولي او د حکومتولۍ اصول (ایوبي، ۱۳۹۲، ص. ۲۳).

**څلورم مبحث: په اسلامي نړۍ کې د سیکولرېزم د خپرېدو ځینې مهم لاملونه:** کله چې غربي ټولنو ته دین بې معنی ښکاره شو، نو د دوی هڅه دا وه چې نورې ټولنې هم له دین خلاصې کړي او دین له

سیاست جلا کړي. مسلمانان هغه وخت خوار شول چې حکومت په اسلام کې د ولس مال و شخصي شو، حاکمانو علماوو ته په سپکه وکتل، ددیني او عصري علومو حصول چې ښه رونق یې موندلی و محدود کړل، د دین په نوم بې دیني پیل شوه، د بیان ازادي چې د اسلامي تمدن یو اصل دی محدود شو، اجتهاد او تفکر منجمد شو، حاکمان ظالمان او د دولت چارې نالایقه، عیاش او فحاش اولادونو ښځو ته حواله شوې، په اسلامي قلمرو کې عیاشي او فحاشي خپره او اسلامي مدنیت په وحشت بدل شو، حاکمانو د یوروپ پاپانو او اشرافو ځانګړتیاوې خپلې کړې؛ د استعدادونو رشد او ابتکار مخ یې ونیوله، د مثبت تغییر او پرمختګ لار چې د اسلامي نظام روح وه بنده کړه. هغه اسلام چې خلک یې د ارتجاع او منفي عنعناتو د تعقیب څخه منع کول پرېښول، دا وخت د خرافاتو، مضرو رواجونو او عقبګرائي ښکار شو. ښځو چې په اسلام کې یې د نر په شان تجارت، کسب وکار، د علومو د حصول موقع او د بیان ازادي درلوده د اروپا د پاپانو د وخت د پېر او پلور متاع شوې. هغه ښځه چې پیغمبر (ص) وایي چې د نارینه ورور دی، دا وخت مینځه شوه. که پاپانو ښځو ته نجس جنس وایه، اوس هم ډېری خلک په عام محضر کې د ښځې په نوم اخېستو شرمیږو او /حیاء دی وي/ ورسره وایي. که پاپانو ښځه د شیطان له ذاته ګڼله نو موږ ته هم دا تعریف په زړه کې خوند راکوي. که زموږ پاک رسول په مهمو کارونو کې د ښځو سره مشوره کوله او بیعت یې ځیني غوښت، اوس هم ډېری خلک د پاپانو په پیروۍ له ښځو سره مشوره عیب ګڼي. په اروپا کې روشنفکران د خپلې ټولنې د شرائطو پایله او ردالعمل و خو زموږ روشنفکران د ټولنې د عمیق درک په نتیجه کې نه دي رامنځته شوي بلکې کوم هېواد ته تللي، هلته یې تعلیم کړی، د هغو فکر یې اخیستی او خپل وطن ته یې د متاع په شان وارد کړی بې له دې چې فکر وکړي چې دا متاع د ده په وطن کې اخېستونکي لري او که نه؟ دوی په نوره نړۍ کې پرمختګ ولید او فکر یې کاوه چې خپل وطن یې هم په دې توګه هوسا شي، خو نه و پوهه چې د ده د ټولنې شرائط دغه وارداتي متاع ته برابر دي او که نه؟ ایا دغه نوي تخم ته چې ده راوړی دی او په نوره نړۍ کې یې ښه نتیجه ورکړې، دده په وطن کې ځمکه، اب و هوا ورته اماده ده او که نه؟ ایا زموږ شرائط همداسې دي لکه د هغوی. زموږ ډېری لوستو کې دا توان نشته چې هغه څه چې په نورو هېوادونو کې یې زده کړي دي د خپلې ټولنې د شرائطو سره منطبق او پخپل وطني چوکاټ کې یې واچوي؛ ځکه دا کار د خپلې ټولنې د سمونې او جوړونې پوهه غواړي چې دوی یې نه لري. یعنې دوی باید دواړه پوهې لرلي وای، چې دې سخت کار ته دوی ځان نشي ټینګولی. واقعاً، زور هم غواړي. موږ داسې ملي حکومتونه هم نه دي درلودلي چې دا دواړه پوهې سره همغږي کړو. اسانه کار کاپي، تقلید او واردول دي چې ډېر دقت او د مغز ستړیا نه غواړي.

زموږ روشنفکران، برخلاف د نورې نړۍ روشنفکرانو، نورې نړۍ ته په تلو سره له خپلې ټولنې، تاریخ او فرهنگه لیرې او بیگانه شول. د دوی اکثر چې په واسطه یې د خارج بورسونه اخیستي، د پرمختللي نړۍ روشنفکرانو تقلید او پیښې کولې؛ په داسې حال کې چې د هغوی په شان نه وو. د پرمختللي نړۍ ښکلي ښارونه، دنگې ماڼۍ او د خلکو ارام ژوند یې لیدلی و، په موټر، الوتکې او اورگاډي کې سپاره شوي وو او د پرمختللي نړۍ د تمدن زرق و برق یې سترگې وړې وې خو د هغوی په شان خپلې ټولنې ته گټور نه وو؛ هغوی په زیار او د سر په قربانۍ گټلې وه او دوی اسانه په عیش وعشرت پیدا کړې وه. دوی نه یوازې خپلې ټولنې ته گټور ثابت نه شول بلکې برعکس مضر واقع شول او د واقعي روشنفکره طبقې د راپیدا کېدو په مخ کې هم خنډ شول چې کیدای شوای عصري تمدن یې د خپلې خاورې پر تاریخي، فرهنگي او ټولنیزو پایو بناء کړی وای. دا څکه زموږ دین او فرهنگ د اروپا د پاپانو د وخت په شان د علم، تفکر او پرمختگ دښمن نه دی، خو زموږ زیات شمېر روشنفکران نه پوهېدل او ونه توانیدل چې نوی تمدن د خپلې ټولنې په قالب کې عیار کړي. دریشي اغوستل، شراب خوړل، فحاشي کول او د پلار پر ږیره، خبرو او لباس خندل خو څه تمدن نه دی. دوی د کعبې په نیت ترکستان ته تلل. یو صوفي پر یو ویاله اودس کولو چې استنجاء کې یې د پزې د پریولو دعا لوستله، یو ملا ورته پر غوږ شو چې لاالیه ښه دعا ده خو ښوروی دې خطا کړي په بریتو کې یې خندل، نو زموږ روشنفکرانو اکثره د استعمار په خدمت کې فهمیده یا نافهمیده د لارې د کشف د ډلې یا څاروان دنده اجراء کړي. استعمارگر دمخه تر دې چې کوم هېواد ته لاړ شي، د هغه هېواد په باره کې د خپلو مستشرقینو سره مشوره کوي، پلان جوړوي او بیا په همغه هېواد کې د هغو کسانو سره تماس نیسي چې دوی تربیه کړي دي (په اصطلاح روشنفکران) چې څه باید وشي؟ دغه روشنفکران دوی ته د هېواد د اشغال لنډې لارې ورښائي او خپله هم ددغه پلان د عملي کېدو په لار کې د مخلصانه همکارۍ ټېر وهي. البته استعمارگر خو داسی نه ورته وایي چې زه ستا هېواد نیسم، تا او ستا مور وپلار او اولاد مریان کوم او هستي مو درلوټوم، بلکې ورته وایي چې موږ ستا د قوم لوږه، غریبي، ستومانه ژوند او ظالم حاکمان وینو د انسانیت په حکم دلته نا ارامیو. که څه هم موږ و تاسې یو لړ ټولنیز او فرهنگي توپیرونه لرو خو په انسانیت کې سره شریک یو. زموږ ټولو یو مذهب دی او هغه انسانیت دی. دا نور مذهبونه ترک کول په کار دي. انسانیت پوله نه لري او دا څمکه د ټولو انسانانو مشترک مال دی. وطن هم یو ارتجاعي کلمه ده، جهاني فکر کول په کار دي. هغه څوک چې د خپل وطن د گټو په فکر کې دي مرتجع او عقب مانده دي. مترقي هغه ده، چې ټول بشریت خیر وغواړي او پر انترناسیونالزم یې عقیده وي. کوم اخلاق، عفت، عصمت، ناموس چې دین تاسې ته وایي منحطي پدیدې دي. د دنیا له نعمتونو خوند اخیستل په کار دي. که تاسې زموږ هېواد ته ازاد نشۍ راتلای او په

کلیو کې مو نه شي ګرځېدلی دا یو انترناسیونال امنیتي او ایدیالوجک مصلحت دی او چنداني ضرورت هم نشته، موږ خو سم یو خو ستاسې سرحدونه باید موږ ته خلاص او کلیو ته مو دسترسی وي چې د انسانیت، وروروليۍ، برابرۍ، ازادۍ او ډموکراسۍ پیغام پکښې خپور کړو. موږ ستاسې سره یوازې د نړیوالې ورورولۍ پر بنیاد مرسته کوو. څرنګه چې ددغو ایزمونو یا کراسیو پیدایښت په غربي، اروپايي او شرقي هېوادونو کې شوی دی نو زموږ روشنفکرانو ته ویل کېږي، چې تر هغو څوک نه مترقي کېږي، چې د دغه ایزم اصلي وطن تر خپل وطن محترم او د دغه ایزم د وطن خلک تر خپل ورور او اکا تر زوی ښه ونه بولي او که ضرورت شي خپله وینه به د دغه نړیوالې ورورولۍ د ساتلو او خدمت لپاره ورکوي. موږ چې ستاسې وطن ته راځو په همدغه منظور راځو کوم خلک چې وایې دا زما وطن دی، پردی دې یې نه خوري، ناپوه دی. موږ پردي نه یو. کوم خلک چې موږ پرادي بولي له انسانیته پردي دي، اشرار دي، تروریستان دي او د بشر دښمنان دي. دوی باید محوه شي که څه هم د چا ورور وي. تاسې ګورۍ چې زموږ ورونه او زامن ستاسې په هېواد کې چې زموږ و ستاسې ګټې په کښې شریکې دي، د همدې اشرارو او ترورستانو په خلاف د نړیوالې زمه وارۍ د تحفظ لپاره جنګېږي. که څه هم موږ پر تاسې احسان نه اچوو خو تاسې باید زموږ شکرګذار یاست چې خپل اولاد او د تندي په خولو جوړه شوي پیسه ستاسې په خدمت کې ابږدو (اعظم، ۱۳۹۱، ۱۱- ۲۰).

دغه انحرافات په اسلامي ټولنه کې ددوو بدمرغیو لامل شول: یو «علمي شاتګ یا انحراف» هغه هم په داسې حال کې چې اروپا د وروسته پاتې والي دورې څنډلې وې او د علمي پرمختګونو او کشفیاتو په لور یې ګام پورته کړی وو. دوهم د اسلامي هېوادونو «مادي او معنوي کمزورتیا» چې د کفارو لپاره یې خوندوره او غوره مړۍ جوړه کړې وه او اروپایانو ټوټه ټوټه له ستونې تېرول.

د اسلامي ټولنې ژور انحراف او د ګمراه کولو په موخه د «شرقي او غربي نړۍ ناوړه پلانونو او پروګرامونو مسلمانان له هراړخیز انحراف سره مخ کړل، د عصري او دیني علومو ټکرونه یې شروع کړل، په عقیده او د الوهیت په مفهوم کې انحراف رامنځ ته شو، د غیر اسلامي حکومتونو، واکمنانو او روحیاتو تر اغیز لاندې راغلل، په فکري او عملي انحرافاتو کې ډوب شول، د صفویانو او عثمانیانو ترمنځ د شیعه او سوني په نوم جنګونه رامنځ ته شول. د مسلمانانو بې شمېره غلط فهمۍ، ناپوهۍ، په ځینو هېوادونو کې د خلافت میراثي توب، د افتراضي فقهو نشتوالی او له نویو حوادثو او فقهي پېښو سره نه همغږي؛ په داسې حال کې چې اسلامي شریعت د ژوند ټول اړخونه په هره زمانه کې تر خپل پوښښ لاندې راولي او تر قیامت پورې به دوام لري، خو له بده مرغه د نویو مسایلو پر مخ د اجتهاد دروازه وتړل شوه او اسلامي فقې ونه شو کړای چې د نویو مسایلو سره همغږې شي. له همدې وجې، سکولرانو ته د نفوذ دراوزه پرانستل شوه. اسلامي حکومتونو او خلافتونو د وسلو او پوځ له اړخه مجهز او منظم پوځ ته اړتیا درلوده او په دې برخه

کې بايد د علماوو او ديني خلکو له خوا مهم لوائح او لارښوونې وړاندې شوې واى، اما علماوو له دې مسائلو سره هيڅ تړاو نه درلود، چې په ترڅ کې يې له اروپايانو کومک وغوښت ترڅو يوه ښه نظامي اردو ولري، له جرمني، فرانسې او سويډن څخه استادان راغلل او په اسلامي تاريخ کې د لومړي ځل لپاره، د اسلامي پوځ روزنې مسوليت بهرنيو روزونکو په غاړه واخيست. د دې ترڅنګ، اداري او قضايي تشکيلات هم د لويديځ تر اغيز لاندې وو. که څه هم دا موارد د مسلمانانو په منځ کې د تنظيماتو په نوم مشهور وو او د شرعي چارو په شان يې ارزښت درلود، خو په تدريج سره د سيکولرېزم د نفوذ سبب شو. همدا ډول نور لاملونه شته چې په اسلامي نړۍ کې يې د سيکولرېزم مفکورې ته زمينه برابره کړه لکه سيکولريزم په تقدير د ايمان لرلو په مفهوم کې انحراف، د اسلامي نړۍ په مقابل کې د يهودانو او صليبيانو پلانونه، صليبي پوځي بريدونه په سوله ييزو بريدونو بدلول، په داسې حال کې چې دا همغه اهداف تعقيبوي خو وسايل يې مختلف دي، د سوله ييزې جګړې په بڼه د غربي مبلغينو لښکر استول، په اسلامي نړۍ کې د غربي سياست د پلي کولو لپاره د شرقي عيسويانو استخدام، د عرب ختيځ په مرکز کې د غربي اډو جوړول ترڅو سياسي او مذهبي دعوت اداره کړي (شاکر، ۱۳۸۸، ۲۱-۲۳).

**پنځم مبحث: اسلام او سيکولرېزم**: دا چې سيکولرېزم د اسلام سپېڅلي دين پر وړاندې مطرح کېږي، نو بايد د لويديځې نړۍ په نظر ورته ونه کتل شي؛ ځکه چې قرآن له انجيل سره نه شي پرتله کېداى، اسلام کامل او شامل دين دى، اسلام بشپړه توحيدي عقيده ده، مسلمانان يوازې په يو خداى ايمان لري او محمد صلى الله عليه وسلم د نړۍ لپاره د خداى بنده او رسول ګڼي، اسلام او قرآن د جهالت او ناپوهۍ سره ټکر لري. اسلام د يوې داسې قيمتي ملغلرې حيثيت لري چې په هر طرف خپلې زريني وړانګې توليدوي او د علم سهار راولي. خو د وخت نا اهله او د دين څخه بې خبره واکدارانو د دغه ملغلرې وړانګې تتې کړې...اما بيا هم د اسلام دين خپل نورانيت نړيوالو ته ښودلی چې په دې لړ کې د اسلام مبارک دين او سياست څو مهمو ځانګړتياوو ته اشاره کوو: (عثماني، ۱۳۹۲، ص ۱۰ – ۴۰).

۱- اسلام يو رباني نظام دى: يعنې د اسلامي نظام مصدر الهي وحې ده، ښکاره وحی (قرآنکريم) او خفي وحي (نبوي سنت او احاديث) دي، چې په دې اړه قرآنکريم فرمايي: (وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحى يوحى) ژباړه: حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) له هوا څخه خبرې نه کوي بلکې دا هغه وحي ده چې ده ته کېږي.

۲- اسلامي نظام عقيدوي نظام دى: اسلام يواځې په مادي وسايلو تکيه نه کوي بلکې خلک په خپله خوښه اطاعت ته تيار دي او دا نظام په زړونو حکومت کوي. مثلاً کله چې د شرابو د ممنوع اعلان وشو او د حرمت ايت نازل شو ((فاجتنبوه) (ځان ترې وژغورئ)) نو بيا چا شراب ونه څښل...

۳- اسلام کامل او شامل نظام دی: اسلام د ژوندانه ټولو اړخونو ته رسیده ګي کوي. لکه سیاسي، اقتصادي، نظامي، حقوقي، جزایي، مدني، فامیلي، ملي، نړیوال او داسې نور. الله جل جلاله فرمایې: (اَلیومَ اکمَلتُ لَکُم دِینَکُم وَاَتمَمتُ علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دینًا) ژباړه: نن ورځ موږ تاسې ته ستاسي دین کامل کړو او خپل نعمتونه مو پر تاسې تمام کړل او د اسلام دین مو تاسې ته خوښ کړ (بصیرت، ۱۳۹۳، ص ۲۳).

۴- اسلام نړیوال نظام دی: الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمایي: (وما ارسلنک الا کافةً لناس): ژباړه: موږ ته نه یې لیږلی بلکې عام انسانیت او بشریت ته مو لیږلی یې. په اسلام کې تغیر، تعدیل او نسخ د منلو وړ نه دي، ځکه چې اسلام یو کامل او عالمي دین دی او د هرې زمانې سره جوړ نظام دی.

۵- اسلام یو اخلاقي نظام دی: اسلام دین هم په داخلي او هم په بهرنۍ کچه د اخلاقي نظام بنسټ ایښودونکی دی، لکه: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: زه د اخلاقو د معلم په حیث رالیږل شوی یم ترڅو د اخلاقو مدارج پر تاسې تمام کړم (انما بعثت لا تمم مکارم الاخلاق)، همدارنګه الله جل جلاله پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمایي: (وانک لعلی خلق عظیم) ژباړه: بیشکه ته د ډېر لوړو اخلاقو درلودونکی یې.

٦- اسلام د عدالت نظام دی: عدل د ظلم مقابل او خلاف عمل دی، امام جرجاني رح عدالت په دې ډول تعریف کړی: عدالت د افراط او تفریط تر منځ حالت ته وایي. الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي: (اعدلو اهو اقرب للتقوی) ژباړه: عدل اختیار کړئ ځکه چې دا د عدل قایمول، تقوی ته ډېر نږدې دي. الله جل جلاله په بل ځای کې فرمایي: (ان الله یآمر بالعدل و الاحسان) ژباړه: بیشکه الله جل جلاله امر کوي په عدالت او احسان سره. همدارنګه الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي(واذا حکمتم بین الناس ان تحکمو بالعدل) ژباړه: او کله مو چې فیصله کوله نو په عدالت فیصله کوئ. خدای پاک د اسلام دین له دې امله ډالۍ کړی، چې انسانان د کفر د جور او ظلم څخه خلاص او د اسلامي عدالت څخه یې خړوب کړي.

۷- اسلام یو سیاسي نظام دی: سیاست د امارت په وزن د ساس، یسوس، څخه د (قال یقول) په وزن د مصدر صیغه ده، د دې فعل مصدر (سوس، قول) په وزن هم راتلی شي، نو سیاست د سوس اصلي معنی، اصلاح کول، ښایسته کول، رهبري کول، مدیریت کول، قابو کول، قضاوت کول، سزاء ورکول، خلک د یوکار کولو یا نه کولو په لور رهبري کول، د خلکو د چارو اداره کول، حکومت کول، د هېواد داخلي او بهرنیو چارو تنظیمول، د هېواد قلمرو څخه دفاع، سیاسي خط مشي او داسې نور دي، چې د همدې لغوي معنی پر اساس دا دواړه کلمې د سیاست، حکومت او د هېواد چارو د سمبالولو پر ځای استعمالیږي، ځکه چې د مشروع سیاست هدف هم د افرادو او هېواد چارو د وضعې او حالت اصلاح او بهتر کول دي، ترڅو سوکاله ژوند غوره کړي. همدارنګه په قران عظیم الشان کي د سیاست هم معنا لفظ حکمت

دی چې په سیاسي حکمت عملي باندې یې هم اطلاق کېږي، توپیر یې دومره دی چې دحکمت لفظ پراخ مفهموم لري، په قران کریم کې د ملک، مملکت او قانون ترڅنګ ځای پر ځای څو ځله د حکمت یادونه شوې. امام راغب اصفهاني (رح) حکمت داسې تعریفوي. د علم او عقل په قوت سره یوه صحیحه نتیجه پیداکول حکمت دی. د موجوده چارو علم او د ښو کارونو سرته رسول دا هماغه حکمت دی، چې په قرآن کریم کې یې یادونه شوې ده. اسلامي سیاست یوفن دی، چې پر بنسټ یې اسلامي حکومت چلېږي او یوه طریقه ده، چې له مخې یې ملت د خپل بهبود او بهترۍ چارې سرته رسوي. اسلامي سیاست د عدل او اعتدال تر څنګ د اسلامي قوانینو سره سم حرکت کوي او د هغه اهداف عام مظهر ته راځي چې اړیکه یې د اسلامي امت د ښېګڼې سره وي (اختیار، ۱۳۹۳، ۲۵- ۳۰).

شپږم مبحث: په اسلامي نړۍ کې د سیکولرېزم د خپرېدو مخنیوی: اسلام د یوې داسې قیمتي ملغلرې حیثیت لري چې په هر طرف خپلې زرینې وړانګې تولیدوي او د علم سهار راولي، اسلام خپل نورانیت نړیوالو ته ښودلی. دا چې سیکولرېزم د اسلام سپېڅلي دین پر وړاندې مطرح کېږي، نو باید د لویدیځې نړۍ په نظر ورته ونه کتل شي؛ قرآن له نورو ادیانو سره پرتله نشي، اسلام کامل او شامل دین دی، اسلام نړیوال دین دی، اسلام بشپړ توحیدي عقېده ده، مسلمانان یوازې په یو خدای ایمان لري او محمد صلی الله علیه وسلم د نړۍ لپاره د خدای بنده او رسول ګڼي، اسلام او قرآن د جهالت او ناپوهۍ سره ټکر لري. خو د بد مرغۍ ځای دا دی، چې تل زموږ فکرونه د وخت سیاستونو پورې تړلي وي، په دې معنی چې د هرې مفکورې حکومت، چې د ګډۍ واګې په لاس کې واخلي موږ ورسره سم متې رانغاړلي وي او د هغوی له پالیسیو سره سم خبل قلم چلوو او لیکنې کوو، داسې فکر نه کوو، چې د قلم مانا یا نې څه ما او تا ته خدای جل جلاله د څه لپاره استعداد راکړی، کوم مسوولیتونه لرو، بویه څه وکړو او څه کول په کار دي؟ دا او دې ته ورته خواره ډېرې خبرې دي، چې ویل یې په کار دي. یعنې قرآن او اسلام ته بشپړه توجه په کار ده چې قرآن له موږ څه غواړي، اسلام ډېر لوی دین دی او د هر چا لپاره په کې د هغه له مسلک سره سم مواد شته. په قرآن کریم داسې حقیقتونه پراته دي چې ځینې کشف او ځینې لا تر اوسه نه دي کشف شوي، کوم چې کشف شوي، مسلمانان داسې فکر کوي، چې د دغه کشفیاتو بانیان غیر مسلمانان دي، اما که ژوره مطالعه او فکر وشي دا هر څه د قرآن له برکته دي، نننۍ پر مختللي نړۍ له خپل هر اړخیز پرمختګ سره بیا هم د قرآن کریم ارشاداتو ته پناه وړې او له لارښوونو یې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ګټه پورته کړې، قرآن کریم یوازې یو مذهبي کتاب نه؛ بلکې د ټولو علومو په اړه په کې په وړ اندازه بحث شوی. خو له بده مرغه موږ دغه مقدس یوازې په تاخچه کې ایښی، د دم، دعا او وېرې پر وخت

کار اخلو. موږ باید د قرآن کریم په هر آیت بشپړ پوه شو، فکر پرې وکړو، باریکیو ته یې ځیر شو، ځکه چې نننی نوښتونه او اختراعګانې د قرآن کریم له برکته دي، لکه ستر څېړونکي او مشهور لامبوځن (کوسټ)، لومړنی انسان، چې پر سپوږمۍ یې پل ایښی (نیل ارمسټرانګ)، مشهور فرانسوي عالم (روجرګراډي) او ډېر نور له دې حقیقته خبر شوي او یو پر بل پسې مسلمان شوي دي. قرآن کریم له سره تر پایه یوه ستره معجزه ده، چې د دغه ستر اسماني کتاب په ځینو آیتونو کې اټوم، نیوټرون، تلوېزون، برېښنا، الوتکې او نورو ورته اختراعګانو او نوښتونو ته اشاره شوې ده. د بیلګې په ډول په هوا کې د سلیمان (ع) پرواز کول، الوتکې ته اشاره ده، له موره د ړانده اولاد بیا سترګورول، د بدن د غړو لېږدول یا بدلولو ته اشاره ده، په اور کې د ابراهیم (ع) نه سوځېدل اور ضد کالیو او اور وژونکو کسانو ته اشاره ده. الله جل جلاله له هر انسان غوښتي چې دغه معجزې ځان ته بیلګې وګرځوي او د دغو معجزو په رڼا کې نوي نوښتونه رامنځ ته کړي، ویل کیږي چې اډېسون برق او ګروپ اختراع کړ، د ده له مرګ وروسته د هغه له الماریٰ څخه د قرآن کریم د (نور) سورت ځینې آیتونه پیدا شوي، له داسې انګېرل کیږي، چې اډېسون هم قرآني لارښوونو ته پناه وړي، همدارنګه یوسف (ع) چې د اقتصاد په برخه کې کوم رول لرلی او داسې ډېرې نورې بیلګې شته چې د قرآن مقدس کتاب له اړخه وړاندې کېدای شي، خو چې مسلمانان ورته متوجه شي. سیکولرېزم په نورو ادیانو کې نتیجه ورکړې، اما د اسلام دین لپاره هېڅ دلیل نه لري چې اسلام نیمګړی وښیي، ځکه چې اسلام کامل او شامل دین دی په دې معنی چې اسلام د نړۍ پرمختللی سیاست، اقتصاد، فرهنګ، ساینس، نظامي ځواک، هم راتلونکي ته، هم حال او هم تېر ته ځواب وایونکی دین دی، خو که اسلامي پوهان او مسلمان مشران هڅې وکړي چې د ژوند ټولو اړخونو ته د قرآن له ډګره سر ورښکاره کړي او هرې ستونزې او پرمختګ ته له قرآن ډګره ځواب ورکړي. دا چې د اسلامي نړۍ مشرانو او واکمنانو ته څه په کار دي او کوم اقدمات باید ترسره شي، ترڅو اسلامي نړۍ د سیکولرېزم نفوذ څخه وژغورل شي، په لاندې ډول ځینو مواردو ته اشاره کوو:

لومړی مطلب: اسلامي پوهان یا مشران باید پورته یاد اشتباهات چې پاپانو وکړل، تکرار نه کړي: مسلمان مشران، واکمنان او علماوو ته په کار ده چې اسلامي شریعت په سم ډول پلی کړي او باید د دین او شریعت احکامو په تطبیق کې له سختۍ او زیاتي څخه کار وا نه خلي، د خپلو ګټو لپاره یې ونه کاروي، لکه څنګه چې پورته ذکر شول مسیحیت له دې وجې ناکامۍ شو، چې پاپانو د خپلو ګټو لپاره تحریف کړ او په دې اړه قرآن کریم فرمایي: لاتغلوا من قبل واضلوا کثیرا وضلوا غن سواء السبیل. ژباړه: په دین کې تر حد تجاوز مه کوئ او د هغه قوم د هوا او هوس متابعت مه کوئ چې تر تاسو پخوا ګمراه شوي دي، نور یې هم له سمې لارې اړولي دي او دوی هم اوښتي دي. همدارنګه په دې اړه پیغمبر صلی الله علیه

وسلم فرمايي: ايا کم و الغلو في الدين فانما هلک من کان قبلکم بالغلو في الدين. ژباړه: د دين په کار کې افراط او سختي مه کوئ؛ تر تاسې د مخه قومونو په دين کې د افراط او سختی په سبب هلاک شول. د ابن مسعود رض څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درې وارې تکرار کړل چې په دين کې تر حد متجاوز هلاکيږي. هلک المتنطعون قالها ثلاثا (ظهير، ۱۳۹۳، ص ۱۳۰).

دويم مطلب: ديني حکومتونه بايد ټولنې ته ښه حکومتوالي وړاندې کړي: که فکر وشي د تاريخ په اوږدو کې ديني حکومتونو د ژوند په چارو کې هغه اړخونو ته ښه پاملرنه نه ده کړې، چې نظامونه ننګوي، لکه سياسي، اقتصادي، فرهنګي، تعليمي، د ملي قدرت پياوړي کول، نړيوال ستيج او داسې نور، چې په دولتدارۍ او حکومتوالۍ کې ډېر مهم اړخونه دي. حکومتونه مکلف دي او دنده لري چې د رعيت چارې په ښه ډول سمبال او تنظيم کړي، په ټولو چارو کې عدالت په ښه ډول تطبيق کړي. په دې اړه د پيغمبر صلی الله علیه وسلم حديث شريف دی چې: ژباړه: هرکس د خپلې رمې شپون دی، يعنې ددې مطلب دا دی، چې هر چا ته چې دنده سپارل کيږي، بايد د هغې دندې وړ وي، د صداقت، رښتينوالي او تقوی ترڅنګ د هغه دندې لازم مهارتونه، اصول، مسؤليتونه، مکلفيتونه او داسې نور وپېژني، چې له عهدې يې وتلی شي، کوم خدمات چې په دې بست پورې تړاو لري بايد وړاندې يې کړی شي، ترڅو له ښې حکومتوالۍ خلک ډاډمن شي او که خلک د ښې حکومتوالۍ له نعمتونو برخمن شي، زه باوري يم چې خلک به هېڅ کله هم د سيکولر افکارو تر تاثير لاندې رانشي. (شاکر، ۱۳۸۸، ص۵ - ۳۵).

دريم مطلب: ديني علماء بايد د قرآن کريم په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي، رهبري او داسې نورو برخو کې جدا جدا پاليسي ساز، محض او داسې نورې څېړنې ترسره کړي ترڅو د اسلامي نړۍ حکومتونو مشران په ښه حکومتوالۍ کې ترې ګټه پورته کړي.

څلورم مطلب: ديني حکومتونه بايد د اخلاقي فساد يا قانوني سرغړونو مخنيوي لپاره مختلف سيستمونه رامنځ ته کړي: اخلاقي فسادونه او قانوني سرغړونې يوازې په وعظ او نصيحت له منځه نه ځي، بلکې د دغه سرغړونو لپاره ديني حکومتونه مجبور او مکلف دي، چې سيستمونه رامنځ ته کړي. په بشپړ ډول د وعظ او نصيحت رول څخه هم انکار نشو کولی، شايد څو فيصده رول ولري، اما تجربو ښودلې چې انسان د الهي فطرت له مخې ډېر څه غواړي او خپلې شخصي ګټې هر وخت تعقيبوي، د بېلګې په ډول که موږ محصل يا د مکتب او مدرسې شاګرد ته ووايو چې نقل کول د اسلامي شريعت له مخې ښه کار نه دی، خو محصل يا شاګرد هغه کار کوي، چې د ده په کې ګټه وي، اما نننۍ پرمختللې نړۍ دې ورته د ژوند په ټولو برخو کې سيستمونه ايجاد کړي او د مفسدو کړنو يا د دوی د ټولنې مطابق غير اخلاقي کړنو اتيا (۸۰٪) سلنه مخنيوی يې د يادو سيستمونو پر اساس کړی. دوی د انسان الهي فطرت د نړۍ سترو

علماوو او فلسفاوو له نظره په ښه او ژور ډول مطالعه کړی او ورته معلومه شوي چې انسان فطرتاً هغه څه خوښوي چې د ده په ګټه وي. د عبدالرحمن بابا په دې بيت کې د انسان فطرت ته ښه اشاره شوي. نصيحت په جاهلانو اثر نه کا، د سړې اوسپنې هسې ټکول دي. لهذا داسې کار بايد وشي، چې نه سيخ (ځيخ) وسوزي او نه کباب.

پنځم مطلب: ديني حکومتونه بايد له مختلفو علومو څخه ګټه پورته کړي او تشويق يې کړي: دا پر هر مسلمان فرض ده، چې اسلام د هرې ژبې، هرې سيمې او هر توکم لرونکو ته ورسوي او هغه علوم زده کړي چې مسلمانان پرې له سيالانو سره سيالي کولی شي، الله جل جلاله يو حقيقت ته اشاره کړې او د استعارې په ښه فرمايي، چې قرآن بحر دی او هره وياله ترې له خپل ظرفيت سره سمې اوبه بېلوي يعنې دا د علومو او معلوماتو يو ژور سمندر دی، چې هر څوک ترې د خپلې پوهې مسلک په کچه اخذ او برداشت کوي. يو لوی امام فرمايي: جميع العلم فی القرآن لکن ـــ تقاصر عنه افهام الرجال. ټول علوم په قرآن کې دي، خو د خلکو د پوهې کچه ترې کمه ده. زما باور دی، چې د دې او دې ته ورته نورو ليکنو په لوستلو به (په قرآني تعبير) هغه کفار چې زړونه يې د ړانده تعصب د ناروغۍ تورو پردو پوښلي نه وي ايمان راوړي، د نورو آسماني کتابونو د خاوندانو يقين به پياوړی، د کمزورو مومنانو ايمانونه به پياوړي او اهل کتاب به شک ونه کړي. د قرآن پېژندنې په برخه کې يوه مهمه موضوع د قرآني حقايقو اثباتول دي، د قرآني حقايقو د اثبات لپاره د هغو دلايلو راوړل مهم دي کوم چې بني بشر (که مسلم وي يا غير مسلم) پرې د عقل او بصيرت په سترګو قناعت وکولی شي. هغه څه چې بني بشر پرې قناعت کولی شي هغه په مشاهداتو او محسوساتو باندې د دلايلو بيانول دي (دليل مشهود) او (دليل محسوس) راوړل روايت ته قوت او منطق وربښي او ترېنه انکار کول نا ممکنه کوي. کله چې دليل او منطق په روايت کې موجود وي او بيا څوک ترينه انکار کوي، له عقل څخه منافي عمل بلل کيږي. هغه څوک چې د منطق، عقل او بصيرت خاوند وي هغه به کله هم له علمي او عيني حقايقو منکر نشي. بناً اسلامي پوهان او مشران بايد د ټولو علومو مسلکيان تشويق کړي يعنې که چا صرف بهايي يا منطق ولوستل هم ثواب دی او که چا ټانګ، تکنالوژي، اداري چارې او داسې نور پياوړي کړل هم ثواب دی، ځکه چې د ټولو ګټه مسلمانانو ته رسيږي (دوغن، ۱۳۸۷، ص ۵۵).

شپږم مطلب: اسلامي حکومتونه بايد د فکري جوړونې بنسټونو ته زياته توجه وکړي: اسلامي حکومتونو ته اړينه ده چې د هرې بدې پديدې لپاره د علل او معلول ترمنځ اړيکې مطالعه کړي ترڅو بنيادي اصلاحاتو ته لاره هواره کړي، کله چې د هرې بدې پديدې علل معلوم شي او له منځه ولاړ شي معلول په په خپله اصلاح کيږي (دواري، ۱۳۸۹، ص ۱۲۲).

**پایله**

د اسلامي حکومتونو مشران باید یوازې په عباراتو باندې تمرکز ونه کړي بلکې د اسلام مقدس دین ټولو اړخونو لکه سیاسي، اقتصادي، دیپلوماتیک، فرهنګي، نظامي او داسې نورو ته پاملرنه وکړي او د اسلامي تیوریکي اړخونو ترڅنګ د هغې په عملي اړخونو باندې هم ټینګار وشي. دیني حکومتونه باید له مختلفو علومو ګټه پورته کړي او تشویق یې کړي. یعنې که چا صرف بهایي یا منطق ولوستل هم ثواب دی او که چا ټانګ، تکنالوژي، اداري چارې، کیفیت لوړول او داسې نور پیاوړي کړل هم ثواب دی، چې د دې ټولو ګټه مسلمانانو ته رسېږي. کله چې غربي ټولنه له عیسویت لېرې شوه، دین او د هغه لارښوونې دوی ته بې معنی ښکاره شولې، نو هغوی هڅه وکړه چې نورې ټولنې هم له دیني او اسماني لارښوونو لېرې کړي او د دوی په منځ کې د سیکولرېزم او "له سیاست څخه د دین جلا کول" ځای پر ځای کړي. د دوی دا هڅه دا هم وه چې اسلامي ټولنه له سپېڅلي او مهم جوهر څخه بې برخې کړي. دا پراخ شاتګ د ایډیالوژیکي او عقیدتي انحراف لامل شو. دغه ډول انحرافات او د اسلامي ټولنې ژور شاته تګ په اسلامي ټولنه کې د دوو بدمرغیو لامل شو: «علمي شاتګ یا انحراف» چې د اسلامي ژوند پر ټولو اړخونو یې ولکه ټینګه کړه، هغه هم په داسې وخت او زمانه کې چې اروپا د خپلې تېرې دورې د وروسته پاتې والي دورې څنډلې وې او د علمي پرمختګونو او کشفیاتو په لور یې ګام پورته کړی و او بل د اسلامي هېوادونو «مادي او معنوي کمزورتیا» چې د کفارو لپاره یې خونډوره او غوړه مړۍ جوړه کړې وه او اروپایانو ټوټه ټوټه هغوی له ستونې تېرول او څه نه وو پاتې چې پر حرمین شریفینو باندې هم تسلط او کنټرول ترلاسه کړي! نو په لنډیز سره ویلای شو چې په اسلامي نړۍ کې د سیکولریزم د راڅرګندیدو دوه مهم او بنسټیز لاملونه وو: د اسلامي ټولنې ژور انحراف (کږوالی) او بل د اسلامي ټولنې د ګمراه کولو په موخه د «عیسویانو او یهودانو ناوړه پلانونه او پروګرامونه. همدارنګه مسلمانان د خپل ژوند په ټولو اړخونو کې له ژور او هراړخیز انحراف سره مخ شول، خو هغه مهمه برخه چې دغه انحراف هغه اغېزمنه کړه، په عقیده او د الوهیت په مفهوم کې انحراف و. د غرب او شرق یرغل او د اسلامي ټولنې د سیکولر کولو په وخت کې مسلمانانو په اسلامي نړۍ کې درې ډوله حکومتونه ولیدل: په هند کې د "مغولانو" حکومت، په فارس کې د "صفویانو" حکومت او په مدیترانه کې "عثماني" حکومت. صفوي حکومت یوازې د اسلام په نوم چلېده او د حکومت کولو طریقه یې د شیعه علماوو د نظریاتو او غوښتنو پر بنسټ وه او د هغو د پاچاهانو اصلي دنده دا وه چې پر عثماني دولت یوازې د دې لپاره برید وکړي چې هغوی سنیان وو. د "سلطان اورنګزېب" د وخت نه پرته، د مغلو حکومت هم د دین او د هغه د تعلیماتو په باره کښې د کم عقلۍ او ناپوهۍ په وجه د اسلام په باره کښې د بې شمېره توهماتو او غلط

فهمی سره مخ وو؛ دغه ناپوهي ددې سبب شوه چې په هند کې د انګریزانو لخوا د اسلامي واکمنی له منځه وړلو پر وړاندې ځانګړی مقاومت وکړي. عثماني دولت هم چې د تاریخ په اوږدو کې یو له غوره اسلامي خلافتونو څخه و خو په خپل ځان کې یې دوه مهمې ستونزې لیدلې: د خلافت میراثي توب او بل د افتراضي فقهې نشتوالی او له نویو حوادثو او فقهي پېښو سره نه همغږي. د نویو مسایلو پر مخ د اجتهاد دروازه وتړل شوه او اسلامي فقه ونه شو کړای چې په هغه وخت کې د رامنځته شویو نویو او راټوکېدلو مسایلو سره یو ځای او همغږې شي او هغه حل او فصل کړي؛ له دې وجې، د سکولرانو او هغو کسانو پر مخ چې د علمانیت ادعا یې کوله او دین یې د علم او پوهې خلاف ګڼلو، د نفوذ دراوزه پرانستل شوه. همدارنګه اسلامي حکومتونو او خلافتونو د وسلو او پوځ له اړخه یوه مجهز او منظم پوځ ته اړتیا درلوده او په دې برخه کې باید د علماوو او دیني خلکو له خوا مهم لوائح او لارښوونې وړاندې شوې وای، خو علماوو او د فقهې او دین اهل او خلکو له دې مسائلو سره هیڅ تړاو نه درلود، چې دې کار په خپله د سیکولریزم د نفوذ لپاره زمینه برابره کړې وه. که څه هم دا موارد د ټولو شرعي چارو په شان ارزښت او مقام لري، خو په دې برخه کې اسلامي نړۍ له خپلو اسلامي لارښوونو ګټه پورته نه کړه.

**وړاندیزونه**

۱- ټول مسلمان پوهان، څېړونکي، محققین او داسې نور باید هرې موضوع (سیاست، اقتصاد، ساینس، تکنالوژي او داسې نورو) ته د قرآن له ډګره سر ورښکاره او د حل لار ورته پیدا کړي.

۲- د اسلام دین او قرآن پاک په برخه کې باید د اسلامي او عصري علومو پوهان څېړنې او تحقیقات زیات کړي، ترڅو له یوې خوا د خپل مقدس دین په اصلي، ریښتنې معنی او ارزښت پوهه شو او له بلې خوا به د مسلمانانو ژوند ته د قرآن له ډګره په اقتصادي، سیاسي، نظامي، ساینسي او داسې نور برخو کې پرمختګ ورکړی وي او له نورو اختیاجی به خلاص شي.

۳- په دې برخه کې چې کومې څېړنې کېږي باید د وخت په سیاستونو پورې تړلې نه وي، په دې معنی چې هره مفکوره حاکمه شي، نو څېړونکي او لیکوالان هم د همغې مفکورې له پالیسی سره سم قلم چلوي.

**مأخذونه**

اختیار، حجرت الله.(۱۳۹۳). د سیاستپوهنې بنسټونه، مومند خپرندویه ټولنه ننګرهار
اعظم، فاارووق. (۱۳۹۱هـ ش). زموږ روشنفکران، کابل
امله وال، شیر علم. (۱۳۹۱). د سیاسي افکارو او نظریاتو تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار
ایوبي، محمدنادر.(۱۴۲۹ هـ ق). سیاسي نظریات، اکرم پریس، لاهور
بصیرت، ع، نبي. (۱۳۹۳). د سیاسي افکارو تاریخ، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار

داوري، فرهاد. (۱۳۹۱). سیاستپوهنه، مومند خپرندویه ټولنه- ننگرهار
دوغن، شعبان. (۱۳۸۷). قرآن او تخنیک، صمیم ادبي ټولنه، کابل
زیرکیار، رحمت ربي. (۱۳۸۸). سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه په لویدیزه او اسلامي نړۍ کې، اکرم پرېس، پېښاور
شاکر، سید حبیب. (۱۳۸۸). فکري ستر نړیوال اسلامي خوځښتونه اغیزې او ارزونه، صمیم ادبي ټولنه، کابل
ظهیر، محمد صدیق. (۱۳۹۳). بین المللي سیاست ته یوه کتنه، صمیم ادبي ټولنه، کابل
عزام، مولوي نورالله. (۱۳۸۹). اسلام او سیاسي اندونه، اکرم پرېس، پېښاور
عثماني، محمدتقي.(۱۳۹۲). اسلام او سیاسي اندونه، د افغان بنسټ خپرنیزه او بلنیزه څانگه، ننگرهار
گوهررحمن، گوهررحمن. (۱۹۸۰م). اسلام او سیاست، دارالعلوم تفهیم القرآن، مردان
نظري، محمود. (۱۳۹۰). قرآن او نننۍ ساینس، د افغان بنسټ خپرنیزه او بلنیزه څانگه، کابل
نیازی، مصطفی.(۲۰۱۱م). اسلام او سیکولرېزم، مستقبل خپرندویه ټولنه، ننگرهار

J. P. Suda, (2009), History of Political Thought Ancient & Medieval, K. Nath & Co. Meerut

U.R. Ghai, K.K. Ghai, (2010), International Politics Theory & Practice, New Academic Publishing Co. Mai Hiran Gate, Jalandhar-144008

Prof. Dr. Dieter Bender, (2012), International Economic Relations, RUHR University Bochum

Dr. S.R. Myneni, (2008), Political Science For Law Students, Allahabad Law Agency

Lakshmi Narain Agrwal, International Relations (1914 12 A.D to present day), sixth Edition 2009.

# پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو د سیاسي نوسان اغېزې: په ۲۰۲۱ ز کال کې د افغانستان سیاسي نظام د بدلون د قضیې مطالعه

پوهنمل دکتور احمد جاوید شکیب، د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالیزم څانګه
برېښنالیک: javid.shakib@gmail.com یا javid.shakib@su.edu.f

**لنډیز**

د ۱۶۴۸ –ز کال د وستفالیا تړون څخه را وروسته په نړۍ کې د ملي دولتونو د رامنځته کېدو له پیل سره سم سترو قدرتونو پر کوچنیو هېوادونو د نفوذ هڅې پیل کړې. له شپاړسمې پېړۍ څخه د شلمې پېړۍ تر نیمایي پورې سپین پوسته اروپایانو د افریقا، آسیا او امریکا په لویو وچو کې واړه هېوادونه مستعمره کړل. له استعمار څخه وروسته هم پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو د نفوذ پروسې دوام درلود. کوچني هېوادونه د نړیوالو سترو قوتونو د سیاسي نوساناتو له امله ډېری وختونه له بې ثباتۍ او بحران سره مخامخ کېږي. د دې مقالې موخه دا ده چې، دې ته کتنه وکړي، چې څنګه د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات پر کوچنیو هېوادونو اغېز کوي، او دا چې آیا کوچني هېوادونه د دې نوساناتو په وړاندې مقاومت کولی شي. په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د نظام بدلون قضیې ته په کتو د وسله وال مقاومت رول ته په اشارې استدلال کېږي چې که څه هم د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات پر کوچنیو هېوادونو تاثیرات لرلی شي، په عین حال کې پر کوچنیو هېوادونو کې انقلابي خوځښتونه هم کولای شي، چې د سترو قدرتونو د سیاست د بدلون لامل شي. په دې مقاله کې د نړیوالو اړیکو د نظریاتو په رڼا کې استنباطي (استنتاجي) مېتود څخه په ګټې اخیستنې د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات او د کوچنیو هېوادونو پر وضعیت یې اغېزې څېړل شوې دي. په مقاله کې په ځانګړې توګه د افغانستان پر اقتصادي او سیاسي بدلون د سترو قدرتونو رول تر بحث لاندې نیول شوی دی.

**کلیدي کلمې**: سترقدرتونه، کوچني هېوادونه، سیاسي نوسان، وسله وال مقاومت، نظام بدلون

**سريزه**

**بسم الله والحمد لله والصلواة والسلام على رسول الله وبعد: قال تعالى اعوذ باالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم: ولاتهنوا و لا تحزنوا و أنتم الأعلون إن كنتم مؤمنين (الآية)**

په اروپا کې له مذهبي جګړو وروسته، کله چې په کال ۱٦٤٨ ز کې د وستفاليا سولې تړون لاسليک شو او د خپلواکه ملي دولتونو د رامنځته کېدو سلسله پيل شوه، له دې پروسې سره سم د نړۍ سترو قدرتونو په يو نه يو شکل د اشکالو هڅه کوله تر څو پر کوچنيو خپلواکو دولتونو خپل نفوذ ولري. د شپاړسمې پېړۍ څخه د شلمې پېړۍ نيمايي پورې سپين پوسته اروپايان د اتلانتيک سمندر پورې، شمالي او لاتيني امريکا کې يې کوچني هېوادونه مستقيماً تر کنټرول لاندې راوستلو سره مستعمره کړل. اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې سپين پوسته اروپايانو تقريباً ټوله افريقا ( پرته له ايتوپيا او ليبريا څخه) خپلې مستعمرې وګرځولې. دوی کلونه، کلونه د افريقايي هېوادونو منابع د خپلو هېوادونو د ښايښت، پرمختګ او سياسي اقتدار لپاره وکارول. په لومړۍ نړيوالې جګړې کې د عثماني سلطنت تر سقوط وروسته آسيا په خاصه توګه بيا منځنۍ ختيځ هم د وخت د سترو قدرتونو د سيالۍ او نفوس تر مستقيم تاثير لاندې و. د عراق، سوريې، فلسطين، اردن، حجاز او لبنان تر منځ د بيلتون کرښې فرانسې او انګلېستان ايستلې دي. د انګلستان د وخت صدراعظم بالفر په يوې اعلاميې کې د فلسطين په خاوره کې اسرائيلو ته د يوه دولت جوړولو طرح هم وړاندې کړه.

د شلمې پېړۍ له نيمايۍ څخه را وروسته کله چې مستقيم استعمار تقريباً په ټوله نړۍ کې پای ته ورسيد، د نوي استعمار پروسه پيل شوه. د نړۍ سترو قدرتونو پر کوچنيو هېوادونو د اقتصادي، نظامي او سياسي برلاسيو پر مټ نفوذ پراخه کړ. د سړې جګړې په دوران کې کوچنيو هېوادونو يا د امريکامتحده ايالاتو د غرب د کېپيټلېزم اقتصادي او لېبرالېزم سياسي سيستم تر اغېزې لاندې ول ، يا هم په کوچنيو هېوادونو کې کمونيستي ګوندونو د پخواني شوروي اتحاد په ملاتړ په خپلو هيوادونو کې د کودتاګانو او يا هم ټاکنو له لارې قدرتونه ترلاسه کړل. دوی خپل هېوادونه د شوروي اتحاد د سياسي او اقتصادي سيستم سره همغږي کړل.

په ۱۹۷۹، بيا په ۱۹۹۰ لسيزې کې په افغانستان کې د نظامونو بدلونونه، په ۲۰۰۱- ز کال کې پر افغانستان د جمهوري سيستم تحميل ، په ۲۰۲۱ کال کې افغانستان جمهوري سياسي سيستم ړنګيدل، په ۲۰۲۲ کال کې په اوکرين کې د فدرالي روسيې جمهوريت او اوکراين تر منځ د جګړې پيل کېدل او په ۲۰۲٤ کال کې، سوريه کې د بشارالاسد د رژيم سقوط، اصلي علتونه په يوه نه يوه ډول د سترو قدرتونو د سياسي نوسان سره اړيکه لري..

**موخه**

د دې مقالې هدف دا دی، تر څو د نړیوالو اړیکو د تیوري په چوکاټ کې عملي شـــواهدو په وړاندې کولو سره لوستونکو ته وښودل شي چې څرنګه پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات اغېزې کوي. همدارنګه د دې لیکنې بل هدف دا دی چې معلومه کړي آیا په کوچنیو هېوادونو کې مقاومتونه د سترو قدرتونو په سیاسي نوساناتو کې رول لوبولی شي؟ د دې لپاره چې د سترو هېوادونو د سیاسي تغیراتو د تاثیر نمونه وښودل شي؛ لیکوال په کال ۲۰۲۱-ز کې له یوه نیمه لیبرال سیاسي سیسـتم څخه داسـلامي ا مارت سـیسـتم ته د افغانسـتان په اوښـتو کې د سـترو قدرتونو بلخصـوص د امریکامتحده ایالاتو د بهرني سیاست د تغیر قضیه تر کتنې لاندې نیسي.

**اهمیت**

اوسنۍ نړۍ کې کوچني او ستر هېوادونه دواړه دې ته اړتیا لري، چې په خپل منځ کې اړیکې ولري. د هیوادونو تر منځ اړیکې د اقتصـــادي ودې، ســـیاسي تفاهم او ټولنیز پرمختګ لامل کیدای شي؛ خو ډېری وخت له کوچنیو هېوادونو سره د سـترو قدرتونو نا انډوله اړیکې د دې لامل هم کیدای شي، چې کوچني هېوادونه د سـترو قدرتونو د سـیاسي نوسـان څخه اغېزمن شي. حتی د سـترو قدرتونو سـیاسي نوســانات کوچني هېوادونو کې د بي ثباتي، کورنۍ جګړې او د نظامونو د بدلون ســبب هم ګرځیدای شي. دا چې پرکوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو د سیاسي نو سان اغېزې د نړیوالو اړیکو د بحث مهمه مو ضوع ده، افغانستان هم یو له هغو کوچنیو هېوادونو څخه دی، چې د سترو قدرتونو نو ساناتو له کبله تل له سـیاسي او امنیتي بي ثباتۍ سره مخامخ شـوی دی. همدې ټکې ته په کتو دا څېړنه تر سره شـوې تر څو ځوان کهول خبر او وهڅول شي چې د خپل هیواد په ګټه د مناســب قضــاوت او مناســبو پریکړو څښتنان واوسي. همدارنګه د افغانسـتان بهرنیو اړیکو مسـؤلین د سـترو قدرتونو تحولاتو په نظر کې نیولو سره ضرورت لري چې په داسې موضـوعاتو د پوهیدو سره داسې سـتراتیژي جوړې او پلي کړي، او او ضاع په دا سې مهارت سره مدیریت کړي چې د نړۍ د سترو قدرتونو د سیا ستونو بدلون د دې پر ځای چې په هېواد کې بي ثباتۍ راولاړې کړي، بالعکس د اقتصـــادي بهبود او ټولنیزې رفاه پر لور سوق او هدایت شي.

**کړنلاره او کارتوکي**

په دې مقاله کې لیکوال د څېړنې له کیفي مېتود څخه اســـتفاده کړې ده. لیکوال پر کوچنیو هېوادونو د سـترو قدرتونو پر اغېز د بحث لپاره د په ۲۰۲۱ کال کې له جمهوري سـیسـتم څخه اسـلامي امارت ته د نظام د اوښتون قضیې ته کتنه کړې، چې څرنګه د امریکامتحده ایالاتو کې سیاسي نو سان پر افغانستان

اغېز درلود. پر کوچنیو هېوادونو د ســتروقدرتونو اغېز لیکوال د نړیوالو اړیکو له انده تر مطالعې لاندې نیولې ده. په دې برخه کې یې کتابونه او علمي مقالې مرور کړې دي. دا چې لیکوال عملاً په ســیمه کې اوســېږي، د ســترو قدرتونو د بهرنیو چارو وزارت ســیاسي تغیرات یې مشــاهده کړي، په هکله یې رســنۍ تعقیب کړي او خپل مشـــا هدات یې د پرتلې په بڼې تحلیل کړي او بیا یې په تشرــیحي Descriptive بڼې وړاندې کړې، د سترو قدرتونو سیا ستي تحول یې په تو ضیحي Explanatory بڼې تحلیل او تجزیه کړي دی او نوې فرضیې او نظریې یې وړاندې کړې دي. د مقالې روش استنباطي (استنتاجي) یا inductive دی.

په دې مقاله کې لومړی په دې بحث شوی، چې د نړیوال سیاست پوهان د سترو قدرتونو سیاسي نوسان په اړه کوم نظریات لري. د ریالېزم، لېبرالېزم او کنســټرکټیویزم مکتبونه د ســترو قدرتونو او کوچنیو هېوادونو تر منځ اړیکو په هکله څه وایي. د مقالې په دویمه برخه کې پر افغانســتان د ســترو قدرتونو د سیاسي نوسان اغېزې د قضیې په توګه تر مطالعه لاندې نیول شوې دي. د مقالې په درېیمه برخه کې د سترو قدرتونو پر سیاسي نوسان د انقلابي خوځښتونو د مبارزې پر اغېز بحث شوی دی، دلته یوځل بیا د افغانســتان قضــیه د نمونې په توګه وړاندې کېږي په دې بحث کېږي، چې څنګه په افغانســتان کې د خپلواکۍ د مبارزینو مقاومت وکولای شــوای، چې د ســترو قدرتونو اوږد مهاله ســتراتیژي ته بدلون ورکړي. همدارنګه د مقالې په وروســتې برخه کې په افغانســتان کې د حاکم نظام سره د ســترو قدرتونو سیاسي اړیکو باندې بحث شوی دی.

**د سترو قدرتونو سیاسي نوسان په اړه د نړیوالو اړیکو تیوري**

د نړۍ په معاصر سیاسي تاریخ کې ډېری وخت سترو قدرتونو سیاسي لیدلوري کې بدلون پر کوچنیو هېوادونو مثبت او یا منفي اغېزې درلودې. د نړیوالو اړیکو تیوریستانو د سترو قدرتونو سیاسي نوسان او پر کوچنیو هېوادونو یې اغېزې تر بحث لاندې نیولې دي. د نړیوالو اړیکو علماوو ټولنیزو واقعیتونو ته په کتو د سترو او کوچنیو هېوادونو تر منځ د اړیکو په هکله نظریات وړاندې کړي دي. په دې لیکنه پر کوچنیو هېوادونو د سترو قدرتونو اړوند د نړیوالو اړیکو د بېلابېلو مکتبونو د نظریاتو خلاصه شریکېږي، بیا د مقالې په متن کې د افغانستان په قضیه کې پر تطبیق کېدونکو نظریاتو بحث کېږي.

**ریالېزم (Realism)**

معاصرو نړیوالو اړیکو کې ښــاغلي ایمانو یل والرســتین ملتونه په لویو قدرتونو، منځني قدرتونو او کوچني، دولتونو طبقه بندي کړي دي. والرســتین اســتدلال کوي، چې د ســترو قدرتونو اقتصــادي انحصــار او ســیاسي جوړښــتونه پر وړو دولتونو باندې اغېزه کوي (Wallerstein, 2004). اندړې

ګونډر فرانک بیا د انحصار تیوري په ا ساس ا ستدلال کوي چې کوچني هېوادونه په اقتصادي توګه په لویو قدرتونو پورې تړلي پاتې کېږي، چې له امله یې د دوی د کورني پالیسۍ انتخابونه محدود وي.

په کلاسیکه ریالېزم Classical Realism کې چې د هیوادونو تر منځ اړیکې د قدرت او ملي ګټو پر اساس تشریح کېږي ، ستر قدرتونه د خپلو ګټو او امنیت لپاره کوچني هېوادونه تر خپل اغېزې لاندې راولي او ملي ګټو په نظر کې نیولو سره خپل چلند بدلوي. هانس مورګنتاو استدلال کوي چې کوچني هېوادونه باید ستر قدرتونو د بدلیدونکي نوسان او ډاینامیک سیاستونو سره ځان عیار کړي ترڅو خپله بقاء تضمین کړي. (Morgenthau, 1973)

په نوي ریالېزم Neorealism کې بیا کینیټ والټز استدلال کوي، چې نړیوال سیستم پر انارشي ولاړ دی. کوچني هېوادونه د سترو قدرتونو د ځواک د جوړښت (یو قطبي، دوه قطبي، یا څو قطبي) پربنسټ د خپلو هېوادونو سیاسي پالیسي تنظیموي (Waltz, 2018).

همدارنګه قدرت د توازن د نظریې پر بنسټ کوچني هېوادونه د دې لپاره چې توازن وساتي او د یوه قدرت له خوا پرې د بشپړ تسلط مخه ونیول شي، له ځینو سترو قدرتونو سره یوځای کېږي یا ځینو نورو سره مخالفت کوي. همدارنګه ستیون ډیویډ بیا استدلال کوي، چې په کوچنیو هېوادونو کې د نظام زعیم، بهرني او کورني ګواښونه توازن کوي او ډېری وخت د ایډیالوژۍ پرځای د بقاء پربنسټ له سترو قدرتونو سره ائتلافونه کوي (David, 1991).

**لیبرالېزم (Liberalism)**

د لیبرالېزم نظریه پردازان بیا د نړیوالو بنسټونو او مؤسسو همکاري ته ځانګړې پاملرنه کوي. دوی ا ستدلال کوي، چې د سترو قدرتونو سیاسي نو سانات کولای شي کوچنیو هېوادونو ته د ډیپلوماسي او نړیوالې همکارۍ نوي فرصتونه ورکړي. کیو هان او نای په یوې مقالې کې استدلال کوي چې اقتصادي، سیاسي او بنسټیزې اړیکې د کوچنیو هېوادونو د پالیسیو په جوړولو کې د یوازې نظامي ځواک په پرتله ډېر اغېزمن دی.(Keohane & Nye Jr, 1973).

د یموکراټیک سولې تیوري Democratic Peace Theory ملاتړي بیا وړاندیز کوي چې د لویو قوتونو اغېز ممکن په کوچنیو هېوادونو کې د ډیموکراټیکو بدلونونو لامل شي. همدارنګه په لیبرالېزم کې د بنسټپالنې Institutionalism د تیوري ملاتړي بیا نړیوالو بنسټونو (لکه ملګري ملتونه، د پیسو نړیوال صندق او نړیوال بانک) رول په ګوته کوي چې د مرستې، سوداګرۍ، او حکومتدارۍ ماډلونو له لارې د کوچنیو هېوادونو د کورنیو پالیسیو په جوړولو کې مرسته کوي.

**کنسټراکټیویزم (Constructivism)**

جوړښـــتپالنې یا کنســـتراکټیویزم Constructivism نظريې ملاتړو ته ټولنیز جوړښـــتونه، هویتونه او نورمونه اهمیت لري نو ځکه د دې نظريې لرونکي د ســـترو قدرتونو او کوچنیو هېوادونو تر منځ اړیکې او تعاملات د هویتونو او مفاهیمو له لینز څخه ګوري. الکســاندر وینډټ ســپارښــتنه همدا دا ده، چې د لویو قدرتونو نفوذ د کوچنیو دولتونو هویت، نورمونه او کورني ایډیالوژي جوړوي. (Guzzini & Leander, 2005) . جوزف نای بیا په دې بحث کوي چې څنګه کلتور، او ایډیالوژیکي نفوذ د بیلګې په توګه ( ډ ډیموکراسي وده، مذهبي نفوذ او رسنۍ) په کورني بدلون اغېزه کوي. (Nye, 1990) پاس ذکر شــوې تیوري، د نړیوالو اړیکو په ســاحه کې د ســترو قدرتونو او کوچنیو هېوادونو تر منځ د اړیکو د پیچلتیاوو تحلیل کې مرســته کوي. لیکوال د افغانســتان د قضــیې مطالعې کې د ځینو تیوریو تطبیق باندې بحث کوي. همدارنګه لیکوال د افغان ملت له خوا د خپلو ارزښـــتونو لپاره د بې ســـارې مبارزې له مطالعې څخه نړیوالو اړیکو کې د یوې نوې نظريې وړاندیز کوي. هغه نظریه دا ده: څرنګه چې د سترو قدرتونو سیاسي نوسان پر کوچنیو هېوادونو اغېز لري، همدارنګه په کوچنیو هېوادونو کې د ملي او مذهبي خوځښتونو دوامداره مقاومت هم ستر قدرتونه سیاسي نوسان ته مجبوروليي شي.

**پر افغانستان د سترو قدرتونود سیاسي نوسانونو اغېز**

**پر افغانستان د شوروي اتحاد د سیاسي نوسان اغېز**

دافغانستان جغرافیوي موقعیت له پېړیو څخه د سترو قدرتونو د پاملرنې وړ مرکز پاتې شوی دی. په ۱۹ مې پېړۍ کې افغانستان د نړۍ د دوه سترو قدرتونو برطانوي هند او تزاري روسیې د سیالۍ او نفوذ مرکز وو. افغانستان د دواړو سترو قدرتونو د جلاوالي لپاره حائلي دولت یا (buffer state) رول درلود. بیا د غرب او پخواني شوروي اتحاد تر منځ د سړې جګړې په دوران کې هم افغانستان د دواړو سترو قدرتونو لپاره ارزښت لاره. په اصل کې د غربي او شرقي بلاکونو تر منځ د سړې جګړې وروستۍ ګرمه جګړه هم په افغانستان کې ترسره شوه. شوروي اتحاد پر افغانستان د نفوذ د لرلو په موخه په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې د بشري ظرفیت د روزنې په برخه کې پانګونه وکړه. دې پانګونې له روسانو سره مرسته وکړه، چې افغاني ټولنه کې هم د کمونېزم د ګوند رامنځته کېدو ته زمینه برابره کړي او په پوځ کې د روزل شویو ظرفیتونو په مرسته وکولای شي د کودتا په مټ د افغانستان نظام کې ریښه پیدا کړي.

په افغانستان کې د سوسیالیستي حکومت د نسکوریدو له وېرې شوروي اتحاد عملاً په ۱۹۷۹ کال کې د ډیسمبر د میاشتې په ۲۷ افغانستان اشغال کړ. د روسانو دا کار د غربي بلاک له سخت مخالفت سره مخامخ شو. غربي بلاک د شوروي اتحاد په ملاتړ د رامنځته شوي رژیم د له منځه وړلو په موخه افغان

مجاهدينو سره نظامي، سياسي او اقتصادي مرستې وکړې. بالاخره د امريکا په مشرۍ غرب او شوروي اتحاد تر منځ سيالۍ کې شوروي اتحاد اړ کړای شو، چې د افغانستان په هکله په خپل سياست کې بدلون راولي. شوروي اتحاد په ۱۹۸۸ کال کې د جينوا تړون د لاسليک سره له افغانستان څخه د خپلو سرتيرو د بشپړ ايستلو اعلان وکړ. د شوروي اتحاد په افغانستان کې خپل لاسپوڅی سوسياليستي حکومت ځکه يوازې پريښود چې له يوه اړخه په مسکو کې ځينې ځواکمنو خلکو پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل يوه تېروتنه ګڼله او له بله اړخه نور نو پخوانی شوروي اتحاد له هېواده بهر د سيوسياليستي حکومتونو اقتصادي، سياسي او نظامي ملاتړ توان نه درلود (Pratt, 1995).

کله چې د پخواني شوروي اتحاد ځواکونه له افغانستان څخه ووتل، د ډاکټر نجيب الله په مشرۍ سوسياليستي افغان حکومت دا حقيقت درک کړ چې د بهرنيو يرغلګرو په وړاندې د افغانانو حساسيت به ډېر ژر د دوی د زوال لامل وګرځي. له خارج څخه را وارده شوې بهرنۍ ايډيالوژۍ پلي کول په داسې ملت، چې د هغوی له کلتور او مذهبي ارزښتونو سره همغږی نه وي، بقاء نه لري. له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو له وتلو وروسته، افغان حکومت په خپلو پاليسيو کې بدلونونه راوستل، اساسي قانون يې بدل کړ، د حکومت په چوکاټ کې اسلامي ارزښتونه يې څه نا څه ځای پر ځای کړل تر څو ملت قانع کړي؛ خو په دې دوران کې له حکومت څخه ورخ اوبو وړی و. د ډاکټر نجيب الله په مشرۍ سوسيالستي جمهوريت د درېيو کلونو مقاومت وروسته سقوط شو.

**د افغانستان په هکله د غربي بلاک سياسي ليد لوری**

د سړې جګړې له پای ته رسيدو سره سم، د دوو مشهورو ليکوالانو نظرياتو د اسلام او افغانستان په اړه د غرب پاليسي باندې تاثيرات درلودل. لومړی فرانسس فوکوياما دی، فوکوياما د ( د تاريخ خاتمه او وروستی سړی) يا The end of history and the last man مقالې کې يوه داسې نظريه وړاندې کړه، چې په اساس به يې د غرب لبېرال ډيموکراسي نظريه نړيواله کېږي، دټولې نړۍ هېوادونه د پرمختګ او سياسي ثبات لپاره دې ته اړتيا لري، چې د غرب ماډل لبېرالېزم خپل کړي. (Fukuyama, 1989) همدارنګه په ۱۹۹۰ مې لسيزې کې بيا د پوهنتون استاد ښاغلي هانتينګټن د تمدنونو د ټکر يا Clash of Civilization تر سرليک لاندې مقاله کې استدلال وکړ، چې راتلونکو کې به جګړې تمدنونو تر منځ وي. غربي تمدن دښمن اسلامي تمدن دی. غرب به له اسلام سره ښکر پر ښکر کېږي. (Huntington, 1993)

له يوې خوا د نړۍ په کچه نوې نظريې راڅرګنديدې؛ له بل پلوه افغانستان کې د چوکۍ او مقام لپاره سخته سيالي روانه وه. افغانستان کې بېلابېل تنظيمونه له نړيوالو پلانونو څخه نا خبره وو. په افغانستان کې

د روسانو په ملاتړ د ډاکټر نجيب الله حکومت تر سقوط وروسته د سوسياليستي رژيم مخالفينو ونه شو کولای چې يو باثباته او افغان ملت ته ټولمنلی حکومت جوړ کړي، ټولنيز عدالت تأمين کړي او خلکو ته خدمات وړاندې کړي. د افغانستان سياسي قدرت پر سر د اختلاف له کبله خونړۍ کورنۍ جګړې پيل شوې. غرب او د افغانستان ګاونډيان هم په افغانستان کې کورنۍ جګړې ته خوشحاله ول. سيمې او امريکا يو باثباته او قوي افغانستان نه غوښت.

د سي ای اې پخواني مسؤول او د امريکا د پخواني ولسمشر بارک اوباما مشاور ښاغلي ريډال په خپل کتاب what we won کې ليکلي دي، چې د افغانانو د وينو د قربانيو له کبله نه يوازې شوروي اتحاد په افغانستان کې مات شو. بلکې شرقي اروپا هم د دوی د قربانيو له کبله د کمونېزم له کنټرول څخه آزاده شوه، خو افغانانو ته د شوروي اتحاد څخه آزادي د يوې بلې اوږدې کورنۍ جګړې او لا وينې تويدنې باعث وګرځيده (Riedel, 2014).

**د اسلامي نظام په جوړښت کې د افغانانو ناکامي**

لکه څنګه چې يادونه وشوه، د افغانستان او نورې اسلامي نړۍ لپاره د غرب پلان دا وو، چې هلته د لېبرال - ډيموکراسي سياسي او د کپيټلېزم يا سرمايه داري اقتصادي نظامونه وتپل شي او بيا تقويه شي؛ خو غربي نړۍ د لېبرالېزم او کپيټليزم پر وړاندې يو ګواښ ته متوجه وو، چې هغه ګواښ اسلامي نظام و. غرب په هېڅ صورت هم نه غوښتل د نړۍ په کومه برخه کې اسلامي نظام برياليی شي. غرب د اسلام له ټولنيز نظام سره ډېر مشکل نه لري؛ خو غربي نړۍ ته د اسلام سياسي او اقتصادي نظام په هېڅ صورت هم د زغم وړ نه دی. همدا علت وو، چې د کمونېزم د ماتې سره سم پکار دا وه، چې د شمالي اتلانتيک سازمان NATO چې د کمونېزم د ګوښ د مخنيوي په موخه جوړ شوی وو، بايد منحل شوی وای؛ خو دا کار ځکه ونه شو، چې د غرب په آند او وينا د دوی راتلونکی بل دښمن به هغه څوک وي، چې په اسلامي هېوادونو کې د اسلام سياسي نظام پلي کوي. (Burton, 2018)

کله چې په کال ۱۹۸۹- ز کې روسان له افغانستان څخه ووتل، د امريکامتحده اياالاتو نه غوښتل چې د تفاهم او سولې له لارې په افغانستان کې نظام تغير وخوري. که څه هم په ظاهره دوی ځانونه د تفاهم او مصالحې طرفداران ښکاره کول، خو په اصل کې دوی نه افغانستان کې اسلامي نظام غوښتل او نه يې هم د مسلمانانو تر منځ سولې او خپل منځي تفاهم راومنځ ته کولو ته کومه ژمنتيا درلوده. غرب له تاريخي پلوه د مسلمانانو د اتحاد او پر واقعي اسلامي ارزښتونو ولاړ نظام مخالف دی. جوزف مساد په خپل کتاب Islam in Liberalism کې غربي پاليسي جوړونکو ته وړانديز کړی دی، چې ((موږ بايد د اسلامي نړۍ ووېشو، د هغوی اخلاقي يوالي مات کړو، د هغوی سياسي او قومي جوړښتونه له ويش

ځخه ګټه پورته کړو، موږ باید اسلامي نړۍ کې د بېلابېلو نژاددنو تر منځ توپیرونه په داسې ډول زیات کړو، چې ملتپال احساسات زیات شي او اسلامي وروروليي پای ومومي)) . (Massad, 2020)

په ۱۹۸۰ لسیزې کې د امریکا لپاره د افغانستان ځانګړی استازی پیټر ټامسن، د افغانستان په اړه په خپل کتاب کې دې مسئلې ته هم اشاره کړې ده. هغه لیکلي دي، چې په ظاهره موږ په رسنیو او رسمي اعلامیو کې په افغانستان کې د تفاهم او سولې له لارې د نظام بدلون ملاتړ کاوه؛ خو په پټه مو د پاکستان له استخباراتو ای اس ای سره یوځای د جګړې ملاتړ کول او غوښتنه مو دا وه، چې د افغانستان د وخت حکومت په نظامي ډول سقوط وخوري (Tomsen, 2017).

کله چې په افغانستان کې سوسیالستي حکومت سقوط شو، نو د روسانو پر وړاندې جنګیدلیو بېلابېلو افغان تنظیمونو، ونه شو کړای یو باثباته او ټولمنلی نظام جوړ کړي. د بېلابېلو تنظیمونو تر منځ په کابل او د افغانستان اطرافو کې د خونړیو جګړو سلسله پیل شوه. هغه وسلې او نظامي تجهیزات چې سترو قدرتونو لکه روس او امریکا د خپلو سیالانو د ځپلو لپاره افغانستان ته استولي وې، د پخواني شوروي اتحاد له وتلو وروسته هماغه تجهیزات او وسلې د افغانانو بېلابېلو ډلو په خپلو منځو کې د یوه او بل د محوه کولو لپاره استعمال کړلې. اوږدې کورنۍ جګړې او جنګي جنایتونو، نه یوازې افغانستان او نورې اسلامي نړۍ کې د اسلامي نظام غوښتونکي د اسلامي نظام له ملاتړ ځخه زړه ماتې کړل، بلکه دې پروسې د غرب د لیبرالېزم نظریې تطبیق ته هم ښه زمینه برابره کړه. که څه هم په ۱۹۹۶ کال کې د طالبانو تحریک وکولای شول، چې کورنۍ جګړې ته تقریباً د پای ټکی کېږدي؛ خو دوی هم په افغانستان کې د یوه مثالي او نمونوي حکومت په جوړېدولو کې پاتې راغلل.

**په افغانستان کې دویمه ډیموکراسي**

کله چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۱ مه نیټه د امریکاپه متحده ایالاتو کې په وړلډ ټریډ سنټر باندې بریدونه وشول. نو د ۲۰۰۱ کال کې له دې ( ۹/۱۱ ) پېښې وروسته د امریکامتحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي داسې ترتیب شوه، چې په افغانستان او منځني ختیځ کې به د لیبرال ډیموکراسي ارزښت د برچې په زور پلي کوي. د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې له پېښې ځخه لا د مخه پلان وو، چې افغانستان کې اسلامي امارت نظام ړنګ او پرځای یې یو لیبرال ډیموکراتیک سیستم راولي. د امریکا د وخت د ولسمشر جورج ډبلیو بوش دکتورین دا و، چې نه یوازې افغانستان بلکه ټول د منځني ختیځ هېوادونه باید د غربي لیبرال ډیموکراسي نظامونه خپل کړي.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې نیټې په پیښه کې اسلامي امارت په هېڅ صورت ښکېل نه و، حتی د الوتکو په مټ پر امریکایي ودانیو ۱۹ بریدګرو کې هېڅ یو یې هم افغان نه وو. دا موضوع د ۹/۱۱ په اړه

تر ټولو معتبر سند د ۹/۱۱ کمیسیون رپوټ 9/11 Commission Report کې هم لیکل شوی دی. د دې رپوټ په اساس نه طالبان او نه هم کوم افغان د ۹/۱۱ په پېښه کې ښکېل وو. طالبانو د ۹/۱۱ پېښه وغندله او امریکامتحده ایالاتو سره یې د خواخوږۍ اعلامیه هم خپره کړه او د قضیې د هر اړخیزې پلټنې سره یې د همکارۍ وړاندیز هم وکړ (Kean & Hamilton, 2004).

خو دا چې د ستر قدرت (امریکامتحده ایالاتو) دکتورین دا و، چې په افغانستان کې باید نظام لېبرال سیستم ته بدلون ومومي؛ نو ځکه یې د نړیوالو حقوقو او ملګرو ملتونو د منشور خلاف افغانستان باندې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷ مې نیټې برید وکړ او دا هیواد یې اشغال کړ. دلته یې د غرب ملاتړی نظام پر افغانانو مسلط کړ. د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو پخوانی وزیرې کانډولیزا رایس په وینا دوی (د امریکادمتحده ایالاتو د وخت کابینه) ډاډه وو، چې متحده ایالات به حتمي په هر صورت کې پر افغانستان برید کوي. هغه همدارنګه وایي چې: "موږ ټول پوهیدو، چې زموږ د بریدونو پایله به د طالبانو پر وړاندې د جګړې اعلان او په افغانستان یرغل او هلته د نظام بدلون وي" .(Rice, 2011)

د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش په خپل دکتورین کې "د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه" او پر افغانستان د امریکا یرغل "د بشریت په تاریخ کې یوه ستره کارنامه ګڼله، پر افغانستان یې تیری د افغانستان ازادي" ګڼله. د امریکا د متحده ایالاتو پر افغانستان د یرغل یو هدف دا وو چې د افغانانو د مذهب، دودونو او کلتور پر خلاف د لویدیځ د واکمن ژوند طرزالعمل پلي کړي . د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په ۱۸مه، د امریکا د متحده ایالاتو د دفاع پخواني وزیر په څرګنده توګه اعلان وکړ چې "موږ یو انتخاب لرو، یا د خپل ژوند کولو لاره بدله کړو، کوم چې د منلو وړ نه ده، یا د دوی (مسلمانانو او افغانانو) د ژوند کولو لاره بدله کړو، او موږ وروستی انتخاب لرو.

که څه هم په ۱۹۶۰ مې لسیزې کې د افغانستان پادشاه محمد ظاهر شاه هم د ډیموکراسي له ځینو اصولو سره موافقه وښوده، د لومړي ځل لپاره، صدراعظم د غیرشاهي کورنۍ څخه وټاکل شو، پارلمان رامنځته شو. د خلکو استازي د آزادو ټاکنو په پایله کې د قانون جوړونکي ارګان غړي شول. په ۱۹۶۴ کال کې نوی اساسي قانون تصویب شو، چې په کې د بیان آزادي، سیاسي ګوندونو د فعالیت آزادي او... ځای پرځای شول. د محمد ظاهر شاه د ډیموکراسي لسیزې لس کاله دوام وکړ. د ۲۰۰۴ – ز کال کې جوړ اساسي قانون تقریباً د ۱۹۶۴ – ز کال د اساسي قانون کاپي وه. له ۲۰۰۱ – ز کال راوروسته ډیموکراسي او د ۱۹۶۰ لسیزې ډیموکراسي تر منځ توپیر دا و، چې له ۲۰۰۱ – ز کال راوروسته ډیموکراسي د برچې په زور پر افغان ملت وتپل شوه.

غرب کې میشت افغان لیبرالیستان، د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه ملاتړو او په افغانستان کې موجوده جنگسالارانو ته د بوش د دکتورین تطبیق یو طلایي چانس وو. دوی منسجم شول او د غربي مفکورې پر مټ د حکومت د جوړېدو او د دې حکومت برخه گرځېدو لپاره یې عملي گامونه واخېستل. دا چې د امریکا په مشرۍ غرب هم د دوی د خوښې راتلونکي حکومت ته د مشروعیت ورکړې ته اړتیا درلوده، نو په ۲۰۰۲ – ز کال کې یې په جرمني کې د بون نړیوال کنفرانس جوړ کړ.

پلان دا و، چې د محمد ظاهرشاه د حکومت په څېر ډیموکراسي پر افغانستان بیا حاکمه شي. بون کنفرانس کې د حامد کرزي په مشرۍ د یوه انتقالي حکومت په جوړېدو موافقه وشوه. له دې سره افغانستان مستقیماً د غربي بلاک تر حمایت او حاکمیت لاندې راغی. په افغانستان کې د انتقالي حکومت ملاتړي اکثراً د لیبرالېزم د هغې نظریې لارویان وو، چې د نړیوال بنسټونو او مؤسسو همکاري ته ځانگړې پاملرنه کوي. دوی په دې باوري دي، چې د سترو قدرتونو سیاسي نوسانات کولای شي د افغانستان په څېر کوچنی هېواد ته د ډیپلوماسي او نړیوالې همکارۍ نوي فرصتونه ورکړي.

**د سترو قدرتونو پر سیاسي نوساناتو د انقلابي خوځښتونو د مبارزې اغېز**

**۲۰۲۱ کال کې د افغانستان د جمهوري حکومت د سقوط لامل**

د ۲۰۲۱ کال د اگست د میاشتې په ۱۵مه، په افغانستان کې سیاسي نظام بدل شو. د غرب په ملاتړ جوړ شوی جمهوري دولت سقوط وکړ او واک یوځل بیا په ۲۰۰۱ کال له واکه لرې کړای شوي اسلامي امارت ترلاسه کړ. د لویدیځ په ملاتړ جوړ شوي یو ډول نیمه ډیموکراسي نظام ځای اسلامي امارت تر عنوان لاندې اسلامي نظام ونیو. د دې بدلون په هکله ساده توضیحات وړاندې کېدل: نړیوالو رسنیو هڅې کولې چې د جمهوري نظام ړنگېدل داسې توجیه کړي، چې ملامت په کې یوازې افراد وښودل شي. د افغانستان په چارو کې په اصطلاح ځینې کار پوهانو د لیبرالېزم د له منځه تلو او د امریکا لاسپوڅي حکومت د ړنگېدو تور په ولسمشر غني او کابینې یې ورواچاو.

د امریکا د متحده ایالاتو پخواني ولسمشر جوبایډن بیا په خپلې یوې وینا کې د افغانستان پخوانی ولسمشر اشرف غني د طالبانو پر وړاندې د نه جنگېدو په تور تورن کړ او دا یې د نظام د سقوط علت وگاڼه حال دا چې د امریکا او د ناټو د هوایي، ځمکني او سیاسي ملاتړ تر څنگ د امریکا له خوا تېل شوي حکومت ونه شو کولای چې د اشغال په شلو کلونو کې د ملیاردونو ډالرو د مصرف او د پنځه شپیته زره د جمهوریتي امنیتي ځواکونو د تلفاتو زغملو سره سره د جگړې اړخ بدل کړي، نو دا به بیا څنگه ممکنه وي، چې د امریکامتحده ایالاتو په څېر د ستر قدرت د ملاتړ پرته دې بیا هغه جگړه چې

په افغانستان کې د سترو قدرتونو په شتون او ملاتړ کې ونه گټل شوه، یوازې د یوه لاسپوڅي نظام مشر وگټي.

لیکوال استدلال کوي چې په افغانستان کې د "لیبرال ډیموکراسی" سیستم د ناکامی علتونو کې اصلي علت یې پر افغانانو د سترو قدرتو له خوا په زور او جبر د داسې یو تحمیل شوي نظام تپل وو، چې منشاء او مبنا یې د غرب زیږنده، داسې یو سیستم او فلسفه وه ، چې د افغانانو له مذهب، کلتور او ټولنیز رسم او عنعناتو سره په ټکر کې وه، خو سترو قدرتونو پر کوچنیو هیوادونو د خپل نفوذ او سیاسي فوقیت د پلي کولو په موخه د برچې په مټ تپلی و. که څه هم د څه مودې لپاره د غرب تپل شوی نظام بقاء وکړله؛ خو وروسته بیا رنگ شو. د نورو دلیلونو ترڅنگ د نظام د رنگیدو او د طالبانو د راپورته کېدو او بقا لپاره یو له مهمو دلیلونو څخه د بهرنیو یرغلونو پر وړاندې د افغانانو محافظه کاره او د نه زغم طبیعت دی. د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې، هغه خلک چې د بهرنیو یرغلونو پر وړاندې یې مقاومت کړی دی د افغانانو د لوی اکثریت څخه یې ملاتړ ترلاسه کړی او بریالي شوي دي. د افغانستان کلیوالي اوسیدونکو په ۱۹مه او ۲۰مه پیړۍ کې د برتانوي یرغلونو پر وړاندې، په ۲۰مه پیړۍ کې د شوروي اتحاد پر وړاندې او په ۲۱مه پیړۍ کې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ایتلاف په وړاندې مقاومت کې ونډه واخیسته.

**د مذهبي او ملي خوځښتونو مقاومت**

څرنگه چې یادونه وشوه له ۲۰۰۱ کال څخه راوروسته ، د افغانستان لپاره د امریکا په مشرۍ د غرب سترو قدرتونو د خپل نظامي قوت، سیاسي نفوذ او اقتصادي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د افغان لبیرالیستانو په مټ په افغانستان کې د لیبرال- ډیموکراسي نظریه یې تطبیق پیل کړ. د امریکا په مشرۍ د غرب قدرتونو، چې دوی ورته Social Engineering یا ټولنیز جوړښت پروسې یعنې افغان ملت د غرب مفکورې ته اړولو پروسه پرمخ بوتله، خو دا چې د امریکا د دفاع د پخواني وزیر رمسفلډ په اساس دوی لپاره د دوی د ژوند د طریقې او لارې بدلول د منلو وړ نه وو، نو همدا سې د لیبرال افغانانو پرته نورو مسلمانو افغانانو ته هم د دوی د مذهبي ارزښتونو، کلتور دودونو او تاریخي ارزښتونو لاره او طریقه بدلون د زغم وړ نه وه.

افغانستان له تاریخي پلوه آزاد اسلامي هیواد پاتې شوی دی. د پیو Pew څیړنې پر اساس د افغانستان د اسلامي نړۍ یو له هغو هیوادونو دی، چې ۹۹ فیصده خلک یې د دې غوښتونکي دي، چې په هیواد کې دې اسلامي شریعت تطبیق شي. هغه ملت چې تقریباً ټول خلک یې د شرعي نظام د پلي کېدو،

غوښتونکي وي، څنگه ممکنه ده چې هلته د لیبرالېزم د ارزښتونه په مټ جوړ شوی نظام بریالی شي. (Lugo et al., 2013)

د افغانستان تاریخ د دې شاهد دی، چې د غربي قدرت څخه مخکې نورو ستر قدرتونه هم لا د مخه د افغانانو د مذهبي ارزښتونو او د ژوند د دودیزې لارې د بدلون هڅې کړې دي؛ خو بریالي شوي نه دي، ځکه افغان ملت بهرني یرغلگر نه شي زغملی. الکس ســټریک په خپل کتاب An Enemy We Created کې لیکلې، چې په ۲۰۰٦ ز کال کې، کله چې په افغانستان کې جگړه پیل شوه، موږ هر هغه چا ته چې زموږ پر وړاندې یې مقاومت کاوه، (طالبان) ویل، خو په حقیقت کې دوی تول طالبان نه وو. دوی یوازې د ټولنې عادي خلک وو، چې تل یې د بهرنیانو پر وړاندې د خپلې خاورې دفاع کړې ده او بیا به یې هم کوي(Van Linschoten & Kuehn, 2012).

سیاسي او فرهنگي مبارزې ترڅنگ په افغانستان کې ځینو وسله والو ډلو د جگړې او مقاومت په مټ د ولسمشر جورج ډبلیو بوش دکتورین وننگول. د غرب په مشرۍ د امریکامتحده ایالاتو د خپلې نظریې د تطبیق په موخه نظامي تگلاره غوره کړه. د امریکامتحده ایالاتو د مقاومت د نظامي ځپلو په موخه د ۲۰۰٦ م کال په پای کې له ۲۰۰۰۰ شـل زرو څخه د ۲۰۰۷ کال تر پای پورې ۲۵۰۰۰ پنځه ویشـت زرو ته د پوځ تعداد لوړ کړ. په ۲۰۰۸ م کال په نیمایي کې د امریکایي سرتېرو شمیر افغانستان کې ۳۲۰۰۰ دوه دیرش زره کسانو ته لوړ شو(Gates, 2014).

د وسله وال مقاومت له کبله په افغانستان کې د د سیکولر لیبرال ډیموکراسۍ د پلي کولو تجربه له جدي گواښ سره مخامخ وه. طالبانو د افغانستان په جنوب کې پراخې سیمې تر خپل کنترول لاندې راوستلې. په افغانستان کې د ائتلافي ځواکونو د مشر جنرال جوزف ډنفورډ د سیاسي مشاور په کارټر مالکیشن په خپل کتاب کې د دې یادونه کړې ده، چې په ۲۰۰٦ کال کې د افغانستان په جنوب کې جگړه د وسله والو طالبانو په گټه په مخ روانه وه، "نه کاناډایي ځواکونو، نه انگلیسيــ، نه امریکایي او نه هم افغان حکومت ځواکونو د ملا دادالله ( د افغانســتان په جنوب کې د طالبانو قوماندان) معادل پوځي او قاطع قوماندان درلود.(Malkasian, 2021)

په کابل کې د امریکا پخواني ســفیر نیومن واشــنگټن ته راپور ورکړ، "موږ په افغانســتان کې نه بریالي کیږو ؛ که څه هم موږ له ماتې څخه لا لرې یو خو حالات ښــه نه دي او لا هم ممکنه ده، چې جگړه وگټو." ســفیر له واشــنگټن څخه وغوښــتل چې د افغان اردو او پولیســو لپاره نور تجهیزات واســتوي. (Tanner, 2009)

د امریکا د پوځ شـــمېره په ۲۰۰٦ کې له ۲٦۰۰۰ څخه په ۲۰۰۸ کې ٦۸۰۰۰ تنو ته لوړه شـــوه. امریکا د افغـان اردو سره یوځـای ګـډ عملیـات پیـل کړل، د دې عملیـاتو اصـــلي هـدف دا و، چې اغېزمنې حکومتدارۍ وده وکړي، د هېواد د خپلواکۍ لپاره راپورته شــوي وســله وال خوځښــتونه له منځه یوړل شي او "لېبرال ډیموکراسي" سیاسي سیستم چې د بوش د دکتورین برخه وه، له سقوط څخه وژغورل شي. د یادونې وړ ده، په افغانستان کې د امریکایي ستریرو د شمېرې په هکله د د امریکامتحده ایالاتو د دفاع وزیر رابرټ کېټس، چې د خپل کتاب ډیوټي Duty کې ذکر کړي د ښاغلې میلر له شمېرې سره توپیر لري. ممکن مېلر د قراردادي سرتیري هم شمېرې کې اضافه کړي وي (Miller, 2013).

امنیتي ګواښــونو ته د ځواب ویلو لپاره د امریکا لاســپوځي حکومت، لومړی د ســولې شــورا په نامه د صبغت الله مجددي په مشرۍ یوه اداره رامنځته کړه، تر څو د وسله وال مقاومت مشران له جګړې د مادي امتیازاتو په بدل کې حکومت ته تسلیم کړي. کله چې دې پروسې نتیجه ورنه کړه او ناکامه شوه، نو د بیا ځل لپاره کله چې د امریکا په رهبرۍ کې بدلون راغی توقع دا کیده، چې د امریکا په څېر ســـتر قدرت به د اسلام سره ټکر ته نور د پای ټکی کېږدي. په ۲۰۰۹ ز کال په مصر کې د بارک اوباما د وینا هرکلی وشـو. اوباما د بوش د دکتورین سره په ټکر کې د طالبانو سره مذاکرات او خبرو ممنوعیت مات کړ. د افغانســتان د یرغل څخه وروســته د لومړي ځل لپاره د طالبانو له اســتازو سره د ملګرو ملتونو او جرمني په منځګړیتوب د ســـولې لپاره ابتدایي پټې خبرې وشـــوې (Dobbins & Malkasian, 2015)

د بارک اوباما د ولسمشرۍ په دوران کې د افغانستان په هکله د امریکا د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسي د افغانســـتان اړوند د تغیر په حال کې وه. په افغانســـتان کې د امریکا ســـفیر ایکنبیري په پټو شـــفرونو واشـــنګټن ته اســتولي وو، ویلي وو : "موږ په افغانســتان کې نه بریالي کیږو" د جګړې اړخ بارک اوباما دې ته اړ کړ، چې له طالبانو سره چې په افغانستان کې قوي وسله وال ځواک و، مذاکرات پیل کړي؛ خو د اوباما د مذکراتو ترڅنګ پوځي فشار ته هم دوام ورکړ، چې چندان نتیجه یې ورنـــه کړه. (Ullah et al., 2020).

**په افغانستان کې د لېبرال – ډیموکراسي زوال**

کله چې ټرمپ د امریکا ولسمشر شو، د امریکامتحده ایالاتوپه څېر ستر قدرت بهرني سیاست کې ژور بدلون رامنځته شو. د بوش له خوا عراق او افغانستان کې د ډیموکراسي پلې کولو دکتورین ناکام شول. ډونلډ ټرمپ او ټیم یې د لېبرالېزم پرځای د ریالېزم او کنســـټرکټویزم نظریاتو څخه متاثره دی. ډونلډ ټرمپ نور نه غوښـــتل چې هر کال د امریکامتحده ایالات په افغانســـتان کې ۵۰ میلیارده ډالر مصرــف

ولري. د افغانستان د سولې د بريا لپاره يې افغاني الاصل امريكايي جيوستراتجست زلمى خليلزاد د افغانستان د سولې ځانګړى استازى وټاكه.

خليلزاد نږدې ۱۸ مياشتې په دوحه كې د طالبانو له استازو سره د مستقيمو خبرو اترو ۱۱ لړۍ ترسره كړې وې. بالاخره د نږدې ۱۹ كلونو جګړې او لس كلونو پر له پسې خبرو او مذاكراتو وروسته د ۲۰۲۰ كال د فبرورې په ۲۹ مه يې اسلامي امارت سره د سرتيرو د خروج تړون امضاء كړ. د ۲۰۲۰ كال د فبرورې په ۲۹مه د امريكا او اسلامي امارت تر منځ د دوحې د تړون په درشل كې، د امريكا د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو له ۲۰۰۱ كال را وروسته د افغانستان په هكله د خپل هېواد د سياسي بدلون په هكله وضاحت وركړ، پامپيو وويل، چې نور د امريكا متحده ايالات په افغانستان كې د ډيموكراسۍ ارزښتونه او حكومتوالى سيستم نه تحميلوي. د نظام جوړښت د افغانانو خپل كار دى(Pompeo, 2020).

كه څه هم د نړيوالو اړيكو د نظرياتو پر ا ساس د سترو هېوادونو سياسي نو سان د كوچنيو هېوادونو پر كورنيو سياسي تحولاتو تاثير لري، خو ليكوال د افغان ملت مقاومت د يوې قضيې په توګه وړاندې كولو سره استدلال كوي چې د سترو هېوادونو پر وړاندې په كوچنيو هېوادونو كې مقاومتونه او دوامداره مبارزې هم د دې باعث ګرځيداى شي، چې د سترو قدرتونو سياسي دريځ بدلون ته اړ كړي، حتى د سترو قدرتونو له خوا طرح شوى نړيوال ليد لوري كې بدلون راولي. لكه چې يادونه وشوه، د نړيوال نظام د بدلون قضيه په ځلونو په افغانستان كې د افغان ملت د مقاومت له كبله تكرار شوې ده.

په ۱۹۸۰ لسيزې كې د پخواني شوروي اتحاد او كمونېزم ايډيالوژي پر وړاندې د افغان ملت دوامداره مبارزه د دې باعث شوه، چې پخوانى شوروي اتحاد پرنورو د سو سياليستي او كمونېزم د نظريې له تپلو څخه په شا شي او د افغانستان يرغل ته د پاى ټكى كېږدي. پخواني شوروي اتحاد په ۱۹۸۸ – ز كال د جينوا د تړون په اساس خپل پوځ له افغانستان څخه وايست. له دې سره نه يوازې په افغانستان كې بلكه په نړۍ كې سو سياليستي نظريه مړه شوه. د يوويشتمي پېړۍ په پيل كې د لېبرال ډيموكراسي نظام چې د امريكا په مشرۍ د غربي نړۍ له خوا پر افغانستان تپل شوى وو. د افغان ملت مقاومت له كبله له زوال سره مخامخ شو. په ۲۰۱۸ كال د امريكامتحده ايالاتو خپل سياسي دريځ ۱۸۰ درجې تغير كړ، د دوى پر وړاندې د مقاومت له ډلې (طالبانو) سره يې مستقيماً خبرې پيل كړې، په ۲۰۲۰ كال كې د دوحې د تړون په دوران كې د امريكا د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ژمنه وكړه، چې نور دوى پر افغانانو ليبرل ډيموكراسي سيستم تپلو ته ليواله نه دي.

د امریکامتحده ایالاتو د دوحې د تړون د پرېکړې پر اســاس خپل پوځونه له افغانســتان څخه ویســتل، یوځل بیا د ۱۹۸۸ کال د جینوا د تړون په توګه د اګســټ په ۲۰۲۱ کال کې د امریکا د بشــپړ وتلو څخه مخکې د امریکا لاسپوځی نظام ړنګ شو، اشرف غني وتښتید او د لېبرال ډیموکراسي سیستم لمنه هم له افغانستان څخه ټوله شوه. په افغانستان کې د لېبرال ډیموکراسي د ناکامی سره دا نظریه د نړی په نورو برخو کې هم خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. د نړی دوه نورو سترو قدرتونو چین او روسیې ولسمرانو ولادیمیر پوتین او شي جین پینګ دشــانګهای د همکاری د ســازمان په غونډه کې د نوي ((نړیوال نظام)) د رامنځته کولو کوښــښ وکړ چې دا په خپل ذات کې د غربي لېبرال ډیموکراسي د نظریې د زوال ښــودنه کوي. (DW, 2022, p.) پاســنی قضــیې ته په کتو لیکوال نړیوالو اړیکو کې د یوې داسې نظریې وړاندیز کوي چې: که د سترو قدرتونو سیاسي نوسان په کوچنیو هېوادنو کې د سیاسي او نظامي تحولاتو باعث ګرځیدلای شي همدارنګه پــــه کوچنیو هېوادونو کې دوامداره او نه ســتړې کېدونکې مبارزه او مقاومت هم کولای شي، د سترو قدرتونو سیاسي نوسان اغېزمن کړي.

**د اسلامي امارت سره د سترو قدرتونو سیاسي اړیکې**

په یویشتمې پیړی کې که له یوې خوا د ملګري ملتونو د امنیت د شورا پنځه دایمي غړي پر نړیوال سیاست اغېز لري، له بل پلوه درې ستر قدرتونه لکه چین، روسیه او د امریکامتحده ایالاتو کې هر سیاسي نوسان پر کوچنیو هېوادونو اغېز لري. دا چې د چین او روسیې بهرنی سیاست د ریالېزم د نړیوالو اړیکو د تیوري ولاړ دی. دا دواړه هېوادونه کوچنیو هېوادونو کې سیاسي تګلارې او د هغوی د ژوند له طریقې سره کومه علاقه نه لري، نو ځکه له دې دواړو هېوادو سره د اسلامي امارت اړیکې د منافعو او امنیتي ګواښونو څرخېږي.

نړیوال سیاست کې د لویو تحولاتو له کبله، د ۲۰۲۱ م کال د کورنا د اوبا له ختمیدو څخه را وروسته د نړی غربي سترو قدرتونو ته نور د (ترهګری پر وړاندې جګړه) او افغانستان کې د نظامي مداخلې دوام د اهمیت وړ سیاسي موضوع وه، غرب دا موضوع د مونیخ په امنیتي کنفرانس کې هم مطرح کړه. همدارنګه ګاونډي هېوادونه بالخصوص ایران او پاکستان له داخلي کشمکش او اقتصادي بحران سره مخامخ شول. روسیه په اوکرین کې ښکېله شوه، چین له امریکا سره په اقتصادي جګړه کې د ښکیلدو سره سم د تایوان مسئله کې له غرب سره د برخورد په حال کې دی. ...... له افغانستان څخه د سترو قدرتونو پام بل لورې ته اوښتل د اسلامي امارت سره مرسته وکړه، چې د بهرني فشارونو پرته په افغانستان کې یو سرتاسري نظام رامنځته کړي.

د چین او روسیې د خپلو هېوادونو ملي منافعو، اقتصادي او امنیتي ګواښونو ته په کتو له نورو هېوادونو سره خپلې اړیکې تنظیموي. دواړو هېوادونو له اسلامي امارت سره اړیکې هم د همدې منافعو په نظر کې نیولو سره تنظیم کړې دي. کله چې د ۲۰۲۳م کال د ډسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۲ غړو د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون د غندنې علامیه صادره کړه، پکې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یوازې درې دایمي کړو، امریکا، فرانسې او برېتانیې ګډون کړی وو. چین او روس د غندونکو له ډلې څخه نه ول. د چین او روسیې دواړه ستر قدرتونه د افغانستان د نظام رویه او پالیسي د افغانستان له خلکو سره د دې هېواد کورنۍ مسئله ګڼي(ازادي راډیو, 2024).

په نړیوالو قدرتونو کې د اسلامي امارت اړیکې نسبت نورو ته د امریکامتحده ایالاتو سره ډېرې مهمې او ډېرې پیچلې دي ځکه، چې دواړه هېوادونه تازه له یوې اوږدې جګړې را وتلي دي او غرب لا هم د لیبرالېزم او کنسټرکټیویزم نظریاتو متاثره هېواد دی. سره له دې چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري د ۲۹ نیټې څخه را وروسته د امریکا او اسلامي امارت تر منځ د دوحې د تړون راهیسې، د امریکامتحده ایالاتو خپله ستراتیژي بدله کړه او د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۳۱ وروسته یې په افغانستان کې خپل پوځي حضور ته د پای ټکی کیښود، لا هم امریکا پر افغانستان سیاسي نفوذ لري. د نړۍ اکثره هېوادونه د امریکامتحده ایالاتو سیاست ته په کتو له افغانستان سره سیاسي تعامل او رسمیت پیژندو ته زړه ښه کولای شي.

د افغانستان موجوده حکومت غواړي، چې د ټولې نړۍ سره د امریکا په شمول سیاسي او ډیپلوماتیک روابط ولري. حکومت غواړي، چې د امریکامتحده ایالات بېرته په کابل کې خپل سفارت پرانیزي، دلته پانګونه وکړي او له دې هېواد سره مثبت تعامل ولري. د امریکامتحده ایالات هم غواړي، چې د جیوستراتیژیکي ارزښت لرلو له کبله افغانستان له موجوده حکومت سره روابط ولري. روس او چین ته د افغانستان ډېر زیات نږدیوالی نه د افغانستان د موجوده حکومت او نه هم د امریکامتحده ایالاتو په ګټه دی. دا حقایق د امریکا په متحده ایالاتو کې اکثره ریالیستان درک کوي؛ خو له اسلامي امارت سره د روابطو ښه کولو پر وړاندې دوه ستر خنډونه پراته دي.

لومړی خنډ خو دا دی، چې د امریکامتحده ایالاتو او د طالبانو تر منځ اوږدې جګړې شوې دي. د دوه متخاصمینو تر منځ د اړیکو نورمال کېدل وخت ته اړتیا لري. دویم خنډ د امریکامتحده ایالاتو سیاسي تصامیمو کې د لیبرالیستانو رول دی. دوی لا هم په دې باور دې چې اسلامي امارت باید د دوی د فکر په اساس ښځو ته حقوق ورکړي، د بیان، فکر او انفرادي آزادي یې ومني. د بایډن له ادرې سره د اسلامي امارت د اړیکو د نه ښه کېدو یو علت همدا و، د بایډن اداره د لیبرالیستانو او فیمینستانو څخه متاثره وه. د فیمینستانو او ښځو حقوقو د فعالانو د فشار له کبله د بایډن ادارې د افغانستان لپاره ځانګړی استازی

زلمي خليل زاد لرې او پرځای يې د ټامس ويسټ ترڅنګ د ښځو د حقوق د دفاع لپاره رينا اميري هم وټاکله.

ميرمن رينا اميري، چې افغاني الاصله امريکايۍ ده په ځلونو په خپلو ټويټونو کې پر اسلامي امارت نيوکې کړې دي. کله چې د اسلامي امارت د بشري حقوقو خپلواک کميسيون، د ملي پخلاينې عالي شورا او د اساسي قانون د پلې کولو څارنې خپلواک کميسون منحل کړ، ميرمن اميري د اسلامي امارت د پريکړو په ضد اعتراض وکړ او د يادو لېبراليستي ادارو منحل کول يې د افغانانو د غوښتنو سره په ټکر کې ياد کړ. د بايډن په دوره کې د امريکا او اسلامي امارت په اړيکو کې هېڅ پرمختګ ونه شو. د بايډن ادارې څخه د ميرمن رينا اميري په ډول د اکثرو فيمينستانو غوښته دا وه، چې افغانستان موجوده نظام بايد د يوه مشروع حکومت په توګه په رسميت ونه پېژندل شي، نو ځکه د بايډن په دوره کې هم د امريکا د پخواني ولسمشر بيل کلنټن د ولسمشرۍ د دورې په څېر اسلامي امارت په رسميت ونه پېژندل شو. (Cristol, 2019)

په ۲۰۲۴ کال د بيا ځل لپاره ډونلډ ټرمپ د امريکا د متحده ايالاتو ولسمشر شو، دا چې ډونلډ ټرمپ او ټيم يې د سياسي فکري مسير له اړخه په رياليزم ولاړ دي. دا کار دې ته زمينه برابروي، چې د افغانستان موجوده نظام سره به په اصطلاح د ښځو او بشري حقوقو او لېبراليستي ارزښتونو په نظر کې نيولو پرځای د ملي منافعو په نظر کې نيولو سره اړيکې ټينګې کړي. د امريکا اوسنی ولسمشر ته په افغانستان کې د امريکايي بنديانو مسئله مهمه وه، په خپلې يوې وينا کې يې افغانستان کې حاکم نظام څخه غوښتنه هم کړې وه، چې د دوی امريکايي بنديان بايد آزاد کړي. د زلمي خليل زاد په منځګړيتوب، اسلامي امارت بنديان د ډيپلوماتيکو اړيکو د پيل د حسن نيت د اظهار په موخه آزاد کړل. وروسته د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت مسؤلينو کابل کې د امريکا د سفارت او په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت د بيا پرانيستې يادونه وکړه.

په افغانستان کې موجوده حکومت له يو ستر امتحان او تاريخ ټاکونکي پړاو څخه د تيريدو په حال کې دی. لکه څرنګه چې يادونه وشوه، د افغانانو د مبارزې په پايله کې نه يوازې دا چې په افغانستان کې، سوسياليستي سيستم له منځه ولاړ، د سوسياليستي سيستم شړی له نړۍ څخه هم ورټوله شوه؛ خو د افغانانو اشتباهات د دې باعث وګرځېدل، چې هغه افغانان چې شرقي اروپا يې د کمونېزم له شر څخه وژغورله ونه شي کولای د ځان لپاره يو باثباته نظام جوړ کړي، چې دې کار د لېبرالېزم لاس افغانستان ته را اوږد کړ، اوس بيا په ۲۰۲۱ کال کې د لېبرالېزم نظريه په افغانستان کې ونګول شوه، د نړۍ په سطحه د لېبرال ډيموکراسي سيستم له زوال سره مخامخ دی، نو افغانستان ته د يوه مستحکم نظام د جوړيدو

چانس په لاس ورغلی دی. څرنگه چې یادونه وشوه، چې د سترو قدرتونو ترڅنگ د سیمې قدرتونه د نړۍ په نورو موضوعاتو کې ښکېل دي. افغانستان د توجه ټکی نه دی او دا د مستحکم، همه شموله او عادل نظام جوړېدو ته ښه موقع ده. د یادونې وړ ده، چې دا موقع به ډېر وخت پاتې نه وي.

د افغانستان تېر تاریخ او سترو لاسته راغلو چانسونو ضایع کېدو ته په کتو، موجوده حکومت نه یوازې، دې ته اړتیا لري، چې له هیواد څخه بهر له نورې نړۍ سره د متقابل احترام په چوکاټ کې اړیکې ټینګې کړي بلکه حکومت د هېواد دننه خپلو خلکو ته هم مسؤل دی، چې خپل اتباع له نظام څخه قانع او راضي کړي، ټولنیز عدالت تأمین کړي. نظامونه هغه وخت دوام مومي، چې ټولنیز عدالت تأمین او ولس ته هر اړخیز خدمات وړاندي کړای شي. کله چې د ملت حقوق خوندي او مشروع غوښتنې یې ومنل شي نو د ملت او حکومت تر منځ واټنونه کمیږي او نظامونه مضبوطیږي. د هغو نظامونو بقاء تل له گواښ سره مخامخ وي، چې ملت یې له خپل نظام څخه ناهیلی او د ویرې په حال کې وي. او ډېری اتباع یې غواړي، چې هېواد کې د قرار پرځای د فرار لاره خپله کړي.

**پایله**

د نړیوالو اړیکو د نظریاتو په رڼا کې ولیدل شول، چې سترو قدرتونو سیاسي نوسانات د کوچنیو هېوادونو په وضعیت کې د پام وړ بدلونونه رامنځته کوي، په ځانگړې توگه، د افغانستان قضیه د دې ډول نړیوالو اړیکو د نظریاتو پیاوړتیا ته وده ورکوي. پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد تېری، د امریکا تر مشرۍ د غرب یرغل او د اسلامي امارت بیا رامنځته کېدل د نړیوالو قدرتونو د سیاسي نوساناتو اغېزې روښانه کوي.

په دې مقالې کې روښانه شوه، چې د افغانستان تاریخ د دې ښکارندویي کوي چې د بهرنیو سترو قدرتونو مداخلې د کورنیو سیاسي تحولاتو لامل گرځي. همدارنگه د کور د ننه د آزادۍ لپاره وسله والې مبارزې هم د سترو قدرتونو اوږد مهاله ارادې او تصامیم باندې تاثیرات درلودلای شي. د شوروي اتحاد د یرغل پر وړاندې د افغانانو مقاومت سبب شو، چې په پایله کې یې نه یوازې د شوروي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي بلکه په نړیواله کچه د سوسیالیستي سیاسي او اقتصادي سیستم سقوط وکړي. په ۲۰۰۱ – ز کال په افغانستان باندې امریکایي یرغل بیا د لیبرالېزم د ارزښتونو د تپلو هڅه وکړله، خو د افغان ملت د مذهبي او ملي مقاومت له برکته د لیبرالېزم نظریه هم له زوال سره مخامخ شوه

مقاله کې لیکوال د نړیوالو اړیکو په علمي بهیر کې یوه نظریه وړاندې کوي، هغه دا چې که د سترو قدرتونو سیاسي بدلونونه په کوچنیو هېوادونو تاثیرات لري په کوچنیو هېوادونو کې هم د خپلواکۍ لپاره مقاومت او دوامداره ملي خوځښتونه د سترو قدرتونو د سیاسي دریځ په بدلون کې هم اغېز درلودلای

شي. د روس او امریکې پر وړاندې د افغانستان مقاومتونه او دوامدارې مبارزې د دې امر ښکارندويي کوي. په دې توګه، لیکوال وړاندیز کوي چې کوچني هېوادونه نه یوازې د سترو قدرتونو په نوساناتو کې بلکه د خپل مقاومت او مبارزې له لارې د سترو قدرتونو د سیاسي وضعیت په ټاکلو کې هم اغېزه لري. دا چې افغانستان له یوه ستر نړیوال تحول څخه تېر شوی دی، نو د افغانستان د اوسني حکومت لوی مسؤلیت لري، چې نه یوازې د نړیوالو اړیکو په رڼا کې د متقابل احترام او همکارۍ په اساس د نورو سترو هېوادونو سره اړیکې لا پیاوړې کړي، بلکه د دې لپاره چې افغانستان د نړیوالو قدرتونو د سیاستونو د بدلون له منفي اغېزو څخه وساتل جدي اړتیا لیدل کېږي چې حاکم نظام د هیواد د ننه هم ټولنیز عدالت تأمین کړي او د خپلو اتباعو حقوق خوندي کړي. د دې پروسې د بریا لپاره حکومت باید د خلکو مشروع غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره عمل وکړي، تر څو د نظام د ټینګښت او ثبات لپاره د خلکو باور او ملاتړ ترلاسه شي.

## مأخذونه

Burton, J. (2018). NATO's Durability in a Post-Cold War World. Suny Press.

Cristol, J. (2019). The United States and the Taliban before and after 9/11. Palgrave Pivot. https://doi.org/10.1007/978-3-319-97172-8

David, S. R. (1991). Explaining third world alignment. World Politics, 43(2), 233–256.

Dobbins, J., & Malkasian, C. (2015). Time to Negotiate in Afghanistan: How to Talk to the Taliban. Foreign Affairs, 94(4), 53–64.

DW. (2022). ایا چین او روسیه به د نړۍ نظام بدل کړلای سي؟ –. dw.com. https://www.dw.com/ps/xi-putin-look-to-challenge-world-order-at-regional-summit/a-63163410

Fukuyama, F. (1989). The end of history? The National Interest, 16, 3–18.

Gates, R. M. (2014). Duty: Memoirs of a secretary at war.

Guzzini, S., & Leander, A. (2005). Constructivism and international relations: Alexander Wendt and his critics. Routledge.

Huntington, S. P. (1993). The clash of civilizations? The clash of civilizations. Foreign Affairs, 22(28), 1–12.

Kean, T., & Hamilton, L. (2004). The 9/11 commission report: Final report of the national commission on terrorist attacks upon the United States (Vol. 3). Government Printing Office.

Keohane, R. O., & Nye Jr, J. S. (1973). Power and interdependence. Survival, 15(4), 158–165.

Lugo, L., Cooperman, A., Bell, J., O'Connell, E., & Stencel, S. (2013). The world's Muslims: Religion, politics and society. World.

Malkasian, C. (2021). The American war in Afghanistan: A history. Oxford University Press.

Massad, J. A. (2020). Islam in liberalism. University of Chicago Press.

Miller, P. D. (2013). Armed state building: Confronting state failure, 1898-2012. Cornell University Press.

Morgenthau, H. J. (1973). Politics among nations. Library of Congress.

Nye, J. S. (1990). Soft power. Foreign Policy, 80, 153–171.

Pompeo, M. (2020, September 12). REMARKS BY SECRETARY OF STATE MICHAEL POMPEO AT THE INAUGURATION OF AFGHANISTAN PEACE NEGOTIATIONS, Doha, Qatar. U.S. Embassy in Afghanistan. https://af.usembassy.gov/remarks-by-secretary-of-state-michael-pompeo-at-the-inaugration-of-afghanistan-peace-negotiations-doha-qatar/

Pratt, N. (1995). Out of Afghanistan: The Inside Story of the Soviet Withdrawal, by Diego Cordovez & Selig S. Harrison. 450 pages, map, b&w photographs, appendix, notes, index. New York: Oxford University Press, 1995. $35.00 (Cloth) ISBN 0-19-506294-9. Review of Middle East Studies, 29(2), 234–235.

Rice, C. (2011). No higher honor: A memoir of my years in Washington. Crown.

Riedel, B. (2014). What We Won: America’s Secret War in Afghanistan, 1979 89. Brookings Institution Press.

Tanner, S. (2009). Afghanistan: A military history from Alexander the Great to the war against the Taliban. Da Capo Press.

Tomsen, P. (2017). The Wars of Afghanistan messianic Terrorism, Tribal Conflects, And the failures of Great Powers. P|ublicAffairs. https://www.publicaffairsbooks.com/titles/peter-tomsen/the-wars-of-afghanistan/9781610392624/

Ullah, H., AHMAD, R., & KHAN, M. M. (2020). Afghanistan: US-Taliban Peace Talks: CPEC Perspective. Conflict Studies Quarterly, 32.

Van Linschoten, A. S., & Kuehn, F. (2012). An enemy we created: The myth of the Taliban-al Qaeda merger in Afghanistan. Oxford University Press.

Wallerstein, I. (2004). World systems theory. End of Capitalism Garner & Hancock, 611–616.

Waltz, K. (2018). Man, the state, and war: A theoretical analysis. Columbia University Press.

ازادي راډيو. (2024). د امنیت شورا دوو غړو د طالبانو د امربالمعروف قانون له غندلو سره مخالفت کړی. ازادي راډيو. https://pa.azadiradio.com/a/33103097.html

# د مارکیټېنګ موقف په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې

پوهنمل مامورالدین منګل، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، ملي اقتصاد څانګه
برېښنالیک: mamormangal2019@gmail.com

**لنډیز**

دا چې انسان د خپلو ټولو اړتیاوو د پوره کولو امکانات نه لري، نو په دې اساس د توکو تبادله او سوداګري رامنځته شوه، چې ورسره جوخت بازار موندنه او مارکیټېنګ هم رامنځته شو، نو له دې ځایه معلومېږي چې بازار موندنه ډیره اوږده سابقه او تاریخچه لري، بازارموندنه (مارکیټېنګ) د یوه هېواد د ټولنې، اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره یوه ضروري او لازمي اوږده، پیچلې، ټولنیزه او اقتصادي پروسه ده چې د تولیداتو جریان د تولیدوونکي څخه بیا تر مصرف کوونکي پورې تر څېړنې لاندې نیسي. مارکیټېنګ نه یوازې د داخلي نویو اړیکو د ایجاد او پراخوالي لپاره شرایط او زمینې برابروي، بلکې د نړیوالو اقتصادي اړیکو رامنځ ته کیدل او پرمختیا ورکول د یوه هېواد د رشد او انکشاف لپاره یو عیني او ضروري شرط دی چې د مارکیټېنګ د څېړنیزو او معلوماتي سیستمونو څخه نه یوازې تولیدوونکی، بلکې مصرف کوونکی په دوامداره توګه اعظمي ګټه پورته کوي، د دې تحقیقي مقالې له لیکلو او ترتیبولو څخه هدف او موخه د بازار موندنې رول او نقش په نړیوالو اقتصادي اړیکو او متقابلو روابطو کې څرګندول، د اقتصادي او ټولنیزو اړیکو د پرمختګ لپاره د نویو او موثرو لارو چارو پیژندل نړیوالو اقتصادي اړیکو کې د بازار موندنې له رول څخه ده،کله چې مونږ د نړیوالو افتصادي اړیکو د ایجاد او پراختیا څخه بحث او خبرې کوو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې څنګه موږ نړیوالو مارکیټونو ته لار پیدا کولای شو؟ دغه څېړنه چې ترسره کېږي کتابتونې ده، چې د مختلفو علمي کتابونو، علمي لیکنو، نویو علمي رسالو او د معتبرو انټرنیټي ویبپاڼو څخه استفاده شوې ده، د دې تحقیقي مقالې له لیکلو او ترتیبولو څخه دې نتیجې ته رسېږم چې بازارموندنه نه یوازې په داخلي اقتصادي اړیکو، بلکې په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې مهم ځای او موقف لري.

**کلیدي کلمې:** بازارموندنه، پانګونه، د استخدام سطحې لوړوالی، نړیوال تجارت.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین،**

بازارموندنه لکه چې له نوم څخه یې معلومېږي، د مسایلو حل او فصل د بازارموندنې اصلي موضوع جوړوي، د بازارموندنې موضوع دا څرګندوي چې بازارموندنه په ټولنه کې څه رول لري. مارکیټېنګ یو ټولنیز چلند دی چې د هغې په ترڅ کې د ټولنې وګړي غواړي چې په دوامداره توګه خپل د ضرورت وړ اجناس او خدمات د تولید له لارې عرضه کړي او له بلې خوا اجناسو او خدماتو ته اړ کسان دغه توکي او خدمات تر لاسه کړي. په دې ترتیب سره یو شمېر اجناس او خدمات د ټولنې د یو شمېر غړو له خوا

ایجاد او تولیدیږي، یو شمېر غړي یا خلک هغه پروسس کوي او یو شمېر نور دغه توکې او خدمات اخلي. په وروسته پاتې هېوادونو کې او د هغوی له جملې څخه په افغانستان کې مختلف اقتصادي او ټولنیز نظامونه د یو او بل تر څنګ موجود دي او دغه نظامونه خپل خپل عناصر لري. دغه نظامونه د ودې او پرمختګ په مختلفو پړاوونو کې قرار لري او دا ددې باعث ګرځېدلی چې په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې زمونږ هېواد یو غیر متوازن حالت غوره کړی دی. د بازارموندنې له ډېرو مهمو دندو څخه یوه داده چې د مختلفو سیمو او منطقو د توپیر او د دوی غوښتنې تثبیت کړي او د هغوی د حل لارې پیدا کړي ترڅو خپل هېواد د یوه داسې لوري ته سوق او اداره کړي ترڅو خپل اساسي هدف ته یعنې موږ د یو متوازن هېواد خوا ته سوق او اداره کړي او له بلې خوا زموږ د اوسني حالت یعنې مصرفي هېواد په یوه تولیدي هېواد بدل کړي. موږ د یوې وارداتي او صادراتي داسې ستراتیژۍ طرح او تطبیق ته ضرورت لرو چې د ملی اقتصاد د مختلفو رشتو او ځانګو ضرورتونه د هغوی د رول او نقش په نظر کې نیولو سره تثبیت کړي او د حل او فصل لارې چارې یې ولټوي او پیدا کړي.

دا هم یو څرګند حقیقت دی چې وروسته پاتې هېوادونو کې تولید شوي اجناس او برابر شوي خدمات د پرمخ تللو هېوادونو د اجناسو سره په مارکیټ کې د رقابت کولو توان نه لري دا ځکه چې د اجناسو او خدماتو د کیفیت سطحه له یوې خوا ټیټه وي او له بلې خوا یې تمام شوي قیمتونه لوړ وي دا ځکه چې په وروسته پاتې هېوادونو کې د کار د مولدیت او د تولید د مثمریت سطحه نسبت پرمختللو هېوادونو ته ټیټه وي.

دغه مقاله د کتاب توني تحقیق بڼه لري او د دغې مقالې د لیکلو او ترتیب لپاره له ډېرو معتبرو علمي اثارو څخه استفاده شوي ده، دغه مقاله په عنوان، خلاصه، سریزې، منځ پانګې، پایلې، وړاندیزونو او مآخذونو باندې مشتمله ده. په منځ پانګه کې د موضوع په ارتباط په هر اړخیزه توګه موضوع څېړل شوي ده او هر اړخ ته یې پوره توجه شوي ده. زما په نظر دغه مقاله د لوستونکو لپاره ګټوره تمامېدای شي.

**دڅېړنې موخې**

۱: د بازار موندنې رول او نقش په نړیوالو اقتصادي اړیکو او متقابلو روابطو کې څرګندول .

۲: د اقتصادي او ټولنیزو اړیکو د پرمختګ لپاره د نویو او موثرو لارو چارو پیژندل .

۳: د مختلفو سیمو او منطقو د توپیرونو او د دوی د غوښتنو تثبیت کول او د هغوی د حل لارې پیدا کول ترڅو خپل هېواد یو متوازن هېواد خوا ته سوق او اداره کړو او له بلې خوا زموږ د اوسني حالت یعنې مصرفي هېواد په یوه تولیدي هېواد بدلول.

**د څېړنې اهمیت:** د دې تحقیقي مقالې له لیکلو او ترتیبولو څخه هدف او موخه په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې د بازار موندنې له رول څخه ده،کله چې مونږ د نړیوالو اقتصادي اړیکو د ایجاد او پراختیا څخه بحث او خبرې کوو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې څنګه موږ نړیوالو مارکیټونو ته لار پیدا کولای شو؟ دا چې افغانستان د طبیعي سرچینو او کارې قوې د شتون له نظره یو بډایه هېواد دی د دې لپاره چې

د دغو طبیعي سرچینو او کاري قوې څخه موثره استفاده صورت ونیسي او د هېواد د پرمختګ سبب شي نو نړیوالو اقتصادي اړیکو او مارکیټینګ ته ضرورت دی چې په یاده مقاله کې به وڅېړل شي .

**د څېړنې کړنلاره :** دغه څېړنه چې د مارکیټینګ موقف په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې موضوع ترعنوان لاندې ترسره کېږي کتابتوني ده، چې د مختلفو علمي کتابونو، علمي لیکنو، نویو علمي رسالو او د معتبرو انټرنیټي ویبپاڼو څخه استفاده شوې ده، چې د څېړنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي .

**د مارکیټینګ موقف په نړیوالو اقتصادي اړیکو کې**

د دې لپاره چې د بازار موندنې په مفهوم او رول باندې پوه شو او د دې علم رول او نقش راته څرګند او وپېژندل شي، نو ضروري ده چې د بازارموندنې تعریف وشي، ترڅو د دې علم د څېړنې ساحې راته معلومې شي.

بازارموندنه یوه اوږده، پیچلي، ټولنیزه او اقتصادي پروسه ده چې د مولد څخه پیل او تر مصرف کوونکي پورې غځېږي او ټول فعالیتونه چې د دې پروسې په مختلفو پړاوونو کې صورت نیسي، په خپله غېږ کې رانغاړي.

بازارموندنه د دوو ډېرو مهمو سیستمونو (معلوماتي سیستم او څېړنیز سیستم) درلودونکې ده، چې د خپلو دغو سیستمونو په برکت د خپلې اداري لپاره د ضرورت وړ معلومات راټولوي او په دوامداره توګه دغې پروسې ته ادامه ورکوي، تر څو د معلوماتو سیستم (MIS) غني او د ضرورت په وخت کې ور څخه استفاده صورت ونیسي. بازارموندنه نه یوازې د داخلي مارکیټونو اړتیاوې او غوښتنې تثبیت کوي، بلکې د نړیوالو مارکیټونو غوښتنې او ضرورتونه په ګوته کوي او د حل لارې چارې یې مسؤلو ارګانونو ته هدایت کوي. نن داسې وخت رارسیدلی دی چې په یوازې صورت هیڅ یو هېواد خپل ټول اختیاجات او غوښتنې نشي پوره کولای، نو دا اړتیا احساس کېږي چې د نړۍ د نورو هېوادونو سره اقتصادي او غیر اقتصادي اړیکې ایجاد او پراختیا ورکړي. بازارموندنه یو له هغو اساسي لاملونو څخه ده چې په داخلي او خارجي روابطو او د هغوی په پراختیا او انکشاف باندې موثره او هر اړخیزې اغېزې درلودلای شي نو د ټولنیزو او اقتصادي چارو مسولینو ته اړینه ده چې د بازارموندنې په برخه کې زیاتو او دوامداره هڅو او کوښښونو ته په همیشني ډول ادامه ورکړي او د ټولنیزو، اقتصادي اړیکو د پرمختګ لپاره د نویو او موثرو لارو چارو څخه په دې اړوند استفاده وکړي او نه یوازې د درک او پیژندل شویو مېتودونو، بلکې د نویو تجربه شویو مېتودونو څخه په دې برخه کې ګټه واخلي. پس د هر هېواد وده او پرمختګ د هغه هېواد د ضرورتونو د تثبیت او د هغوی د پوره کولو سره تړلی دی او هغه وخت چې یوه ستونزه درک شوه نو په اطمینان سره ویل کیدای شي چې یو قدم مخکې ایښودل شوی دی.

د بازارموندنې په برخه کې موږ د یو کمپلکس پلان په طرح کولو مجبور یو چې ضرورتونه د یو او بل ترڅنګ او د هغوی ترمنځ اړیکې درک او وپیژنو او یو په بل پسې یې حل کړو ترڅو خپل ټولنیز او اقتصادي ژوند ته ادامه ورکړای شو او دا یوازنۍ لاره ده چې تصدۍ او کمپنیانې یې باید په دوامداره

توګه تعقیب کړي ترڅو لوړو پړاوونو ته لار پیدا او ورسیږو. دا ډول چلند د اقتصادي روابطو د پراختیا او پرمختګ سبب جوړوي. دا هم یو څرګند حقیقت دی چې بهرنۍ سوداګري د یوه هېواد په ټولنیز- اقتصادي پرمختګ کې له یوې خوا او د سولې او ثبات د ټینګولو لپاره له بلې خوا ډېره مهمه او اساسي وسیله ده او د ټولنیز – اقتصادي پرمختګ پروسه تېزوي او د دې سبب ګرځي چې د انساني او غیر انساني منابعو څخه په مؤثره توګه استفاده صورت ونیسي او ور سره د دې امکانات مسیر کړي، چې د علم او تحنیک د لاس ته راوړنو د ټولنیز- اقتصادي پرمختګ په پروسه کې د غوښتنو او ضرورتونو په نظر کې نیولو سره موثره ګټه اخیستنه صورت ونیسي. بازارموندنه په دې برخه کې د نړیوالو بازارونو غوښتنې او تقاضاوې تثبیتوي او د داخلي تولیداتو لپاره په نړیوالو مارکیټونو کې د خرڅلاؤ امکانات په ګوته او مشخص کوي او د دې اړیکو د پرمختیا مسیر راښیي. بازارموندنه د داخلي تولیدي تصدیو لپاره د نویو او باکیفیته تولیداتو رهنمایي کوي چې په نړیوالو بازارونو کې د سیالۍ کولو قابلیت ولري او دا بیا د دې امکانات مساعدوي چې داخلي تصدۍ په خپل منځ کې د باکیفیته توکو د تولید او نړیوالو بازارونو ته د عرضه کولو په برخه کې سیالي او رقابت وکړي.

د نړیوالو اقتصادي روابطو ګړندیتوب او پراخوالی د دې لامل ګرځي چې سرمایه تشکل پیدا کړي او د کار د نیرو استخدام سطحه لوړه شي او د بیکارۍ کچه راټیټه شي، دا په دې مانا ده چې که چیرې موږ سرمایوي اجناس وارد کړو او خپل تولیدات په خارجي بازارونو کې په خرڅلاؤ ورسوو او هغه سرمایه چې له دې لارې په لاس راځي د پانګې اچونې په پروسه کې ور څخه کار واخلو نو دا به له یوې خوا د تولیداتو پراخوالی د ځان سره ولري او له بلې خوا به د تولیداتو په کمیت او کیفیت باندې بې اغیزې او بې تآثیره پاتې نشي او دا ډول پرمختګ به زموږ د هېواد واقعي غوښتنې او تقاضاوې تمثیل کړای شي. دا د بازارموندنې د پروسې رول او موقف په بهرنیو اقتصادي اړیکو کې څرګندوي او دایمي هڅې او کوښښونه په دې برخه کې توصیه کوي. دا هغه څه دي چې زموږ د هېواد د پرمخنګ پروسه ورته ضرورت لري او په دې سکتور کې بریاوې د نورو سکتورونو د پرمختګ په لار کې د بریاوو زیری ورکوي.

(( دمسایلو حل د بازارموندنې اصلي موضوع جوړوي. دغه موضوع د بازارموندنې نقش په ټولنه کې جوتوي، ددې مانا دا ده چې بازارموندنه یو ټولنیز چلند (پروسه) ده چې د هغې په ترڅ کې د ټولنې وګړي غواړي چې په دوامداره توګه خپل د ضرورت وړ اجناس او خدمات د تولید له لارې عرضه کړي او له بلې خوا نوموړي عرضه شوي اجناس او خدمات اړ کسان تر لاسه کړي، په دې توګه یو شمېر اجناس او خدمات د ټولنې د یو شمېر غړو له خوا ایجاد او تولیدیږي، یو شمېر نور غړي یا خلک هغه پروسس کوي او یو شمېر نور هغه پیري ( سعیدي, ۱۳۸۸).

د بازارموندنې د پروسې د تنظیم، پیژندنې، تحلیل ، تجربې او سازمان ورکولو لپاره یوه پوهه په کار ده چې په ښه اسانه او رضایت بخښوونکي توګه تر سره شي نو په همدې اساس بازارموندنه او د هغې اداره د یو مستقل علم بڼه ځانته غوره کوي. موږ ته د مارکیټېنګ تجربې را زده کوي چې مارکیټېنګ د

مشتریانو د پېژندلو، هغوی ته د منابعو او د غوښتنو مطابق د اجناسو او خدماتو تولید او عرضه کولو، مطلوبو ځایونو ته د اجناسو او خدماتو انتقال او رسول او د ټولنې د وګړو د رضایت حاصلولو اهداف لري او دغو موخو ته د رسیدو لپاره ضروري ده چې ارقام او اعداد راټول شي، علمي څېړنه تر سره شي، فرضیې ثابتې شي او داسې نور علمي فعالیتونه تر سره شي، پس ویلای شو چې بازارموندنه ټول هغه تدابیر دي چې د اجناسو له مولد څخه تر مصرف کوونکي پورې په رسیدو کې مرسته او همکاري کوي او لارې چارې یې روښانه کوي.

بازارموندنه د نورو مسایلو تر څنګ تبادله، د تبادلي جوړښت او د مالونو او اجناسو جریان موږ ته په ګوته کوي، د ملکیتونو تبدیلیدل او د تصرف د حق حاصلول د مارکیټینګ د موضوعاتو په چوکاټ کې یوه ډېره مغلقه او پیچلې موضوع ده او دغه د مارکیټینګ ډېر اساسي موضوعات دي (دردمل , ۱۳۹۴)

د بازارموندنې په پایله کې دا ثابتېږي چې د بازار غوښتنې څه دي، د خلکو د خرید قوه په کومه سطحه کې قرار لري، د اقتصاد د مختلفو رشتو او ځانګو اړتیاوې او د دوی امکانات د اجناسو د تولید او ویش په برخه کې څه ډول دي او په کوم کیفیت او کمیت توکې رانیولی شي یعنې د هغوی د رانیولو لپاره د خرید قوت په ځان کې لري؟ دا ټول هغه څه دي چې د بازارموندنې په پروسه کې ورته ځواب ویل کیدای شي. د بازارموندنې پروسه نه یوازې د ضرورتونو او اړتیاوو د تثبیت لپاره ضروري او اړینه ده، بلکې د اقتصادي اړیکو د رامینځ ته کیدو او پراختیا لپاره ډېر اساسي رول لوبوي او د دې روابطو لپاره د یوه اساسي عامل په توګه منل شوي ده.

دا باید وویل شي چې د افغانستان په مختلفو سیمو او منطقو کې اقتصادي اړیکو ډېر کم رشد او تکامل کړی دی او د راکړې ورکړې پروسې په ابتدایي مرحلو کې قرار لري، دې حالت د افغانستان د ټولنیز-اقتصادي ودې او پرمختګ په لار کې خنډونه ایجاد کړي دي.

بازارموندنه باید تولیدونکو، پلان جوړونکو او پالیسۍ جوړونکو ادارو ته د هغوی مسؤلیتونه دا وښیي چې په یوه منطقه کې د اوسیدونکو خلکو عادات، رسوم، د ژوند طرز د توکو او تولیدونکو په اړوند څرنګه دی؟ د بازارموندنې په پروسه کې د دې ټولو مسایلو په اړه معلومات، څېړنه او مطالعه ضروري ده.څرنګه چې د خصوصي سکتور او ازاد بازار سیستم لپاره مارکیټینګ لومړی شرط بلل شوی دی او دغه موضوع د تصدي اقتصاد(کوچنی) اقتصاد له نظره ډېره مهمه او اساسي ده، په تصدي اقتصاد کې د بازارموندنې لپاره اشتهارات د مارکیت د مینځګړي اړتیا، د خرڅلاو مغازو او خرڅوونکو مهارت د بازار او خصوصي سکتور د کامیابۍ معیارونه ګڼل کېږي.

((په یوه هېواد کې ټولنیز او اقتصادي سیستم د یو او بل سره نېږدې اړیکې لري. په مخ پر ودې هېوادونو کې د اقتصادي نظامونو ډېر مختلف اشکال وجود لري، دا نظامونه د کمونیستي مختلفو نظامونو (شکلونو) نیولې تر پانګوالي ( مارکیټ) اقتصاد پورې هلته وجود لري. په ټولنیز انتخاب شوي نظام کې چې په اکثره مخ پرودې هېوادونو کې په عمل کې تحقق لري د سرمایداري (د مارکیټ) اقتصاد او د سوسیالستي (پلان شوي) اقتصاد عناصر وجود لري، باید مخ پر ودې هېوادونو کې هڅه وشي تر څو

داسې لارې ولټول شي او د نظام عناصر داسې په کار واچوو ترڅو اقتصادي او ټولنيز اهداف تر لاسه کړو)) ( شهيدي, ۱۳۸۴).

پس دې نتيجې ته رسيږو چې په وروسته پاتې هېوادونو کې مختلف ډوله ټولنيز –اقتصادي نظامونه د يو او بل تر څنګ موجود دي او دغه نظامونه خپل خپل عناصر لري. نو ضروري ده چې په دغه ډول هېوادونو کې هڅه وشي او داسې لارې چارې پيدا شي چې د دې نظامونو عناصر داسې تر استفادې لاندې ونيول شي چې موږ ته دا امکان په لاس راکړي چې خپلو ټولنيزو –اقتصادي موخو ته په اسانۍ او بې له مشکلاتو او پرابلمونو ورسيږو. دا چې په وروسته پاتې هېوادونو لکه افغانستان زياتې ستونزې موجودې دي چې د دولت له مداخلې پرته د هغوی حل نا ممکن او ناشونی دی او حتمي د هغوی د زياتيدو امکان هم نشو ردولای. لکه د افغانستان داخلي توليدات په خارج کې د توليد شويو اجناسو او توکو سره زموږ په داخلي مارکيټونو کې د سيالۍ کولو قابليت نلري، نو که چيرې د دولت مداخله په مارکيټ کې موجوده نه وي، نو په افغانستان کې داخلي تصدۍ چې په توليدي او غير توليدي برخو کې په فعاليتونو مصروفې دي، نه يوازې د اقتصادي پرابلمونو سره بلکې له مينځه تلو سره مخامخ کيدای شي.
د بازارموندنې د څېړنيزو معلوماتو پر اساس يوه تصدي د دې لپاره چې خپل اقتصادي ژوند ته ادامه ورکړي نو بايد خپل توليدات او خدمات په نړيوال ستندرد سره بازار ته وړاندې او عرضه کړي. ولې زموږ د هېواد تصدۍ له يوې خوا لازمې تجربې نه لري او له بلې خوا په هغه اندازه سرمايه چې د پانګې اچونې لپاره ضروري ده په خپل اختيار کې نه لري، نو دا ټول عوامل او نيمګړتياوې ضروري ايجاب کوي چې دولت په مختلفو برخو کې مداخله وکړي او هېواد د يوه مصرفي هېواد څخه په توليدي هېواد بدل کړي او د ټولنيز – اقتصادي پرمختګ لپاره لاره هموار کړي. پداسې حالتو کې دا ښه ګڼل کيږي چې د بازارموندنې د چارو مسولين خصوصآ د مالي چارو مسولين د داسې مالي بازارونو په لټه کې شي او داسې مالي سازمانونه پيدا کړي چې د هغوی د سرمايې څخه ګټه اخيستنه متصديانو ته مناسب او ګټور شرايط وړاندې کوي او د يوه هېواد ملي ګټو ته زيان نه رسوي او د اقتصادي اړيکو پراختيا ته، که په داخل د يوه هېواد کې وي او يا بهرنۍ اړيکې وي، ګټور تماميږي. هر وخت چې د سرمايې څخه د توليد د فکتور په حيث خبرې کيږي، هدف هميشه د هغې څخه ((حقيقي سرمايه)) ده. د حقيقي سرمايې ايجاد کيدل په دې خاطر صورت نيسي چې په راتلوونکي کې د مالونو په توليد کې زياتوالی راشي ( نورعباد او بهبود, ۱۳۸۶).

کله چې په توليداتو کې زياتوالی راشي نو دا ضروري ګرځي چې د هغوی لپاره د خرڅلاؤ مناسب مارکيټونه پيدا شي او هلته په مناسب وخت کې ورسول شي، ترڅو خرڅ او مفاد تر لاسه شي.
له بلې خوا دا هم ضروري ده چې وپوهيږو چې د توليد د وسايلو ترکيب څه ډول دی چې له دې طريقه د کار په موثريت باندې هم تاثيرات اچول کيدای شي او توليد په حجم کې هم په کمي او هم په کيفي لحاظ تغيرات رامنځ ته کيدای شي. که چيرې موږ د ټولنيز- اقتصادي ژوند او د هغه د ودې او پرمختګ پروسې ته يوه ژوره کتنه وکړو نو دا به راته څرګنده شي چې پانګه اچونه او بازارموندنه په دې ارتباط د

یو او بل سره نېږدې خپل منځي اړیکې لري او د یوې او بلې د غوښتنو په پوره کولو کې ډېر اساسي او مهم رول او نقش لري او په یوازې صورت کې یو له دوی څخه د بریا چانس نلري، نو له همدې کبله د ټولنیز، اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري ده چې دواړو پروسو ته یعنې د پانګې اچونې او بازارموندنې پروسو ته زیاته توجه او پاملرنه ضروري او حتمي ده. پس د مارکیټېنګ پروسه نه یوازې یوه ضروري پروسه ده، بلکې یوه دوامداره پروسه ده چې په دوامداره توګه باید تعقیب او عملاً پر مخ یوړل شي دا ځکه چې د هر ضرورت په پوره کیدو سره نوی ضرورت را پیدا کېږي چې په لوړه سطحه پوره کولو ته اړتیا لري. له بلې خوا که یوه تصدي په موجوده امکاناتو او ظرفیتونو سره د موجوده اختیاجاتو او ضرورتونو د پوره کولو توان او قدرت ونه لري نو مجبوره ده د نویو ظرفیتونو د ایجاد لپاره پانګه اچونه وکړي ترڅو ددې توان او امکانات تر لاسه کړي چې د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې بریاوې ولري. دولتي ارګانونه دا زمینې باید مساعدې کړي چې تولیدي او غیر تولیدي تصدیو او موسساتو ته د ضرورت په وخت کې قرض ورکړل شي ترڅو د تعویضي او توسعوي پانګو اچونو ته د تصدیو او موسساتو لپاره امکانات زیات شي او له بلې خوا د دوی رول او نقش د احتیاجاتو د پوره کولو په برخه کې نور هم زیات او ارزښتمن شي (دوست، ۱۳۸۲).

په اوسنۍ نړۍ کې دا حقیقت په ډاګه شوی دی چې مارکیټنګ په ټولنیز -اقتصادي ژوند کې ډېر اساسي او بنیادي رول لوبوي او فعالیتونه او هڅو ته د رهبري کولو او سازمان ورکولو نوي طرزالعملونه او طریقې موخې ته د رسیدو په منظور اداره کوي په هغه صورت کې چې د بازارموندنې نتایج یوه تولیدي او یا غیر تولیدي تصدي یا کمپنې په نظر کې ونیسي او د بازارموندنې هدایات په عمل کې پیاده کړي نو په داسې صورت کې په اطمینان سره ویلای شو چې دغه تصدي او کمپنې به نه یوازې په خپلو ورځنیو چارو کې بریاوې ولري، بلکې په بازار کې به د سیالانو سره د مقابله کولو توان او امکان هم ولري او د زیاتو مفادو امکان به په لاس ورشي. بازارموندنه دنده لري چې د کورنیو او بهرنیو بازارونو په باره کې نوي او تازه معلومات د خپلو څېړنو په نتیجه کې تصدیو او مربوطه کمپنیو ته په اختیار کې ورکړي ترڅو تصدۍ او کمپنۍ د موثقو معلوماتو په اساس خپل تولیدي او غیر تولیدي فعالیتونه تنظیم، ترتیب او منسجم کړي او د مارکیټ د غوښتنو مطابق خپل تولید شوي توکې او خدمات بازار ته وړاندې کړي، ترڅو د مارکیټونو غوښتنو ته په ځواب ویلو سره خپل توکې او خدمات خرڅ کړای شي. دا ډول چلند به ددې باعث شي چې د یوه ټولنیز – اقتصادي پرمختګ لپاره ضروري شرایط برابر کړي او د هېواد د اقتصادي ازادۍ په حاصلولو کې به د پام وړ ونډه ادا کړای شي (ډیویډ بګ، اشانلي، فیشر، دودیګر، دورینش، ژباړه: تیزهوش،، ۱۳۸۵)

دا چې د کرهنې او مالدارۍ په برخو کې تقریباً ۸۰ فیصده افغانان په کار مصروف دي نو په دې برخه کې تغیرات رامینځ ته کول د ټول ملي اقتصاد لپاره د زیات اهمیت او ارزښت درلودونکي دي او په پاتې رشتو او څانګو ژورې اغیزې لرلای شي.

تر اوسه پورې د افغانستان په صادراتو کې د کرنې او مالدارۍ د ځانګو رول او نقش ډېر برجسته او مهم ؤ او د صادراتي توکو زیاتره برخه په دې برخو کې تولیدیږي، افغانستان د ګازو د صادراتو څخه د ۱۳۴۸ څخه تر ۱۳٦۷ کال پورې ۴۰۲٦٦۴ ملیونه امریکایي ډالره عواید درلودل، د قره قل د پوستکو د صادرولو څخه یې د ۱۳۴۸ څخه تر ۱۳٦۸ کال پورې ۴۰۳۹۰ ملیونه امریکایي ډالره عواید درلودل، د وړیو د صادرولو څخه یې د ۱۳۴۷ څخه تر ۱۳٦۸ کال پورې ۴۸۰۲۲۸ ملیونه امریکایي امریکایي ډالره عواید تر لاسه کړل، د پښتې او هډوکو له صادرولو یې د ۱۳۴۸ کال څخه تر ۱۳٦۸ کال پورې ۲۰۴۴۴ ملیونه امریکایي ډالره عواید په لاس راغلي دي. همدا ډول افغانستان د وچې او تازه میوې د صادرولو څخه د ۱۳۴۸ کال څخه تر ۱۳٦۸ کال پورې ۸۰۲۵۳۹ ملیونه امریکایي ډالره عواید تر لاسه کړي دي، په همدې ترتیب افغانستان د کوډ کیمیاوي، شحمي حبوباتو، د کولمو، د طبي نباتاتو او زیري او زیتون د صادرولو څخه یو مقدار پیسې تر لاسه کړي دي (محمدناصر، ستانکزی, ۱۳۸۳).

د دې پورته تحریر شویو ارقامو څخه دا جوته کېږي چې د افغانستان صادرات د وارداتو په تناسب ډېر کم مالي امکانات تر لاسه کوي چې د وارداتو د تادیه کولو په منظور ګټه ترې پورته شي. افغانستان علاوه له دې چې عنعنوي صادراتي توکې لري چې په جهاني مارکیټونو کې د ښه شهرت څخه برخمن دي او وفاداره مشتریان لري چې هغه یې د اخیستلو په برخه کې لاهم وفادار پاتې شوي دي.

اوس دا ضرورت احساس کېږي چې یوه نوي ستراتیژي په دې اړوند ولرو چې په هغې کې د صادراتو او وارداتو تر مینځ یو مناسب تناسب او توازن وساتل شي او دې نقطې ته پکې پاملرنه وشي او د عملي کولو ضرورت یې دا مهال احساسېږي.

افغانستان ته لازمه او ضروري ده چې د خپلو بهرنیو اړیکو پراخوالي ته توجه وکړي چې د خپل اقتصاد اړتیاوې د امکان په صورت کې پوره کړي یعنې هغه سرمایوي وسایل چې موږ د مصرفي هېواد څخه په تولیدي هېواد بدلولی شي، له خارج څخه وارد او هغه داخلي اجناس چې په نړیوالو بازارونو کې د سیالۍ کولو توان او قدرت لري، بهر ته صادر کړو. له بلې خوا دا ضرورت احساس کېږي چې افغانستان خپلې داخلي اقتصادي اړیکې د مختلفو سکتورونو، رشتو او ځانګو تر مینځ ایجاد، ټینګې او پراخې کړي ترڅو زموږ هېواد وکولی شي چې خپلې اقتصادي اړتیاوې او ضرورتونه د داخلي امکاناتو څخه پوره کړي. کله چې موږ د اقتصادي اړیکو پراختیا غواړو نو دا هم ضروري ده چې د پانګې اچونې لپاره فکر وکړو او بل دا چې په کومه رشته او ځانګه کې پانګه اچونه وکړو ؟ دا باید لومړی د بازارموندنې په چارو کې تثبیت کړای شي، چې په کومه رشته او ځانګه کې د پانګې اچونې اړتیا لیدل کېږي او د دغې پانګې اچونې تاثیرات به په اقتصاد څه وي؟ مثلآ هغه وخت چې په هغه کې د تمویل وسایل په کار اچول کېږي او تر هغه وخته پورې چې اساسي فنډ منځ ته راځي او په کار لوېږي، دا هغه وخت دی چې د پانګې اچونې یو بل فکتور د ملي عوایدو د حجم په زیاتوالي باندې په تولیدي رشتو کې تاثیرات لري او د پاملرنې وړ وګرځي (د برخو مسول ،لیکوالان, ۱۹۷۹).

**پايله**

د دې تحقيقي مقالې له ليکلو او ترتيبولو څخه دې نتيجې ته رسېږم چې بازارموندنه نه يوازې په داخلي اقتصادي اړيکو، بلکې په نړيوالو اقتصادي اړيکو کې مهم ځای او موقف لري.

کله چې مونږ د نړيوالو اقتصادي اړيکو د ايجاد او پراختيا څخه بحث او خبرې کوو دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې څنګه موږ نړيوالو مارکېټونو ته لار پيدا کولای شو؟

هغه وخت چې مونږ د بازارموندنې پروسه نه يوازې فعاله، بلکې دوامداره تعقيب او د معلوماتي او څېړنيزو سيستمونو څخه استفاده وکړو او هدايت او رهنمايي په جدي توګه په نظر کې نيولو سره پلې کړو نو دا به امکان او چانس په لاس راکړي چې مشخص توکي چې په نړيوالو مارکيټونو کې د خرڅلاو چانس لري صادر کړو او هغه توکو او اجناسو ته خصوصاً سرمايوي توکو او اجناسو ته چې زمونږ ملي اقتصاد ور ته اړتيا لري وارد کړو.

موږ داسې يوه ستراتيژي طرح او تعقيب کړو چې زموږ د صادراتو او وارداتو د تادياتو په بيلانس کې تعادل موجود وي او د کسر د رامنځ ته کيدو مخنيوی وکړي. همدارنګه هغه توکې چې موږ يې واردوو بايد د دې جوګه شي، چې په تدريجي ډول د اقتصادي استقلال، د يوه متوازن اقتصاد رامنځ ته کيدو زمينه برابره کړي.

بازارموندنه نه يوازې دا دنده لري چې د افغاني اجناسو او خدماتو لپاره مناسب مارکيټونه يعنې داخلي او خارجې مارکيټونه پيدا کړي، بلکې د اجناسو او خدماتو د لېږد رالېږد تر ټولو مناسبې لارې او چينلونه او کانالونه پيدا او وپيژني او د چارو مسولينو ته يې هدايت کړي. که چېرې يو هېواد د بهرنيو اقتصادي اړيکو د ايجاد او پراختيا په برخه کې د خپل ملي اقتصاد د اړتياوو او ضرورتونو په نظر کې نيولو سره پراختيا ورکړي نو دا به د يوه متوازن اقتصاد لپاره د يوې خوا او د يوې منظمې ټولنيزې-اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره د بلې خوا مناسب او مساعد شرايط وړاندې کړي چې دا به له خپله اړخه د ټولنيز او اقتصادي ودې او پرمختګ پروسه ګړندۍ او دغې پروسې ته به رونق ورکړي. پس ويلای شو چې مارکيټينګ لکه څنګه چې په داخلي اقتصادي اړيکو کې مهم رول او ځای لري. همدا ډول په بهرنيو اقتصادي اړيکو کې د پام وړ موقف لري.

**وړانديزونه**

1. افغانستان نه يوازې د عنعنوي توکو په صادرولو بايد اکتفا وکړي، بلکې نوي توکي چې په نړيوال سټنډرډ برابر او توليد شوي وي، نړيوال بازارونه ور ته پيدا او صادر کړي. دا بايد وويل شي چې دا نوي صادريدونکي توکې په نړيوالو مارکېټونوکې د سيالۍ کولو قدرت او توان ولري ترڅو د خرڅلاو چانس يې زيات شي.
2. هغه توکې چې د خارجي مارکېټونو څخه رانيول کېږي او هېواد ته واردېږي د توليد د وسايلو د توليد لپاره او د مصرفي وسايلو د توليد لپاره د زيات کار کولو ظرفيت ولري، ترڅو د توليداتو په حجم کې له يوې او د بيکارۍ په له منځه وړلو کې له بلې خوا مهم رول ولوبوي.

3. هغه توکي چې افغانستان ته واردیږي د دې لامل ونه ګرځي، چې د یو مصرفي هېواد او یوه غیر متوازن اقتصاد لپاره شرایط مساعد کړي.
4. کله چې د رشتو او ځانګو اړتیاوې او ضرورتونه تثبیت شول او د اولیتونو حق یې هم تثبیت شو او په کتګوریو کې تنظیم او ترتیب شول، نو وروسته بیا د ټولنیز -اقتصادي پرمختګ لپاره د ضروري وسایلو واردول اړین دي. دا چې افغانستان د پانګې اچونې لپاره د تمویل کافي وسایل په اختیار کې نه لري نو د بهرنیو مرستو او قرضونو جلب کول ضروري دي. په داسې صورت کې چې شرایط مناسب او اقتصادي ازادۍ ته زیانمن نه وي.
5. داسې یو ټولنیز - اقتصادي ملي سیاست تعقیب او تر لاس لاندې ونیول شي چې د هېواد د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره په هېواد کې د بهرنیو اقتصادي اړیکو د پراخوالي او رونق سبب وګرځي.

## مآخذونه

دردمل، رحیم جان .(۱۳۹۴). د بازارموندنې اغېزې د افغانستان په تجارت باندې. خوست: ابدالي کتاب پلورنځی.

دوست، محمد انور. (۱۳۸۲). مبادی اقتصاد تصدي. کابل.

د برخو مسول، لیکوالان .(۱۹۷۹). د ملي اقتصاد پلان جوړونه. برلین.

ډیویډ بګ، اشانلي، فیشر، دودیګر، دورینش ژباړه: تیز هوش، محمد حسین.(۱۳۸۵). جلد اول، علم اقتصاد (اقتصاد حرد). انتشارات، ځنګل.

سعیدي، سید قیاس. (۱۳۸۸). بازارموندنه (مارکیټنګ).ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنې تحنیکي ځانګه.

ستانکزی، محمد ناصر. (۱۳۸۳). وضع تجارتي خارجي افغانستان. کابل.

شهیدي، نذیر احمد. (۱۳۸۴). د مخ پر ودې هېوادونو اقتصادي ستونزې. جرمني: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.

نورعباد، حمیدالله، وبهبود، علام دستګیر.(۱۳۸٦). فرهنګ اقتصاد بازار با اصول اجتماعي. چاپ دوم، کابل.

# په خوست ولایت کې د صنعتي پارک اهمیت

پوهنمل خالد پشتون، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، د ملي اقتصاد څانګې علمي کادر غړی.
برېښنالیک: khalid.pashtoon786@gmail.com

**لنډیز**

څرنګه چې ګران هېواد افغانستان یو زراعتي او معدني بډایه هېواد دی، خو د صنعتي ودې کچه یې ډېره ټیټه ده. صنعتي پارکونه د اقتصادي پرمختګ لپاره مهم او حیاتي رول لري. په خوست ولایت کې د صنعتي پارک نشتون یوه لویه ستونزه ګڼل کېږي. نو د دې مقالې څخه زموږ موخه د صنعتي پارک د جوړولو اهمیت، ضرورت، فرصتونو او تهدیدونو پېژندل دي، تر څو په راتلونکي کې په خوست ولایت کې د صنعتي پارک د رامنځته کولو زمینه مساعده شي. دا ډول پارکونه د اقتصادي پرمختګ او ودې، نوښت، کار موندنې، داخلي او خارجي پانګو د جذبولو، د استخدام د سطحې لوړوالي او کاري فرصتونو د ایجاد، د وارداتو د کموالي، د صادراتو د زیاتوالي، خصوصي سکتور ته د وده ورکولو لپاره ډېر مهم او ضروري ګڼل کېږي. سربیره پر دې د ملي عوایدو زیاتوالی، د پانګوالو جلبول، د کورنیو تولیداتو پیاوړتیا د نوموړو پارکونو اقتصادي اهمیت په ګوته کوي. په خوست ولایت کې د صنعتي پارک د جوړولو پر اهمیت او ضرورت، فرصتونو او محدودیتونو د پیژندلو لپاره دغه څېړنه ترسره شوې. په نوموړې څېړنه کې له تحلیلي مېتودونو څخه استفاده شوې ده، چې امنیتي مسایل، د څلورویشت ساعته برېښنا نشتوالی، د مسلکي کارکوونکو کمښت، د خامو موادو د پروسس محدود ظرفیت، د حکومت له خوا د کافي ملاتړ نشتوالی، د زیربناوو کموالی، د بازار اړتیاوې او د بنسټیزو خدماتو کمښت یې د عمده خنډونو په توګه په ګوته شوي، او د شته فرصتونو څخه په استفادې سره دولت کولی شي دا خنډونه له منځه یوسي او په پایله کې د یو لوی تولیدي مرکز د ایجاد سبب وګرځي.

کلیدي ټکي: اقتصادي ثبات، پانګونه، خوست، صنعتي پارک، کاري فرصتونه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدالله رب العالمین، والعاقبة للمتقین، والصلوة وسلام علی رسوله محمد و علی اله و اصحابه اجمعین. "وَأَن لَوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُمْ مَاءً غَدَقًا "**(سورة الجن، ۱۶)

ترجمه: "اوکه دوی په سمه لاره تلل، نو موږ به یې د اوبو یوه پراخه سرچینه ورکړو".

دا چې په هر هېواد کې سوکالي او هوساینه د هغې هېواد د اقتصادي پرمختګ د عمده هدف په توګه شمیرل کېږي، نو د اقتصادي پرمختګ لپاره د تولیدي کمپنیو ایجاد او پرمختګ د ضروري او مهم عنصر په توګه ګڼل کیږي. د نوموړو کمپینو د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د یو مناسب ځای ایجاد ضرور دی.

ځرنگه چې موږ پوهېږو چې عموماً دولتونه د ځای په انتخاب کې له مؤثرو سیاستونو څخه کار اخلي مثلاً دولتي اداري په داسې ځایونو کې انتخاب کوي چې د خلکو لاس رسی ورته اسانه وي، کورنی د خپل ژوند تیرولو لپاره داسې ځای انتخابوي چې د دوی رضایت په کې اعظمي شي، او د کمپنیو لپاره بیا داسې ځای انتخابوي چې د خامو موادو او خرڅلاو مارکیټ ته لاسرسی ورته اسانه وي (Valipour, Ketabchi, Safari shali, & Morid، ۲۰۲۳، ص۲۹۶۹-۲۹۹۰).
صنعت د بشر په ژوندانه کې مهمه ونډه لري چې نه یواځې د انسانانو د ورځني ژوند اړتیاوې ورپوره کوي، بلکې د هېوادونو د اقتصادي پرمختگ لپاره هم یوه مهمه وسیله گڼل کیږي. د دومره اهمیت باوجود چې یاد سکتور یې په انساني ژوند کې لري، متأسفانه بیا هم په افغانستان کې د صنعت سکتور سهم کافي نه دی او نه یوازې دا چې د صنعت سکتور د پرمختگ او ودې لپاره فرصت نلري، له یو شمېر مشکلاتو سره هم مخامخ دی چې دغه وضعیت د دې سبب شوی چې صنایع یوازې په لومړنیو او مصرفي محصولاتو محدودې پاتې شي (Valipour, Ketabchi, Safari shali, & Morid، ۲۰۲۳، ۱۳:۳-۱۵).
صنعت د اقتصادي ودې، ټکنالوژۍ پرمختگ او د کارونو د ایجاد لپاره حیاتي گڼل کیږي. دا د ناخالص داخلي تولید په برخه کې مهم رول لري او د ژوند د سطحې د لوړوالي باعث گرځي. د صنعت د پرمختگ لپاره زیربناوې تاکل کیږي، او په ځینو ولایتونو کې صنعتي پارکونه جوړ شوي، چې د تولیدي سکتور او فابریکو لپاره اړین گڼل کیږي. ځرنگه چې موږ پوهیږو چې صنعتي پارکونه د اقتصادي پرمختگ لپاره ډېر مهم گڼل کیږي او د یو شمېر عمده گټو درلودونکي دي چې ځیني یې عبارت دي له: دا پارکونه نوښت او تخنیکي پرمختگ ته وده ورکوي او د کاري فرصتونو په رامنځته کولو، د بېوزلۍ په کمولو، د محلي اقتصاد په پیاوړتیا، د داخلي او خارجي پانگوالو د جذب لپاره د زمینې په برابرولو کې مرسته کوي. صنعتي پارکونه د منابعو په مؤثر استعمال، د چاپېریال په ساتنه، د مختلفو شرکتونو ترمنځ د همکارۍ په زیاتوالي او د نوښت او پرمختگ لپاره هم د مهم عنصر په توگه شمېرل کیږي. په لنډ ډول ویلی شو چې صنعتي پارکونه د اقتصادي ودې او پرمختگ لپاره یوه مهمه منبع گڼل کېږي؛ نو د خپل صنعت، تولیدي دستگاه او کمپینیو لپاره د ځای انتخاب هغه مهمه موضوع ده چې له موږ سره پورتنیو ذکر شویو موخو ته په رسیدو کې مرسته کوي او ضروري گڼل کېږي. د همدغه موضوع اهمیت او ضرورت ته په کتو موږ د خوست په ولایت کې د صنعتي پارک په اهمیت، فرصتونو، تهدیدونو او د نوموړو تهدیدونو د حل په لارو چارو باندې څېړنه ترسره کړه (World Bank. (2015). *Industrial Parks: A Global Overview.*).

## موخې

د دې څېړنې عمده هدف د خوست په ولایت کې د صنعتي پارک د جوړولو اهمیت، په اقتصادي پرمختگ، د کاري شرایطو د ښه والي او د ټولنې د اساسي اړتیاوو په رفع کولو باندې د هغې تاثیراتو څېړل گڼل کېږي. د دې له لارې به د صنعتي پارکونو اهمیت او فرصتونه مشخص شي او د نوموړې څېړنې په ترسره کیدو سره به د خوست ولایت د صنعتي پارک اقتصادي اهمیت، ننگونې او فرصتونه

معلوم او د اړوند ستونزو د حل لپاره به ذیربطو کسانو، ادارو او مسؤلینو ته لازمه زمینه مساعده او د اړوند ستونزو د حل لارې ورته وړاندې شي ترڅو د خوست د صنعتي پارک د جوړولو لپاره مؤثره ستراتیژي مشخصه شي.

**د کار مواد او مېتود**

په نوموړې څېړنه کې د خوست ولایت د صنعتي پارک د جوړولو د ارزونې لپاره له تحلیلي مېتودونو څخه استفاده شوې. د دغې موضوع د څېړنې او د معلوماتو د راټولولو لپاره له کتابتوني او ساحوي (کیفي او کمي) دواړو تګلارو څخه استفاده شوې ده. د یادې څېړنې د ترسره کولو لپاره مو د اړتیا وړ معلومات د پوهنتنپاڼو او هم د بیلا بیلو ژبو له کتابونو، معتبرو سایټونو، مقالو، انټرنیټ پاڼو او همدارنګه د پوهنتنپاڼو د وېش له لارې راټول، تخلیل او د ارزونې وروسته مو د مقالې په بڼه ترتیب کړي دي.

**د صنعتي پارکونو اهمیت**

خوست ولایت، چې د افغانستان په ختیځ کې موقعیت لري، د معتدل اقلیم، مناسب موقعیت، د غوره تولیدي ظرفیت درلودلو او د کلتوري تنوع له اړخه یو مهم ځای دی. د دې ولایت صنعتي پارک، چې د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو، او د محلي اقتصاد پیاوړتیا لپاره اړین دی، د غوره فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم ګام دی. د صنعتي پارکونو اهمیت په اکثرو هېوادونو کې نه یوازې په اقتصادي فعالیتونو کې بلکې په ټولنیزو او کلتوري پرمختونو کې هم لیدل کیږي (اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، ۱۴۰۳ ، ص- ۱-۴).

د اقتصاد له نظره، صنعتي پارک هغه ځای ته ویل کیږي چې د اقتصادي فعالیتونو لپاره اساسي زیربناوې ولري. په دغو زیربناوو کې اوبه، برېښنا، مناسب سړکونه، د اوسیدو لپاره شنه ځایونه او د فزیکي فعالیتونو لپاره مناسب ځای شامل دي. د دې تأسیساتو شتون د مختلفو سوداګریو او صنایعو د ودې او پراختیا لپاره مناسب چاپېریال چمتو کوي او د اوسیدونکو د ژوند کیفیت په ښه کولو او د اقتصادي تولیداتو په لوړولو کې مرسته کوي. په بل عبارت، صنعتي پارکونه د اقتصادي پراختیا او د پانګونې د جذب په برخه کې د یو مهم محور په توګه کار کوي .

صـنعتي پارکونه هغـــــه ځانګړي ځایونه دي چې د مختلفو ســازمانونو د ورته اړتیاوو د پوره کولو لپاره ډیزاین شوي او د صنعتي سوداګرۍ د یوې ډلې په توګه عمل کوي. دغه پارکونه د ډېرو هېوادونو د ملي پرمختیا په ستراتیژیو کې مهم رول لوبوي. د وخت په تیریدو سره، د صنعتي پارکونو اهمیت او توجه په بې سـارې توګه زیاته شـوې، چې دا د اقتصـادي ودې، د کار فرصـتونو رامنځته کولو او د نوښـت لپاره مهمه فضا برابروي (Li, Wu, & Zeng، ۲۰۲۰، ص ۱-۲).

په افغانستان کې صنعتي پارکونه د اقتصادي زونونو په توګه د ښاري ستراتیژیکو پلانونو له مخې جوړ شوي دي او د تولیدي او صنعتي فعالیتونو لپاره اړینې زیربناوې لري. دې پارکونو د صنعت د ودې او پانګونو د راجلبولو لپاره مناسب پلیټ فارم چمتو کړی دی. د زیربناوو په زړه کې داخلي سړکونه، لویو لارو ته لاس رسی، د برېښنا شبکه، د اوبو رسولو سیستم او فاضله موادو او مخابراتو سیستمونه شامل دي، چې دا ټول د صنعتکارانو لپاره مهم دي. صنعتي پارکونه په درې ډولونو باندې ویشل شوي چې

عبارت دي له: عامه پارکونه، کوپراتیف پارکونه او خصوصي پارکونه. عامه او کوپراتیف پارکونه د دولت او عامه خصوصي مشارکت له لارې اداره کېږي، په داسې حال کې چې خصوصي پارکونه د خصوصي سکتور لخوا د حکومتونو د قوانینو په چوکاټ کې تر څارنې لاندې جوړ شوي او اداره کېږي ( واحدی،۱۴۰۲ ص،۱-۱۲).

صنعتي پارکونه ځانګړې ساحې دي چې د اجناسو او خدماتو د تولید، لوژستیک، مخابراتو او د زیربنایي خدماتو د پراختیا لپاره پلان شوي وي او په کې د تولیدوونکو ادغام د سیالۍ د ګټو د ترلاسه کولو لپاره ترسره کېږي؛ نو د خوست ولایت صنعتي پارک هم صنعتي بدلون کې مهم رول لوبوي. خو د صنعتي پارکونو پراختیا ممکن ځینې خطرات هم را منځته کړي لکه د چاپیریال ککړتیا او داسې نور.

په (۱۳۵۳)هـ ش کال کې د کابل په پلچرخي کې د لومړي صنعتي پارک جوړېدو سره، په افغانستان کې د صنعتي فعالیتونو منظمه لړۍ پیل شوه. وروسته له دې د هرات ولایت په بګرامي او نورو سیمو کې هم صنعتي پارکونه جوړ شول. د دې پارکونو جوړونې پروژې د حکومت له لورې د صنعت د ودې، د پانګونې د جذبولو او د مرستندویه کارونو د رامنځته کولو لپاره یو عملي اقدام ګڼل کیږي .(Bhanumurthy, N. R. Bansal, S. P., & Saqib, M. (2012)

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت چارواکي وایي، چې د صنعت د ودې او د ځینو ولایتونو کې د اړتیاوو د پوره کولو په موخه ۲۶ نوي صنعتي پارکونه په بېلابېلو ولایتونو کې پلان شوي دي. د ۱۴۰۲ کال په پای کې د ۳۹ صنعتي پارکونو وړاندیز وشو، چې له دې جملې ۹ پارکونه په تخار، بدخشان، دایکندي، سرپل، لغمان، غزني، بغلان او سمنګان ولایتونو کې په پام کې نیول شوي دي.

سربېره پر دې، په بلخ، هرات، خوست، بامیان، لغمان، نیمروز، دایکندي، کندز، فراه، کندهار، تخار، جوزجان، بغلان او غزني ولایتونو کې هم نور نوي صنعتي پارکونه په پلان کې دي. په اوس وخت کې، د بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونو کې د څو صنعتي پارکونو د جوړولو کار ترسره کېږي. د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ویاند څرګندوي، چې د دغو پارکونو زیربنایي ودانۍ د دولتي پانګونې له لارې جوړېږي او خصوصي سکتور به په تولید او صنعت کې پانګونه وکړي. د دې لپاره چې څېړنه مو لا مؤثره شوي وي نو بهتره به وي چې د صنعتي پارک د جوړولو په اړه د مصرف کوونکو، تولیدوونکو او دولتي مقاماتو نظریات د پوښتنپاڼو پر اساس ترلاسه او له هغې وروسته به بیا هڅه وکړو تر څو د پوښتنپاڼو څخه تر لاسه کېدونکي نتیجه باندې تمرکز وکړو.

په لاندې ډول د مصرف کوونکو څخه د موضوع په اړه بېلا بېلې پوښتنې شوې دي، چې پایله یې په ګراف کې خلاصه شوې ده.




د لومړي پوښتنې په ځواب کې (ایا د خوست ولایت صنعتي پارک د محلي تولیداتو او خدماتو د کیفیت په لوړولو کې مرسته کولی شي؟) قدرمنو ګډونوالو نظر ٪80 مثبت یا هو ده او ٪20 بیا وایي چې تاثیر پرې نه‌لري.

د دویمې پوښتنې په ځواب کې ٪93 ګډونوالو نظر داسې و، چې کاري فرصتونه رامنځته کولی شي او ٪7 بیا ویلي چې تاثیر پرې نه‌لري.

د دریمې پوښتنې په ځواب کې ٪71 ګډون وال دا تأییدوي چې د پانګونې په پراختیا کې زمینه مساعدوي او ٪29 فیصده یې نه تاییدوي.

د څلورمې پوښتنې په ځواب کې ٪85 دا تأییدوي چې د صنعتي پارک جوړول د خوست ولایت د اقتصادي او اجتماعي پرمختګ باعث ګرځي.

اوس غواړو د دویمې کتګورۍ تولیدوونکو پوښتنپاڼو نتیجه په لنډ ډول تشریح کړو.




د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې 84٪ موافق دي چې د خوست ولایت د صنعتي پارک جوړول به د تولیدي پروسې جریان کې سهولتونه رامنځته کړي، او 16٪ بیا په دې اړه مخالف نظر لرلو.

د دویمې پوښتنې په ځواب کې تقریباً 97٪ موافق او 3٪ کسانو بیا مخالف نظر لرلو.

د دریيمې پوښتنې په ځواب کې 70٪ ځواب وایونکو موافق نظر لرلو چې د توزیع پروسه اسانه کولی شي او 30٪ کسانو بیا مخالف نظر درلودو. د څلورمې پوښتنې په ځواب کې 90٪ محصلین موافق وو چې د صنعتي پارک جوړول د موجوده مشکلاتو په حل کې موثر رول لوبوي او پاتې 10%محصلینو بیا مخالف نظر لرلو. د یادولو وړ ده چې اوسني مشکلات لکه د تولیدي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د مناسب ځای نشتون، د برق کمښت، د ښار زیاته ګڼه ګونه او ګودام یاد شوي وو.

د دریيمې کتګورۍ یا حکومت اړوند ادارو څخه هم درې عمده پوښتنې ترسره شوې وې چې موږ یې په لاندې ډول سره خلاصه کوو:

دلته د خوست ولایت د صنعتي پارک د جوړولو په تړاؤ د دولت لپاره درې عمده پوښتنې وړاندې شوي دي:

لومړۍ پوښتنه دا وه چې دولت باید څه ډول اقدامات ترسره کړي ترڅو د خوست ولایت د صنعتي پارک جوړولو لپاره د زیرساختونو او بنسټیزو خدماتو لازمو غوښتنو ته په مؤثره توګه ځواب وویل شي؟

کله مو چې د اړوند ادارو د اکثره کارکوونکو ځوابونه سره خلاصه کړل، نو حکومت باید د مالي ملاتړ، د سړکونو او ترانسپورت د بنسټیزو جوړښتونو پراختیا، د بریښنا او اوبو د تامین لپاره پانګه اچونه وکړي. همداراز د تخنیکي روزنې پروګرامونه جوړ شي ترڅو کارګرو ته مهارتونه ورکړل شي.

دویمه پوښتنه چې حکومت د خوست د صنعتي پارک د امنیتي ننګونو د حل لپاره کوم سیاستونه او ستراتیژۍ باید په پام کې ونیول شي؟

نو د دوی نظر دا دی چې حکومت باید د امنیت د ټینګښت لپاره، د سیمه‌ییزو پولیسو او ملي امنیتي ځواکونو سره همکاري او د امنیتي تأسیساتو پیاوړتیا ته اړتیا ده. د معلوماتو شریکول او د عامه پوهاوي پروګرامونو لپاره سرمایه ګذاري هم اړینه بلل کیږي.

دریمه پوښتنه چې کوم ډول قانوني او اقتصادي تسهیلات (لکه مالیاتي معافیتونه) باید د پانګوالو د جذبولو او د تولیدوونکو ملاتړ لپاره وړاندې شي ترڅو د خوست صنعتي پارک په مقابل کې د خلکو لیوالتیا زیاته شي؟ نو د دوی اکثرو ځوابونه چې خلاصه کړو داسې ویلی شو چې د پانګوالو لپاره مالیاتي معافیتونه، د ټیټو مالیاتي نرخونو ټاکل، د اقتصادي زون په توګه د مخصوص قانوني چوکاټونو معرفي کول؛ همدارنګه د تولیدونکو لپاره د تخفیفونو او د بانکي قرضونو په ترلاسه کولو کې اسانتیاوې برابرول هم مهم دي.

دا پوښتنې د دولت د رول په څرنګوالي او د صنعتي پارک جوړولو لپاره د لازمو اقداماتو او پالیسۍ په اړه د بحث کولو فرصت برابروي؛ نو د پورته نقاطو په پام کې نیولو سره ضرور ده چې د خوست ولایت د صنعتي پارک تأثیراتو، فرصتونو، تهدیدونو او د هغوی په حل لارو باندې بحث وکړو نو اوس به د خوست ولایت صنعتي پارک په تأثیراتو باندې چې د خوست ولایت، سیمې او هېواد د اقتصاد په مختلفو برخو یې لري په لاندې ډول ور څخه یادونه وکړو:

**الف – په خوست ولایت کې  د صنعتي پارک جوړولو تاثیرات د خوست ولایت په اقتصادي پرمختګ باندې**

خوست کې د صنعتي پارک جوړول د اقتصادي پرمختګ لپاره کلیدي رول لوبوي. د یادې پروژې په تکمیلیدو سره  د کاري فرصتونو زیاتوالی، محلي تولید ته وده، تخنیکي نوښت، او د هېواد په داخل او خارج څخه د پانګې د جذب لپاره زمینه برابروي. همدارنګه، د زیربنایي خدماتو ښه والی او د مختلفو صنعتونو ترمنځ تجارتي اړیکو پیاوړتیا او ټولیز پرمختګ ته لار پرانیزي. د صنعتي پارک جوړول په خوست کې نه یوازې اقتصادي بلکې ټولیز پرمختګ ته هم وده ورکوي.

د خوست ولایت او سیمې په اقتصادي پرمختګ کې به دا پارک، د نوښت او متشبثینو د مرکزونو په توګه، د پانګې په راجلبولو، د ټیکنالوژۍ لوړولو او د کارموندنې په برخه کې مهم رول لوبوي. همدارنګه نوموړی پارک د محلي اقتصادي زیربنا په ښه کولو کې مرسته کوي او د پوهنتونونو، صنعت او حکومت ترمنځ همکاري اسانه کوي په لنډ ډول ویلی شو چې د نوموړې پارک جوړول به د دوامدار پرمختګ هڅولو او په خوست او سیمه کې د سیالۍ وړتیا په زیاتولو کې مرسته وکړي (سقائی, , امینی, رامین, & قاسمی زاده. ، ۲۰۲۳، ص ۷۱-۸۴).

**ب- د خوست محلي تولید د زیاتوالي لپاره زمینه مساعدول**

د خوست د صنعتي پارک جوړولو سره به تولیدي واحدونو جوړولو ته زمینه مساعده شي چې په پایله کې به د محلي تولیداتو د زیاتوالي سبب وګرځي، چې له دې لارې به اقتصادي فعالیتونه زیات شي. د تولیدي واحدونو له لارې به محلي سوداګر د خپلو تولیداتو لپاره بازار ته لاسرسی ومومي، چې دا به د بېکارۍ د کمښت سبب وګرځي. د سیمې اوسیدونکو لپاره به د محلي تولیداتو په مرسته د کاري فرصتونو زمینه مساعده شي، چې دا د اقتصادي موقعیت ښه کولو لپاره یو مهم ګام ګڼل کیږي. همدارنګه، د محلي تولیداتو پرمختګ کولی شي د سیمې د هوساینې لپاره هم ګټور تمام شي، ځکه چې د دوی قیمتونه معمولاً د وارداتي محصولاتو په پرتله ټیټ وي. د محلي تولیداتو د ودې لپاره د زیربنایي امکاناتو په اړه د حکومت ملاتړ او د پانګونو هڅونه اړینه ده، ترڅو هغه تولیدي واحدونه وپېژندل شي چې ودې ته اړتیا لري، چې نوموړې کړنې به د خوست د اقتصادي حالت د لا ښه کولو لپاره موثره لاره وي.

**ج. مسلکي برخه کې همکاري**

د خوست صنعتي پارک د پروژې له لارې به ځوانان په مسلکي مهارتونو کې روزنه ترلاسه کړي چې له دې سره به تخلیقي افکار او نوښتګري رامنځته شي او د کاري قوې مهارتونو به لا زیات لوړ شي. دا چې په خوست ولایت کې محتلف دولتي او خصوصي پوهنتونونه او مؤسسات شتون لري چې تولنې ته د چوپړ په موخه مسلکي د کار قوه وړاندې کوي نو دد ې پارک په جوړیدو به نوموړې مرکزونه د لا مسلکي کارکوونکو د وړاندې کولو وړتیا ترلاسه کړي او قدرمنو محصلینو ته به د مسلکي زده کړو ترڅنګ د عملي زده کړو زمینه هم مساعده شي. د یادولو وړ ده چې اوس په خوست ولایت کې کافي د کار مسلکي قوه شتون لري چې نوموړی فرصت د خوست ولایت د صنعتي پارک د جوړیدو لپاره یو بهترین فرصت بلل کیږي. د کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه او ورکشاپونه به د کار بازار اړتیاوو ته ځواب ووایي او د ځوانانو اشتغال ته به وده ورکړي.

**د. پانګې جذب**

په خوست ولایت کې د صنعتي پارک جوړول د سوداګریزو فرصتونو په رامنځته کولو سره د کورنیو او بهرنیو پانګوالو د راجلبولو په موخه مهم رول لوبوي. د دې لپاره چې نوموړی هدف تر لاسه کړو نو ضرور ده چې د پانګونې لپاره بعضې تشویقي ګامونه پورته کړو لکه: اقتصادي ثبات، د پانګونې اسانه شرایط، او محلي او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی او داسې نور. باید یادونه وکړو چې صنعتي پارک د بهرنیو پانګوالو د جذب او هڅونې لپاره په زړه پورې انتخاب دی. د پانګونې په زیاتوالي سره تمه کېږي چې په خوست ولایت او سیمه کې د اقتصادي ودې یو مهم محرک رامنځته او د نویو صنعتونو او سوداګرۍ پراختیا له لارې قوي کاري فرصتونه رامینځته شي. د خوست ستراتیژیک جغرافیایي موقعیت ګاونډیو بازارونو ته د لاسرسي اسانتیا برابروي، چې د پاکستان د کراچۍ په څیر نفوس لرونکو سیمو ته د محصولاتو صادرول اسانوي.

**ذ. د محلي تجارت ملاتړ**

د صنعتي پارک جوړول به د محلي کارکوونکو او سوداګرو لپاره کاري فرصتونه برابر کړي او دې سره به محلي بازارونه وده وکړي. دا به د محلي تولیدوونکو سره د خپلو محصولاتو د پراختیا او کیفیت لوړولو په برخه کې مرسته وکړي.

**ر. نوښت او ټکنالوژي**

د نوښت او ټکنالوژیکي ودې لپاره د صنعتي پارکونو موجودیت یا شتون به د محلي تولیدونکو لپاره د نوې ټکنالوژۍ او نوښتونو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي، چې نوموړې هڅې به د اقتصاد په مختلفو سکتورونو کې د پرمختګ لامل شي.

**د خوست ولایت د صنعتي پارک د جوړولو لپاره فرصتونه**

۱. اقتصادي ثبات: تقریباً خوست ولایت د افغانستان د هغه مهمو ولایتونو څخه شمېرل کیږي چې هلته تقریباً اقتصادي ثبات لپاره زمینه مساعده ده او دغه اقتصادي ثبات د اوږدمهاله پانګونې لپاره مناسب محیط برابروي.

۲. پانګونې ملاتړ: دا چې زیات افغانان په ځانګړي توګه د خوست ولایت تجاران په داخل او خارج کې شه کاروبارونه لري او د دوی سره د پانګه شتون لري چې که د پانګونې لپاره ورته مناسب ځای برابر شي نو دوی به خپله پانګه د هېواد داخل ته انتقال او د پانګونې باعث به وګرځي. حکومتونه هم باید ځینې پروګرامونه د پانکوالو د تشویق په موخه تر سره کړي لکه مالیاتي معافیتونه او یا مالیاتي تخفیفونه او داسې نور.

۳. قانوني شفافيت: د پانګوالو د جذب لپاره بايد روښانه قانوني چوکاټ چې د تجارت قوانينو ته احترام وکړي رامنځته شي ځکه شايد سبا د دوی سرمايه په مختلفو بهانو د خطر سره مخامخ شي نو دلته د دوی د سرمايې د مصؤنيت لپاره ضرور ده چې منظم قوانين جوړ شي.

۴. زيرساختونه: د صنعتي پارک د جوړيدو لپاره د ترانسپورټ، بريښنا او د اړيکو ښه سيستمونه.

۵. مهارت لرونکي کارګران: د مسلکي روزل شويو کارکوونکو شتون چې د توليد او ابتکاراتو د رامنځته کيدو او زياتوالي سبب ګرځي.

٦. بازار ته لاسرسی: د خوست صنعتي پارک لپاره مناسب جغرافيايي موقعيت چې محلي او نړيوالو بازارونو ته آسانه لاسرسی ولري.

7. د نوښت ملاتړ: په خوست ولايت کې د علمي او اکاډميکو مرکزونو شتون چې مسلکي کار قوه مارکيټ ته وړاندې کوي.

8. بازار اړتياوې: دا چې د خوست ولايت او اړوند سيمه حتی افغانستان کې مارکيټ اکثره خارجي اجناسو نيولی؛ نو که موږ خپل توليد ولرو نو په بازار کې ورته تقاضا شتون لري، لومړی بايد تقاضا مشخصه او د هغې مطابق مارکيټ ته د اجناسو عرضه کول به د کمپنيو د بريا سبب وګرځي.

9. د سوداګريزو اړيکو جوړول: نړيوالو تجارتي اړيکو لپاره موجودې شبکې چې خوست ولايت د ډيورند په لاين د پښتونخوا له طرفه د پاکستان سره وصل دي او د افغانستان د شمالي سرحدونو له لارې د مرکزي اسيا سره وصل شوي چې د اموالو لپاره ښه مارکيټ دی.

10. حکومتي ملاتړ: حکومت هم غواړي د داخلي کمپنيو مالي ملاتړ وکړي او د مشکلاتو حل لپاره ورته مناسبې لارې لټوي (Challoumis، ۲۰۲۴، ص ۲۱۳-۲۲۹).

11. خوست ولايت د طبيعي او بشري منابعو، مناسبې پانګې د شتون او غوره اقليم له امله د توليدي فعاليتونو لپاره مناسب ځای دی، د مثال په ډول د زراعت، صنعت، اوبو، د برق د شتون لپاره د ظرفيتونو شتون او داسې نور. د خوست ولايت د غوره محصولاتو د توليد لپاره مناسب ځای دی او د معدني منابعو شتون هم د صنعتي پارکونو او توليدي فعاليتونو لپاره غوره فرصتونه برابروي. د شيخ زايد پوهنتون او نورو خصوصي پوهنتونونو او انستيتيوتونو شتون د مسلکي کارګرو د مهارتونو د لوړولو په برخه کې مهم رول لوبولی او د محلي کارګرانو مهارتونه او تجارب د زراعت، صنعت او د غوره خدماتو د ارايه کولو لپاره حياتي او مهم رول لوبوي، چې په دې توګه سيمې ته د خپلو منابعو مؤثره کارونې زمينه برابروي. د خوست کلتور او تاريخي شتمنۍ هم د توليدي فعاليتونو د پراختيا لپاره چوکاټونه وړاندې کوي. د منابعو ښه مديريت او نوښتونه د اقتصادي پرمختګ لپاره کليدي عناصر ګڼل کيږي، چې د

صنعت او زراعت د ودې له لارې د خوست خلکو ته لا زیات امکانات برابروي (Naeem, S., Waheed, A., & Khan, M. N.، 2020، ص 7-14).

**د خوست ولایت د صنعتي پارک د جوړولو په وړاندې خنډونه**

**الف: امنیت**

امنیت د پانګونې لپاره عمده او مهم عنصر بلل کېږي . څرنګه چې افغانستان د څو لسیزو راهیسې په جنګونو کې ښکیل وو، نو د هېواد په هر ګوټ کې یې د پانګونې په مقابل کې ستونزې رامنځته کړي دي. نو باید هڅه وشي چې د پانګوالو هر اړخیز امنیت ته ځانګړې توجه وشي او نه یوازې د دوی فزیکي امنیت ته، بلکې ذهني امنیت ته یې هم زمینه مساعده شي.

**ب: د زیر ساختونو کموالی**

د خوست ولایت د صنعتي پارک لپاره د زیرساختونو کموالی یوه جدي ستونزه بلل کېږي، چې د څو اړخونو له مخې خنډونه رامنځته کوي. نامناسب سړکونه د مالونو او موادو انتقال پر وړاندې ستونزې جوړوي، چې په پایله کې د تولید او سوداګرۍ فعالیتونه متأثره کوي. د برېښنا عدم موجودیت یا ناپېژندل شوی کیفیت د تولید پروسې ته زیان رسوي. همدارنګه، د کافي او باکیفیته اوبو نشتوالی د تولیدي فعالیتونو لپاره خنډ جوړوي، او د بنسټیزو خدماتو لکه ټلګراف او انټرنیټ کموالی د کارکوونکو او پانګوالو لپاره ستونزې رامنځته کوي. په ټوله کې، دا مشکلات د خوست د صنعتي پارک لپاره خطر او خنډونه تشکیلوي چې د حل لپاره یې جدي تدابیرو ته اړتیا ده.

**ج: په بازار کې د تقاضا کموالی**

په مارکیټ کې د تقاضا کموالی چې د مختلفو عواملو په اساس رامنځته شوی دی، د تولیداتو په عرضه او د بازار موندنې په برخه کې جدي ستونزې رامنځته کوي. که محلي او نړیوال بازارونه د اړتیاوو او تقاضا په اړه سم معلومات ونه‌لري، نو دا به د تولیداتو عرضه او د هغوی د بازار موندنې پروسه ستونزمنه کړي. په دې توګه، تولیدونکي نشي کولی خپل محصولات په مناسب ډول بازار ته وړاندې کړي، چې دا د اقتصادي ودې لپاره خنډونه ایجادوي. د دې وضعیت څخه د وتلو لپاره د بازار اړتیاوې او تقاضا باید ښه تحلیل شي ترڅو د تولید او بازار موندنې ستراتیژۍ په مؤثره توګه جوړې شي (Wang., Liu, Shi & Wang، ۲۰۲۴، ص ۳٦٦).

**د: بنسټيز خدمات**

د عمده بنسټيزو خدماتو لکه انټرنيټ، روغتيايي خدمتونو، ټرانسپورټي خدمتونو نشتوالی، د کارکوونکو او پانگوالو لپاره مهمې ستونزې رامنځته کوي. د دې خدماتو کموالی د ښه ژوند معيار او کاري شرايط تر تأثير لاندې راولي، چې ممکن د کارکوونکو او پانگوالو د جذب پر وړاندې د خنډ سبب شي. ترڅو چې دا بنسټيز خدمات مناسب او کافي نه وي، نو په خوست کې د سوداگرۍ او صنعت د پرمختگ لپاره مطلوب شرايط نه رامنځته کيږي. په همدې توگه، د دې خدماتو کيفيت او شتون بايد په جدي توگه وڅېړل شي ترڅو د اقتصادي پرمختگ لپاره شرايط بهتره شي.

**پايله**

په دې څېړنه کې د خوست ولايت د صنعتي پارک جوړولو اهميت، فرصتونه، او خنډونه څېړل شوي دي. د اقتصادي رفاه په لور د اقتصادي پرمختگ لپاره د تصديو او صنعت پراختيا مهمه او ضروري بلل کېږي. خوست ولايت د مناسب اقليم، کلتوري تنوع او توليدي ظرفيت له امله د صنعتي پارک لپاره يو مناسب ځای دی، چې نه يواځې اقتصادي فعاليتونه، بلکې ټولنيز پرمختگ ته هم زمينه مساعدوي.
د صنعتي پارکونو جوړول د محلي توليداتو د زياتوالي، تخنيکي نوښت او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو له لارې د اقتصادي ودې لپاره بنسټيز اهميت لري. د خوست ولايت صنعتي پارک د پانگوالو جذب او د چټک پرمختگ لپاره د بېلابېلو صنعتونو ترمنځ همکاري رامنځته کوي. بايد يادونه وکړو چې د خوست ولايت د صنعتي پارک د پرمختگ پر وړاندې ځينې عمده خنډونه او ننگونې هم شتون لري لکه امنيتي ستونزې، د زيرساختونو کموالی، د بازار د تقاضا کموالی او د بنسټيزو خدماتو نشتوالی.
د دې خنډونو د حل لپاره، اړتيا ده چې د يو مستحکم قانوني چوکاټ، ښه زيرساختونه، او بنسټيزو خدماتو ته د لاسرسي زمينه مساعده شي. د ډېرو نوښتونو او اړيکو له لارې، د خوست صنعتي پارک کولی شي د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا په برخه کې مهم رول ولوبوي، چې دا به د محلي او نړيوالو بازارونو ته د لاسرسي چانسونه لازيات کړي.
د خوست ولايت د صنعتي پارک په جوړولو سره به نه يوازې دا سيمه بلکې د افغانستان په ناخالص داخلي توليد کې د پام وړ زياتوالی رامنځته شي. دا به د افغانستان دولت د مالياتو د راټولولو له لارې ځان بساينې ته ورسوي او دا به بالاخره افغانستان د وارداتي هېواد څخه په صادراتي هېواد باندې په تبديليدو کې مهم رول ولوبوي.

**وړاندیزونه**

دا چې په هېواد کې صنعتي پارکونه د اقتصاد په بیلا بیلو برخو لکه استخدام، عاید، د ژوند سطخه، اقتصادي وده او پرمختگ، ټولنیزه هوساینه، داخلي او خارجي تجارت، د بیوزلۍ په کمولو، د داخلي او خارجي پانگونو په تشویق او د محلي تولیداتو په وده کې مهم رول لري نو په دې برخه کې د خوست ولایت د صنعتي پارک لپاره لاندې وړاندیزونه کوو.

۱- د صنعتي پارک لپاره د ځای ټاکل (جغرافیوي موقعیت) تر ټولو مهم گڼل کیږي. ځای یې باید د سړکونو، کاري قوې او هوایي میدان سره نږدې او د هستوگنې له ځایه لرې واوسي ترڅو هغې ته د موادو لیږد او رالیږد اسانه وي او هم د هغې د جوړولو لپاره باید د چاپېریال ساتنې اصول په پام کې ونیول شي.

۲- د صنعتي پارک لپاره باید په کم مصرف سره د کافي برق څلورویشت ساعته اسانتیاوې برابرې شي ترڅو د تولیداتو د تمام شد قیمت یې ټیټ او په سیمه ییزه او نړیواله کچه د رقابت قدرت ولري.

۳- د صنعتي پارک لپاره د اوبو رسونې منظم سیستم او هم د فاضله موادو د مدیریت سیستم شتون ولري او هم د چاپېریال ساتنې معیارونه باید په پام کې ونیول شي تر څو د هوا د چټلتیا او تنفسي ناروغیو سبب نشي.

۴- د صنعتي پارک ځای باید د بازارونو، مشتریانو او عرضه کوونکو سره نږدې وي ترڅو د تولیداتو د خرڅلاو چانسونه زیات شي.

۵- د سیمې امنیت او سیاسي ثبات باید د صنعتي پارک د فعالیتونو د خوندیتوب لپاره مناسب وي.

٦- د صنعتي پارک په چوکاټ کې باید د محلي تولیداتو د ملاتړ لپاره د بازار موندنې بېلا بېل پروگرامونه رامنځته شي ترڅو له دې لارې د سیمه ایزو محصولاتو تولید او بازار موندنه وده وکړي او محلي او نړیوالو بازارونو ته د محصولاتو د وړاندې کولو زمینه مساعده شي.

۷- صنعتي پارک باید د نوښت او ټیکنالوژۍ د ودې لپاره یوه ځانگړي برخه ولري چې د ځوانانو او کاروباریانو د نوښتونو ملاتړ وکړي.

۸- د پارک په چوکاټ کې باید د کار کوونکو د کاري مهارتونو د لوړولو لپاره روزنیز پروگرامونه رامنځته شي، ترڅو کارگران د صنعت د اړتیاوو سره سم وروزل شي.

۹- د کوچنیو او متوسطو کاروبارونو لپاره باید د مالي ملاتړ او قرضونو د ترلاسه کولو اسانه لارې چارې او شرایط برابر شي.

۱۰- د صنعتي پارک د بریالیتوب لپاره باید د دولتي او غیر دولتي ادارو ترمنځ د همکارۍ شبکه رامنځته شي، ترڅو د ملي اقتصاد د مختلفو سکتورونو ترمنځ همغږي او همکاري زیاته شي.

## مأخذونه

پارک های صنعتی، اهمیت و مشکلات آنDPMEA |

خوست ولایت ته یوه لانډه کتنهMinistry of Information and Culture | ( Khost )

سقائی, محسن, امینی نژاد, رامین, & قاسمی زاده. (2023). تحلیل نقش پارک علم و فناوری در توسعه اقتصادی منطقه (مورد مطالعه: پارک پردیس تهران). *اقتصاد شهری*, *8*(1), 71-84.

Bhanumurthy, N. R., Bansal, S. P., & Saqib, M. (2012). *Role of Industrial Parks in Promoting Entrepreneurship*. Working Paper, ICRIER. ICRIER - Think Tank | Indian Council for Research on International Economic Relations (ICRIER)

Challoumis, C. (2024). The Role of National Governments, Domestic Economies, and Enforcement and Escape Savings in Economic Stability: Lessons from the Greek Economic Crisis. *Procedia on Economic Scientific Research*, *11*, 213-229.

World Bank. (2015). *Industrial Parks: A Global Overview*, Publication

Li, C., Wu, J., & Zeng, T. (2020). Global industrial par research trends: a bibliometric analysis from 1987 to 2016. *Environmental Monitoring and Assessment*, *p-1*.

Mourtzis, D., Angelopoulos, J., & Panopoulos, N. (2022). A Literature Review of the Challenges and Opportunities of the Transition from Industry 4.0 to Society 5.0. *Energies*, *15*(17),

Naeem, S., Waheed, A., & Khan, M. N. (2020). Drivers and barriers for successful special economic zones (SEZs): Case of SEZs under China Pakistan economic corridor. *Sustainability*, *p:7-14*.

Valipour, E., Ketabchi, H., Safari shali, R., & Morid, S. (2023). Equity, social welfare, and economic benefit efficiency in the optimal allocation of coastal groundwater resources. *Water Resources Management*, *37*(8), 2969-2990.

Wang, H., Liu, C., Shi, P., & Wang, Y. (2024). The social effects of energy regulation: Energy-consuming rights trading system and corporate labor demand. *Journal of Environmental Management*, *366*, 121842.

# د معنوي ملکيت حقوقو لنډه پېژندنه

پوهنمل فضل الرحمن ايوبي، شيخ زايد پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه.
برېښناليک: fazal.ayoubi@yahoo.com

**لنډيز**

د معنوي ملکيت حقوق د انسان د فکر زېږنده دي او د انسان له ذهني نوښتونو او ايجاداتو څخه عبارت دي. په بله وينا د معنوي ملکيت حقوق له هغو حقوقو څخه عبارت دي چې موضوع يې غير مادي شيان وي. د بېلګې په توګه اختراعات، ادبي او هنري فعاليتونه، ډيزاين، سوداګريزې نښې او علامې چې په سوداګرۍ کې کارول کېږي. معنوي ملکيت د مخترعينو او پنځوونکو لپاره ځانګړي حقوق ورکوي؛ تر څو دوی وتوانېږي د خپلو خلاقانه هڅو يا خپل شهرت څخه ګټه ترلاسه کړي. په دغه څېړنيزه مقاله کې کې د معنوي ملکيت حقوقو مفهوم او د هغې د بېلابېلو ډولونو په تړاو لنډ معلومات وړاندې شوي. معنوي ملکيت بېلابيل ډولونه لري، چې د اختراع، کاپي رايټ، سوداګريزو نومونو او سوداګريزو رازونو څخه عبارت دي. د اختراع حقوق له اختراعاتو څخه ملاتړکوي، کاپي رايټ ادبي او هنري فعاليتونو اړوند مسايل تنظيموي، په داسې حال کې چې سوداګريزې نښې د بېلابيلو شرکتونو محصولات او خدمتونه يو له بل څخه جلا او متمايز کوي او سوداګريز رازونه د محرمانه سوداګريزو معلوماتو خونديتوب تضمينوي. د معنوي ملکيت حقوقو موخه د نوښتګرو او عامه ګټو تر منځ د تعادل په ټينګولو سره داسې يو چاپېريال را منځ کېدل دي چې په هغې کې نوښت او اختراع وده وکړي او د معنوي ملکيت حقوقو پنځوونکي تشويق او د پانګونې، سوداګرۍ او تکنالوژۍ د پرمختګ له لارې اقتصادي وده هڅوي. دغه څېړنيزه مقاله د توصيفي څېړنې له نوعې څخه ده، چې د معلوماتو په راټولولو کې له کتابتوني مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

**کليدي کلمې:** اختراع، تأليف، سوداګريزنوم، سوداګريز رازونه، صنعتي حقوق.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم،الحمد الله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين اما بعد.**

الله جل جلاله پوهه او تفکر د انسان په فطرت او طبيعت کې نغښتي دي، ځکه انسان د خپل استعداد او فکر په مرسته تل کوښښ کوي تر څو داسې يوه طرحه را منځته کړي، چې د خپلې ټولنې له پرمختګ سره مرسته وکړي او خپلې معنوی او مادي ګټې تر لاسه کړي.

نن ورځ معنوي ملکيت حقوق د اقتصادي سياست د بنسټيزو مسايلو په توګه د اقتصادي پرمختيا لپاره مهمه وسيله او په سوداګريزو معاملاتو کې يوه ارزښتمنه پانګه ګڼل کېږي.

نن ورځ د معنوي ملکیت حقوق د هېوادونو په اقتصادي او فرهنگي پرمختگ کې مهم رول لوبوي. نوموړي حقوق نوښتگرو، مخترعانو، پنځوونکو او څېړنیزو موسسو ته دا زمینه برابروي ترڅو د خپلو فکري فعالیتونو د محصولاتو څخه گټه پورته کړي او د نورو اشخاصو د ناوړه استفادې څخه یې مخنیوی وکړي.

د معنوي ملکیت حقوقو یوه بنسټیزه موخه نوښتگرو او پنځوونکو ته د انحصاري حقوقو د ورکولو له لارې نوښتونو او ایجاداتو ته د خلکو له هڅونې څخه عبارت ده. نوموړي حقوق نه یوازې دا چې اشخاصو او شرکتونو ته دا زمینه برابروي تر څو د خپلو محصولاتو او خدمتونوڅخه گټه پورته کړي، بلکې د سالمې سیالۍ په پیاوړتیا او نویو بازارونو په را منځته کېدو کې هم مرسته کوي او همدارنگه د نورو اشخاصو په واسطه د دوی د معنوي ملکیت څخه د ناوړه استفادې څخه مخنیوی وکړي.

د هېوادونو په اقتصادي سیاست جوړوونه باندې د تکنالوژۍ او ورځ تر بلې د صنعت د پرمختگ آغېز د دې لامل شوی تر څو د نوښتگرو او پنځوونکو فکري او معنوي فعالیتونو قانوني ملاتړ ته پاملرنه و شي په دې کتابتوني څېړنیزه مقاله کې به د معنوي ملکیت حقوق او د هغې بېلابېل ډولونه په لنډه توگه وڅېړل شي.

## موخې

۱ – د معنوي ملکیت په مفهوم باندې پوهېدل .

۲ – په ملي او نړیواله کچه د معنوي ملکیت د بېلابیلو برخو د قانوني ملاتړ په حدودو باندې پوهېدل.

۳ – د معنوي ملکیت د قانوني ملاتړ لپاره د اړینو شرایطو پېژندل.

۴ – د ټولنې په اقتصادي، سوداگریزه او علمي پراختیا کې د معنوي ملکیت حقوقو په اهمیت باندې پوهېدل.

## کړنلاره او کار توکي

دا څېړنیزه مقاله د څېړنې د توصیفي ډول څخه ده، چې د معلوماتو په را ټولولو کې د کتابتوني میتود څخه گټه اخېستل شوي دهکې د توصیفي مېتود څخه گټه اخېستل شوې ده. لومړی د موضوع اړوند مواد د بېلابیلو معتبرو کتابونو، مقالو او انټرنیټي پاڼو څخه را ټول د تحلیل او تجزیې وروسته د مقالې په بڼه ترتیب او لیکل شوي دي.

## د معنوي ملکیت حقوقو تعریف

د معنوي ملکیت حقوق عنوان د حق، ملکیت او معنوي له دریو کلمو څخه مرکب دی، نو مخکې له دې چې معنوي ملکیت حقوق تعریف کړو غوره به وي چې لومړۍ حق، ملکیت او معنوي وپېژنو.

حق له هغه صلاحیت، سلطې، امتیاز او اقتدار څخه عبارت دی چې یو شخص یې د نورو اشخاصو او اشیاوو په وړاندې لري او د قانون له خوا حمایت کېږي(یو شمېر لیکوالان،۱۳۸۷، ص:۷۷).

ملکيت هغه حق دی چې په مقتضا يې يو شی د شخص تر ارادې او تسلط لاندې راځي او يوازې څښتن يې کولای شي د قانون له حکمونو سره سم د هغه په کارونه، ګټه اخيستنه او هر راز مالکانه تصرف لاس پورې کړي(يو شمېر لېکوالان،۱۳۸۷، ص:۲۷٦).

معنوي په لغت کې د باطني او حقيقي په معنی دی او د مادي، ظاهري او صوري په مقابل کې کارول کېږي. او معنوي کلمه د معنوي حقوقو ملکيت په اصطلاح کې يوازې دې ته اشاره کوي، چې په مادي حق پورې تړاو نه لري، بلکې د انسان د فکري فعاليت زېږنده دی (ميرحسيني، ۱۳۸۵، ص:۱۸ -۱۹).

د پورته توضيحاتو په پام کې نېولو سره د معنوي ملکيت حقوقو تعريف داسې کولای شو: د معنوي ملکيت حقوق له هغه حقوقو څخه عبارت دي چې د هغې خاوند ته د انسان د فکر او نوښت د محصولاتو څخه د انحصاري ګټې اخېستنې واک ورکوي( کاتوزيان،۱۳۹۰، ص:۲۴).

**د معنوي ملکيت د ساتنې لپاره دوه دليلونه شتون لري:**

لومړی د منځته راوړونکو مادي او معنوي حقوقو ته قانوني اړخ ورکول او يادو آثارو ته د ټولنې د لاسرسي له حقوقو څخه ملاتړ.

دويم د دولت د پاليسی په توګه د خلاقيت برخې ته وده ورکول او له هغې څخه د را منځته شويو پايلو خپرول او پلي کول او منصفانه آسوداګری ته هڅول تر څو په ټولنيزه، فرهنګي او اقتصادي پراختيا کې مرسته و کړای شي ( WIPO. 2008, intellectual property handbook. (Second edition. Geneva.p3

**د معنوي ملکيت حقوقو څانګې**

د معنوي ملکيت حقوق په دوو اصلي برخو ويشل کېږي، چې يوه يې د صنعتي ملکيت حقوق او بله برخه يې د ادبي او هنري ملکيت حقوق دي. د صنعتي ملکيت حقوق لکه څه ډول چې د پاريس کنوانسيون کې د صنعتي ملکيت څخه د ملاتړ لپاره راغلي دي د هغې عام مفهوم دی. صنعتي ملکيت په عام مفهوم سره يوازې صنعت او سوداګري په بر کې نه نيسي؛ بلکې د زراعتي او استخراجي صنايعو څانګو او ټول مصنوعي يا طبيعي محصولاتو لکه د ميوې، ګل، معدني موادو، معدن اوبه او غلو دانو ته هم شامليږي. د پاريس کنوانسيون په پام کې نېولو سره د صنعتي ملکيت موضوع د اختراع پاڼې، د مصرفي شيانو نمونې، صنعتي طرحې او موډلونه، د کارخونو او سوداګريزو نښو او د سوداګريزو خدماتو او نومونو اړوند نښې او علايم او د جنس د مبدأ ځانګړنې يا اصلي نوم او همدارنګه د نامشروع سيالۍ څخه مخنيوی دی.

د معنوي ملکيت د اړخونو يا د معنوي ملکيت د آسوداګرۍ اړوند هوکړه ليک(تريپس) کې، سواګريز رازونه او جغرافيوي نښې هم د ملاتړ وړ صنعتي ملکيتونو تر عنوان لاندې پېژندل شوي دي (ميرحسني، ۱۳۸۵،ص:۲۲).

لکه څنګه چې د صنعتي ملکيت څخه د ملاتړ په موخه د پاريس په کنوانسيون کې د معنوي ملکيت د اړخونو اړوند هوکړه ليک کې راغلي دي ويلی شو چې د صنعتي ملکيت حقوق په ګڼو برخو ويشل کېږي، لاندې هره يوه برخه تر څېړنې لاندې نيسو:

**اختراع**

د صنعتي ملکيت حقوقو يوه بېلګه اختراع ده، د نړۍ د زياتره هېوادونو په قوانينو کې اختراع نه ده تعريف شوې، په داسې حال کې چې د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون کې اختراع دا ډول تعريف شوې ده: د يوې صنعتي، کرنيزې يا خدماتي پايلې يا محصول د تر لاسه کولو لپاره په نوې طريقې له موجودو وسايلو څخه په ګټې اخېستنې سره د نوې پديدې را منځته کول دي چې تر هغې د مخه مثل ونه لري(د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده، ۳، فقره،۱).

د اختراع او د اختراع د تصديق پاڼې تر منځ توپير شتون لري، د اختراع د ثبت تصديق پاڼه هغه سند دی چې د اختراع څخه د ملاتړ په موخه د دولت او يا سيمه‌ييز دفتر له خوا صادري، کوم چې د اختراع ايجادوونکی معرفي کوي او حقوقي وضعيت را منځته کوي چې پر بنسټ يې مخترع کولای شي د مالک په توګه له هغې څخه په انحصاري توګه ګټه پورته کړي.

د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون ځلورمې مادې (۳) فقره په دې هکله داسې صراحت لري: «د اختراع د ثبت تصديق پاڼه هغه سند دی چې د اختراع د معرف په توګه د ثبت د دفتر له خوا مخترع ته ورکول کېږي».

همدارنګه اختراع يا اکتشاف، د مخترع يا مکتشف انحصاري حق دی، چې توليدي عرصې، پروسس، نوې تکنالوژي او اختراعي قدمې چې د صنعتي کارونې وړتيا ولري پکې شاملې دي، تر ملاتړ لاندې نېول کېږي. په دې شرط چې د قانون د حکمونو مطابق ثبت شوي وي ( د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده،۴، فقره،۱).

**د ثبت وړ اختراع**

د ثبت حق يا هماغه د اختراعاتو انحصاري حق چې د کليمې په پراخه معنی سره د اختراعګانو د حقوقو د ساتلو په معنی دی. په بل عبارت د اختراع حق، د دولت په واسطه يوه مخترع ته هغه ورکړل شوی حق دی چې مخترع ته اجازه ورکوي چې د يوې محدودې دورې لپاره نور کسان د غير مجازې سوداګرۍ څخه منع کړي. د يادولو وړ ده چې ټول اختراعات د ثبت وړ نه دي. په عمومي توګه قوانين هغه اختراع د ثبت وړ ګڼي چې لاندې شرايط ولري:

**نوی والی:** اختراع هغه مهال نوې ګڼل کېږي چې په موجوده صنعت يا پخوانی پوهه کې شتون و نه لري. له پخواني علم څخه موخه دا ده چې د اختراع د ثبت د غوښتنې له نېټې يا تقدم حق څخه پخوا

په هره بڼه نشر او عملاً د استفادې وړ ګرځېدلي او د خلکو په واک کې وي. په واقعیت کې اختراع باید د نوي والي ځانګړنه ولري، چې د یادې ځانګړنې سابقه په علم او د نوموړي اختراع اړوند فني برخه کې يې وړاندوینه نه وي شوې، چې دغه پخوانۍ پوهې ته «prior Art» ویل کېږي. د وایپو موډل قانون سره سم هغه اختراع نوې ګڼل کېږي چې د پوهې یا اګاهی په قلمرو کې شتون ونه لري او پخوانۍ پوهه او اګاهي د علمي او فني معلوماتو ټولګه ده چې د اختراع په علمي او فني ساحه کې شتون ولري (مبشري،۱۳۹۴، ص:۴).

**نوښتګرانه قدم**

د نوښتګرانه والي څخه موخه دا ده چې یوازې هغه مهال د یوې اختراع د صحت ادعا کېدای شي چې د هغې په موجب د موجوده پوهې په سطحه باندې یو څه زیات شوي وي او د نظر وړ ابداع د ټولنې د پوهې د عمومي سطحې په نسبت یو قدم وړاندې وګڼل شي. د نوي والي له شرط سره د دې شرط توپیر په دې کې دی چې د اختراع نوی والی د اختراع د موضوع پخوا شتون و نه لري، په داسې حال کې د اختراع نوښتګر والی هغو موادرو ته شاملېږي چې له پخوا شتون ولري خو د پایلې د ترلاسه کولو د پخواني محصول د کارونې په تګلاره کې تغییرات را منځ ته شوي وي(مبشري،۱۳۹۴، ص:٦).

**په صنعت کې د پلي کېدو وړتیا ولري**

داختراع یو بل شرط دا دی چې ادعا شوې اختراع باید په صنعت کې د کارونې وړتیا ولري، په دې معنی چې اختراع باید و کولای شي چې په صنعت او یا سوداګریزو موخو کې د استفادې وړ وګرځي. بنا پر دې که ادعا شوي اختراع یوازې یوه نظري پدیده او محصول وي، که ګټوره هم وي د اختراع په نوم د ثبت وړ نه ده(مبشري،۱۳۹۴، ص:۹).

اختراع باید د هغو مواردو په محدوده کې وي چې د ملي قوانینو په واسطه تعریف کېږي. یاد موارد له یو هېواد څخه بل هېواد ته توپیر کوي. زیاترو هېوادونو د علمي تئوری، ریاضي فورمولونه، د بوټو ډولونه، د طبیعي موادو کشف، د درملنې روشونه(د درملو د تولید پرته) او هر هغه اختراع چې د هغې د آسوداګرۍزې ګټه اخېستنې مخنیوی د عامه نظم ساتلو، نیکو اخلاقو یا عامې روغتیا لپاره لازم دی، د ثبت وړ اختراع ګانو څخه خارجوي(براتی،۱۳۸۲، ص:۸).

په افغانستان کې لاندې څلور مواردە اختراعات په ګوته شوي دي، چې د ثبت وړ نه دي:

۱- مالي جدول.

۲- هغه اختراع یا اکتشاف چې د افغانستان په سوداګرۍ کې د هغو ګټه اخېستنه عامه امن او نظم، اسلامي، ملي ارزښتونو او د ژوند چاپېریال ته د خطر د را منځ ته کېدو لامل ګرځي.

۳ – د انسان یا حیوان د تداوۍ لپاره د درملنې او جراحۍ د تتشخیص تګلارې.

۴ –له مایکرو ارګانیزمونو څخه بغیر بوټي او حیوانات او د بوټو او حیواناتو د تولید لپاره اساساََ بیولوژیکي پروسه( د افغانستان د مخترع او مکتشف له حقوقو څخه د ملاتړ قانون، ماده،۱۷).

**سوداګریزه نښه (علامه)**

سوداګریزه نښه یا لوګو هغه نښان دی چې د توکو تولید کوونکی یا خدمتونو وړاندې کوونکی شرکت له نورو شرکتونو او یا حقیقي او حقوقي اشخاصو څخه جلا کړي. سوداګریزې نښې هم د فکري ملکیت یو ډول ګڼل کیږي.

د سوداګریزو نښو د ثبت اصولنامې په بنسټ سوداګریزې نښې له داسې شکلونو او اشارو څخه جوړې دي چې د صنعتي، سوداګریزو، زراعتي تولیداتو د تشخیص په موخه استعمالیږي، لکه نقشې، تصویرونه، حروف، د لاسلیک عنوان، د منسوجاتو حاشیې، لفافه بندي او نور چې د محصولاتو د تشخیص وسیله ګرځېدلي وي.

سوداګریزه نښه، هغه نښه یا نښو تر کیب دی چې وکولای شي کالي یا خدمتونه له نورو کالیو یا خدمتونو سره توپیر کړي(د سوداګریزو نښو د ثبت قانون،۱۳۸۸، ماده۳ ، فقره۱).

دلته پوښتنه پیدا کیږي چې کوم شیان د سوداګریزو نښو په توګه کارول کیږي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې باید و وایو چې (یو یا له یوه څخه زیات) نومونه، کلمه، لاسلیک، توری، شکل، نقشه، عنوان، مهر، انځور، لیکنه، نمونه یا په هغو پورې اړوندې نورې علامې او ترکیبونه په سوداګریزو علامو کې شامل دي(د سوداګریزو نښو د ثبت قانون،۱۳۸۸، ماده، ۴).

**د نښو وېش**

په ټوله کې نښې په درو ډولونو وېشل کیږي، چې د سوداګریزو، صنعتي او خدماتي نښو څخه عبارت دي.

**سوداګریزې نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي چې سوداګر یې د هغو کالیو د تمیز او تشخیص لپاره کاروي، چې له اخېستلو وروسته غواړي هغه و پلوري، ویې کاروي، که هغه یې له عمده پلورونکي څخه اخېستي وي او که نیغ په نیغه یې له تولیدونکي څخه اخېستي وي.

**صنعتي نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي چې تولیدونکی غواړي خپل محصولات په هغې سره په نښه کړي، تر څو له نورو تولیداتو سره یې توپیر وشي.

**خدماتي نښې**

له هغو نښو څخه عبارت دي، چې له نور خدمتونو څخه د يوه خدمت تميز او تشخيص لپاره غوره کېږي، لکه ترانسپورتي، توريستي، چټک پست، هوټل داري او اتصالاتو خدمتونه. پورته درې واړه نښې د قانوني ملاتړ له اړخه يوه له بلې سره توپير نه لري او درېيو واړو لپاره د «سواگريزې نښې» لفظ کارول کېږي (ناصح، ۱۳۹۱، ص:۱۹).

د يادولو وړ ده چې هغه سوداگريزه نښه چې له دوو څخه په زياتو هېوادونو او يا په نړيواله کچه دود وي، مشهوره نښه بلل کېږي.

**د سوداگريزو نښو ځانگړنې**

د سوداگريزو نښو د تعريف څخه پوهېږو چې سوداگريزه نښه بايد لاندې ځانگړنې ولري:

۱ - سوادگريزه نښه بايد متمايزه وي: د سوداگريزې نښې يوه ځانگړنه دا ده چې د يو شرکت اړوند توليدات او خدمات له بل شرکت څخه توپېر کړي. ځکه که سوداگريزه نښه دا ځانگړنه ونه لري د مشتري سره د علاقې وړ کاليو په انتخاب کې مرسته نه شي کولای.

۲ – سوداگريزه نښه بايد نوې وي: د سوداگريزې نښې لپاره يوازې متمايز والی بسنه نه کوي. بلکې د هغې نوی والی هم اړين دی. د سوداگريزې نښې له نوي والي څخه موخه دا ده چې پخوا به عين کاليو او خدماتو کې د همدغه هېواد په جغرافيايي محدوده کې کارول شوي نه وي.

۳ – سوداگريزې نښې بايد گمراه کوونکي نه وي: سوداگريزه نښه بايد خلک او سوداگريز شرکتونه په ځانگړي توگه د کاليو او خدماتو د مبداء يا ځانگړنو په هکله گمراه نه کړي(مير حسينی، ۱۳۸۵، ص:۱۲۸).

د افغانستان د سوداگريزو نښو د ثبت قانون سره سم هغه موارد چې د سوادگريزو نښو استعمال يا ثبت يې منع کړی په لاندې توگه دي:

- ملي بيرغ، دولتي نښان او نور دولتي، د سازمانونو، کورنيو او بهرنيو هېوادونو نښانونه، خو دا چې د هغو استعمال کتباَ مجاز گڼل شوي وي.
- محراب او منبر يا هر ډول هغه علامې چې له نښانونو يا په بشپړه توگه د مذهبي ماهيت لرونکو علاماتو سره يو ډول وي.
- د ملي مشرانو او لوړو دولتي مقاماتو انځورونه.
- هغه کلمې او عبارتونه چې له هغو څخه د دولتي ادارو په نسبت اشتباه وشي.
- د سرې مياشتې، سره صليب په څېر رسمي موسسو علامې يا نورې ورته علامې او له هغو څخه تقليد.
- هغه علامې چې د عفت، اخلاقو، او عامه نظم منافي وي.

ـ هغه جقرافیوي اشتهارونه چې استعمال یې د اجناسو، محصولاتو یا خدمتونو د منشاء یا سرچینې د مغشوشېدو باعث ورګرځي.
ـ د ثالث شخص نوم، کورنی نوم، عکس یا نښان، خو دا چې د هغه یا د هغه د ورثې موافقه یې په هکله د مخه اخیستل شوې وي.
ـ هغه علامې چې د خلکو د غولیدو یا د مالونو، محصولاتو یا خدمتونو د منشاء، سرچینې یا نورو ځانګړنو په هکله د کاذبو معلوماتو سبب وګرځي.
ـ هغه علامې چې په حقیقي یا حکمي اشخاصو پورې اړوندې وي او پکارول یې منع شوي وي.
ـ د هغو کمپنیو علامې چې په افغانستان کې خپرې او ترویج شوې وي، خو د هغه د مالک په اجازه.
ـ په یو شان اجناسو یا خدمتونو پورې اړوندې یا د ورته والي لرونکې ثبت شوې سوداګریزې علامې یا نښانونه وي.
ـ هغه علامې چې کارول یې د ځانګړو موخو لپاره تشخیص شي(د سوداګریزو نښو د ثبت قانون، ۱۳۸۸، ماده،۸).

**سوداګریز نوم**

د معنوي ملکیت په توګه د شرکتونو سوداګریز نوم د پام وړ اقتصادي ارزښت لري؛ حتی ځیني وخت د شرکت د فزیکي مالونو څخه زیات ارزښت لري په داسې توګه چې په ځیني پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې د قانوني ملاتړ وړ دي. سوداګریز نوم له هغه آسوداګریـز نوم یا عنوان څخه عبارت دی چې یو شرکت او د هغې سوداګریز فعالیتونه له نورو شرکتونو څخه جلا کړي (WIPO. 2008, intellectual property handbook. Second edition. Geneva.p.152).
په ټولیزه توګه سوداګریز نوم له هغه نوم یا نښې څخه عبارت دی چې سوداګریز شرکت مشخص کړي او هغه له نورو شرکتونو څخه متمایز او جلا کړي.
د پورتنیو تعریفونو څخه پوهیږو چې سوداګریز نوم، نوم یا عنوان دی او په دې بنسټ عکس، عدد او داسې نور د سوداګریز نوم په توګه نشي غوره کېدای. په تعریف کې د مشخص او جلا کوونکی دا معنی چې سوداګریز نوم باید له یوه پلوه د توپیر کولو وړتیا ولري او له بله پلوه باید د مشتریانو لپاره مغشوش کوونکی نه وي(رجبی، عیسی، ۱۳۹۴، ص.۲۲۴).
د هر کارو بار لپاره ځانګړی سوداګریز نوم ټاکل د سوداګریزو تبلیغاتو په برخه یوه مهمه وسیله ګڼل کېږي. ځانګړی سوداګریز نوم هم د سوداګریزې نښې په څېر په فرد پورې منحصر او په حقوقي نظامونو کې د معنوي ملکیت له ډولونو څخه ګڼل کېږي. د دې لپاره چې د ځانګړي سوداګریز نوم څخه د نور کسانو په واسطه د ناوړه کارونې مخنیوي شوی وی، باید په قانوني بڼه ثبت شي.

## سوداګریز اسرار

سوداګریز اسرار یا رازونه د محرمې فني پوهې او د هغو ګټورو معلوماتو د راټولولو څخه عبارت دي، چې د ځانګړو صنعتي فعالیتونو په تر سره کولو او یا د یوې صنعتي موخې د ګټورو مهارتونو د پراختیا لپاره اړین وي. دا چې کوم شیان فني پوهې ته شاملیږي او ګټور معلومات څه شی دي، باید د هغو موضوعاتو او کړنو په چوکاټ کې چې د سوداګریزو اسرارو برخه ګڼل کېږي معرفي شي.

د افغانستان د سوداګریز او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون د سوداګریزو او صنعتي اسرارو په هکله دا ډول صراحت لري:« سوداګریز او صنعتي اسرار مالي، تخنیکي، علمي، سوداګریز، تولیدي او نور هغه معلومات دي چې حالتونه یې په دې قانون کې بیان شوي دي(د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۳، فقره،۱).

د یادولو وړ ده چې هر ډول معلومات سوداګریزو او صنعتي اسرار نه ګڼل کېږي، بلکې د معلوماتو لپاره ځیني شرایط اړین دي. په دې هکله پورته یاد شوی قانون داسې صراحت لري : سوادګریز او صنعتي معلومات هغه مهال سوداګریز او صنعتي اسرار ګڼل کېږي چې لاندې شرایط ولري:

۱ - محرم وي یا د هغو ترکیبي اجزاء په دقیق، کلي یا جزئي ډول د هغو اشخاصو لپاره چې ورسره سرو کار لري معلوم نه وي، یا په اسانۍ سره د لاسرسي وړ نه وي.

۲ – د محرمیت پر بناء د سوداګریز ارزښت لرونکي وي.

۳– مالک یا د هغه قانوني استازی د هغو د محرمیت د ساتنې لپاره، لازم تدبیرونه نېولي وي(د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۵، فقره،۱).

د جاپان د حقوقو له مخې سوادګریز رازونه په دوو برخو ویشل کېږي:

۱ – د حس وړ موارد، لکه د تولید روشونه، فرمولونه، طرحې، نقشې، قالبونه، فني سوابق، لیکلي توضیحات، خام مواد، د عملي زده کړو فهرست او داسې نور

۲ – غیر محسوس موارد، لکه د تولید مرحلې، هغه لارښوونې او دستور چې په بنسټ یې شیان جوړیږي، د وسایلو او آلاتو جزئیات، فني او زده کړه ییزې تجربې چې هغه ته ورته او د پېژندل شویو عمومي معلوماتو څخه په لاس راغلي وي(نذیر، ۱۳۹۱، ص.۲۰۵).

## جغرافیوي نښې

جغرافیوي نښې دا مشخص کوي چې د یوه محصول مبدا د یوه غړي هېواد په قلمرو کې او یا د یاد قلمرو په یوه سیمه او برخه کې ده. د محصول کیفیت، شهرت او نورې ځانګړنې په بنسټیزه توګه جغرافیوي مبداء ته د انتساب وړ وي(WTO,1994,art.22).

په ملي اونړیواله کچه د جغرافیوي نښو څخه ملاتړ د هغو هېوادونو لپاره چې د ځانګړیو دودیزو تولیداتو او لاسي صنایعو لرونکي دي د زیات اهمیت څخه برخمن دی.
جغرافیوي نښې هغه نښې دي کوم تولید چې مشخصه جغرافیوي منشاء او صفت لري، هماغه د تولید ځای ته یې نسبت ورکوي. دا معمول ده چې زراعتي محصولات خپل صفت د تولید له ځای څخه اخلي او د جغرافیوي او سیمه ایزو عواملو څخه لکه خاوره، اوبه او هوا څخه اغیزمن کېږي.د یادولو وړ ده چې جغرافیوي نښې یوازې په زراعتي محصولاتو پورې منحصر نه دي، بلکې شونې ده چې هغه د نورو مشخصو صفتونو لپاره هم و کارول شي لکه صنعتي مهارتونه. شوني ده چې د یاد تولید ځای یو کلی، ښار او یا هم یو هېواد وي(ناصح،۱۳۹۱،ص.۵۳).

**د تولید د مبداء نوم**

د تولید د ځای نوم اېښودل یوه ځانګړي جغرافیوي نښه ده او د هغو تولیداتو لپاره کارول کېږي چې ځانګړی صفت لري او یا په بنسټیزه توګه په هغه جغرافیوي محیط پورې تړاو لري چې تولیداتو له هغه ځایه نشأت کړی وي. د تولید د مبدأ ځای نومول په غړو هېوادونو کې د ملاتړ وړ دی، د بېلګې په توګه د کیوبا د هابانا په سیمه کې کارل شوي تنباکو (ناصح،۱۳۹۱،ص.۵۳).
د جغرافیوي نښو او د تولید د مبدأ توپیر د هغې له تعریفونو څخه څرګندېږي. جغرافیوي نښې یوازې د دې ښکارندویي کوي، چې توکو او محصولاتو له ټاکلي ځای څخه نشأت کړی دی او کېدای شي چې د ځای او محصول تر منځ کیفي تړاو شتون و نه لري؛ په داسې حال کې د تولید د مبدأ ځای نوم د توکي یا محصول د نشأت ځای پر معرفی سربېره د دې ښکارندویي هم کوي چې د توکو کیفیت او ځانګړنې په انحصاري او یا په بنسټیزه توګه د ځانګړي جغرافیوي محیط څخه را پورته شوي دي. په بل عبارت د مبدأ هره نښه د منبع نښه هم ده خو د منبع هره نښه د مبدأ نښه نه ده(میرحسیني، ۱۳۸۵،ص.۱۸۷).

**صنعتي طرحې**

صنعتي طرحه د معنوي ملکیت د یو ډول په توګه یوازې د یوه محصول د ښکلا پېژندنې او تزئیني ماهیت څخه بحث کوي او یوازې د یوه محصول ظاهري بڼې پورې تړاو لري. شونې ده فني او نوښتګرانه ځانګړنې هم ولري. خو په بنسټیزه توګه صنعتي طرحې د هغې له فني اړخونو سره توپیر لري، د بېلګې په توګه هغه اندازه او رنګ چې د یوه محصول لپاره غوره کېږي، صنعتي طرحه ده.
د افغانستان د صنعتي طرحو څخه د ملاتړ قانون د صنعتي طرحې په هکله وایي: «صنعتي طرحه هغه اصلي یا نوي دوه یا څو بعدي طرحه ده چې صنعتي محصول په کرښو، رنګونو او د هغې اشکالو یا نورو هغو مشخصاتو په ترکیب سره چې په سترګو لیدل کېږي، څرګندوي(د افغانستان د صنعتي طرحو څخه د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ۳، ۱).

لاندې درې مورده صنعي طرحې نه شي ثبت کیدای:

- په هغه صورت کې چې له مخکینیو ثبت شویوطرحو سره په داسې توګه ورته او یو ډول وي چې د خلکو د ذهن د ګډوډېدو لامل وګرځي.

- په هغه صورت کې چې د عملي یا تخنیکي کتنو (ملاحظاتو) او یا معمارۍ او ودانیزو اصولو د تګلارې لپاره، و کارول شي.

- په هغه صورت کې چې د عامه اخلاقو او آدابو مخالفه وي (د صنعتي طرحو د ملاتړقانون، ۱۳۹۵، ماده،۷).

د صنعتي طرحې د انحصاري حقوقو د ملاتړ موده (۱۰) کاله ده او د صنعتي طرحې د ثبت له نېټې څخه، پیلېږي(د صنعتي طرحو د ملاتړقانون، ۱۳۹۵، ماده،۱۸).

**د ادبي او هنري ملکیت حقوق**

لکه چې وړاندې مو وویل د معنوي ملکیت حقوق په دوو برخو ویشل کیږي، چې یوه برخه یې د صنعتي ملکیت حقوق دي او بله برخه یې د ادبي او هنري ملکیت له حقوقو څخه عبارت دي. ادبي او هنري ملکیت حقوق په دوو برخو ویشل کیږي چې یو یې د مؤلف حقوق او بل یې جانبي حقوق دي چې لاندې هره یوه برخه باندې بحث کوو:

**د مؤلف حقوق**

د نړۍ ټول دولتونه دې ته ژمن دي چې د مؤلف له حقوقو څخه ملاتړ وکړي. لومړنی ژمنلیک چې په دې تړاو را منځ ته شوی دی، هغه د بِرن له ژمنلیک څخه عبارت دی چې په ۱۹۶۷ م. کال کې په بروکسیل کې نهايي شو او د ټولو دولتونو له خوا لاسلیک شو.

د تالیف حق مفهوم: تالیف چې ریښه یې «ألف» دی له یو شي سره د بل شي د ضمیمه او یو ځای کېدو په معنی دی. د مبحثونو لیکلو ته او همدارنګه د کتاب تدوین ته تالیف ویل کیږي؛ ځکه لیکوال متناسب او همغږي مطلبونه یو د بل تر څنګ سره را ټولوي. له هغه ځایه چې لیکوال د علم، ادب یا هنر په برخه کې د واحدې موضوع اړوند مطالب جمع کوي هغه ته مولف ویل کیږي(شبیر، ۱۳۸۱، ص. ۷).

تالیف هغه مفهوم دی چې یو ډول نوي او ابداعي کړنه باندې مشتمل وي که هغه د اهمیت له اړخه په هره درجه کې وی. د بېلګې په توګه مؤلف داسې داسې نوی استنباط او برداشت وړاندې کړي چې له ده مخکښې چا مطرح کړی نه وي. یا د هغو څېړنو چې صورت یې نېولی تفسیر او فصل بندي کړي، یا هغه طبقه بندي کړي د هغې تېروتنې اصلاح کړي او نېمګړتیاوې یې بشپړې کړي او یا یې د زده کوونکو د ښې زده کړې او یادولو د اسانتیاو په موخه له هغې څخه تکراري مطالب خذف کړي(شبیر، ۱۳۸۱،ص. ۷).

**د ملاتړ وړ حقوق**

د افغانستان د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حقوقو ملاتړ قانون د احکامو سره سم لاندې آثار تر ملاتړ لاندې نېول کېږي:

۱ – ادبي اثر لکه کتاب، رساله، بروشر، مقاله، نمایشنامه او نورې علمي او هنري لیکنې.

۲ – شعر، ترانه او هغه تصنیف چې په هر بله وسیله او روش لیکلي، ضبط، یا خپور شوی وي.

۳ – سمعي او بصري اثر...

۴ – د هر ډول ورسره کلماتو په شمول د موسیقۍ اثر چې په هره وسیله او روش لیکلی، ضبط یا خپور شوی وي.

۵ – نقاشي، تصویر، طرح، رسامي، ګرافیکي آثار، خطي نوشتې، حکاکي، سنګي چاپ، تزئیني نوشتې او نور ترسیمي او تجسمي آثار چې په هره طریقه او روش په ساده یا ترکیبي صورت منځ ته راغلي وي.

۶ – پیکره.

۷ – عکاسي اثر چې په ابتکاري یا ابداعي روش منځته راغلی وي.

۸ – د قالینې، ګیلم، لیمڅي او د هغو د ملحقاتو او مثالونو د نقشې لاسي یا صنعتي هنرونو پورې اړوند اصلي اثر.

۹ – هغه اصلي اثر چې د عامه فرهنګ یا د ملي فرهنګي او هنري میراث پر بنسټ منځته راغلی وي.

۱۰ فني اثر.

۱۱ – کمپیوټري برنامې.

۱۲ – اقتباسي اثر.

۱۳ – معماري (مهندسي) اثر.

۱۴ – تصنیفي اثر (د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۹۵، ماده، ۷).

**له آثارو څخه د ملاتړ شرایط**

د دې لپاره چې پورتني آثار د ملاتړ څخه برخمن شي باید د لاندې شرایطو لرونکي وي:

**۱ – اصیل والی:** اصیل والی او نوښت د نوي والي څخه جلا دی. حتی که یو اثر د بل څخه وروسته وي، خو په جلا او خپلواکه توګه برابر شوی وي، د دواړو آثارو تر منځ د ورته والي سره سره دواړه آثار د ملاتړ لاندې راځي. البته نوی والی د اختراعي آثارو د ملاتړ له شرایطو څخه دی.

**۲ – مشروعیت:** آثار باید د ټولنې د ګټو او منافعو څخه ملاتړ وکړي او که چېرې یو اثر د عمومي نظم او د نیکو اخلاقو سره مخالف وي په شرعي او حقوقي لحاظ د ملاتړ لاندې نه راځي (انتظاری، ۱۳۸۲، ص. ۳۹).

**د ادبي او هنري ملکیت اړوند مادي حقوق**

د اثر منځته راوړونکی د لاندې حقوقو لرونکی دی:

۱ - د اثارو تولید او بیا تولید.

۲ – د اثر د ژباړې په شمول د ملاتړ شوو آثارو پر بنسټ د اقتباسي آثارو برابرول او ترتیب.

۳ – عامه خلکو ته د خرڅلاو، د ملکیت د انتقال، اجارې، عاریت او یا پرېښودو ته د اثر ویش.

۴ - په هره وسیله او شکل د تصویرونو یا متحرکو تصویرونو او یا نورو سمعي او بصري آثارو په شمول په عام محضر کې نمایش.

۵ – د عامه نمایش په شمول په هر شکل د اشکالو په عام محضر کې د ملاتړ شوو آثارو نمایش.

٦ – د اړوند اثر په هکله د معلوماتو د زمینې برابرول.

۷ – د اثر خپرول یا د سمعي او تصویري وسایلو له لارې د اثر په هکله له عامه خلکو سره د ارتباط نیول.

۸ – په مادي او معنوي شکل په اثر کې د خپل نوم له ذکر کولو څخه ګټه اخیستل(د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړقانون،۱۳۹۵، ماده،۱۱).

**د ادبي او هنري ملکیت اړوند معنوي حقوق**

د افغانستان د کاپي رایټ قانون مطابق د اثر منځ ته راوړونکی د لاندې معنوي حقوقو لرونکی دی:

۱ – په اثر کې د نوم یا مستعار نوم ذکر کول یا نه ذکر کول.

۲ – د هغه اثر په هکله چې د اثر د منځته راوړونکي عزت یا شهرت ته زیان ورسوي د هر ډول تحریف، توضیح، اصلاح یا تحقیروونکي عمل منع.

۳ – د اثر پر هر ډول تحریف، د شکل پر تغییر یا تصرف، اعتراض(د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون، ۱۳۹۵، ماده،۲).

**د آثارو د ملاتړ موده**

پورته یاد آثارپه لاندې توګه تر ملاتړ لاندې نیول کېږي:

۱ – د اثر د منځته راوړونکي چاپ شوی یا خپور شوی اثر، د هغه له وفات وروسته تر پنځوسو کلونو مودې پورې، خو دا چې د خپل حیات پر وخت یې کتباً بل ډول تصمیم نه وي نیولی.

۲ – مشترک اثر د هغه د وروستني منځته راوړونکي له وفات وروسته تر پنځوسو کلونو مودې پورې.

**جانبي حقوق**

د مؤلف تر څنګ چې یو اثر منځ ته راوړي نور کسان هم شته چې را منځته شوی اثر اجرا کوي او د یوه اثر په خپریدو او وړاندې کولو کې آغېزمن واقع کېږي. نوموړي کسان د جانبي حقوقو په نوم له حقوقو څخه برخمن دي. د جانبي حقوقو څخه برخمن کسان عبارت دي له:

**۱ - نمایش ورکوونکی:** د نمایش ورکوونکي څخه موخه ممثل، آواز خوان، دکلمه کوونکی او نور هغه اشخاص دي چې هنر نمايي کوي يا نقش لوبوي او يا ادبي، هنري او فولکلوري آثار نمایش ته ړدي(د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ قانون،۱۳۹۵، ماده،۴، فقره،۲۴).

نمایش ورکوونکی د لاندې حقوقو لرونکی دی:

۱ – د نه ثبت شوو نمایشاتو له غیر مجاز صوتي ثبت څخه مخنیوی او د هغه د بیا تولید څخه مخنیوی

۲ – د هغه د بیا تولید له ثبت څخه مخنیوی.

۳ – د ژوندیو نمایشاتو له لارې عامه خلکو ته د بېسیم او ارتباطاتو له لارې له غیر مجاز خپرولو څخه مخنیوی.

**۲ – د غږیزو آثارو برابروونکي:** د هغو (حقیقي او حکمي) اشخاصو څخه عبارت دي چې د لومړی ځل لپاره یې د هنري اثر د اجرا څخه تر لاسه شوي غږونه او تصویرونه ثبت کړي وي. د غږیزو آثارو تولیدوونکي د لاندې حقوقو لرونکي دي:

۱ – د فونو ګرام مستقیم یا غیر مستقیم بیا تولید

۲ – د فونو ګرام اصل یا کاپي په اجاره ورکول

۳ – د فونو ګرام توزیع

**۳ - خپروونکي موسسه :** لکه د نوم څخه یې چې معلومېږي عامه خلکو ته د رادیو او تلویزیون له لارې پروګرامونه خپروي.خپروونکي موسسه د خپرو شوو آثارو تصحیح او د هغو بیا تولید، د بیسیم وسایلو په واسطه خپرول او د تلویزیون د نشراتو له لارې بیا خپرولو انحصاري حقوقو لرونکي ده(نذیر، ۱۳۹۱، ص : ۲۲۳).

**پایله**

د معنوي ملکیت حقوق په حقوق ویشنه کې یو نوی مفهوم دی، چې په علمي، ادبي، هنري او سوداګریزو ډګرونو کې د انسانانو د فکري فعالیتونو او محصولاتو څخه ملاتړ کوي او څښتن ته یې د هغې څخه د انحصاري ګټې اخېستنې حق ورکوي. په ټوله کې د معنوي ملکیت حقوق په دوو اصلي برخو ویشل کېږي چې یوه یې د صنعتي ملکیت حقوق او بله یې د ادبي او هنري ملکیت حقوق دي.

د صنعتي ملکیت حقوق د هغې عام مفهوم دی. صنعتي ملکیت په عام مفهوم سره یوازې صنعت او سوداګرې په بر کې نه نیسي؛ بلکې د زراعتي او استخراجي صنایعو څانګو او ټول مصنوعي یا طبیعي محصولاتو ته هم شاملېږي.

د صنعتي ملکیت حقوقو مهمې بیلګې له اختراع، سوداګریزو نومونو، سوداګریزو رازونو او صنعتي طرحو څخه عبارت دي. د افغانستان د قوانینو سره سم د معنوی ملکیت حقوقو د بېلابېلو ډولونود ثبت او د

هغې د ملاتړلپاره ځینې شرایط اړین دي  که چېرې یاد شرایط و نه لري د را منځ ته کوونکي او نوښتگر په نوم ثبت کېدای نه شي او همدارنگه د قانوني ملاتړ څخه برخمن کېدای نه شي.
د ادبي او هنري ملکیت حقوق د کتابونو، شعر، ترانې، نقاشي، گرافیکي آثار، خطي نوشتې، حکاکي او داسې نورو ته شاملیږي. د معنوي ملکیت حقوق د اثر را منځته کوونکو ته دا ډاډ ورکوي چې د دوی د مادي او معنوي حقوقو څخه ساتنه کیږي.

**وړاندیزونه**

۱ – د معنوي ملکیت دارزښت او د هغې د ساتنې په باره کې دې عامه پوهاوی ترسره شي.
۲ – د معنوي ملکیت سازمان او نورو اړوندو نړیوالو سازمانو سره د ملي قوانینو او اسلامي شریعت په حدودو کې همغږي او همکاري زیاته شي.
۳ – د معنوي ملکیت اړوند شخړو د هواري په موخه دې ځانگړي محکمې را منځته شي.
۴ – د معنوي ملکیت حقوقو د خوندي ساتلو په موخه دې یو پرمختللی دیجیتل سیستم را منځته شي.

## مأخذونه

انتظاری، علیرضا.(۱۳۸۲). مالکیت معنوي.دانشگاه آزاد، بصیرت:سال دهم، شماره ۳۰ و ۳۱. http://ensani.ir/file/download/article/20120326123024-1165-59.pdf

براتی، مرتضی.نورزی، علي.(۱۳۹۲).اشنایی با مفهوم مالکیت صنعتی.مرکز پژهش ها مجلس شورای اسلامی. https://re.majlis.ir

شبیر، محمد عثمان. (۱۳۸۱). حقوق معنوی پدید اورندگان. پرتال جامع علوم انسانی.بهار ۱۳۸۱ شماره ۸.

رجبی، عیسی.( ۱۳۹۴) نام و علامت تجاری، فرایند ثبت و حقوق ناشی از ان.مجله پژوهشای حقوقی(علمي – ترویجی). شماره ۲۸،نیمسال دوم. http://jlr.sdil.ac.ir/article_32046.html

مبشري، ژاله.سلطانی، امید. (۱۳۹۴) شرایط ماهوی ثبت اختراع در نظام حقوقی ایران. دومین کنفرانس بین المللی پژوهش های نویندر مدیریت، اقتصاد و حسابداری.تهران. https://civilica.com/doc/439974

کاتوزیان، ناصر.(۱۳۹۰). دوره مقدماتی حقوق مدنی اموال و مالکیت. چاپ سی وپنجم. تهران: نشر میزان

میرحسینی، سید حسن.(۱۳۸۵). مقدمه ای بر حقوق مالکیت معنوی. تهران: نشر میزان.

ناصح، ولي محمد.(۱۳۹۱).حقوق ملکیت معنوی. درسي لکچر نوټ.

نذیر، داد محمد.(۱۳۹۱). حقوق مالکیت معنوی در فقه اسلامی و قوانین وضعی. کابل: انتشارات رسالت.

یو شمېر لیکوالان.(۱۳۸۷). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل: د یو ایس ای ډي په مالي ملاتړ.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹٦). د مخترع او مکتشف د حقوقو د ملاتړقانون. د رسمي جریدې ۱۲۵۸ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د سوداګریزو او صنعتي اسرارو د ملاتړ قانون. د رسمي جریدې ۱۲۳۳ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د مؤلف،مصنف،هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ(کاپي رایټ) قانون. د رسمي جریدې ۱۲۳۰ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۹۵). د صنعتي طرحو د ملاتړقانون. د رسمي جریدې ۱۲۲۱ ګڼه.

د عدلیې وزارت.(۱۳۸۸). د سوداګریزو نښو د ثبت قانون. د رسمي جریدې ۹۹۵ ګڼه.

WIPO. (2008). WIPO intellectual property handbook. Second edition. Geneva.

WTO. (1994). Agreement on Trade-Related Aspects of Intellectual Property Rights. Marrakesh.

# د داخلي توليداتو لپاره بازار موندنه

پوهنمل حفيظ الله‌مين امين، شيخ زايد پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداره او تجارت څانګه.
برېښناليک: hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**لنډيز**

په دې کې شک نه شته چې د پرمختګ په لور ګام اخيستل د نننۍ ټولنې يو له اساسي موخو څخه شمېرل کېږي؛ نو له همدې امله د توليداتو ملاتړ، په مصرف کې اعتدال او د هېواد د اقتصادي سوکالۍ احساس رامنځ ته کېږي. د همدې موخې لپاره د داخلي توليداتو ملاتړ او د مصرف په اړه د خلکو روزنه په ټولنه کې ډېرې مثبتې اغېزې لري، چې د اقتصادي ودې، د کار رامنځ ته کول، د بيکارۍ د ستونزو حل، د عايد زياتوالی، د کورني استعدادونو وده، د نړيوالې سوداګرۍ وده، د صنعتونو او فابريکو وده او داسې نور مثبت تاثيرات لري. د پورته موخو تر لاسه کولو لپاره مو د کيفي ميتود څخه استفاده کړې او د دوهم لاس مالوماتو څخه په استفادې مو د څېړنې پايله ترلاسه کړې ده. د يادې څېړنې پايله دا راته ښايي چې د مناسبو اقداماتو په اساس بايد په يو هيواد کې د اقتصادي پاليسيو په شتون کې د کورني توليداتو ملاتړ صورت ونيسي. د ملي اړتياوو او غوښتنو له پوره کيدو څخه وروسته محصولات نورو هېوادونو ته د صادراتو لپاره وړاندې شي او په نړيوال ډګر کې د صادراتو او سوداګرۍ پراختيا ټولنه په يوه لوی او خپلواک اقتصادي ځواک بدله کړي؛ ترڅو له يوې خوا خپلو داخلي توليداتو او صنعتونو ملاتړ د قوانينو او مقرراتو په رڼا کې ترسره شي او تر څنګ يې د مصرف او کلتور له پلوه ورته زمينه برابره کړو، چې د داخلي توليداتو ملاتړ د ودې او پرمختګ په مانا دی او له بلې خوا د هېواد د ننه د کار قوې استخدام رامنځ ته کېږي او د بيکارۍ په له منځه وړلو کې کليدي رول لوبوي.

**کليدي ټکي:** استخدام، اقتصادي وده، بازارموندنه، بيکاري، داخلي توليدات.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدالله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.**

**ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُون، مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ، وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ (الايات).**

لکه څرنګه چې الله تعالی د انسانانو پيدا کوونکی دی، همدارنګه د انسانانو رب هم دی، د خپلو بندګانو ساتنه او پالنه کوي او دوی ته روزي ورکوونکی دی او د حلال رزق په لاسته راوړلو باندې په قران کريم او نبوي احاديثو کې بار بار يادونه شوې ده؛ نو د دې لپاره چې حلال رزق ترلاسه کړو موږ بايد کار وکړو او د شته نعمتونو څخه زياته ګټه لاسته راوړو. په همدې ترتيب بايد د شته علم او پوهې په اساس بايد

نوي تکتیکونه رامنځ ته کړو ترڅو تولیدات رامنځ ته او د دې تولیداتو د ضرورت وړ برخه په خپله مصرف کړو او پاتې برخه یې نورو ته ورسوو. داخلي تولیداتو ته د ودې او پرمختګ لپاره د بازار موندنې په برخه کې د یوې مؤثرې پالیسۍ شتون اړین دی. په هغو هېوادونو کې چې د خپلو تولیداتو وده او پراختیا غواړي، د بازار موندنې یوه منظمه او اغېزمنه ستراتیژي د اړوندو اقتصادي اهدافو په ترلاسه کولو کې مهم رول لوبوي. د داخلي تولیداتو بازارموندنه د اقتصادي ودې، د کارموندنې د زیاتوالي او د محلي کلتور د ساتنې لپاره مهمه ده. په همدې لیکنه کې د داخلي تولیداتو پر ستونزو بحث شوی دی لکه: د داخلي تولیداتو لپاره عامه پوهاوي نشتون، د داخلي تولیداتو کیفیت نشتون، د معتبرو سرچینو نشتون، د سټنډرډ نړیوال سازمان (ISO) سره د تولیداتو د ثبت نشتون او داسې نور. د دې لیکنې موخه دا ده چې د داخلي تولیداتو لپاره بازار پیدا او په زیاته اندازه سره خپل داخلي تولیدات په خرڅلاو ورسېږي او خلکو ته وښیو چې د غوښتنو مطابق اجناس د هېواد دننه تولیدیږي او په همدې ترتیب سره د داخلي تولیداتو د بازارموندنې لپاره بېلا بېل نړیوال معتبر ژورنالونه او سایټونه مطالعه شوي دي. د پورته موضوع اهمیت دا دی چې له یوې خوا به کاروباري ادارې ګټه ترلاسه کړي او له بلې خوا به خلک په کار بوخت شي او د بیکارۍ په له منځه وړلو کې موثر تمام شي. دا یوه کیفي څېړنه ده چې د دویم لاس مالوماتو څخه پکې استفاده شوې او دویمي لاس مالومات له بېلا بېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، مجلو، معتبرو داخلي او نړیوالو ژورنالونو څخه ترلاسه شوي دي او د لیکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

### د څېړنې موخې

1. د داخلي تولیداتو پېژندنه.
2. د داخلي تولیداتو ملاتړ لپاره د اقتصادي وسایلو په ګوته کول.
3. د داخلي تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونو پېژندل.

### د څېړنې اهمیت

دا چې هېواد مو له زیاتو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دی او د داخلي تولیداتو په برخه کې پانګونه په نشت حساب ده د دې لپاره چې د هېواد دننه داخلي تولیدات رامنځ ته شي او پرمختګ وکړي؛ نو اړینه ده چې د داخلي اتباعو یا هم د هېواد څخه د باندې اشخاص د تولیداتو په بېلا بېلو برخو کې پانګونې ته جذب شي او په دې برخه کې ورته د پانګونې فرصتونه ایجاد شي، چې له یوې خوا به کاري ظرفیت لوړ شي او له بلې خوا به خلک په کار بوخت شي او د بیکارۍ په له منځه وړلو کې موثر تمام شي.

## توليد (Production) پېژندنه

د دې لپاره چې انسان ژوند وکړای شي نو بايد د غذايي موادو او استوګنځي اړتياوې يې رفع وي؛ نو ځکه توليد ته اړتيا پېښيږي او توليد د ژوندانه ضروري شرط دی. توليد ټل خلک ټولنيز او ګروپي کارته اړکړي دي. د توليد په باره کې د اقتصاد د علم د عالمانو او پوهانو له خوا په مختلفو ډولونو سره د توليد تعريف په اړه نظريات وړاندې شوي دي او هر اقتصاددان د خپلو نظرياتو مطابق توليد تعريف کړی دی او په هغه باندې يې ټينګار کړی دی. دا تعريفونه په ملي اقتصاد او تصدي اقتصاد کې د يو بل سره توپير لري. د دې لپاره چې د توليد ټولې برخې او خواوې په نظرکې ونيول شي نو بهتره دا ده چې دغه نظريات او تعريفونه هر اړخيز تر بحث او مطالعې لاندې ونيول شي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۱۹).

## توليد څه شی دی؟

د محصولاتو د جوړولو بهير يا د خدماتو چمتو کولو پروسې ته توليد ويل کېږي. هغه سوداګرۍ چې محصولات يا خدمات توليدوي د توليد کوونکو په نوم پېژندل کېږي. توليدونکي د مصرف کوونکو لپاره د کاروني وړ محصول توليدولو لپاره خام توکي يا ډېری توکي سره يوځای کوي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۱۹).
توليد يا (Production) د بشر د اړتياوو او ِ غوښتنو د پوره کولو يا د خدماتو د ترسره کولو لپاره د اموالو د ګټورتوب د زياتوالي له بهيره عبارت دی.
توليد په پراخ مفهوم سره عبارت دی د توليد د عواملو د ترکيب او يا ګډولو د خدماتو يا اجناسو په غرض او د توليد اصطلاح په ملي اقتصاد کې ډېره رواج شوي اصطلاح ده او د تصدي ټولې دندي لکه برابرول، خرڅول، توليدکول او داسې نورې ورسره ارتباط لري او دوی بايد د يو بل سره په ارتباط کې مطالعه او بررسي شي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۰).
توليد په ساده مفهوم سره تمويل او خرڅول په برکې نيسي ولي په حقيقت کې د مجدد توليد ټولې پروسې د توليد د پروسې سره نشليدونکي ارتباطات لري که چېري توليد صورت و نه نيسي نو د تبادلې، توزيع، مصرف پروسې به هم موجودي نه وي او بالاخره ژوند کول به امکان ونه لري. له بله طرف توليد او د توليد پروسه د يو او بل سره عين شی نه دي؛ ځکه چې د دې دواړو ترمينځ يو لړ تفاوتونه موجود دي (اڅړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۰).
په ساده ډول سره توليد عبارت دی د اجناسو او خدماتو پيدا کول د احتياجاتو د رفع کولو لپاره چې دا تعريف يو ډېر اساسي نقص لري چې هغه دا دی چې د خامو مواد استخراج په استخراج کوونکو تصديو کې نه احتواکوي.

تولید د اقتصادي او تخنیکې چارو د یوالي څخه عبارت دی، چې د اجناسو او خدماتو د پیداکولو لپاره چې بشري احتیاجات او ضرورتونه پوره کړي او تصدي خپل هدف ته چې ګټه یا مفاد ته ورسېږي (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۱).

تولید: هغه فعالیتونو ته چې په وروستي تحلیل کې د مطلوبو اجناسو یا خدمتونو لاس ته راوستلو سبب ګرځي، تولید ویل کېږي. تولید د اړتیاوو سره سم صورت نیسي په دې شکل چې تولید شوی محصول په واسطه کولای شو د انسان د اړتیاوو یوه برخه رفع او له مینځه یوسو.

تولید د ټولنې ودې ته د ضروري امتعو د پیدا کولو له بهیر څخه عبارت دی.

تولید د نظریې له مخې تولید یو عمل دی چې په واسطه یې مخارج (In Put) د حاصل ( Out Put) شکل اختیاروي.

مخارج (In Put) اشیاء او خدمات دي چې په مرسته یې حاصل رامنځ ته کېږي. حاصلات ( Out Put ) هغه اشیا او خدمات دي چې د تولید په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

که موږ غنم لاس ته راوړل غواړو زموږ لپاره ځمکه، سره، اوبه، مزدور او یو څه ماشینرۍ ته ضرورت دی، چې دې ټولو ته (In Put) ویل کېږي یا هم د تولید عوامل ګڼل کېږي او لاسته راغلو غنمو ته حاصل ( Out Put) ویل کېږي.

تولید یوازې په مصنوعاتو پورې محدود نه پاتې کېږي بلکې هر ډول اجناس او خدمات چې د یوه ضرورت د رفع کېدو سبب ګرځېدای شي او خرڅلاو یې صورت ونیسي په تولید کې شامیلېږي، همدارنګه په ګدامونوکې د اجناسو ساتل او د ګدامونو څخه بازار ته عرضه کول یا د اجناسو انتقالېدل د تولید د عملیې یوه برخه تشکیلوي، باید علاوه کړو چې یوازې ګټه حاصل کوونکي کاروبارونه تولید نه دي بلکه داسې فعالیتونه چې په تاوان سره د عامه خدماتو په خاطر صورت نیسي، چې د دولت یا خیریه مؤسسو له خوا تمویلېږي هم تولید ګڼل کېږي (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۲).

تولید د هغو فعالیتونو څخه عبارت دی چې په ورستني تحلیل کې د معلومو اجناسو یا خدمتونو د لاس ته راتلو سبب ګرځي تولید بلل کېږي او د ضرورت سره سم صورت نیسي او همدا شان تولید هغه پروسه ده، چې د انسان او طبعیت په منځ کې د متقابل فعالیت او یا متقابل تاثیر رابطه ښیي، چې د هغې په نتیجه کې داسې مادي نعمتونه او شیان جوړېږي؛ کوم چې د ټولنې د موجودیت او ترقۍ لپاره ضروري دي. تولید د بشري ټولنې د پرمختګ په هره مرحله کې موجود وه او موجود به وي. د مادي نعمتونو د جوړولو په وخت کې ( د تولید وسایل او د استعمال وړ مواد) انسانان په مختلفو اړیکو او مناسباتو کې د مشترک فعالیت لپاره داخلېږي. له دې کبله مادي نعمتونه همېشه اجتماعي او ټولنیز خصوصیت لري (اځړ، ۱۳۹۰، ص. ۲۴).

## د توليد د رامنځ ته کيدو شرايط او د هغې تاريخي سير

بشر د ټولنيزې ودې په لاره کې اوږده پړاوونه وهلي دي. د لومړنيو انسانانو له ټولنې څخه، چې د تېر او کمان پر مرستې يې وحشي ژوي ښکار کول بيا زموږ تر پېړۍ پورې، چې انسان د ميخانيکي او تکنالوژيکي دستگاوو پر اختراع بريالی شوی دی، ډېر اوږده واټنونه په لږه موده کې وهلي او له يوې قارې يا (لويې وچې) څخه بلې قارې ته لېږديدلي، چې اوس ننني نړۍ هغه ته د لويې کلا حيثيت لري. نن کولای شي په لږه موده کې له يوې کوڅې څخه بلې کوڅې ته ولاړ شي او پر دې بريالي شوي دي، چې خپلې ټولې چارې د ميخانيکي دستگاو له لارې اداره خوندي او خپلې کړي. انسان بريالی شوی دی، چې په سمندرکې لکه کب (ماهي) لامبو وهي او په تل کې يې ننوځي، نه يوازې دا بلکې له ماهيانو او الوتونکو څخه په دې سيالۍ کې مخکې شوی هم دی. انسان په طبعت کې قادر شوی، چې د غرونو او لويو لويو تيږو په زړونو کې لارې پيدا کړي، سيندونه يې د ځان تابع گرځولي او تل ته يې لاره پيدا کړې ده د بخار، گاز او د برېښنا ځواك يې د ځان د گټې لپاره تر خپلې اغېزې لاندې راوستی او اتوم يې تجزيه کړی دی. فضايي سفرونه يې پيل کړي او زيار يې ويستی، چې بېلا بېلو سيارو ته لاړ شي. په دغه ټوله موده کې انسانانو د خپل ژوند د دوام په خاطر هڅې، هاند او کار کړی دی او ورو ورو يې د کار د وسايلو د ښه والي په پايله کې د کار محصول لوړ کړی دی. د انسان د پرمختگ معيار همدغه د اجناسو د توليد او ودې پايله گڼل کيدای شي. د بشر د ودې هره پېړۍ د انسانانو ترمنځ د ټاکليو اړيکو د امتعو د توليد، تبادلې وېش او مصرف سره مطابقت کړی دی. په لومړيو وختونو کې د انسانانو د کار محصول ډېره ساده بڼه درلوده. له ډېر پخوا څخه کله، چې د انسانانو د توليد بهير ورو ورو ځانته پېچلې بڼه ومونده؛ نو د ټولنې ټولې اړيکې هم پېچلې شوې. د وخت پر تېريدو له لومړني کوچياني ژوند څخه وتلي دي، له دې مخکې هغه انسانان تل د طبعيت تابع وو، په گرمۍ کې به يو ځای او په يخنۍ کې به بل ځای ته په ډله ييزه توگه تگ راتگ کېدو. دوی پر هغو ځايونو کې مېشتېدل، چې پريمانه اوبه، ښه هوا، د ښکار وړ ژوي او ښه شنه واښه به پيداکيدل. په پای کې انسانانو وکولای شول لږ تر لږه د خپل کار او هوښيارۍ په پايله کې ځمکه وکري، تخم وشيندي او ځمکه قلبه کړي د حاصلاتو پر را ټولولو يې توليد پيل کړی دی، چې په حقيقت کې همدا د انسان لومړنی توليد و، خو د دغه توليد او کار محصول لا تر هغه وخته پر اجناسو بدلون نه وو کړی، يعني دا د اجناسو توليد نه گڼل کېده. دغه راز اقتصاد پوره طبيعي اقتصاد و. د تاريخ څېړونکو د څېړنو له مخې څه ناڅه درې ميليونه کاله پخوا د بشريت او انسانانو ژوند د لومړنيو ټولنو بڼه درلوده، چې دغه پېر تر ډېرې مودې دوام موندلی دی. د انسانانو د ژوند په دغه دوره کې د مادي محصولاتو توليد دوه پړاوه درلودل، چې په لومړي پړاو کې په طبيعت کې د تيارو، موجودو او

چمتو موادو راټولول او په دويم پړاو کې د مالدارۍ او کرنې په ساحه کې د امتعو بيا توليد شامل دی (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱٦).

پورتني دوه پړاوونه د لومړنۍ ټولنې د تاريخي پړاوونو د خاصو ځانګړتياو ښکارندوی دي. په دغه مرحله کې انسانانو د توليد ډېر لومړني وسايل درلودل او د طبعيت د ځواکمنو ځواکونو په مقابل کې يې پر ټوليزه توګه ژوند کاوه او کار يې هم پر ټوليزه بڼه و. د هغه وخت کار او د توليد وسايل ډېر ساده وو. د خلکو دغو کوچنيو ډلو چې پر ټولنيزه توګه يې ژوند کاوه يا به سره خپلوان وو يا به هم د يوې طايفې وو او د هغه وخت کار د نارينه او ښځينه او يا به د عمر او کال له مخي نه وو رامنځ ته شوی او د کار وېش نه و رامنځ ته شوی بلکې کار ټولنيزه بڼه درلوده. ورو ورو د ټولنې د لومړنۍ پېر په پړاونو کې د اقتصادي پرمختيا له امله د کار وسايلو پرمختيا وموندله او انسانانو پر تيرو سربېره د هډوکو او لرګيو کارول پيل کړل (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱۷).

پر توليدي وسايلو د خصوصي مالکيت پيداکېدل او د اضافي محصولاتو رامنځ ته کېدنې طبيعي اقتصاد له کارونې وغورځولو او د اجناسو د توليدونکو ترمنځ شديد رقابت پيل شو، چې د ځينو توليدونکو د ماتېدو او د ځينو نورو توليدونکو د پياوړتيا لامل شو او په تدريج سره د مؤلدينو اقتصادي بېلوالی رامنځ ته شو. زموږ په لرغوني هېواد افغانستان کې دغه دوره د ميلاد څخه د مخه ۷-۸ پېړۍ کې موجوده وه. د لرغونپوهنې څېړنې ښيي، چې د ايبکو او بلخ په شاوخوا سيمو کې خلک پر لومړنيو کرنيزو کړنو او مالدارۍ اخته وو هغوی آس، غرني پسونه او ګوزن ښکارول په افغانستان کې طبيعي اقتصاد د ميلاد څخه درې يا څلور زره کاله پخوا موجود و. په افغانستان کې د ميلاد څخه درې يا څلور زره کاله د مخه د هلمند او سيستان په شاوخوا کې ښو او طبيعي ځمکو دا امکان برابرکړ، چې خلکو پر کرنې پيل وکړ په دې ځای کې نه يواځې اوبو خورې کرنې وده وکړه، بلکې د ځانګړيو کارونو سرته رسونه هم رامنځ ته شوه. کلالي او مسګري دوديزه شوه او په ټولنو کې اضافې توليد پخپله د دې سبب شو، چې د لومړي ځل لپاره تبادله صورت ونيسې، همدا وخت و، چې اجناس د خرڅلاو او پلورلو يا تبادلې پر منظور توليد شول او د اجناسو توليد رامنځ ته شو (سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۱۸).

په افغانستان کې د لاجوردو پيدا کېدل او کشف د تبادلې د پراختيا شهادت ورکوي. په دې ترتيب سره په افغانستان کې درې زره کاله پخوا د اجناسو توليد تر سره شوی طبيعي اقتصاد خپل ځای په تدريجي توګه د اجناسو توليد ته پرېښود او په دې توګه په ثبوت ورسيده چې د کاليو د رامنځ ته کيدو لپاره دوه ستر لاملونه ضروري شول چې يو د کار د ټولنيز وېش لازمه وده او دويم د مؤلدينو اقتصادي بېلوالي،

چې دغه دوه ډوله لاملونه په نړیوال تاریخي بهیر او هم په خپله هېواد کې وخېږل شول(سبحاني، ۱۳۸۹، ص. ۲۲).

## د داخلي توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسایل

د داخلي توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسايل په لاندې ډول سره ښودل کېږي؛ خو مخکې له دې چې یاد وسایل په ګوته شي اړینه ده چې لومړی يې اهميت واضح کړو.

## د اقتصادي ودې د تضمین لپاره د داخلي توليداتو د ملاتړ اهميت

په دې کې شک نشته چې د اقتصاد او علمي فکر موضوع باید د حکومت د پروګرامونو په سر کې وي. د دې په پام کې نیولو سره چې د پرمختګ اندیښنه او د پرمختګ په لور حرکت کول د نننۍ ټولنې يو له بنسټيزو موخو څخه ده، نو له همدې امله د توليد ملاتړ، په مصرف کې اعتدال او د هېواد د اقتصاد سوکالۍ احساس کېږي. د ملي توليداتو ملاتړ او د مصرف په اړه د خلکو روزنه په ټولنه کې ډېرې مثبتې اغېزې لري، چې د اقتصادي ودې، د کار پیدا کولو، د بیکارۍ د ستونزې د حل، د عایداتو زیاتوالی، د کورنيو استعدادونو وده، د نړيوالې سوداګرۍ وده، د صنعتونو او فابريکو وده او داسې نور دا ګټورې ټولنيزې او اقتصادي پايلې راوړي چې په پای کې د دوامداره او اوږدمهاله پرمختګ لامل کېږي، ځکه چې د دوامدار پرمختګ يوه وسيله د کورنيو توليداتو وده ده د هغې ملاتړ کول او د کورنۍ کارونې لپاره په کيفيت لرونکي محصولاتو بدلول دي. د ملي اړتیاوو او غوښتنو له پوره کېدو وروسته محصولات نورو هېوادونو ته د صادراتو لپاره وړاندې کېږي او په نړيوال ډګر کې د صادراتو او سوداګرۍ پراختيا ټولنه په يوه لوی او خپلواک اقتصادي ځواک بدلېږي له همدې امله د دې مسئلې د لا روښانه کولو لپاره، د کورنيو توليداتو د ملاتړ مثبتې اغېزې، په اقتصادي وده کې د هغې اهميت د هېواد د ملي توليد په نننۍ مقاله کې تبصره شوې ده. د افغانستان کورني توليدات چې تر ډېره د کرنې او صنعت په برخو پورې اړه لري، زموږ د هېواد په وده، پرمختګ او اقتصادي ثبات کې ډېر مهم دي له همدې امله د کرنې سکتور د اقتصادي ودې او پراختيا لپاره يو له مهمو سکتورونو څخه دی او په هېواد کې د عاید ترټولو اساسي سرچينې ګڼل کېږي؛ ځکه چې دا د ټول کورني ناخالص توليد څلورمه برخه تشکيلوي او د هېواد له 50 سلنې څخه ډېر خلک په دې برخه کې په کار بوخت دي. کرنه د افغانستان په اقتصاد کې ډېره مهمه ده. دا سکتور د هېواد د اقتصاد يو له خورا ځواکمن سکتور څخه دی او د خلکو د ژوند اصلي برابروونکی هم دی، د صنعت سکتور د هېواد په اقتصاد کې د پام وړ ونډه او خورا لوړ ظرفيت لري؛ ځکه چې دا

سکتور د هېواد په اقتصادي سلسله کې بنسټيز ګڼل کېږي. له همدې امله د کرنې په برخه کې د افغانستان لوی ملي او صادراتي محصولات چې په کورنيو او نړيوالو بازارونو کې ځانګړی شهرت لري او زموږ په اقتصادي وده او پرمختګ کې ستر ارزښت لري للمي غنم دي چې د غلې دانې په برخه کې د پام وړ ونډه لري. د وچې مېوې صادرات په ځانګړي ډول زردالو، بادام، پسته او جلغوزي د افغانستان له مهمو صادراتي منابعو څخه دي، دغه راز زيتون، هنګ او زعفران له هغو ملي محصولاتو څخه دي چې په بهرنيو بازارونو کې ښه شهرت لري. د لبنياتو محصولات زموږ د هېواد يو له خورا مهم محصولاتو څخه دي چې په هېواد کې کارول کېږي. په صنعتي سکتور کې زموږ د هېواد کورني توليدات ساختماني توکي، خوراکي توکي، پلاستيکي صنعتونه، لبنيات او مشروبات شامل دي. د ورکړل شويو شمېرو له مخې، د معدني اوبو د توليد په برخه کې د کورنيو فابريکو توليد، د پلاستيکي صنايعو او يو شمېر ساختماني توکو توليد دومره کچې ته رسېدلی چې دغه هېواد ورته بهرنيو توکو واردولو ته اړتيا نه لري. د افغانستان لاسي صنايع چې اوبدل، ټوکر، معماري، نقاشي، فلزي کار، سراميک جوړول، ګنبد جوړول، شيشې جوړول، د بوټانو ګنډل، عطر، مسالې جوړول او داسې نور شامل دي. زموږ د هېواد د غاليو اوبدلو او غالۍ اوبدلو صنعت په نړۍ کې بې سارې شهرت لري، چې ټول د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او پر دې تکيه کولو سره د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ هيله کولی شو. د ملي توليداتو ملاتړ د اقتصادي ودې معنی لري د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره بايد په کورنيو توليداتو او صنايعو تکيه وشي. په دې توګه دولتونه او مخ پر ودې دولتونه بايد د کورنيو توليداتو او ملي توليداتو ډګرونه لوړ کړي. په يو هېواد کې ملي توليدات هغه وخت لوړ او وده کوي چې نه يوازې د کورنيو قوانينو او مقرراتو له خوا يې ملاتړ او هڅول کېږي بلکې په ټولنه کې د مصرف او کلتور له پلوه هم ملاتړ کېږي. د دې لپاره چې په هېواد کې توليد شوي محصولات او توکي د ښه کيفيت په درلودلو سره په هېواد کې د وارداتي محصولاتو سره د سيالۍ وړتيا ولري، د قانوني وسايلو او ميتودونو له لارې بايد په ټيټه بيه مشتريانو ته وړاندې شي. د پورتنيو موخو د ترلاسه کولو لپاره يو له خورا مهم لارو څخه د مناسبو ګمرکي تعرفو لګول دي. د مناسبو ګمرکي تعرفو په ټاکلو سره کولای شي د کورنيو توليداتو ملاتړ وکړي ترڅو د وارداتي محصولاتو او توکو پر وړاندې اقتصادي ملاتړ ولري. مناسبې ګمرکي تعرفې کولی شي د توکو او محصولاتو داخليدل کنټرول او تنظيم کړي. د مناسبو ګمرکي تعرفو او پر وارداتي توکو او محصولاتو د مناسبو تعرفو د لګولو پايلې د ملي توليداتو ملاتړ کوي، چې مالي ثبات رامنځ ته کوي او له هېواد څخه د پانګې د فرار مخه نيسي. د دې تر څنګ د کورنيو يا ملي توليداتو ملاتړ د محصولاتو کيفيت او معيار لوړوي او په هېواد کې د بېکارۍ ستونزه حلوي. د محصولاتو د کيفيت په لوړيدو سره په کورنيو توکو د

خلکو باور زيات شوی او هېواد کولای شي د اقتصادي خودکفايي پر لور ستر گامونه واخلي. د افغانستان اسلامي امارت د لوړو علمي واقعيتونو او رغنده معيارونو له مخې د نورو اقتصادي مسايلو ترڅنګ د کورنيو توليداتو ملاتړ هم په خپلو سلو کاري پلانونو کې شامل کړی او تل يې هڅه کړې چې له دې لارې هم ګټه پورته کړي (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۵-۴۶).

## د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره اقتصادي وسايل

په نننى عصر کې د ټولو سوداګريزو تګلارو تر څنګ د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره بېلابېل ډوله اقتصادي وسيلې شتون لري، چې له هرې يوې څخه د لنډ مهاله او اوږدمهاله اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره ګټه اخيستل کېږي. د دې وسايلو تفصيلي پېژندنه او همدارنګه د دوی اغېزمنه اقتصادي ګټه اخيستنه به د دولت اقتصادي اهدافو په ترلاسه کولو کې د پام وړ مرسته وکړي. د دې برخې محتوا د کورنيو توليداتو د ملاتړ مختلفې وسيلې، د لېږد تاديات (سبسايډي) او د مالياتو معافيت معرفي کوو (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۶).

## د کورنيو توليداتو په ملاتړ کې د سبسايډي رول

د سبسايډي او نورو سوداګريزو پاليسيو ترمنځ يو توپير دا دی چې سبسايډي يو ډول تاديه ده چې حکومت يې د خپلو اقتصادي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ورکوي. مګر تعرفه او د سوداګرۍ محدوديتونو نورې پاليسۍ د مالياتو او رسيدونو يو ډول دی يا د سوداګريزو محدوديتونو يو ډول مقررات دي. په بل عبارت سبسايډي د دولت لپاره د مکلفيتونو رامنځ ته کولو او مصرف زياتولو اساس دی، په داسې حال کې چې تعرفه د محصولاتو فکتور دی. د دولت لپاره عايد لاسته راوړي، مګر دولت د دې ملاتړ کوي چې کورني توليدات بايد د دې پاليسيو څخه کوم يو غوره کړي او تعقيب کړي. دا په مختلفو اقتصادي عواملو او پاليسيو او د اقتصادي چارو په اجرا کوونکو پورې اړه لري مګر د دې پاليسيو څخه هر يو يې مختلفې پايلې لري (درد، ۱۴۰۱، ص. ۴۷).

## کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره سبسايډي او ډولونه

د سبسايډي لپاره مختلف تعريفونه شتون لري، د سبسايډي يو تعريف په لاندې ډول دی: سبسايډي د مرستې يو ډول دی چې دولت يې د اقتصاد د نورو برخو د مصرف لپاره د يو ځانګړي سکتور توليد کوونکو يا د ځانګړي محصول مصرف کوونکو ته ورکوي. يا د خدماتو سکتور کاروونکي يا د توليد عامل ته ورکوي مګر په بدل کې انعام يا مالي عوض نه ترلاسه کوي، د دولت يوازينی شرط دا دی چې

د مرستې ترلاسه کوونکي د تولید، یا عرضه کولو لپاره خپل عمل بدل کړي یا تنظیم کړي.، یا په دې ډول د توکو مصرف کول، یا د اړونده اقتصادي فعالیتونو هڅول یا په دې لاره (غیر مستقیم) د پرمختګ مخه نیسي. د تولید سبسایډي معنی د تولیدي موسسو لپاره د دولت سبسایډي تادیه کول دي چې د تولید مصرف کموي او په پایله کې د تولید کوونکو شرایط زیاتوي. د مصرف کوونکي سبسایډي د ټولو مصرفي توکو لپاره تادیه کېږي او هدف یې د مصرف کوونکو ساتنه ده. د سبسایډي تادیه معمولا د مالیه ورکوونکو څخه تولید کوونکو یا مصرف کوونکو ته د عاید لېږدولو اهدافو لپاره وي، یا د عاید ویش تنظیم کولو هدف لپاره، د عرضه یا تقاضا د کشش میکانېزم له لارې د عرضه کوونکو یا تقاضا کوونکو پر چلند اغېزه کوي. د مطلوب محصول د نرخ کچې ساتل د انفلاسیون ضد پالیسۍ برخه ده. د تولید سبسایډي کولی شي د مختلفو ډولونو او اشکالو له لارې صورت ونیسي، کوم چې لاندې یې یادونه کېږي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۲).

**د تولیدي فعالیتونو د ضایعاتو د جبران لپاره سبسایډي**

د دولت له خوا د عامه بودیجې له لارې دولتي شرکتونو او دولتي انتفاعي موسسو ته د دوی د زیانونو جبرانولو لپاره ورکول کېږي. له اقتصادي اړخه، د داسې بنسټونو فعالیت باید له ټولنیزو ګټو سره یو ځای شي، چې له دې جملې څخه موږ کولای شو د برېښنا، څښاک اوبه، مخابراتي او ټرانسپورټي شرکتونه او داسې نور یادونه وکړو. د تادیاتو په دې طریقه کې دولت په مستقیمه توګه په بازار کې مداخله نه ده کړې، بلکې د مالي کال تر پایه د دغه ډول شرکتونو د زیانونو په جبرانولو کې مرسته کوي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۳).

**نهادونو ته ورکړل شوي سبسایډي**

د تادیاتو په دې طریقه کې، حکومت د تولیدي لګښتونو د کچې د ټیټ ساتلو یا د تولیدونکو عایداتو د لوړولو لپاره د بنسټونو بیه کمولو لپاره سبسایډي ورکوي، چې کېدای شي د تولید عوامل ارزانه ویش یا د اسعارو تخصیص د آزاد بازار نرخ څخه ټیټ نرخ وي. د تادیې په دې طریقه، دولت په حقیقت کې د منابعو د تخصیص په سیستم کې لاسوهنه کوي او د خپلو اقتصادي موخو سره سم خپل لوري ته بدلون ورکوي. ډېری اقتصاد پوهان د سبسایډي تادیه کولو دا طریقه د اقتصادي توکو سره مخالف ګڼي. مګر په داسې حالت کې چې د زیرمو په مقدار کې لوی محدودیت شتون لري د لوکس او تجملي مالونو لپاره د بدایه ډلې د لوړې غوښتنې سره سره د دولت له مداخلې پرته سرچینې د آرایشي توکو تولید ته

لېږدول کېږي او په ځينو قضيو کې د دوی لوړ نرخونه (توليد عوامل) د دې لامل کېږي چې دوی په سمه توگه ونه کارول شي او د توليد اغېزمنتوب او کچې راټيټه شي. د مثال په توگه موږ کولی شو د کيمياوي سرې يادونه وکړو، چې لوړ لگښت يې د حيواني سرې سره بدلېږي او توليد کموي، له همدې امله حکومت د ځانگړو توکو لپاره ځينې بنسټونو ته سبسايډي ورکوي (دردمل، ۱۳۹۰، ص.۷۳-۷۴).

**د نوي تاسيس شوي او زيربنايي صنعتونو د ملاتړ لپاره سبسايډي**

دا د هغه توليداتو ملاتړ دی چې د هېواد لپاره ستراتيژيکې زيربناوې دي. د خپل صنعتي بنسټ د سمبالولو او پياوړتيا لپاره، ډېری صنعتي هېوادونو د ساختماني وزير له خوا له نوي تاسيس شوي صنعتونو څخه ملاتړ کړی دی، د دې ډول تادياتو يوه ځانگړتيا د يوې ټاکلې مودې وروسته د هغې لنډ مهاله اړخ دی. د وخت په تيريدو سره نوی تاسيس شوی صنعت بايد گټور وي او د توليد مصرف بايد د توليد د اندازې سره سم کم شي؛ ترڅو د خپل ملاتړ دورې تاوان جبران کړي (رحيمی، ۱۳۷۱، ص.۷۲).

**د صادراتو سبسايډي**

د تعرفو او سوداگرۍ "GAT" په اړه د عمومي تړون د 16 مادې د A برخې له مخې د صادراتو سبسايډي معنی دا ده چې هر ډول سبسايډي، د هر ډول عايد يا قيمت ملاتړ په شمول، چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د هر محصول صادراتو زياتولو لپاره عمل کوي. د هغه تعبير پر بنسټ چې وروسته رامنځ ته شو، د "صادراتو زياتوالی" جمله په پام کې نيول شوې وه چې د صادراتو په لوړه کچې کې ساتل د هغه څه په پرتله چې د سبسايډي په نشتوالي کې شتون لري. د صادراتو سبسايډي د دولت د ملاتړ يو له مهمو ډولونو څخه دی، د صادراتو د ودې پاليسي کيدای شي د مالي مرستو، چاپيريال اسانتياوو، يا مستقيم مداخلې په چوکاټ کې وي. دا ډول سبسايډي د صادراتو د ودې په ستراتيژۍ کې د صادراتو پراختيا لپاره کارول کېږي يا کله چې د هېواد صنعتي توليد يوه برخه د نورو هېوادونو له خوا د مصنوعي ډمپينگ سره مخ کېږي. د دې سبسايډي يوه مثبته ځانگړتيا د سوداگرۍ بيلانس زياتوالی او د کارموندنې ترکيب دی. مگر دا بايد په پام کې ونيول شي چې د دې سبسايډي اغېزې او گټې هغه هېوادونو ته ځي چې دا محصولات واردوي، ځکه چې دا سبسايډي د صادراتي توکو بيې ټيټوي. دا ډول مرستې کولی شي د نړيوالو بازارونو ترلاسه کولو او د موجوده شرايطو سره د توليد کوونکو موافقت پورې دوام ومومي (رحيمی، ۱۳۷۱، ص.۷۲-۷۳).

**د کورنیو تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونه**

د کورنیو تولیداتو د ملاتړ بېلا بېل لاملونه په لاندې ډول واضح شوي دي.

**1. د ځوان صنعتونو د ملاتړ مسئله:** د نوو تاسیس شویو صنعتونو د ملاتړ موضوع د اتلسمې پېړۍ له پای او د نولسمې پېړۍ له پیل څخه په امریکا کې د الکساندر هیملټن او په آلمان کې د فریډریک لیست له خوا راپورته شوه. دغو دوو کسانو له یوې خوا د خپل هېواد د صنعتي کېدو په اړه فکر کاوه او له بلې خوا د دې احتمال چې د انگلستان د صنعتي کېدو او د دغه هېواد له خوا د ازادې سوداگرۍ دودول به د دغه هېواد د صنعتي کېدو مخه ونیسي، دا مسئله راپورته کړه. په خپلو هېوادونو کې د نویو صنعتونو ملاتړ کوي. د نن ورځې په پراخه بڼه کې بحث عموما په پرمختللو هېوادونو پورې اړه لري چې د صنعتي کیدو په پړاوونو کې دي. د نوي تاسیس شوي صنعتونو ملاتړ لاهم په هر هېواد او هر هغه صنعت کې کارول کیدی شي چې پیمانه اقتصاد لري (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۴).

د نویو تأسیس شویو صنعتونو مسله د موقتي ملاتړ په اړه بحث کوي، تر څو نوي تأسیس شوي صنعتونه په نړیوال بازار کې د ورته شرایطو لاندې د بهرنیو تولیدونکو سره سیالي وکړي. د داخلي سپما مسله د هغه زیانونو پرتله کول دي چې د تولید په لومړیو مرحلو کې شتون لري د خالص گټو سره چې په راتلونکي کې به ترلاسه شي. مگر په حقیقت کې دا هغه مسله ده چې ټول تولیدي واحدونه ورسره مخ دي، پرته له دې چې دوی وارداتي بدیل توکي تولید کړي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۴-۱۲۵).

**2. د استخدام او ملاتړ مسله:** د دې مسلې پر بنسټ د بیکارۍ په دوره کې د تعرفې یا هر ډول وارداتو محدودیت پالیسي وضع کول به د وارداتو د کمښت او د کورني تولید د زیاتوالي لامل شي. د وارداتو په کمولو سره، کوم چې د تعرفو په لگولو سره ترسره کېږي، په مستقیم ډول د وارداتو بدیل توکو پورې اړوند صنعتونو کې د کارموندنې زیاتوالی رامنځ ته کیدلی شي او د کار زیاتوالی د نورو صنعتونو لپاره هم گړندی کوي. د کورنیو تولیداتو د زیاتوالی په پایله کې کار او ملي عاید زیاتېږي. د 1930 لسیزې د سختې بیکارۍ په جریان کې، دا مفکوره چې ملاتړ د بیکارۍ لپاره گټور او اغېزمن حل کیدی شي کارول کیده. په هرصورت، د دې مسلې په اړه یو څو ټکي باید په پام کې ونیول شي.

الف: که یو هېواد د نوي تعرفې په لگولو سره خپل واردات کم کړي، د کورني کار د زیاتوالي له امله به د مقابل هېواد صادرات هم کم شي او دا به د مقابل هېواد د کارموندنې د کمښت لامل شي. په بهر کې د کار او عاید په کمیدو سره په وارداتو کې چې د هېواد مطلوب صادرات دي لږ لگښت راځي. په دې

توګه د کورني کارموندنې د زياتوالي لپاره د وارداتو کمولو پاليسي د نړۍ په هېوادونو کې خورا مشهوره نه ده. په حقيقت کې دا ډول سياست د بهرنيو هېوادونو د وارداتو په کمولو سره نورو هېوادونو ته د بې کارۍ د صادرېدو لامل کېږي.

ب: د نورو هېوادونو د متقابل عمل له امله د هېواد صادرات ډېر کمېږي. يو هېواد چې د وارداتو محدوديتونو سره د ګمارلو هڅه کوي د صادراتو سکتور کې د بيکارۍ سره مخ کېږي په دې ډول پاليسۍ کې د نورو هېوادونو د رضايت او متقابل عمل نشتوالی او په پايله کې د نړيوالو سوداګريزو اړيکو کموالی شامل دی. دا بايد په پام کې ونيول شي چې کله واردات د کورني کار په لور محدود وي، د نړيوالې سوداګرۍ د کمښت له امله رامينځته شوي زيانونه بايد پرتله شي او د کورنيو توليداتو د زياتوالي په پايله کې د ګټو سره په پام کې ونيول شي.

ج: د کارموندنې زياتوالی عموما دا لنډ مهاله او موسمي مسله ده د تعرفې په لګولو سره کوم چې په اسانۍ سره لرې کيدی نشي او د سرچينو دايمي تخصيص ته اړتيا لري. سربيره پردې د کارموندنې مسله په دې ټينګار کوي چې هر اړخيزه بيکاري د خالص ملي عايد د زياتوالي لپاره د نسبي ګټې په پام کې نيولو پرته هر ډول توليد ته اړتيا لري. دا په دې مانا ده چې په توليد کې هر هغه فکتور چې لوړ ځواک او تاثير لري بايد وکارول شي. په دې توګه، د دې ډول پاليسۍ د پلي کولو پايله به په اقتصاد کې د توليد عوامل نامناسب تخصيص وي. په هرصورت موږ بايد په دې حقيقت پوه شو چې لږ هېوادونه د پيسو او مالي پاليسيو په کارولو سره کولی شي خپله لويه بيکاري له منځه يوسي پرته له دې چې دا د نړيوالې همکارۍ سره مل وي. کله چې هېوادونه په ګډه کار کوي د کورنيو اقداماتو په همغږي کولو سره دوی کولی شي د سوداګرۍ کمولو يا ګډوډولو پرته د کارموندنې مخه ونيسي (پورمقيم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۶-۱۲۷).

**3. ټيټ معاش او ملاتړ:** په مختلفو هېوادونو کې د معاشونو په کچې کې لوی توپير شتون لري. د دې حقيقت له امله يو هېواد چې د مزد کچې يې ټيټه وي کولی شي يو محصول د هغه هېواد په پرتله په ټيټه بيه وپلوري چيرې چې مزد لوړ وي. ځينې مدافعين په دې نظر دي چې د ټيټ معاش لرونکو بهرنيو کارګرانو سره د سيالۍ څخه د کارګرانو د ساتنې لپاره د لوړ معاش لرونکي هېوادونو (پرمختللو هېوادونو) له خوا د ټيټ معاش لرونکو هېوادونو له خوا ګمرکي محصولات وضع شي.

د نړيوالې سوداګرۍ د اصولو له مخې يو څوک د پورتنۍ مسلې په ضعف پوهيدلی شي. هغه هېواد چې لوړ معاش لري په اسانۍ سره کولی شي د ټيټ معاش لرونکي هېواد سره سيالي وکړي. مزدور د توليد يوازينی عامل نه دی، بلکې نور عوامل هم شته لکه سرمايه او ځمکه او د دغو عواملو تناسب د توکو په

تولید کې له نورو توکو سره توپیر لري. دا نظریه چې د تولید فکتورونو بیه خورا لوی توپیر لري له همدې امله په هغه هېوادونو کې چې پانګه ارزانه وي دوی کولی شي په کم مصرف سره د پانګې په کچې توکي تولید کړي او په هغه هېوادونو کې چې ارزانه او ډېر کارګران وي ور توکي تولیدکیدای شي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۷).

**د ملاتړ نور دلایل او مسایل**

الف: د تادیاتو توازن ښه کولو لپاره ګمرکي تعرفې: د هېواد د تادیاتو توازن ممکن له ستونزو سره مخ شي د ګمرکي تعرفو په لګولو سره هغه ستونزې چې د تادیاتو په توازن کې شتون لري تر ډېره حده حل کیدی شي. ګمرکي تعرفه واردات محدودوي او د تادیاتو د توازن ښه کولو کې مرسته کوي.

ب: په هېواد کې د پیسو ساتل: د دې مسالې پلویان په دې باور دي، که چیرې د هېواد اوسیدونکي په کور دننه تولید شوي توکي واخلي نو هېواد به یې خپل مال او پیسې دواړه ترلاسه کړي او په دې توګه هغه هېواد چې د وارداتو مخه نیسي بډایه کېږي.

ج: د کورني بازار لامل: دا بحث د دې ادعا پر بنسټ دی چې کورني تولیدونکي په کورني بازار کې حق لري او د وارداتو په کمولو یا له منځه وړلو سره ډېر توکي په کور دننه تولیدیږي د کارموندنې زیاتوالی او پایله یې د کورنیو فعالیتونو هر اړخیز زیاتوالی دی. د دې بحث کمزورتیا له دې حقیقت څخه راځي چې د کورنیو تولیداتو د ودې په لور د وارداتو هر ډول بدلون به په پای کې د صادراتو او تولیداتو د کمښت لامل شي. که چیرې هېواد وغواړي چې خپل توکي بهر ته ولېږدوي یوازې کولی شي د صادراتو په دوام سره وارداتو ته دوام ورکړي. له همدې امله د بهرنیو او وارداتي سرچینو څخه کورنیو اکمالاتو ته د اکمالاتو لېږد په هېڅ ډول د حقیقي پیرود ځواک نه زیاتوي. په حقیقت کې د کورني بازار بحث د لږ اغېزمن انتخاب او د اصلي پیرود ځواک د کمښت لامل کېږي (پورمقیم، ۱۳۷۰، ص.۱۲۸).

**د کورنیو صنعتونو لپاره د حکومت ملاتړ**

د اقتصادي ودې بېلګې او د پرمختللو هېوادونو تجربې ښیي چې د حکومت له څارنې، ملاتړ او هڅونې پرته د کورنیو صنایعو د ودې، پراختیا او ساتنې امکانات ناشوني دي، یعنې حکومت باید د هېواد د صنعتي پرمختیا په لاره کې اغېزمن او پرېکنده رول ولوبوي خو له بده مرغه نن ورځ د افغانستان بې ځایه تجارت او د کورنیو صنعتونو لپاره د حکومت نه ملاتړ او هڅونې دا هېواد د بې کیفیته مصرفي توکو او د ګاونډیو هېوادونو په تیره بیا پاکستان، ایران او چین د غیر ضروري عیش و عشرت په بازار بدل کړی دی.

د بېلګې په توګه په دې وروستيو کې د هرات د فابريکو يو زيات شمېر مالکان د بهرنيو سيالانو په وړاندې ناکام شوي او خپل کاروبار يې له لاسه ورکړی د بهرنيو توکو بې توپيره واردات او د حکومت د ملاتړو پاليسيو نه شتون په ګوته کوي. هرات چې د افغانستان يو له نسبتاً امنيت لرونکي ولايت څخه دی د توليداتو په برخه کې د پام وړ پانګونه کړې ده (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹).

په لومړيو کې د هرات صنعتي ښار ښه ځلېدلی او توليداتو يې په ټول افغانستان کې بازار موندلی او د کار په ډګر او د کورنيو توليداتو په زياتولو کې يې ښه رول لوبولی، خو د وخت په تېرېدو سره د فابريکو خاوندان پوه شول چې د توکو د وارډېدو په مقابل کې بهرنيان دي. په ځانګړې توګه هغه کسان چې له پاکستان او ايران څخه راځي، د سيالۍ توان نلري. او په پايله کې له ۲۰۰۵ کال راهيسې په دغه ښار کې د شاوخوا ۳۰۰ فابريکو له ډلې څخه نيمايي يې اوس تړل شوي او پاتې نورې يې هم له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګريوان دي. له همدې امله يوه مهمه ستراتيژي چې اوس مهال کولی شي د کورنيو توليداتو اندازه لوړه کړي او د ماشومانو صنعت وده وکړي د دولت د ملاتړ لرونکو پاليسيو پلي کول دي. د بېلګې په توګه حکومت کولای شي د کورنيو توليداتو لپاره ځينې ماليې معاف کړي او د کورنيو صنعتونو د اړتيا وړ خام مواد د ګمرکي محصول له ورکړې معاف کړي او په همدې توګه د صادراتي توکو پر وړاندې ترانزيتي خنډونه تر ممکنه حده راکم کړي (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹-۱۱۰).

په پای کې د کورنيو توليداتو د ملاتړ د فرهنګ د بنسټيز کولو په موخه دولت کولای شي د کورنيو توليداتو پېرلو ته لومړيتوب ورکړي، ترڅو د اړتيا وړ توکي د خپلو اړوندو ارګانونو له لارې عرضه کړي او د رسنيو له لارې د ملي توليداتو په ګټه اغېزمن اعلانونه وکړي (هئيت، ۱۳۵۶، ص.۱۰۹).

**موندنې**

لکه څرنګه چې موږ پورته خپلې موخې ذکر کړې دي او موږ په لومړۍ موخه کې ويلي وو، چې (د داخلي توليداتو پېژندنه) نو همدې موخې ته په کتو ويلی شو چې خلک بايد د توليداتو په برخه کې لومړی د هېواد داخلي توليدات وپېژني او د داخلي توليداتو لپاره بايد تر هر څه وړاندې عامه پوهاوی ترسره شي د خلکو سره يې ګټې شريکې شي او د خپلو توليداتو څخه استفاده وکړي تر څو داخلي توليدات پرمختګ وکړي او ګټه يې د هېواد اتباعو ته ورسېږي او دوی بايد د هغه توليداتو پروسس رامنځ ته کړي چې د خارجي هېوادونو څخه په لوړو مصارفو دلته واردېږي او دولت بايد د خپلو داخلي توليداتو پوره حمايت وکړي؛ ترڅو هغه ستونزې چې توليدونکي ورسره لاس او ګريوان دي او د داخلي توليداتو د شاتګ باعث شوي دي له منځه يوسي او هر ډول مالي ملاتړ څخه برخمن شي. همدارنګه

بله موخه د (د داخلي توليداتو ملاتړ لپاره د اقتصادي وسايلو په ګوته کول) دي، چې د اوسني وخت سره سم د ملاتړ اقتصادي وسايل په ښکاره ډول په ګوته شوي دي چې اکثره برخې يې په دولت پورې اړه لري او دولت بايد د خپلو توليداتو د پرمختګ لپاره هر ډول اقتصادي وسايل چمتو او د توليدونکو په واک کې ورکړي، چې له يوې خوا به د خلکو اعتماد او باور درجه د دولت پر فعاليتونو باندې زياته شي او له بلې خوا به د کار سطحه لوړه شي او په مستقيم او غيرمستقيم ډول به زيات خلک په کار بوخت شي.

**پايله**

دا غوره ده چې د مناسبو اقداماتو له لارې په يوه هېواد کې د اقتصادي پاليسيو پر بنسټ د کورني توليد ملاتړ وشي. که د نظريې پر بنسټ وي د آزادې سوداګرۍ په لور د ګټې پرتله کول او د ګټې زياتوالی د ټولې نړۍ لپاره ښکاري، نو دا غوره ده چې هغه توکي توليد کړي چې د محدوديتونو له خوا ملاتړ کېږي. دا ممکنه ده چې د ملاتړ محدوديتونو د پلي کولو له امله د توليد زياتوالی د لګښتونو د کمولو او د توليد جريان ښه والی لامل شي په دې حالت کې به بهرني صنعتونه د خپلو توليداتو ګټې له لاسه ورکړي او د داخلي توليداتو په وړاندې د بهرنيو توليداتو سره سيالي وکړي، که د کورنيو توليداتو د ملاتړ د محدودولو پلويان په دې باور وي چې په دې توګه به د اقتصادي ودې او بلوغ مرحلې ته د رسيدو تر وخته د نويو تاسيس شويو صنايعو ملاتړ وکړي او له بهرنيو صنعتونو سره سيالي وکړي. کله چې د توليد دغه پړاو په صنعت کې واقع شي، د محدوديتونو د رامنځ ته کولو هدف او په هېواد کې د کورنيو توليداتو د ملاتړ لپاره منل شوې پاليسي تر لاسه کېږي.

د اقتصادي محدوديتونو د پاليسيو پر بنسټ د کورني اقتصادي ملاتړ پاليسي هغه وخت ډېره بريالۍ کېږي کله چې ملاتړ شوی صنعت د محصولاتو په توليد کې د نسبي ګټې غوره والی ترلاسه کړي او د نويو تاسيس شويو صنعتونو د ملاتړ لپاره د محدوديتونو لګولو په صورت کې، دا هدف بايد تر هغه په صنعتونو کې پلی شي ترڅو دوی وکولی شي د يوې مودې وروسته د مرستې پرته دولت په آزاده توګه (په خپلواکه توګه) توليد ته دوام ورکړي. په لنډه توګه، د ګمرکي تعرفو لګول د کورنيو توليداتو په بنسټونو کې د نسبي ګټو د ملاتړ په اساس ګټېل کېږي، چې پخپله په نورو چينلونو کې د سوداګريز جريان لامل کېږي، چې د آزاد تجارت له لارې د اقتصادي ودې لامل کېږي. په دې اساس، اقتصادي پوهان اجازه ورکوي چې د ګمرکي تعرفو لګولو ته اجازه ورکړي ترڅو د نوي تاسيس شوي صنعتونو ملاتړ وکړي ترڅو دوی د بهرنۍ سيالۍ سره مخ شي.

د نويو تاسيس شويو صنايعو ملاتړ د دولت يو له مهمو دندو څخه ده او تر ټولو اساسي لاملونه يې د سالمو اقتصادي پاليسيو پر بنسټ دي چې موخه يې په هېواد کې د نويو توليد شويو صنعتونو ملاتړ دی. نوي تاسيس شوي صنعتونه د قيمت او مصرف په برخه کې د ورته بهرنيو صنعتونو سره سيالي کولی شي که چيرې دوی د دولت له خوا د کورنيو اقتصادي توليداتو د ملاتړ لپاره د مناسبو پاليسيو په جوړولو کې مرسته وکړي، دوی به وکوالی شي د نړيوالو نرخونو څخه د توکو بيه راټيټه کړي. د توليد د ګټو له مخې کولی شي د ورته بهرنيو ادارو محصولاتو سره سيالي وکړي، په دې حالت کې حکومت کولی شي لګول شوي محدوديتونه لغوه او لېرې کړي.

**واړنديزونه**

۱. د توليد د مفهوم او ډولونو او ترکيب ته په پام سره په هېواد کې د داسې توليد رامنځ ته کول چې وکړای شي زموږ د موجوده منابعو، او نورو اساساتو ته په پام سره د ټولنې سره هر اړخيزه مطابقت ولري او وکړای شي په هېوادکې د يو پراخ توليد زمينه مساعده او په دې سره زموږ د هېواد توليدي ظرفيت په هر اړخيز ډول لوړوالی پيداکوي او له دې لارې د هېوا د د تجارت بېلانس هم تعادل پيداکوي.

۲. د خلکو د اړتياوو په پام کې نيولو سره د توليد پروسه چټکه شي او د هغوی کميت او کيفيت په پام کې ونيول شي او د توليد په پروسه کې د اضافي مصرف څخه مخنيوی وشي.

۳. د توليد لپاره بايد لومړی د خامو موادو منابع تثبيت شي. د توليد پر منظور بايد د خامو موادو تهيه کولو لپاره لومړني امکانات برابر شي.

۴. د توليد د تبادلې لپاره بايد داخلي او خارجي مارکيټونه په پام کې ونيول شي.

۵. زراعتي محصولاتو او هغو توليداتو لپاره چې په لنډه موده کې خپل کيفيت له لاسه ورکوي بايد مناسب او مجهز ګودامونه او د ساتنې ځايونه په پام کې ونيول شي.

٦. په توليدي موسسو کې بايد فني او مسلکي اشخاص استخدام شي او دمسلکي لايقو اشخاصو روزلو لپاره زمينې برابرې شي.

۷. توليدي موسيسې بايد په هغو ځايونو کې تاسيس شي، چې د يوې خوا خام مواد، کارخانې ته انتقال او له بلې خوا ملي او يا نړيوال مارکيټ ته لار ولري.

۸. د توليد د هڅونې او زياتوالي لپاره بايد د دولتي فابريکو ترڅنګ خصوصي تشبث او شخصي ملکيتونوته دې هم پوره موقع ورکړل شي. د دې سوا بايد مناسبه عصري تکنالوژي هم وارده شي.

۹. زموږ هېواد افغانستان په واقعي توګه زيات توليدات چې په داخل د هېواد کې په مصرف سره رسيږي هغه ټول د بهرڅخه راوړل کېږي نو زموږه دولت ته لازمه ده چې په مختلفو برخو سره په مختلفو ځايونو کې تصديګاني پرانيزي او د واريداتو اندازه کمه کړي او کومي تصديګاني چې په داخل د هېواد کې توليدات ترسره کوي هغه بايد زياتي تشويق شي.

۱۰. زموږ د هېواد په هر اړخيز ډول وروستيو جنګونو، د منطقي غلطو سياستونو او داسې نورو عواملو چې په هېواد کې د توليد د ډېر وروسته کيدو لامل ګرځيدلي دي. بايد زموږ د وخت حکومتونه د هېواد د نورو اقتصادي موضوعاتو په منځ کې دغې برخې ته زياته توجه وکړي ځکه هغه شرايط چې د يو پراخ توليد لپاره ضروري دي زموږ هېواد کې نسبتاً په پراخ ډول پيداکېږي، لکه ارزانه او پراخه دکار قوه، طبيعي عوامل او داسې نور چې کولای شي په لږ توجه سره يو مؤثر توليد که هغه په هره برخه کې وي رامنځ ته کړي.

## مأخذونه

اځړ، جمال. (۱۳۹۰). د توليد او مصرف تيوري.ننګرهار: محمديه کتاب پلورنځي.
پورمقيم، سيدجواد. (۱۳۷۰). تجارت بين المللی نظريه ها و سياستهای بازرگانی. تهران: انتشارات نشرنی.
درد، عبدالرحمن .(۱۴۰۱). ستراتيژيک مديريت. ننګرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه.
دردمل، رحيم جان. (۱۳۹۰). تصدي اقتصاد. ننګرهار: دانش خپرندويه ټولنه.
رحيمي، عباس کلانتری. (۱۳۷۱). تحليل او برسی اقتصاد سبسايډی. تهران: بهمن انصاری.
سبحاني، ګلاب شاه. (۱۳۸۹). د جنس توليد. ننګرهار: ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.
هئيت، ضيأالدين. (۱۳۵٦). اقتصاد بين المللی. تهران: انتشارات اميرکبير.

# په اسلامي شريعت کې د ښځو حقوق

پوهنمل پاځون مياخېل، شيخ زايد پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، د حقوقو څانگه.
برېښناليک: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**لنډيز**

دا ويلای شو، په هر چا چې د بشر اطلاق کېږي، اسلام يې د حقوقو يادونه کړې ده، خاصتا د ښځو د حقوقو په باره کې د قرآنکريم يو ځانگړې سورت د سورة النساء په نوم راغلی دی. په اسلام کی د ښځې حيثيت او مقام په ډېره لوړه پيمانه منل شوی دی، لکه د ښځې معنوي حقوق چې د اسلام په مبارک دين کې د ښځې لپاره منل شوي دي. په دې حقوقو کې د ښوونې (تعليم) حقوق، مدني حقوق، سياسي حقوق، د رايې او ازادۍ حق او داسې نور حقوق شامل دي. د دې څېړنې ارزښت لرونکی اړخ دا دی، چې د اسلامي شريعت د نصوصو په رڼا کې د ښځو د حقوقو وضاحت وړاندې کوي او د ښځو په هر راز حقوقو رڼا اچوي، چې د ښځو لپاره د شريعت له مخې هر ورکړل شوی حق د مسلمانانو د لومړني دور په بېلگو روښانه شوی دی. همدارنگه د ټولنيز حيثيت له مخې د خور، لور، مور او مېرمنې په هر حق بحث شوی دی. دا څېړنې د بېلابېلو موخو د ترلاسه کولو په غرض ترسره شوې ده، چې په لړ کې يې په اسلامي شريعت کې د ښځو له حقوقو څخه خبرېدل، ښځو ته د ژوند د بېلابېلو مواردو په برخه کې د ځانگړو حقوقو په ورکړه پوهېدل او د ميراث او تجارت د حقوقو په اړه د شريعت په رڼا کې معلومات وړاندې کول د دې څېړنې مهمې موخې دي. هره څېړنه د ترسراوي لپاره يوه لاره لري، چې د دې څېړنې لپاره کتابتوني ډول او تشريحي مېتود غوره دی. همدا راز د څېړنې ژبه معياري ژبه ټاکل شوې او د ليکنې ټول اصول د ليکنې په لړ کې د پام وړ گرځول شوي دي. د ماخذښودنې په برخه کې له APA سيستم څخه گټه اخيستل شوې ده او د څېړنې په پای کې د ماخذونو بشپړ معلومات وړاندې شوي دي.

**کليدي کلمې:** د ښځو شرعي حقوق، د ښځو ټولنيز حقوق، د ښځو سياسي حقوق، د ښځو اوسنی حالت، د حکومتونو ابتکارات.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم ـ الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علي سيد الانبياء والمرسلين محمد و علي اله و اصحابه اجمعين. اما بعد!**

اسلامي شريعت د نړۍ پرمخ يوازينی جامع او مؤجه قانون دی، چې د ټولو انسانانو لپاره د هغوی د فطرت مطابق لارښوونې او اوامر لري. ښځه منحيث انسان هغه بحث دی، چې د اسلامي شريعت په رڼا کې د ځانگړو او خپلو پرځای حقوقو څښتنه ده. د اسلام په مبارک دين کې د ښځې هر حيثيت که لور ده، خور ده، مور ده او مېرمن ده، د ځانگړي پام وړ گرځول شوی او ورته لازم حقوق په گوته شوي دي.

د ښځو لپاره چې د اسلام په مبارک دین کې کوم حقوق ټاکل شوي دي، هغه د ټولنیز ژوند له برخې نیولې د اقتصاد او قانون جوړونې تر برخو پورې ټول موارد رانغاړي. په ټولنیز ژوند کې ښځه د لور، خور، مور او مېرمنې په توګه د حقه حقوقو لرونکې ده. دغه راز ښځې ته په اسلامي شریعت کې د اقتصاد په برخه کې د آزادۍ حق ورکړل شوی دی، یعنې ښځه کولای شي، چې خپل مال او شته ولري او د خپلو تجارتونو بندوبست وکړي. دغه راز په جګړو کې هم د ښځو ونډه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مبارک دور له بېلګو سره په خورا روښانه شکل په ډاګه شوې ده.

د انساني ټولنې مختلف عرفونه او رواجونه هم یوه له هغو موضوعاتو څخه ده، چې د دې څېړنې په لړ کې پرې بحث شوی دی. د نورو انساني ټولنو په څېر زموږ افغاني ټولنه هم د یو شمېر ناسمو او ناروا دودونو لرونکې ده، لکه په بدو کې د نجلۍ ورکول، د څاروي په څېر د نجلۍ خرڅول او د کورنۍ په چوکاټ کې د خوابنې او خسر له خوا پر مېرمنې ظلمونه، دا ټول هغه موارد دي، چې د ناروا دودونو په څېر زموږ په ټولنه کې عام دي. د دغو دودونو د تقبیح ترڅنګ د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په فرمانونو د دغو دودونو د لغوې مطالب د دې څېړنې پام وړ موضوعات دي.

**د څېړنې ارزښت**

دا څېړنه د خپلې محتوا له مخې چې په اسلامي شریعت د ښځو د حقوقو موضوع رانغاړي، له دې اړخه له ځانګړي ارزښت څخه برخمنه ده، چې د څېړنې په اوږدو کې د ښځو هر راز حقوق راسپړل شوي او د اسلامي شریعت په رڼا کې د ښځو ټول حقه حقوق تر بحث لاندې نیول شوي دي.

**د څېړنې موخې**

۱ ـ د دې څېړنې لومړۍ موخه په دې پوهېدل دي، چې په اسلامی شریعت کې د ښځو لپاره کوم ډول حقوق ورکړل شوي، ترڅو ښځې ترېنه د شریعت په چوکاټ کې استفاده وکړي.

۲ ـ د دې څېړنې بله موخه دا ده چې د دولت منسوبین په دې اګاه کړل شي، چې ښځو ته په اسلامی شریعت د میراث حق، د تجارت حق او په ټولنیز او سیاسي ژوند کې د برخې اخیستو حق ورکړل شوی دی، ترڅو د هغو حمایت وکړي او د حق ورکړې لپاره یې زمینه سازي وکړي.

۳ ـ بله موخه دا ده، که چېرې یوې ښځې ته خپل شرعي حق ورنه کړل شي، نو دولت مکلف دی، چې له ظالم څخه د ښځې حقوق واخلي او ښځې ته یې ورکړي.

۴ ـ بله موخه دا ده، زموږ په ټولنه کې زیاتره خلک ښځو ته میراث نه ورکوي، په داسې حال کې چې دا د ښځو شرعي حق دی، نو دولت مکلف دی، چې د ښځو د شکایت په صورت کې رسیده ګي وکړي او ښځو ته خپل شرعي حق ورکړي.

۵ ـ وروستی موخه خلکو ته د اسلامي شریعت مطابق د ښځو حقوق بیانول دي.

**د لیکنې کړنلاره**

دغه څېړنه کتابتوني ده او د څېړنې او وضاحت لپاره له بېلابېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، په واقعیتونو او حقایقو ولاړو منابعو او نورو علمي رسالو څخه استفاده شوې ده او د لیکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

**لومړی مبحث: په اسلام کې په دیني او مذهبي چاروکې د ښځو حقوق**

د ایمان او عمل له لحاظه ښځه او نارینه یو برابر دي. د اسلام دین له ایمان او عمل څخه عبارت دی، د ایمان او عمل صالح په کړنو کې نارینه او ښځې برابر او په خپلو کې هېڅ کوم توپیر نه لري. دا د قرآنکریم څرګند بیان او اعلان دی، که نارینه وي او که ښځېنه وي، چې له ایمان سره نېک عمل کوي، دنیا کې الله تعالی ورته ښکلی او صفا ژوند ورکوي او په آخرت کې هم ورته لوی ثوب او اجر ورکوي، د چا چې څه قسم عمل وي، د هغه مطابق اجر ورته رسېږي. الله تعالي په خپل مبارک کتاب کې فرمایې:[مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ](سورت النحل: آیت۹۷). ژباړه: نارینه او ښځېنه چې نېک عمل وکړي او با ایمانه هم وې، نو په دنیا کې به یې په پاکیزه ژوند ونازوو او په آخرت کې به هغوی ته د هغوی له عمل نه هم بهتر اجر ورکړو (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله،۱۴۱۴، ج ۱، ۱۵۷۴).

د دغو ټولو نصوصو پایله دا شوه، چې الله تعالی ته د ایمان او صالح عمل په اعتبار ښحه او نر کوم توپیر نه لري او د ثمراتو او پایلو له حیثه دواړه یو برابر دي. په دنیا کې نر او ښځه دواړه د طیبه حیات (پاکیزه ژوند) او په آخرت کې له اجر او ثواپ څخه برخمن دي. د هېچا عمل نه ضایع کېږي او نه هم څه کمی په کې راځي، ځکه چې د خدای پاک په نزد دواړه (نر او ښځه) یو له بل څخه دي، یعنې هر نارینه د ښځې له ګېډې څخه پیدا دی او هره ښځه د نارینه د ملا څخه پیدا شوې ده، د دواړو یو له بله سره ډېر ژور تړاو دی. مطلب دا څرنګه چې نارینه ته د اعمالو اجر حاصلېږي، دغه شان ښځې ته هم داعمالو اجر ورسېږي(دادګر، ۱۳۹۲هـ ش).

**لومړی مطلب: تر ټولو مخکې پیغمبر (ص) باندې ایمان ښځې راوړی**

د سیرت له کتابونو څخه ثابته شوې ده، چې د لومړي ځل لپاره د پیغمبر (ص) د پیغمبری تصدیق د ښځې له خوا شوی او په پیغمبر (ص) باندې د اول ایمان راوړو شرف هم ښځې ته حاصل دی، چې هغه ام المومنین حضرت خدیجه رضي الله عنها وه؛ اګر که په نارینه وو کې اول ایمان ابو بکر صدیق رضي الله عنه راوړی دی. په سیرت النبي کې راغلي دي، پیغمبر (ص) د وحیې او رسالت پیغام تر ټولو مخکې

خديجې (رض) ته واوراوه او هغې له اورېدلو سره سم پرې ايمان راوړ او د اسلام په مبارک دين مشرفه شوه، نو په ښځو او نارينه‌وو کې د لومړي مؤمن کيدو فضيلت او امتياز ښځې ته ورپه برخه شوی او هغه خديجة الکبری رضي الله عنها ده، چې د دغې خبرې شاهدي په خپله رسول الله (ص) داسې بيانوي: کيسه داسې وه، چې يو ځل د خديجې رضي الله عنها تر وفات وروسته د هغې لور (هاله) د پيغمبر (ص) ليدلو ته راغله، د قانون او اسلامي دستور مطابق هغې د اجازې غوښتو په خاطر له باندې غږ وکړ، د هغې آواز د خپلې مور خديجې رضي الله عنها په شان و، د هغې آواز اوريدو سره پيغمبر (ص) ته خديجه ورپه ياد شوه، په دغه وخت کې په پيغمبر (ص) باندې يو کيفيت راغی، په ژړغوني او اثرناکه الفاظو يې وويل: هاله يې! حضرت عائشه رضي الله عنها همدلته ناسته وه، دا چې په هغې باندې دا سخته تماميده، چې د هغې نه علاوه دې بله بي بي پيغمبر(ص) ته دومره ګرانه وي، نو بې اختياره يې له خولې نه ووتل، چې ته خو وفات شوې ښځې هم يادوې، هغه خو زړه وه، خدای پاک خو تاته له هغې غوره او بهتره بيبيانې درکړي دي. پيغمبر (ص) ورته په ځواب کې وويل: نه! بالکل داسې نه ده، په هغه وخت کې چې خلکو زه دروغجن بللم، هغې زما تصديق وکړ، چې کله خلک کافر وو، هغې اسلام راوړ، چې کله زما څوک مددګار نه و، هغې زما مرسته وکړه (فضلي، ۲۰۱۵م).

**دويم مطلب: د الله (ج ) په لار کې لومړۍ شهيده ښځه وه**

د الله (ج ) په لار کې د شهادت لومړنی شرف هم مسلمانې ښځې ته حاصل دی، چې هغه حضرت سميه رضي الله عنها وه. تفصيل يې داسې دی:په مکه مکرمه کې چې کله د دين د خپرولو لړۍ پيل شوه، نو حضرت سميه رضي الله عنها، د هغې خاوند حضرت ياسر (رض) او د هغې زوی حضرت عمار (رض) درې واړه په اسلام مشرف شول او د بې رحمه کافرانو له خوا وربانديې د ظلمونو او تشدد لړۍ شروع شوه، تر دې چې حضرت سميې رضي الله عنها ته به يې د اوسپنې زغره ور اغوستې وه، په غرمه کې به يې ډېر ګرم لمر ته درولې وه. نبي پاک (ص) به چې کله د هغې تر څنګ تېريده او هغه به يې په هغه حال کې وليدله، دا چې د کافرانو غلبه وه او د اسلام ابتدايي مرحله وه، نو هغې ته به يې تسلي ورکوله، چې (صبراً يا آل ياسر فان موعدکم الجنة)، ژباړه: د ياسر خاندانه صبر وکړئ، د دې مظالمو په بدل کې د تاسو لپاره جنت دی. يوه شپه کور ته راغله، ابو جهل کنځلې ورته شروع کړې، غصه يې زياتيده زياتېده، تر دې چې هغه ظالم او بې رحمه په برچې ووهله او په شهادت يې ورسوله، نو دا د الله (ج) په لار کې د اسلام تر ټولو لومړۍ شهيده ده(خالد، ۲۰۲۱م).

**درېيم مطلب: د لمانځه اداکولو شرف هم په لومړي ځل ښځې ته حاصل دی**

په اسلام کې له رسول الله (ص) سره يوځای د اسلام د لومړي رکن يعنې لمانځه اداکولو د لومړيتوب شرف هم ښځې ته ورپه برخه شوی، چې هغه هم حضرت خديجة الکبری رضي الله عنها وه. له همدې

مخې څرنګه چې د ایمان مسئله تر ټولو مخکې خدیجةالکبری رضي الله عنها ته وړاندې شوه او هغې بغیر له شک او تردده د پیغمبر (ص) په رسالت او حقانیت یقین کړی؛ دغه شان چې کله د لمونځ د فرضیت او اداکولو موقع راغله، نو خدیجة الکبری رضي الله عنها ته پکې لومړیتوب حاصل دی. د رسالت له زمانې وروسته هم د ښځو د دیني حیثیت معیار دومره لوړ و، چې ځینو لویو صحابه کرامو به ځینو میرمنو ته مراجعه کوله، د هغوی خبرې به یې منلې او د هغوی فیصلو ته به یې غاړه ایښوده (فضلي،۲۰۱۵م).

**دویم مبحث: په اسلام کې د ښځو د تعلیم او تربیې حقوق**

اسلام د عدل او انصاف دین دی، په دې هکله رسول الله (ص) فرمایلي دي:[**تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَالفَرَائِضَ وَعَلِّمُوا النَّاسَ فَإِنِّي مَقْبُوضٌ**]. ژباړه: د قرآنکریم او فرآئضو علم حاصل کړئ او خلکو ته یې هم وښیئ، ځکه چې زه له دنیا نه تلونکی یم، یعني له دنیا څخه تلونکی یم (الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت کوي، چې رسول الله (ص) ماته وفرمایل[**تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ، وَتَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا النَّاسَ , وَتَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ , فَإِنِّي امْرُؤٌ مَقْبُوضٌ** ]. ژباړه: علم زده کړئ او خلکو ته یې وروښیئ، فرائض زده کړئ او خلکو ته یې وروښیئ، د قران مجید زده کړه وکړئ او خلکو ته یې وروښیئ، ځکه چې زه تلونکی یم (دارالقطنی، ۳۸۵هـ).

په دغه ارشاد مبارک کې لومړی د مطلق علم د تحصیل حکم دی، بیا د فرایضو د تحصیل، بیا د قرآن پاک د زده‌کړې هدایت دی، ورسره یې دا هم وفرمایل، چې خپله یې زده کړئ، بیا یې نورو ته هم وروښیئ، چې په دغه هدایت کې د ښځې او نر هیڅ کوم تخصیص نشته، نه نسلي تخصیص شته او نه هم طبقاتي تخصیص؛ بلکه د امت ټولو افرادو ته دا حکم عام دی، چې تر کله پورې د رسالت روښانه لمر حضور درلود، ښځې او نر، آزاد او غلام، غټ او کوچني یو شان د نبوت فیوضات او انوار حسب حیثیت او استعداد حاصلول. هر یو بېله کوم خنډه خپله کوچنۍ او لویه مسئله د حضور (ص) په خدمت کې وړاندې کوله او فتوا او احکام یې تر لاسه کول. دلته نه د آزادۍ او غلامۍ خبره وه، نه د فقر او مالدارۍ، نه هم د ښځېتوب او نارینه‌توب. څرنګه چې نارینه وو ته د رسول الله (ص) په دربار کې بېله خنډه د دین د زده کړې او په احکامو د پوهې موقع حاصله وه، دغه شان ښځو ته هم بې مزاحمته دغه سعادت ورپه برخه و. په بخاري شریف کې د حضرت عائشې رضي الله عنها روایت دی[**عْمَ النِّسَاءُ نِسَاءُ الأَنْصَارِ لَمْ يَمْنَعْهُنَّ الحَيَاءُ أَنْ يَتَفَقَّهْنَ فِي الدِّينِ**]. ژباړه: د انصارو ښځې ډېرې غوره دي، ځکه د دین په زده‌کړه کې حیاء د هغوی مانع ونه ګرځېده (بخاری، ۱۹۴هـ ق).

د رسالت په دوره کې هم په ښځو د نارینه‌و په شان د جمعې او جماعت لمونځ واجب نه وو؛ لیکن صراحتآ ممانعت هم نه و، د جمعې په لمانځه او جماعت کې یې برخه اخیسته، د نبي پاک (ص) له خطبو او وعظونو یې استفاده کوله او په هره هفته کې به چې د رامنځته شوو حالاتو او د الهي وحیې په هکله پیغمبر (ص) څه وفرمایل، له هغه نه به باخبره وې او همدارنګه به د حالاتو د بدلیدو په باره کې وړاندې یا وروسته په مسجد نبوي کې په کومو خبرو باندې بحث شوی و، له هغو نه به هم بې خبره نه وې. همدا هغه لامل و، چې هغوی یې د مسجد تګ ته ترغیبولې، لکه څرنګه چې نارینه‌و دا تکل درلود، چې د پیغمبر (ص) ډېر زیات ارشادات ترلاسه کړي، دغه شان له ځینو ښځو سره هم دغه شوق او جذبه وه (شیراز آغا، ۱۴۳۵).

د حضرت عائشې رضي الله عنها په باره کې ترمذي شریف کې د ابو موسی اشعري رضي الله عنه روایت دی:[مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلاَّ وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا]. ژباړه: د رسول الله (ص) اصحابو ته به چې کومه مسئله سخته شوه، له حضرت عائشې رضي الله عنها نه به یې پوښتنه وکړه، له هغې سره به یې حل ضرور پیدا شو (الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

د حضرت عائشې رضي الله عنها په هکله د امام زهري روایت دی: [**كَانَتْ عَائِشَةُ أَعْلَمَ النَّاسِ،يَسْأَلُهَا الأَكَابِرُ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**]. ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها تر ټولو خلکو ډېره پوهه وه، لویو صحابه کرامو به هغې نه د مسائلو په هکله پوښتنې کولې (الزهري، ۲۰۰۶م).

د حضرت عروه بن زبیر رضي الله عنه روایت دی: [**مَا رَأَيْتُ امْرَأَةً كَانَتْ أَعْلَمَ بِطِبٍّ، وَلَا نَفَقَةٍ، وَلَا بِشِعْرٍ مِنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها**]. ژباړه: ما هېڅوک داسې ونه لیدل چې په قرآن کریم، فرایضو، حلال، حرام، فقه، شعر، طب، تاریخ عرب او د عربو د نسبونو متعلق له عائشې څخه زیات معلومات ولري (سلیمان بن احمد، ت ۳۶۰هـ).

حضرت عائشې رضي الله عنها چې په دینیات کې څومره علم درلود، هغه له دې سوال او ځواب نه معلومېږي. په یو حدیث کې راغلي دي، چې رسول الله (ص) به په ناسته نفل لمونځ کاوه، یو سړي له حضرت عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه، چې هغه ولې په ناسته لمونځ کوي؟ حضرت عائشې رضي الله عنها ځواب کې ورته وویل[حِينَ حَطَمَهُ النَّاسُ].ژباړه: دا هغه زمانه وه، چې خلکو هغه کمزوری کړی و (سنن أبي داود، ت ۲۷۴هـ).

د دې پوښتنې په ځواب کې چې له هجرت نه پس د دوه رکاتونو پر ځای څلور رکاته شول او د ماښام په لمانځه کې دا زیاتوالی ولې رانغی؟ هغې وفرمایل:[فَإِنَّهَا وِتْرُ النَّهَارِ]. ژباړه: د ماښام لمونځ د ورځې له وترو څخه دی، په دې خاطر پکې زیاتوالی رانغی (ابن حنبل، ۱۴۱۶هـ).

له حضرت عائشې بي بي نه چې کله پوښتنه وشوه، چې د سهار وخت خو ډېر د اطمینان وخت دی، له دوه رکاتو څخه زیات په کې په کار و؟ هغې وفرمایل: بلې! د سهار په لمانځه کې د قرائت اوږدوالی شته، په دې خاطر زیادت پکې رانغی. د جاهلیت په زمانه کې هم خلکو د عاشورا روژه نیوله او په اسلام کې هم د رمضان تر فرض کیدو مخکې د عاشورا روژه نیول واجب و، عربو داسې ولې کول؟ دغه خبره په یوه حدیث کې هم وضاحت نه لري؛ لیکن حضرت عائشې بي بي د دې وجه داسې بیان کړې:[كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الكَعْبَةُ]. ژباړه:عربو تر اسلام مخکې د عاشورا روژه له دې امله نیوله، چې په دغه ورځ به یې کعبې شریفې ته غلاف (پوښ) وراغوسته (بخاري، ۱۹۴هـ ق).

په امهات المؤمنین کې د حضرت عائشې بي بي په شان حضرت ام سلمه رضي الله عنها هم د فتوا ورکولو مالکه وه، مروان بن مالک به له هغې نه مسائل زده کول او ویل به یې:[كَيْفَ نُسْأَلُ، وَفِينَا أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ]. ژباړه: موږ ولې بل چا نه پوښتنه وکړو، په داسې حال کې چې د رسول الله (ص) بیبیانې موجودې دي(النسائي، ۲۰۱۱م).

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د صحابه کرامو په ډله کې د رئیس المفسرین حیثیت درلود او حضرت ابو هریره رضي الله عنه د حدیثو په یادولو کې ډېر لوړ مقام لاره، دوی هم حضرت ام سلمې رضي الله عنها ته په ځینو مسئلو کې رجوع کړې ده(الترمذي، ت ۲۷۹هـ).

په هر حال د دیني تعلیم او تربیې له حیثه د صحابیاتو ډېر اوچت مقام و او هغوی کې د سختو مسائلو د فتوا وړ ښځو هم وجود درلود، چې لوی صحابه او اوچتو اشخاصو به ورته مراجعه کوله او دا ټول د اسلام د مقدس دین فیوضات وو. حضرت عایشې رضي الله عنها ته خبر ورسید، چې حضرت ابو هریره (رض) روایت کوي، کله چې ښځه د لمانځه مخې ته تېره شي، نو لمونځ فاسدیږي، حضرت عایشې دا روایت د تردید وړ وګاڼه او ویې ویل: زه د کوټې په مینځ کې وم او رسول الله (ص) به لمونځ کاوه. همدارنګه کله چې دا معلومه شوه، چې حضرت عبدالله بن عمر (رض) وایي، چې د خپلوانو په ژړاګانو مړي ته غذاب ورکول کیږي، نو حضرت عایشې بي بي یې تردید وکړ او ویې ویل: چې له حضرت عبدالله څخه هېر شوي دي.

**لومړی مطلب: حضرت صفیه (رض) د فقې ماهره**

د حضرت محمد (ص) بله مبارکه مېرمن حضرت صفیه د اسلامي فقې په علم کې پوره برلاسې وه. د امام نووي (رح) په وینا حضرت صفیې (رض) په خپله دوره کې په علم او ځیرکتیا کې ستر مقام درلود(نایک، ۱۳۸۷).

**دویم مطلب: حضرت فاطمه بنت قیس په دلایلو کې ماهره**

فاطمې بنت قیس (رض) په فقه کې ښه پوهه درلوده، نوموړې په خبرو او دلایلو وړاندې کولو کې ډېره ماهره وه. یوه ورځ یې په یوه علمي موضوع کې له حضرت عمر (رض) او حضرت عایشې (رض) سره ټوله ورځ بحث وکړ او هغوی دواړو یې دلایل غلط ثابت نه کړل. د امام نووي (رح) په وینا، فاطمه (رض) په لومړنیو هجرت‌کوونکو کې وه او په ډېرو علومو برلاسې وه(نیشابوری، ۱۳۴۳هـ ق).

**درېیم مطلب: ام سلیم رضي الله عنها د دعوت او تبلیغ ماهره**

د رسول الله (ص) د ځانګړي خادم حضرت انس (رض) د مور ام سلیم له حضرت محمد (ص) سره ډېره زیاته مینه او محبت لرل. هغې خپل زوی حضرت انس (رض) د حضرت محمد (ص) خدمت ته وقف کړی و، په دې وجه ام سلیم (رض) ته د حضرت محمد (ص) په کور کې د زیات وخت تېرولو موقع په لاس ورغلې وه، له همدې مخې هغې هغه وخت د علم په زده کړه کې تېراوه. د نبي (ص) د مجلس او ناستې له برکته د ام سلیم (رض) په خبرو کې زیات اثر پیدا شوی و، زړه‌منونکې خبرې به یې کولې او هغې به له دې اثر څخه د دعوت او تبلیغ لپاره کار اخسته(نیشابوری، ۱۳۴۳هـ ق).

**څلورم مطلب: سیده نفیسه (رح) د امام شافعي استاده، د حضرت حسن (رض) لمسۍ**

سیده نفیسه د حضرت حسن (رض) لمسۍ وه، حسن د زید، زید د حضرت حسن (رض)، حضرت حسن (رض) د حضرت علي (رض) زوی و. سیده نفیسه د حضرت امام جعفر لور او د اسحاق مېرمن وه. په دریمه هجري پیړۍ کې د امام شافعي همعصره وه او امام صاحب به زیات وخت د سیدې (رض) خدمت ته حاضریده، له هغې سره به یې په علمي مسایلو خبرې کولې. د روایاتو له مخې یې د احادیثو د علم زیاته برخه له نفیسې (رح) څخه زده کړې ده(الذهبی، ۱۹۸۵م).

**پنځم مطلب: ام الدردا (رض) د ساینس ماهره**

ام الدردا د ابو الدردا مېرمن وه. د نوموړې په اړه ویل کېږي، چې هغه د ساینس په علومو کې ډېره ماهره وه. اوس تاسې فکر وکړئ، اسلام په داسې وخت کې چې ښځې به د ظلم ښکار ګرځېدې او چې پیدا به شوې، نو ژوندۍ به یې ښخولې، د علم رڼا خپره کړه، چې په مسلمانانو ښځو کې د ساینس په هرې څانګه کې ماهرانې موجودې وې. تر دې زیاته روښانفکري نوره څنګه وې؟ چې اسلام د ښځو لپاره تعلیم اړین ګرځولی دی. د هغې د پرمختګ لپاره یې دروازې خلاصې کړې دي، نه یې هغوی له علم او تحصیل څخه بندې کړي او نه یې د ښځو په شاته پاتې کېدو اصرار کړی دی؛ خو د اسلامې حجاب تر سیوري لاندې(مومند، ۱۳۹۸هـ ش).

**درېیم مبحث: په اسلام کې د ښځو ټولنیز حقوق**

ښځې په ټولنه کې د ځلورو مختلفو مقامونو لکه مېرمن، لور، مور او خور ځښتنه ده. د دې لپاره په کار ده، چې د دوی د ټولنیزو حقوقو یادونه هم په بیلابیلو عنوانونو کې وشي.

**لومړی مطلب: په اسلام کې د لور ټولنیز حقوق**

اسلام په سختۍ سره د دې منعه کړې ده، چې لورگانې تر پیدا کیدو وړاندې مه وژنئ او د دوی وژل یې منعه کړي دي، ځرنگه به چې د جهالت په دوره کې خلکو خپلې لورگانې ژوندۍ په خاورو کې ښخولې. په سورت التکویر کې الله (ج) فرمایلي دي[وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ * بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ](سورت التکویر:آیت۹). ژباړه: او کله چې له ژوندۍ ښخې شوې ښځې نه پوښتنه وشي، چې په کومه گناه وژل شوې وې؟(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج۲، ۱٦٥۲).

په اسلام کې یوازې د لورگانو وژل تر پیدا کیدو وړاندې حرام نه دي؛ بلکه د زامنو وژل هم حرام دي. په سورت بني اسرائیل کې الله (ج) فرمایلي دي:[وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم ](سورت الاسرأ: آیت۳۱). ژباړه: او خپل اولاد د مفلسۍ یا غریبۍ له امله مه وژنئ، موږ تاسې او هغوی ته روزي ورکوو. بل ځای په سورت بني اسرائیل کې الله جل جلاله فرمایي:[وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُم إنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْءًا كَبِيراً ](سورت الاسرأ: آیت۳۱). ژباړه: او خپل اولاد د غریبۍ له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته روزي ورکوو او تاسو ته هم بیشکه د دوی وژل کبیره گناه ده. له اسلام نه مخکې په عربو کې د اولاد ژوندي ښخولو رواج عام و، د الله جل جلاله په فضل او کرم سره او د اسلام د مبارک دین له برکته دا ټول ناوړه رواجونه ختم شول؛ خو په خواشینۍ سره باید ووایم، چې په هندستان کې دا بد رواج اوس هم شتون لري(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ۱٦۲۱).

**دویم مطلب: په اسلام کې د مېرمنې حقوق**

پوښتنه: په اسلام کې د مېرمنې حقوق کوم دي؟ ځواب: په تېرو پیړیو کې ښځه د فساد لامل او یا د شیطان وسله بلل کیده؛ خو د دې په مقابل کې الله (ج) په قران شریف کې ښځې ته د شیطان پر ضد د ډال خطاب کړی دی. که یوه نېکه ښځه له یو سړي سره واده وکړي، هغه له شیطاني کارونو څخه منعه کوي او د ښځې دا کوښښ وي، چې خپل مېړه په سمه لاره برابر کړي.

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې حضرت محمد (ص) فرمایلي دي، چا چې واده وکړ، هغه نیم دین پوره کړ. په دې اړه له ما نه یو ځل چا پوښتنه وکړه، که چیرې څوک دوه ودونه وکړي، نو دین یې پوره کړ؟ پوښتونکی په اصل کې د حضرت محمد (ص) په فرمان پوه شوی نه و، په دې فرمان کې د محمد (ص) مطلب دا و، چې کله تاسې واده وکړئ، په دې دوران کې له سمې لارې نه د اوښتو

امکانات کمیږي او د بدکارۍ په لار له تللو منعه کېږي. همدارنګه له واده سره سړی له نورو کبیره ګناهونو څخه هم پاک پاتې کېږي، سربېره پر دې له واده سره هلک سړی او نجلۍ ښځه کېږي او تر دې وروسته د مور کیدو او پلار کیدو وار راځي. دا څلور مرحلې په اسلام کې زیات اهمیت لري او د دوی د حقوقو تعین په اسلام کې په ډېر روښانه ډول شوی دی. په همدې خاطر واده کول په اصل کې نیم دین پوره کیدل دي، که غواړې چې د یو څخه زیات ودونه وکړې، نو مراد ترې واده دی، د کوم مطلب چې نیم دین پوره کیدل دي.

**لومړی جز: په اسلام کې له نجونو سره د واده په اړه مشوره کول**

په کوژدن او واده کې چې د نجلۍ د راتلونکې ژوند سرنوشت او د نوي کور انتخاب او پیلامه وي، د نجلۍ نظر او توافق ته پکې زیاته اړتیا وي. د نجلۍ ولي ته شریعت حکم کړی دی، چې د نکاح په هکله باید د نجلۍ موافقه په یوه طریقه ترلاسه کړي. حضرت ابي هریرة (رض) روایت کوي، چې پیغمبر (ص) فرمایلي دي[لاتنکح البکر حتی تستاذن قالوا یا رسول الله وکیف اذنه؟). ژباړه: تر څو چې له پیغلې نجلۍ څخه اجازه نه وي ترلاسه شوې، په نکاح دې نه ورکوي. صحابه کرامو پوښتنه وکړه، چې د هغو اجازه څرنګه وي، یا رسول الله؟ ویې فرمایل: چې کله مشوره ورڅخه اخیستل کېږي او دغه وخت جواب ورنه کړي، چپ شي، دغه دلیل د اجازې دی.

خو زموږ ټولنه کې له نجلۍ څخه په دغه وخت کې پوښتنه نه کېږي او دا حق ترې مکمل سلب شوی دی. په دې هکله د نجلۍ هو او نه، د هغې سپین سترګي او بې حیایي بلل کېږي؛ بلکې کورنۍ یې د ځان لپاره عار بولي، د خبرې تر ختمیدو او په اصطلاح د دستمال ورکولو تر وخته نجلۍ بالکل خبره نه وي، تر خبریدو وروسته که خوښه وي، یا هم ناخوښه، بله چاره نه لري، مجبوره ده، چې هر څه شوي وي، ویې مني. حال دا چې ښځه شرعا د خپل واده، د اوږدې مودې د ملګري د انتخاب حق لري، هیڅا ته دا حق نشته، چې هغه په زور چاته ورواده کړي. شریعت په دې هکله د نجلۍ منلو او نه منلو ته ډېر اهمیت ورکړی، چې د احادیثو او فقې په کتابونو کې تفصیلي او مهمه مسئله ده(غبار، ۱۳۹۰).

**دویم جز: په اسلام کې د نجلۍ په زوره ودول جایز نه دي**

ښځه او سړی د موټر دوه ټایرونه دي او د ژوند موټر په دې توګه ښه چلیدای شي، چې دواړه ټایرونه برابر وي، یعنې جوړه او پوره وي، که چېرې یو ټایر یې غټ او بل وړوکی وي، نو ډېر ګډوډ ځي او تر لږ مزل وروسته درېږي. په قرآن شریف کې راغلي، چې موږ د مېړمن او میړه په زړه کې یو بل ته د محبت ځای ورکړی دی. په سورت روم کې الله جل جلاله فرمایلي دي:[**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ**

أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ](سورت الروم:آيت ۲۱). ژباړه: او د هغه له نښو څخه يوه دا ده، چې تاسو ته يې ستاسو له خپل جنسه جوړې پيدا کړې دي، ترڅو آرام او سکون ورسره بيا مومئ او ستاسې ترمنځ (ميرمن او مېړه) مو مينه او محبت پيدا کړ. همدارنګه په سورت النساء کې واده ته د ميثاق يعني پوخ ايمان او پاک تړون نوم ورکړل شوی دی(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۵۹۰).

په سورت النساء کې الله جل جلاله فرمايلي دي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا](سورت النسأ: آيت۱۹). ژباړه: اې مومنانو! تاسو ته روا نه ده، چې په زوره ځان د ښځو وارثان کړئ(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۷).

د دې مطلب دا دی، چې له ښځو سره په زوره واده کول جايز نه دي او په واده کې د دواړو يعنې ښځې او سړي يو ډول رضا ضروري ده، تر دې پورې چې پلار هم حق نه لري، چې د لور له رضا پرته هغه چاته ورواده کړي.

**درېيم جز: په اسلام کې د ميرمنې سره د ښه سلوک حکم**

الله جل جلاله او د هغه استازي حضرت محمد (ص) د ښځو او ميرمنو په حقوقو زيات ټينګار کړی دی. له امام حنبل (رح) څخه روايت دی، چې په مسلمانانو کې تر ټولو ښه هغه څوک دی، چې ښه اخلاق او سلوک ولري او له خپلې کورنۍ او ميرمنې سره ښه چلند کوي.

سوال: په قرانکريم کې سړي ته د قوام خطاب شوی دی، د دې مفهوم څه دی؟ ځواب: د اسلام له نظره سړی او ښځه برابر دي او په قرآنکريم کې الله جل جلاله په څرګنده فرمايلي دي، چې د ښځو او سړو، ميړه او مېرمنې ټولو حقوق برابر دي. پرته له دې چې د کور په معاملاتو کې د سړي حق زيات دی او د کور د واک کيلي د سړي په لاس کې ده. په قرآنکريم کې په سورت البقره کې الله تعالی فرمايلي دي: [وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ](سورت البقره: آيت۲۲۸). ژباړه: او د ښځو لپاره هم حقوق دي پر سړيو، لکه د سړيو چې پر هغوی حقونه دي او سړيو ته پر ښځو لږ فضيلت حاصل دی. زه دا خبره پوره يقين سره کوم، چې له دې آيت شريف نه زيات شمير مسلمانانو غلط استدلال کړی دی، په کار ده، چې د قرآنکريم فرمانونه ښېل ښېل ونه ويل شي؛ بلکه يو بل سره بايد يو ځای شي او وويل شي ، بيا ترې مطلب واخيستل شي(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۱۸۴).

**څلورم جز: له ناخوښو مېرمنو سره هم د نېکو اخلاقو او ښه چلند حکم**

قرآن شريف تر دې پورې وړاندې ځي، که چيرې تاسې خپله ميرمن نه خوښوئ، نو له هغې سره هم بايد ښه چلند وکړئ. په سورت النساء کې ارشاد مبارک دی:[فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شيئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا](سورت النسأ: آيت۱۹). ژباړه: که هغوی ستاسې خوښې نه وي، په ښه ډول ورسره ژوند تير کړئ، کيداې شي چې يو څيز ستاسو خوښ نه وي او الله جل جلاله تاسو ته په هغې کې ډېره

فايده ایښې وي. د قرآن شريف له دې څرګندي فيصلې نه وروسته چې د ميرمنې او مېړه حقوق په اسلام کې برابر دي، آيا بيا به هم دا ويل انصاف وي، چې په اسلام کې ښځو ته د وروسته پاتې او بدترين مخلوق په توګه کتل شوي دي؟ نه هيڅکله نه!(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۷).

**پنځم جز: د دوو يا ګڼو ښځو ترمنځ عدل (برابري) نه کول ګناه ده**

که يو سړی دوه يا درې يا څلور ښځې ولري او د هغوی ترمنځ په نفقه، جامه، معامله او شپه تېرولو کې عدالت نه کار وانه خلي، نو دا ظلم او ناروا عمل دی. که يو سړی ويريده، چې زه به د دوو يا ډېرو ښځو ترمنځ عدل ونه شم کړای، نو هغه ته بله ښځه کول روا نه ده، ځکه د الله (ج) ارشاد دی:[فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً](سورت النسأ: آيت،۳). ژباړه: که چيرې له تاسو سره ويره وي، چې تاسو به انصاف ونه کړای شئ، بيا درته يوه ښځه کافي ده (د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۲۷).

نبي کريم (ص) فرمايلي دي: (من كانت له امراتان فمال الي احداهما جاء يوم القيامة واحد شقيه ساقط ). ژباړه: څوک چې دوه ښځې ولري او يوې ته پر هغې بلې په جامه، خوراک او شپه تيرولو او داسې نورو کې فوقيت ورکړي، نو د قيامت په ورځ به يې د بدن يو طرف غورځيدلی وي. د الله (ج) ارشاد مبارک دی:[وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ ۖ فَلَا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ](سورت النسأ: آيت،۱۲۹). ژباړه: هېڅکله تاسې (اې د ډېرو ښځو خاوندانو) نه شئ کولای، چې عدل وکړئ (برابروالی وساتئ په هر شي کې) مابين د ښځو خپلو کې، اګر که تاسې ډېر حرص (کوښښ) وکړئ (عدل ته)، نو تاسې مخ مه ګرځوئ (له يوې ښځې څخه) په کامل مخ ګرځولو سره، چې پريږدي دا (ښځه) په شان د ځوړندې کړای شوې(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۵۵۴).

**درېيم مطلب: په اسلام کې د مور حقوق**

الله جل جلاله په قرآنکريم کې تر عبادت وروسته تر ټولو زيات ټينګار د مور او پلار په حقوقو کړی دی، په دې اړه په بني اسرأيل سورت کې ارشاد مبارک دی:[**وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا) (وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا**](سورت بنی اسرأيل: آيت۲۳، ۲۴). ژباړه: او ستاسو رب جل جلاله دا حکم کړی دی، چې له هغه پرته د بل هيڅا عبادت مه کوئ او له مور او پلار سره ښه سلوک کوئ، که په دوی کې يو يا دواړه ستاسو په وړاندې بوډاوالي ته ورسيږي، نو تاسې اف قدرې هم دوی ته ونه کړئ او دوی مه رټئ، له دوی سره په نرمه لهجه خبرې کوئ او د هغوی په وړاندې په مينه، محبت او عاجزۍ سره ټيټ اوسيږئ، داسې ووايه، چې اې زما ربه! په دې دواړو باندې رحم

وکړه، لکه چې دوی په کوچنيوالي کې زما روزنه او پالنه کړې ده(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ۱۶۱۵ـ۱۶۱۶).

**لومړی جز: جنت د مور او پلار تر قدمونو لاندې**

زموږ خوږ پيغمبر(ص) په وار وار د والدينو او په ځانګړي توګه له مور سره د ښه سلوک ټينګار کړی دی، د احمد او ابن ماجه شريف يو حديث کې روايت دی، چې محمد (ص) فرمايلي دي: چې جنت د مور تر قدمونو لاندې دی.

مطلب دا چې څوک د مور خدمت د زړه له خلاصه او په اخلاص سره وکړي او د هغې ضرورتونه پوره کوي، د هغې احترام کوي، نو انشاءالله هغه به جنت ته داخلیږي.

لومړی جز: درې واړه ډالۍ د مور و پلار لپاره يوازې د ښه سلوک انعام دی

په بخاري، مسلم، ابو داؤد، ترمذي، ابن ماجه او مسند احمد کې يو حديث له لږ لفظي اختلاف سره راغلی دی، د صحيح بخاري د ۸ جلد ۲ باب په يو حديث کې راغلي دي، چې يو سړي له رسول الله (ص) نه وپوښتل، چې پر ما د چا د خدمت زيات حق دی؟ پيغمبر (ص) وفرمايل: ستا د مور. هغه وويل: تر دې وروسته د چا؟ ويې فرمايل: ستا د مور. هغه بيا وپوښتل، چې تر دې وروسته؟ بيا هم حضرت محمد (ص) ورته وويل: ستا د مور. بيا يې ترې وپوښتل، چې تر دې وروسته د چا؟ حضرت محمد(ص) وفرمايل: ستا د پلار.

دا حديث د پورتنيو آيتونو مکمله ترجماني کوي، دا ځکه چې په دې کې هم د مور درې حقوقو ته اشاره شوې ده، يعنې همدې مور دومره تکليف تير کړی دی، دا يې په ګېډه کې وساته، خواري او کوښښ يې وکړ، د هغه روزنه يې وکړه، تی يې ورکړ، نو د محبت د درې برخو مستحقه مور ده او د يوې برخې مستحق پلار دی(القرني، ۱۳۹۲).

**څلورم مطلب: په اسلام کې د خور حقوق**

اسلام په ځانګړي ډول د وينې د اړيکې له خپلوانو سره د ښه چلند زيات ټينګار کړی دی، په سورت التوبه کې الله جل جلاله فرمايلي دي:[وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ](سورت التوبه: آيت ۷۱). ژباړه: مومنان سړي او مومنانې ښځې د يو بل ملګري دي(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ۱۱۰۳).

په پورتني آيت کې د اولياؤو نه مراد دا دی، چې يو بل ته پناه ورکوونکي، اوږه ورکوونکي او د يو بل ساتونکي يعني د يو بل خور و ورور دي. خورګانې د وراثت حقدارې دي، الله جل جلاله خورګانو ته په وراثت کې برخه ټاکلې ده. په سورت النساء کې الله جل جلاله فرمايلي دي:[فَإِن كَانَ لَهُۥٓ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ

السُّدُس ](سورت النسأ: آيت۱۱). ژباړه: که چيرې ورونه خويندې يې پاتې وي، نو د مور شپږمه برخه کېږي(اسماعيل بن عمرو، ۱۴۱۹هـ ق).

**څلورم مبحث: په اسلام کې د ښځو قانوني حقوق**

د الله جل جلاله په وړاندې د ښځو او نارينه‌و حقوق برابر دي، شريعت چې څرنگه د نارينه‌و د حقوقو محافظ دی، همداسې د ښځو د حقوقو هم حفاظت کوي. که چيرې يو نارينه کومه ښځه وژني، هغه ته به هماغه جزا ورکول کېږي، کومه چې د سړي د وژلو په بدل کې ښځې ته ورکول کېږي، يعنې د وژلو په بدل کې وژل يا قصاص. په قرآنکريم کې په سورت البقره کې الله جل جلاله فرمايلي دي:[**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى ۖ الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنثَىٰ بِالْأُنثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ**](سورت البقره: آيت۱۷۸). ژباړه: اې مؤمنانو! ستاسې لپاره د قتل په بدل کې د قصاص حکم ليکل شوی دی، که اصلي قاتل وي له هماغه اصلي نه دې بدل واخيستل شي، که غلام قاتل وي، نو هماغه غلام دې ووژل شي، که ښځه قاتله وي، نو له هماغې ښځې څخه دې قصاص واخيستل شي. هو! که له کوم قاتل سره د هغه وژل شوی ورور څه نرمي کولو ته تيار وي، نو په دې توگه دې د قتل د بدل په باب اقدام وشي او پر قاتل باندې لازمه ده، چې په صداقت سره ديت ورکړي(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ۱۲۸ ـ ۱۲۹ ـ ۱۳۰).

په دې صورت کې روښانه ده، که چيرې قاتله ښځه وي، نو همدا به قصاص کېږي. اسلامي قانون د قصاص په اړه داسې نه دی، چې وگوري، مجرم سړی دی، که ښځه؟ د سترگې په بدل کې سترگه، د پوزې په بدل پوزه، د غوږ په بدل کې غوږ د قصاص حکم دی. که چيرې د مقتول وارثه کومه ښځه وي او هغه قاتل وبخښي او ديت اخيستلو ته تياره شي، نو شريعت د دې د منلو حکم هم کوي. که چيرې د مقتول په وارثانو کې په دې معامله کې اختلاف وي، د ځينو نظر دا وي، چې قاتل دې قتل کړل شي؛ خو ځينې د ديت په اخيستو بخښلو ته تيار وي، نو (د وارثې ښځې نظر ته په احترام) خلکو ته پکار دي، چې د قصاص په نظر عمل وکړي. په قرآن شريف کې په سورت المائده کې د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی:[والسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ ](سورت المائده: آيت۳۸). ژباړه: که غل سړی وي او که ښځه، د دواړو لاسونه پرې کوئ، دا د هغوی د عمل بدله ده او د الله جل جلاله له اړخه ټاکل شوې جزا ده(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ٦٣٦).

**لومړی مطلب: په اسلام کې د ښځو د شاهدۍ مسئله**

په اسلامي شريعت کې د ښځو د شاهدۍ د منلو امر شوی دی، اسلام ښځو ته څوارلس نيم سوه کاله وړاندې دا حق ورکړی دی؛ خو د شلمې پيړۍ په اتمه لسيزه کې د يهودو يو مشر بيان ورکړ، چې په دې اړه غور کوو، چې ښځو ته د شاهدۍ حق ورکړو، که نه؟

### دويم مطلب: د ښځې پر ضد د درواغو تور پورې کولو سزا

په سورت نور کې الله (ج) فرمايلي دي:[وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا](سورت النور: آيت۴). ژباړه: او هغه خلک چې په پاکلمنو ښځو تور پورې کړي او بيا څلور شاهدان پرې وړاندې نه شي کړای، نو هغوی اتيا دورې ووهئ او بيا هيڅ کله د هغوی شاهدي مه منئ (د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۲، ۲۸۹).

په اسلام کې د وړوکي جرم لپاره دوه او د لوی جرم لپاره څلور شاهدان وړاندې کول ضروري دي، تور لګول په پاک لمنو ښځو لوی جرم دی، نو د دې تور د ثابتولو لپاره څلور شاهدان ټاکل شوي دي؛ خو نن سبا عام وګړي په رسنيو کې د ښځو د رسواکولو داسې کيسې ګوري، چې هېڅوک د ښځو د رسواکولو هيڅ موقع له لاسه نه ورکوي؛ ليکن د دوی پر ضد هيڅ قانوني اقدام نه کېږي، چې تاسې پر ښځو تورونه ولګول، دا رښتيا دي که درواغ. تر دې پورې چې ښځې د تحفو په شکل وړاندې کوي او کنځل ورته کوي، خو د دې برعکس که څوک په اسلامي رياست کې په ښځه باندې دا ډول تور پورې کړې، هغه به محکمې ته څلور شاهدان وړاندې کوي، که څلورو کې د يو شاهدي هم غلطه وي، دې ټولو ته به اتيا اتيا دورې سزا ورکول کېږي او په راتلونکې کې به د دوی شاهدي نه منل کېږي. په اسلام کې د ښځې د پاک لمنی په اړه ډېر تاکيد شوی دی (عارفی، ۱۳۹۹هـ ش).

### پنځم مبحث: په اسلام کې د ښځو اقتصادي حقوق

اسلامي شريعت ښځو ته څوارلس نيم سوه کاله مخکې اقتصادي حقوق ورکړي دي، اسلام هرې ښځې ته چې بالغه وي، که واده شوې وي، يا نه، د شتمنی درلودو حق ورکړی دی، د شيانو په اخيستو او خرڅلاو کې مکمله آزادي لري، په دې کې هېڅوک د لاسوهنې حق نه لري. په ۱۸۷۰م کال کې انګلينډ په لومړي ځل ښځو ته د شتمنی درلودو او په آزاده توګه د رانيولو او خرڅلاو حقوق ورکړل، همدا رنګه دا اعزاز د غرب نه وړاندې د اسلام په برخه دی او اسلام ښځو ته پوره اقتصادي حقوق ورکړي دي.

نو که چېرې يوه ښځه چې عاقله او بالغه وي، که واده شوې وي، يا نه، د شتمنی درلودو حق لري، همدارنګه د شيانو په اخيستو او خرڅلاو کې مکمله آزادي لري، چې دا ازادي به د شريعت او قانون خلاف نه وي، په دې کې هيڅوک د لاسوهنې حق نه لري، خو يوه خبره دا ده، چې ذکر شوې کړنې به په حجاب کی تر سره کوي (مطهری، ۱۳۴۶هـ ش).

**لومړی مطلب: په اسلام کې د ښځو پر کار حقوق**

په اسلامي شریعت کې د ښځو پر کارکولو هېڅ بندیز نشته، په قرآنکریم او مبارکو نبوي احادیثو کې هېڅ داسې ذکر نشته، چې ښځې یې له کاره منعه کړې اوسي، خو په دې شرط چې غیر قانوني نه وي او له اسلامي او شرعي حدودو څخه پکې سرغړونه نه وي شوې. لباس یې هم اسلامي حجاب سره سم وي، دا خو طبیعي خبره ده، چې کومه ښځه اسلامي حجاب مراعتوي، هغه داسې کار نه خوښوي، چې مقصد ترې خلکو ته د هغې د ښکلا او جسم ورښودل وي. د مثال په ډول په فلمونو کې کار کول، سندرې ویل او همدا راز نور زیات شمیر کارونه داسې دي، چې د ښځو او نارینه وو دواړو لپاره منعه دي، یا په هوټل کې د ښځو کارکول دا هم منعه دي، همدارنګه سودي ادارو یا بانکونو کې کارکو ل د ښځو او نارینه وو دواړو لپاره حرام او ناروا دي(صاحبزاده، ۱۳۹۸هـ ش).

**دویم مطلب: کوم کارونه د ښځو لپاره غوره او ښه دي**

په یوې رښتینې اسلامي ټولنه کې د ښځو لپاره د نرسۍ، ډاکټرۍ او استادۍ دندې ښې دي، ځکه چې مور ته د ښځو ډاکترانو، قابله ګانو، نرسانو، او ښځو استادانو ډېر زیات ضرورت دی، خو پر دې خبرې پوهیدل په کار دي، چې په ښځه باندې د کور د کفالت هیڅ مالي بوج نشته؛ بلکه دا پیټی یې د نارینه‌و په اوږو اچولی دی او نارینه مکلفیت لري، چې د خپلې کورنۍ لپاره نفقه برابره کړي؛ خو د اړتیا په صورت کې ښځه کولای شي، چې کار وکړي، البته په ښځه باندې هیڅ جبر نشته او دا د هغې خپله خوښه ده، چې کار کوي، که نه، له پورتنیو کارونو پرته ښځه په خپل کور کې هم کار کولای شي. د ساري په توګه خیاطي او نور داسې کارونه او همدارنګه په هغو فابریکو او وړو صنعتونو کې هم کار کولای شي، په کومو کې چې یوازې ښځېنه کارکوونکې کار کوي، دا ځکه چې اسلام مسلمانو ښځو او نارینه‌و ته د دې اجازه نه ورکوي، چې دوی سره ګډ کار وکړي.

ښځې لوی تجارت هم کولای شي، خو که چېرې کوم بل هېواد ته د تللو ضرورت پیدا شي، نو کولای شي، چې د ورور یا پلار او یا میړه، یا زوی سره یوځای سفر وکړي ( ابن عابدین، ۱۱۹۸هـ ق).

**دریيم مطلب: په اسلام کې د ښځو لپاره ځانګړي انعامونه**

د اسلام په مبارک دین کې د ښځو لپاره ځانګړې اقتصادي اسانتیاوې شتون لري، دا طبیعي خبره ده، چې د واده په وخت کې د ناوې راوستو لپاره د هلک کورنۍ د نجلۍ کور ته ورځي او د خاوند له کوره جهیز، د خپلوانو تحفې او له میړه څخه مهر ښځې ته ورکول کیږي.

په قرآنکريم کې الله (ج) فرمايلي دي:[وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً](سورت النسأ: آيت۴). ژباړه: او ورکوئ تاسې ښځو (خپلو) لره مهرونه د هغو په ورکړه له خوشحالۍ سره (چې فرض شوی دی له طرفه د الله ج پر تاسې)(د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ۴۲۸).

په اسلام کې د واده د مکمليدو لپاره د ښځې مهر ضروري دی، خو دا ډېره د خواشينی خبره ده، چې موږ د قرآنکريم له امر نه تېوکې جوړې کړې دي، ډېری خلک ډېرې کمې روپۍ د مهر لپاره ټاکي، چې حتی د مهر اطلاق هم پرې نه کېږي او وايي، د اسلام پر وړاندې مو غاړه خلاصه شوه، خو د دې پر خلاف پر ودونو دومره بې ځايه مصارف کوي، چې حساب يې نه کېږي، په يو رواج باندې په لکونو روپۍ مصرفوي، په اسلام کې د مهر کم نه کمه او زيات نه زياته اندازه نه ده ټاکل شوې، کوم سړی چې د واده په غيرشرعي مراسمو باندې لکونه روپۍ مصرفولای شي، نو په کار ده، چې د هغو د ميرمنې مهر هم زيات وي. په اکثرو اسلامي هېوادونو کې داسې رواجونه ليدل کېږي، چې مهر هسې په نوم ټاکل شوی وي او د دې پر خلاف د نجلۍ د پلار له کوره هم تمه کېږي، ځينې وختونه د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته د سامان ليستونه هم ورکوي، ترڅو ناوې له ځان سره د مېړه کور ته يخچال، تلويزيون او داسې نور شيان راوړي، خير دی که د نجلۍ پلار د دې سامان د پوره کولو لپاره له نورو څخه پورونه هم واخلي. ځينو سيمو کې د هلکانو نرخونه هم ټاکل شوي وي، د انجينر، ډاکټر، قاضي، څارنوال او اقتصاد پوه بېل بېل نرخونه وي، حال دا چې په اسلام کې د هلک له اړخه د جهيز غوښتنه حرامه ده، خو که چېرې د نجلۍ کورنۍ په خپله خوښه نجلۍ ته څه‌ناڅه جهيز ورکوي، يا نور څه د کور سامان ورته اخلي، نو په دې کې کوم حرج نشته، خو د نجلۍ کورنۍ مجبورول حرام کار دی(مطهری، ۱۳۴۶هـ ش).

**څلورم مطلب: په ميراث کې د ښځو حقوق**

اسلامي شريعت له وړاندې ښځو ته د وراثت حق ورکړی دی، په هر حالت کې ښځه که مور، خور، مېرمن يا لور وي، په وراثت کې د حق لرلو حقداره ده، په دې کې د هيڅ ډول شکونو ځای نه دی پاتې. الله جل جلاله په قرآنکريم کې د وراثت ټول حکمونه په څرګنده بيان کړي دي او په قرآنکريم کې يې ورته اندازه هم ټاکلې ده.

ښځې له نارينه‌و څخه په دې خاطر وروسته ذکر شوي، چې د بشريت ستر لارښود حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پر وينا عمل وشي (لقوله عليه السلام: أخروهن من حيث آخر هن الله تعالی). ژباړه: ښځې وروسته کړئ، ځکه چې الله تعالی له سړيو وروسته کړې دي(المرغيناني، ۱۳۹۲).

ښځينه ذوی الفروض اته (۸) تنه دي، چې له زوجې، لور، د زوی لور که څه هم ښکته وي، خور برابره ده که اعياني وي، علاتي وي او که اخيافي، مور، او نيا څخه عبارت دي(رحيمزی، ۱۳۹۳).

د پیغمبر (ص) په زمانه کې هرې ښځې خپل مالکانه حیثیت پېژانده او په خپله یې چې هر قسم تصرف پکې کاوه، خاوند یا خپلوانو یې په کې مداخله نه کوله.

حضرت عبدالله بن مسعود یو غریب سړی و، میرمنې یې هغه ته وویل: پیغمبر (ص)د د صدقې کولو حکم کړی، ته یو ځل ورشه، پوښتنه ورځخه وکړه، چې دا جایزه ده، چې زه تا ته(خپل خاوند عبدالله ته) خپل مال نه صدقه درکړم او که جایز نه وي، چې بیا یې بل چاته ورکړم؟ حضرت عبدالله بن مسعود (ض) ورته وویل: ته خپله ورشه، نو حضرت زینب رضی الله عنها په خپله ورغله، د نبي (ص) کور ته یوه بله ښځه هم د همدغې پوښتنې لپاره راغلې وه، خو د نبي (ص) حضور ته د ورتلو جرائت یې نه درلود. دا وخت حضرت بلال (رض) راووت، نو هغه ته یې وویل: پیغمبر (ص) ته ورشه، ورتهووایه، چې دوه ښځې راغلې دي، دا پوښتنه لري، چې له خپل مال نه په خپلو میړونو او په هغو یتیمانو چې کفالت یې ورپه غاړه دی، صدقه کول جایز دي، که نه؟ حضور (ص) وفرمایل: بلې! جایز دي؛ بلکې د هغوی لپاره دوه ثوابه دي، یو د خپلولۍ او بل د صدقې(رحیمزی، ۱۳۹۳).

**شپږم مبحث: په اسلام کې د ښځو سیاسي حقوق**

د رسالت په زمانه کې ښځو په سیاسي امورو کې برخه اخیسته او هغوی ته سیاسي اختیارات حاصل وو. د اسلام دښمنانو کافرانو ته یې پناه ورکوله او رسول الله (ص) ته د هغوی پناه ورکول منظور او قابل تنفیذ و. په سیاسي امورو کې یې مشوره ورکوله او له هغوی څخه مشوره اخیستل کیده. د سیاسې مجرمینو د قتل او عفوې په باره کې هغوی پیغمبر (ص) ته خپله رایه ورکوله، د نارینهو په شان په هغوی جهاد فرض نه و؛ لیکن بیا هم ځینو ښځو په شوق او اخلاص سره په جهاد کې برخه اخیسته. د زخمیانو علاج او تداوي یې کوله، د جنګ ډګر ته یې اوبه رسولې، شهیدان یې د جنګ له میدان څخه مدینې منورې ته رسول. د جنګ په محاذ کې یې مجاهدینو ته غشي او مرمۍ ورکولې، د خوراک او څښاک په برابرولو کې یې مرسته ورسره کوله، د ضرورت په وخت کې یې قبرونه هم ایستل. مجاهدینو ته یې همت او غیرت ورکاوه او د دښمن په مقابل کې یې هغوی ته حوصله ورکوله(المرغیناني، ۱۳۹۲).

**لومړی مطلب: په اسلام کې ښځه د جګړې په ډګر کې ونډه اخیستلای شي**

د احد په غزا کې څو مسلمانې ښځې په یو ګروپ کې سره شریکې وې، حضرت عایشې رضي الله عنها او د انس (رض) مور ام سلیم رضي الله عنها زخمیانو ته اوبه ورکولې. د انس (رض) وینا ده، چې ما حضرت عایشه او خپله مور ام سلیم ولیدل، چې د اوبو مشک یې په سرو، رایې وړلو او زخمیانو ته یې اوبه ورکړې.

په بخاري شریف کې یو بل حدیث دی، چې د ابو سعید خدري (رض) مور ام سلیط به د احد په غزا کې د اوبو مشک ډک راووړ او زخمیانو ته به یې اوبه ورکولې.

**لومړی جز: د ام عماره شجاعت او سخته مقابله**

په دغو نازکو حالاتو کې چې کله کافرانو یو ناڅاپه شکست وخوړ او مسلمانان د غنیمت په راټولولو مصروف شول، د کافرانو یو جنګي ګروپ د شا له طرف نه راغی او خورا سخته حمله یې وکړه، په جنګ کې لګیا مجاهدین چې یو ناڅاپي له حملي سره مخ شول او د دغسې شرایطو مهارول ورته مشکل و، بالاخره خواره واره شول. پیغمبر (ص) دغه وخت صرف له یو څو تنو سرښندونکو صحابه کرامو سره پاتې و، چې په دې وخت کې ام عمارې رضي الله عنها ځان پیغمبر (ص) ته راورساوه او خپل ځان یې سپر جوړ کړ. کافرانو به چې کله په پیغمبر (ص) حمله راوړه، هغې به په نیزه او توره دفاع کوله، ابن قیمه چې کله په رسول الله (ص) باندې یرغل کاوه، ام عماره رضي الله عنها ورمخته شوه، ابن قیمه په هغې باندې د تورې ګوزار وکړ، په اوږه باندې ډېره ژوره زخمي شوه، بیا هم هغې په دغه کافر څو مسلسل ګوزارونه وکړل؛ خو ابن قیمه دوه زغرې اغوستې وې، ځکه یې څه اثرورباندې ونه کړ (المرغیناني، ۱۳۹۲).

**دویم جز: د حضرت صفیې رضي الله عنها له خوا د یهودي جاسوس وژل**

د خندق په غزا کې چې حضرت صفیې رضي الله عنها په کوم زړورتوب سره یهودي قتل کړ، د یهودیانو د حملې د شنډولو لپاره یو بهترین تدبیر و، چې تفصیل یې دا دی. د خندق په غزا کې چې کله کافرانو د خپل لښکر په واسطه مدینه منوره له درې خواوو محاصره کړه، نو د دفاع په خاطر په هره خوا کې د مسلمانانو سرښندنې ته اشد ضرورت و، دغه وخت د ښځو د حفاظت لپاره د (قارع) کلا غوره شوې وه، چې د انصارو له ډېرو مضبوطو کلاګانو څخه وه، غالبا چې د حضرت حسان (رض) کلا وه او د ساتنې لپاره یې هم حضرت حسان مؤظف شوی و.

دغه کلا د یهودو د بنو قریظه قبیلې له آبادۍ سره پیوسته وه، هغوی چې کله ولیدل، چې ټول مسلمانان له رسول الله (ص) سره دفاع کې مصروف دي، نو د ښځو په دغې کلا باندې د حملې په نیت ورغلل او یو یهودي د دغې کلا مخې ته ورسید، په کلا باندې یې د حملې خیال درلود، حضرت صفیې رضي الله عنها چې کله ولید، نو حضرت حسان (رض) ته یې وویل: ورښکته شه او یهودي ووژنه، که نه نو دغه یهودي به لاړ شي او نور به راخبر کړي. حضرت حسان (رض) د دغه کار یعنې د یهودي له وژلو معذرت وړاندې کړ او ویې ویل: که زه د دې کار وای، بیا به دلته ولې پاتې وم؟ بالاخره حضرت صفیې (رض) د خیمې یو لرګی راواخیست، ورښکته شوه او یهودي یې په ډېر زور سره په سر وواهه، یهودي وغورځید او بیرته کلا ته راغله، حسان ته یې وویل: چې اوس ورشه، د هغه اسلحه او سامان راوړه. حضرت حسان (رض) بیا ورته وویل: زما دغو څیزونو ته هیڅ ضرورت نشته، حضرت صفیې رضي الله عنها ورته وویل: ښه نو لاړ شه، د هغه سر ورنه پرې کړه او لاندې یې ورغړوه، چې یهودیان ووېرېږي او فکر وکړي، چې

کلا محفوظه ده. حضرت حسان (رض) دا هم ونه کړه، بلاخره هغه په خپله لاړه او سر یې ورځینې پرې کړ، لاندې یې ورغړاوه. یهودیان پوه شول، چې کلا کې څه مسلح ساتندویان شته، نو زړونو کې یې رعب پریوت، په کلا یې حمله ونه کړه(کاظم، ۲۰۰۵م).

**دویم مطلب: په اسلام کې د ښځو د رایې ورکولو حقوق**

د ښځو دا حق د بیعت له لفظ نه معلومیږي، په بیعت کې د پیغمبر (ص) او د خلفاء راشدینو په وخت کې سړیو او ښځو دواړو برخه اخیستې ده. د بیعت لغوي معنا عهد او پیمان دی، یا دا چې له خلیفه او امیر سره د اطاعت او وفادارۍ تړون کول. په نبوي سپیڅلي دور او د راشده خلافت په وخت کې د دې معاهدې نښه د لاس ورکول و او د ښځو لپاره اکثره د اوبو په لوښي کې لاس ایښودل د بیعت په معنا و، په داسې حال کې چې د امیر لاس به هم په اوبو کې ایښی و. د بیعت کوونکي له خوا به د اطاعت او فرمان منلو ژمنه کېده او د امیر له خوا به د قرآن او سنتو د پیروۍ او حاکمیت، د رعیت د خیر خواهۍ، د عدل او انصاف قایمولو او نورو مهمو ذمه واریو د سرته ر سولو عهد او تړون ترسره کیده. د ا دوه اړخیز تړون به په مصافحې (لاس ورکولو) سرته رسیده. حضرت محمد(ص) نه یوازې د الله جل جلاله پیغمبر و؛ بلکې د اسلامي ریاست مشر هم و، نو د حضرت محمد (ص) بیعت په اصل کې د رایې حق و، کوم حق چې اسلام ښځو ته ورکړی دی، د مکې د فتحې په وخت کې هم رسول الله (ص) له ښځو څخه بیعت اخیستی و(النووی، ۱۳۷۱).

**درېیم مطلب: په اسلام کې ښځې په قانون جوړولو کې ونډه اخیستلای شي**

په یو مشهور روایت کې راغلي دي، چې حضرت عمر (رض) په زیات مهر ټاکلو باندې د جزا ورکولو وړاندیز وکړ، په دې چې خلکو به د زیات مهر له وجې واده نه کاوه. دا وړاندیز یې په یوه غونډه کې وکړ، په دې غونډه کې ګن شمیر صحابه کرامو او ښځو اصحابیانو هم ونډه اخیستې وه، په دې کې یوې ښځې خپل نظر داسې څرګند کړ، چې په قرآنکریم د مهر څه مشخصه اندازه نه ده ټاکل شوې، نو عمر (رض) څوک دی، چې په دې بندیز لګوي؟ د قرآنکریم دا مبارک آیت یې تلاوت کړ: [وَإِنْ أَرَدتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيئًا](سورت: النسأ، آیت ۲۰). ژباړه: او که تاسو (په ښه توګه ګوزاره نه شئ کولای) د یوې ښځې پر بله ښځه بدلول غواړئ او تاسو هغې ته دولت هم زیات ورکړی وي، نو هیڅ څیز ترې بیرته مه اخلئ(د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ۴۴۸).

د ذکر شوي آیت په اورېدو حضرت عمر (رض) پښېمانه شو او خپل وړاندیز یې بیرته رد کړ، ویې ویل: چې دا ښځه رښتیا وایي. غالب ګومان دا دی، چې هغه یوه عامه ښځه وه، که چېرې کومه مشهوره ښځه وای، بیا به یې په روایت کې نوم راغلی و. د حضرت عمر (رض) په شان جلیل القدر صحابي د یوې

ښځې د دلیل له امله له خپل وړاندیز څخه لاس په سر شو، دا ځکه چې قرآن د مسلمانانو قانون دی، یعنې څرګنده او روښانه ده، چې ښځې په قانون جوړولو کې د رایې حق لري، خو د یادولو وړ ده، چې ښځې باید جدا مجلس ولري، له سړو سره ګډه ناسته د اسلام خلاف عمل دی(تهانوي، ۱۴۲۵).

**اووم مبحث: په ټولنه کې د ښځو پر وړاندې ځینې ناسم دودونه**

**لومړی مطلب: د ښځو پلورل**

د هېواد په ډېرو سیمو کې په ښځو باندې د حیواناتو په شان قیمت ایښودل کېږي، د نورو اړخونو له سنجش پرته زیاتو پیسو والا خطبه کونکي حقدار ګڼل کېږي، هماغه بیا مستحق خریدار دی او نجلۍ ورکول کېږي، چې همدا د ولور د زیاتوالي وجه جوړېږي، له همدې امله بیا د ولور کچې په ډېرو سیمو کې دومره لوړې وي، چې د زیاتره ځوانانو په وس پوره نه وي، د پیسو ګټلو لپاره خوارۍ مزدورۍ کوي او نورو هیوادونو ته په مسافرۍ مجبور شي، چې په نتیجه کې د هلک او نجلۍ دغه فطري تقاضا د جوش او شباب ډېره برخه په محرومیت کې تیره شي. کله خو تر واده وروسته هم له مشکلاتو خلاص نه وي او د قرض دروند پیټی یې پر سر وي، کور او وطن یې پرې ایښی وي، نورو وطنونو کې د قرض خلاصولو په تلاش کې ډېرو شاقه کارونو کې لګیا وي، د نوي ژوند او خوږو خاطرو هغه ډکه مرحله بیلتون کې تېره شي، د ولور د لعنت په وجه له مشروع خواهشاتو او ارمانونو څخه محروم وي، خو له بده مرغه پلار، ورور د خپلې لور او خور په ولور خپل جیبونه ډکول د ځان لپاره کمال او افتخار ګڼي او په هغې بله خوا یې چې په نجلۍ له خاوند او د هغه له کورنۍ سره د نه توافق له امله څه تېرېږي، هېڅ پروا نه وي(نور محمدی، ۱۳۸۹).

**دویم مطلب: په بدو کې د نجونو ورکول**

زموږ په ټولنه کې پر ښځو باندې یو ظلم دا کېږي، چې کله د دوو کورنیو او یا قومونو ترمنځ په یو شي اختلاف او نزاع واقع شي او دې حد ته ورسېږي، چې وژنه پکې رامنځته شي، له یوې خوا نه یا دواړو خواوو څخه څوک پکې ووژل شي، بیا د دغې مسئلې د حل لپاره د قوم مشران او ځینې علماء راټول شي، د دوی ترمنځ روغه جوړه وکړي، چې له کومې کورنۍ څخه څوک وژل شوي وي، نو د هغه دیت او بدو لپاره څه اندازه روپۍ او یوه یا دوه نجونې د مقتول وارثانو ته په هغه بل جانب خلکو باندې بړدي، نو داسي فیصلې کول یو ناروا او حرام عمل او د اسلامي شریعت خلاف کار دی، بیا ټول عمر هغه کور کې په دغې نجلۍ باندې قسما قسم ظلمونه کېږي(کاظم، ۲۰۰۵م).

**درېیم مطلب: د خواښې او خسر له خوا په انګور رواجي ظلمونه**

زموږ او ستاسو په ټولنه کې عموما یو بد رواج دا هم دی، چې کله یوه نجلۍ خپل کور ته د ناوې په توګه راوستل شي، نو د ناویتوب نه څو ورځې وروسته د کور ټول کارونه هغې ته ورپه غاړه کړي، خواښې او

اندرورګانې او نورې ښځې همدغه کور ته نوې راغلې ښځه د اخلي پخلي او د کور د ټولو کارونو مسؤله ګڼي او د ټولو تر منت او احسان لاندې وي.
انګور د خپل خاوند د پلار او مور په خدمت مکلفه ګڼل کېږي، چې له دې امله انګور د خپل خاوند په کور کې له زیاتو ستونزو او رواني مشکلاتو سره مخ کېږي، ځکه خواښې او خسر هغه د خپل ځان یوه خادمه ګڼي، اګر چې د یو مسلمان خدمت خو ښه کار دی؛ مګر د هغې مصروفیتونه دومره زیات وي، چې هېڅ حد یې نه وي، له دې امله چې هغوی خپل ځان حقدار ګڼي، نو که انګور بیچاره څومره هم د اکرام او احترام له مخې ورسره چلیږي؛ بیا هم قانع نه وي او له هغې سره د تهدید، فشار او توبیخ چلند کوي. ډېر ځله خبره شور او جنجال ته رسیږي، د هغې خاوند هم د خپلو والدینو په خدمت او د هغوی د کافي رضایت په ترلاسه کولو ښځه مجبوره ګڼي، نو که مور او پلار یې له هغې سره څومره ظلم او بد سلوک کوي، دا د هغوی حق ګڼي؛ بلکه که مور او پلار یې هغه ته د هغه د ښځې نه شکایت کوي، نو بغیر له پلټنې او معلوماتو نه هغې ته زجر او سزا ورکوي. حال دا چې د خپلو والدینو په خدمت کې د هغوی خپل زوی مکلف دی، انګور خو د هغوی د زوی ښځه ده، د هغه په حق او حقوقو ادا کولو ماموره ده، انګور د دغه ډول مکلفیت څخه شرعا بري ده؛ بلکې په خپل خاوند حق لري، چې تر ممکنه حده د هغې لپاره د هغې د خوښې مطابق د ژوند امکانات برابر کړي او د هر ډول منت، احسان او جبر او تشدد څخه اګر که د هر چا له خوا ورباندې وي، د هغې د ژغورلو معقوله لار ولټوي(مارسلډن، ۱۳۸۹).

**اتم: د ښځو د شرعي حقوقو د خوندیتوب په موخه کې د اسلامي امارت نوښتونه**

دا چې د هیواد زیاترو سیمو کې دغه شان بې انصافي عامه او له پیړیو را په دې خوا د رواج او دستور بڼه غوره کړې وه، خلک ورسره کاملا عادي وو، حتی خواص هم د ښځو په باب د دغه شان ظلمونو په مخنیوي کې پاتې راغلي وو، صرف په ژبه به په ځینو محفلونو کې پرې بحث کیده، چې ښځو سره دغه ظلم روان دی؛ خو د عملي اقدام وس چا سره نه و، له همدې مخې کله چې د افغانستان د اسلامي امارت نظام په ټول افغانستان کی حاکم شو او د شرعي احکامو د تنفیذ او قیام، او په ټولنه کې د امن په وجه د اکثریت خلکو له خوا یې ملاتړ وشو، نو په ښځو باندې د دغه شان څرګندو ظلمونو د مخنیوي په هکله د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله (۸۳ج ۱) ګڼه، ۲۷/ ۴/ ۱۴۴۳هـ ق فرمان صادر شوی، چې داسې صراحت لري:
د اسلامي امارت مشرتابه مقام ټولو اړونده مسوولینو، علماءی کرامو او قومي مشرانو ته هدایت کوي، چې د ښځو د لاندینیو حقونو د تحقق په خاطر جدي اقدامات وکړي:
۱ ـ د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی (چې نکاح له کف سره وي، د فتنې او فساد خطر به هم نه وي)، هېڅوک یې په جبر او اکراه پر نکاح کولو نه شي مجبورولای.
۲ ـ ښځه مال نه؛ بلکې اصیل انسان دی، هیڅوک یې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نه شي ورکولای.

۳ـ د مېړه تر وفات وروسته چې شرعي عدت یې تېر شي، کونډه نه لیور ځان ته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده (چې د کف اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په پام کې نیول شوی وي).
۴ـ له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.
۵ـ ښځه د مېړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې د میراث حق او ثابت سهم لري، په فرضیت یا عصبیت سره هېڅوک یې د خپل حق څخه نه شي بې برخې کولای.
٦ـ کوم څوک چې متعدد ودونه لري، مکلف دي، چې ټولو ښځو ته له شرعي حکم سره سم حقونه ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي(د اسلامی امارت عدلیې وزارت، ۱۴۴۳هـ ق).
لاندې ادارې او وزارتونه دې په ځانګړي ډول په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي:
۱ـ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته حکم دی، چې د ښځو د حقونو اړوند د هدایاتو په هکله علماءی کرام او خطیبان وهڅوي، ترڅو د خپلو خطبو او موعظو له لارې خلک پوه کړي، چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی د حقونو نه ورکول د الله تعالی د نارضایتی او د هغه د عذاب او قهر سبب ګرځي.
۲ـ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې هم د خپلو وسایلو له لارې د ښځو د حقونو اړوند ترغیبي او ترهیبي ګڼور مطالب په تحریري او صوتي بڼه په دوامداره توګه نشر ته وسپاري، د ګڼورو رسالو تکثیر او اشاعت ته دې د فن او استعداد خاوندان هڅوي، تر ممکنه حده دې ځینې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسایلو څخه په استفاده چاپوي، ترڅو د ښځو د شرعي حقونو په هکله د علماءی کرامو توجه جلب، پوهاوی عام او د روان ظلم مخنیوی اسانه شي.
۳ـ د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محکمو ته هدایت صادر کړي، څو د ښځو خصوصآ د کونډو د حقونو او پر هغوی د ظلمونو اړوند عریضې یې په اصولي ډول واخلي او په هکله یې غفلت ونه کړي، ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو په برخه کې له مایوسی سره مخ نه شي.
۴ـ والیان او ولسوالان دې د یادو وزارتونو او سترې محکمې سره د فرمان د تطبیق په برخه کې هراړخیزه همکاري وکړي( د اسلامی امارت عدلیې وزارت، ۱۴۴۳هـ ق).

**پایله**

ښځه د بشري ټولنې یو داسې جز دی، چې له حق او حقوقو څخه یې سترګې نه شي پټېدلای. د اسلامي په مبارک دین کې ښځو ته خورا زیات او پرځای حقوق ورکړل شوي دي، چې دغه حقوق د ښځو د حیثیت مطابق په جلا جلا برخو کې روښانه او څرګند دي. لکه یو ښځه د څلورو حیثیتونو څښتنه ده، یا مور ده، یا خور، یا مېرمن او یا لور. د دغه هر حیثیت لپاره په اسلامي شریعت کې د ښځو لپاره ځانګړې لارښوونې په ډاګه شوې دي.
د لور لپاره اسلامي شریعت د هغې د ښې روزنې او پالنې جدي سپارښتنه کړې ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو مبارکو ویناوو کې د دوو لورګانو څښتنې مور او پلار ته د جنت زېری ورکړی دی.

دغه راز د مېرمنې لپاره په اسلامي شریعت کې خورا زیات ځانګړي حقوق په نظر کې نیول شوي دي. لکه د مهر حق، د نفقې حق، د استوګنې د هوسا ځای حق او داسې نور حقونه. همدارنګه د بنې او دویمې ښځې یا د نورو ښځو په شتون کې د مېرمنو ترمنځ د عدالت په نظر کې نیول هم د مېرمنو له حقوقو څخه ګڼل کېږي.

خور هم د ښځېتوب یو حیثیت دی. په اسلامي شریعت کې د خور لپاره هم ځانګړي حقوق په نظر کې نیول شوي دي. په دغو ټولو حیثیتونو کې یو ځانګړی او د لوړ مقام حیثیت د مورتوب حق دی، چې الله تعالی له مور او پلار سره نېک چلند تر عباداتو وروسته په جدي اوامرو کې ځای کړی دی. همدارنګه د مور لپاره تر ټولو ستر ویاړ دا دی، چې جنت یې د مور تر پښو لاندې ګرځولی دی، د دې دا معنا ده، چې د مور خدمت یوازینی مورد دی، چې د جنت ګټلو سبب ګرځېدای شي.

سره له دې د ښځو لپاره د رایې او د هغوی له خوا په قانون جوړونه کې د ونډې اخیستو حق هم اسلام د پام وړ ګرځولی دی. بل خوا په ټولنه کې هغه ناسم رواجونه هم د غندنې وړ ګرځول شوي، چې د اسلامي شریعت له اوامرو سره په ټکر کې دي، لکه په بدو کې د نجونو ورکول، د نجونو لوړ ولور او د خوابنې او د خسر د کورنۍ له خوا پر ښځو نور ظلمونه. دغه راز د اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله د اصلاحي فرمان هغه نکات هم راوړل شوي، چې د ښځو په اړه پکې اړوندو ارګانونو ته د جدي سپارښتنې یادونه شوې ده.

**وړاندیزونه**

په اسلامي شریعت کې د ښځو د حقوقو د څېړنې پر مهال بنده یو څه اړتیاوې درک کړې دي، هیله ده، چې اړوندو اشخاصو او ذیصلاح ارګانونو ته ورسېږي او غور پرې وکړي.

۱ ـ په ټوله کې د افغانستان اسلامی امارت او بیا په خاص ډول د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندیز کوم، چې د هیواد د ټولو پوهنتونونو کتابتونونه په اسلامي په تېره د ښځو د حقوقو په اړه د اسلامي شریعت د احکامو پر اثارو غني کړي.

۲ ـ د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو زده‌کړیالان دې د خپلو علمي سویو د لوړاوي په خاطر د قوانینو او اسلامي شریعت په پرتله او مقارنه کار وکړي.

۳: دا چې فعلاً د اسلامی امارت نظام د ښځو د حقوقو په اړه د نړیوالو سره په مقابله کې دی، نو زما وړاندېز دا دی، چې د اسلامي امارت نظام دې د ښځو د حقوقو په اړه د اسلامی شریعت په رڼا کې عامه پوهاوی خپور کړي، ترڅو د خلکو او نړیوالو ذهنونه د اسلامي شریعت له مخې د ښځو د حقوقو په اړه روښانه شي.

۴ ـ دغه راز د فقې ډېر کتابونه چې لیکل شوي، اکثره یې په عربي ژبه دي، له مجربو او په عربي ژبې حاکمو استادانو څخه تقاضا کوو، چې د پښتو ژبې د غني کیدو لپاره دې د عربي ژبې کتابونه پښتو ته وژباړي.

۵ـ د اسلامي امارت نظام ته وړانديز کوم، چې د شريعت او قانون په چوکاټ کې دې د ښځو حقه حقوق هغوی ته ورکړي، ترڅو ښځې له خپلو شرعي او قانوني حقوقو څخه برخمنې شي.

## مأخذونه

**قرآنکريم**

اسماعيل بن عمرو. (۱۴۱۹هـ ق). تفسير القرآن العظيم (ابن کثير). چاپ اول. ناشر: دار الکتب العلميه، بيروت.

تهانوی، محمد اشرف علي. (۱۹۸۷م). احکام القران. جلد ۵. خپرندويه ټولنه: ادارة القران و العلوم الاسلامية.

خالد، دوکتور عمرو. (۲۰۲۱م). د ښځې مقام په اسلام کې. خپرندويه ټولنه: صادق امرخيل. پشاور پاکستان.

د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله. (۱۴۱۴هـ ق). کابلی تفسير. جلد ۱. د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قران کريم د طباعت لپاره.

د عدليې وزارت رسمي جريده. (۱۴۴۴هـ ق). د افغانستان اسلامي امارت د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله فرمانونه، حکمونه او لارښونې. پر له پسې نمبر (۱۴۳۲).

دادگر، عبدالهادي. (۱۳۹۲هـ ش). حقوق زن در اديان مختلف. خپرندويه ټولنه: مشغل کتاب فروشی. کابل. افغانستان.

الدار القطنی، ابوالحسن. (۳۸۵هـ). سنن الدار القطنی. نشر: بغداد. العراق.

الذهبي، شمس الدين. (۱۹۸۵م). سير أعلام النبلاَ. ژباړه: شعيب الانور، چاپ ۱، خپرندويه ټولنه: موسسه الرساله. بيروت.

رحمتی، صفت الله. (۲۰۱۱م). په اسلامي ټولنه کې د ښځو د حقوقو او ارزښتونو ساتنه. نشر. بينوا خپرندويه ټولنه. کابل. افغانستان.

رحيمزی، حسام الدين. (۱۳۹۳هـ ش). د ميراث حقوق د اسلامي فقهې او د افغانستان د مدني قانون له انده. خپرندويه ټولنه: مومند خبرندويه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

سليمان بن احمد. (ت ۳۶۰هـ). المعجم الکبير. محقق: محمدی بن عبدالله. جلد۲. نشر: مکتبه ابن تيميه. القاهره.

شيراز آغا. (۱۴۳۵ هـ ق). په اسلام کې د ښځو حيثيت. چاپ: لومړی. خپرندويه ټولنه: ميهن ناصر باغ. پشاور. پاکستان.

صاحبزاده، جمال. (۱۳۹۸هـ ش). ښځه او ټولنيزه خپلواکي. خپرندويه ټولنه: جمال خپرندويه ټولنه، پشاور. پاکستان.

عارفی، محفوظ الله. (۱۳۹۹هـ ش). اصول محاکمات مدنی. چاپ۲. خپرندویه ټولنه: یار خپرندویه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

العسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد. (۱۴۱۵هـ). الإصابة في تميز الصحابة. جلد۸. نشر: دار الكتب العلمية. بيروت.

غبار، میر غلام محمد. (۱۳۹۰هـ ش). افغانستان در مسیر تاریخ. ج ۳، نشر: مرکز نشراتي میوند، کابل.

فضلی، نجم الرحمن.(۲۰۱۵م).سیرت محمد رسول الله.خپرندویه ټوله:الفضل خپرندویه ټولنه.کابل. افغانستان.

القرنی،عائض بن عبدالله.(۱۳۹۲هـ ش). پر نقوآ ولاړه کورنی. ژباړه. جعفر.هاند. خپرندویه ټولنه: ختیځ خپرندویه ټولنه. جلال آباد. افغانستان.

کاظم، سید عبدالله.(۲۰۰۵م). زنان افغان زیر فشار عنعنه و تجدد. نشر: کلیفورنیا.

مارسډن، پیټر.(۱۳۸۹هـ ش). جنگ، مذهب و نظام جدید در افغانستان. ژباړه: کاظم. فیروزمند. نشر: تهران مرکز. تهران.

المرغيناني، برهان الدين، على ابن بكر.(۱۳۰۴هـ ش). الهدایه. جلد:۱، نشر: مکتبه الحقانیه. پشاور. پاکستان.

مومند، نصیرالله. (۱۳۹۸هـ ش). مسلمانه ښځه مظلومه نه ده، نېکمرغه ده. خپرندویه ټولنه: استقلال. پېښور پاکستان.

نایک، ډاکټر ذاکر.(۱۳۸۷هـ ش). مسلمانه ښځه بد مرغه نه ده نیک مرغه ده. ژباړه: امان الله. امانی.خپرندویه ټولنه: میهن ناصر باغ. پشاور. پاکستان.

النسائي، الإمام أبي عبد الرحمن أحمد بن شعيب.(۲۰۱۱م). السنن الكبرى لنسائي. جلد.٦. نشر. مؤسسة الرسالة.

نور محمدي، غلام رضا.(۱۳۸۹هـ ش). نفی خشونت علیه زنان له نگاه علم و دین. نشر:مرکز امو زنان و خانواده. تهران.

النووی، یحیی بن شرف الدین.(۱۳۷۱هـ ش). شرح الاربعین النوویه في الاحادیث الصحیحه النبوی. نشر: مطبعه الاستقامه بالقاهر.

نیشابوری، مسلم بن حجاج.(۱۳۴۳هـ ق). صحیح مسلم: ۱۱۱۴/۲؛ مسند أحمد حنبل: ٥٦٣/٧؛ طبقات إبن سعد.

# د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې د ستونزو څېړنه

پوهنمل سیف الله غروال او پوهنمل عصمت الله زیار، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیې څانګه.

بربښنالیک: gharwalsaifullah@gmail.com, asmatullah.zair@gmial.com

**لنډیز**

تاریخ د هرې ټولنې په هویت جوړونه او د ملي ارزښتونو په پالنه او پیاوړتیا کې ډېره مهمه ونډه لري؛ دې ټکي ته په پام سره اړینه ده، چې د دې مضمون تدریس او زده کړې ته ځانګړې پاملرنه وشي او پر وړاندې یې ټول خنډونه له منځه ولاړ شي؛ خو لیدل کېږي، چې د هېواد په تعلیمي ادارو کې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې ډېرې ستونزې موجودې دي، چې هم ښوونکي او هم زده کوونکي ورسره مخ دي. بناً د دې څېړنې اصلي موخه دا ده، چې د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې شته ستونزې او ننګونې راټولې او تحلیل شي. دا ساحوي څېړنه د خوست ولایت په مرکزي ( دولتي او خصوصي) لېسو کې سرته رسیدلې ده. نمونه یې په هدفي ډول د تاریخ ښوونکي دي. د موخې په اساس توصیفي او د معلوماتو له مخې ګډه څېړنه ده. معلومات یې د(SPSS 23)په مرسته تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې ښیي، چې د تاریخ په تدریس کې ښوونکي د علمي سېر، تمثیل(رول پلې) او پروژې مېتودونو څخه ګټه نه اخلي، د درسي وسایلو په برخه کې له تعلیمي ټکنالوژۍ، مستندو فلمونو او تاریخي اطلسونو څخه د نه شتون له امله استفاده نه کېږي او د درسي چاپېریال په برخه کې ښوونکي له کاري فشار سره مخ دي، مناسب عاطفي او رواني محیط شتون نه لري او ښوونکیو ته د ظرفیت لوړونې برنامې تر دې مهاله په لاره نه دي اچول شوې. سربېره پر دې تر لاسه شول، چې د (۲۶) ښوونکیو له جملې څخه یوازې پنځه تنه یې د تاریخ رشتې مسلکي او (۲۱) تنه یې غیر مسلکي دي. په ټولګیو کې د زده کوونکو شمېر زیات دی او د درسي کتابونو په محتوا کې تسلسل نه دی مراعت شوی.

**کلیدي ټکي:** خوست ولایت، تاریخ، تدریس، د تدریس نوي مېتودونه، درسي وسایل، درسي چاپېریال.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم. الحمد لله رب العلمین. والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی رسوله الکریم وعلی اله واصحابه اجمعین، و امابعد.**

انسان هغه موجود دی، چې نه یوازې د تېر په اړه فکر، تحلیل او شننه کوي، له هغې څخه ترلاسه کړې تجربه د حال په زمانه کې کاروي او د راتلونکي په وړاندوینې سره خپل راتلونکی انځوروي. همدارنګه د دې توان هم لري، چې د نورو له تاریخ او تجربو څخه درس واخلي او له هغې څخه د حال او راتلونکي په جوړونه کې استفاده وکړي. سربېره پر دې، انسانانو تل هڅه کړې، چې د بېلابېلو تګلارو او وسایلو په کارونې سره خپله پوهه، تجربه او ارزښتونه وروستیو نسلونو ته انتقال کړي او هغوی له خپل تېر تاریخ څخه خبر کړي.

د تاریخ زده کړه په هر هېواد کې د هویت جوړونې او د ملي ارزښتونو په پالنه کې مهمه ونډه لري. د داسې موضوعاتو او مسایلو زده کړه باید په ښه ډول صورت ونیسي، تر څو زده کوونکي له خپل تېر تاریخ سره ژوره اړیکه پیدا کړي.

د اسلام سپیڅلی دین هم موږ ته د تاریخ د زده کړې او ارزښت په اړه ښکاره لارښوونې لري. الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایلي دي:« قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسيرُوا فِى الْأَرْضِ فَانْظُروا كَيْفَ كانَ عاقِبَةُ الْمُكَذِّبينَ» (الا عمران: ۱۳۷). ژباړه: ستاسې څخه مخکې ډېرې دورې تېرې شوي دي، په ځمکه کې وګرځئ او راوګرځئ، وګورئ چې هغه وګړي له کوم برخلیک سره مخامخ شول، چې ( د الله تعالی حکمونو او لارښوونو ته ) یې د دروغو نسبتونه وکړل.

د تاریخ د دومره اهمیت سربېره، لیدل کېږي، چې په ښوونځیو کې د هغې له زده کړې سره د زده کوونکو ترمنځ د علاقې کچه ډېره لږه ده. داسې لیدل کېږي، چې ښوونکي د تاریخ په تدریس کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ دي، چې دا په خپله د تاریخ له زده کړې سره د علاقې د کموالي لامل کېږي.

ددې لپاره چې د تاریخ په تدریس کې شته ستونزې په ګوته او د حل لیارې ورته پیدا شي، نو یوې هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا ده. دا څېړنه د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو د تشخیص لپاره ترسره شوې ده، چې د تدریس اړوند درې عمده برخو یعنې، ۱- درسي مېتودونه، ۲- درسي وسایل او ۳- درسي چاپېریال په ځان کې رانغاړي.

### د څېړنې موخې

اصلي موخه: د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ په تدریس کې د اړونده ستونزو تشخیصول.

**فرعي موخې**

۱- د تاریخ په تدریس کې د نویو درسي مېتودونو څخه د ګټې اخیستنې معلومول

۲- د تاریخ په تدریس کې د اړینو درسي وسایلو معلومول

۳- د تاریخ په تدریس کې د مناسب درسي چاپېریال په اړه پوهېدل

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه:** آیا د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې د تاریخ د تدریس پر وړاندې ستونزې شته؟

**فرعي پوښتنې**

۱- آیا د تاریخ په تدریس کې د نویو درسي مېتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي؟

۲- آیا د تاریخ په تدریس کې له اړینو درسي وسایلو څخه ګټه اخیستل کېږي؟

۳- آیا د تاریخ د تدریس لپاره مناسب درسي چاپېریال شته؟

**د څېړنې تګلاره**

دا ساحوي څېړنه د خوست ولایت په مرکزي (دولتي او خصوصي) بېلا بېلو (۲۰) لېسو کې ترسره شوې ده. په نوموړې څېړنه کې تاریخ ښوونکي په هدفي ډول ټاکل شوي دي، چې شمېر یې (۲٦) تنو ته رسېږي. موجوده څېړنه د موخې له مخې توصیفي او د معلوماتو له مخې ګډه څېړنه بلل کېږي. د دې څېړنې معلومات د پوښتن لیک له مخې راټول شوي او د SPSS 23 په مرسته تحلیل شوي دي.

**د څېړنې مخینه**

د افغانستان په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې او د هغې د تدریس پر وړاندې د ستونزو په اړه کومه ځانګړې څېړنه نه ده ترسره شوې، له دې امله یوازې له هغو څېړنو څخه یادونه کوو، چې په دې برخه کې د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې ترسره شوې دي، د بېلګې په توګه: په (۲۰۱٦) کې د ګانا هېواد په (عالي لېسو کې د ښوونکو له نظره د تاریخ په تدریس کې ستونزې) ترعنوان لاندې ترسره شوې څېړنه، دې پایلې ته رسیدلې ده، چې د تاریخ درسي نصاب د پلې کولو لپاره مادي او انساني سرچینې ډېرې کمې دي او په ټولګیو کې د زده‌کوونکو شمېر له معیاري حد څخه ډېر زیات دی. دا څېړنه د دې وړاندیز کوي، چې واحد درسي نصاب باید رامنځ ته شي، ترڅو له هغې ټاکلې مودې سره برابر شي، چې د هغې د ختم لپاره ټاکل شوې ده او د تاریخ د زده کړې د پرمختګ لپاره اړینې انساني او مادي سرچینې برابرې شي(Boadu,2016). یوه بله څېړنه، چې د تانزانیا د کیګوما سیمې په منځنیو ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې په اړه ترسره شوې ده. دا څېړنه د تاریخ د زده کړې او ښوونې اهمیت او د تدریس د مېتودونو په اړه د ښوونکو درک او پوهې او همدا ډول د تاریخ د زده کړې په اړه د زده کوونکو پوهه او د تاریخ په زده کړه کې په ستونزو متمرکزه ده. د دې څېړنې موندنې دا ښیي، چې ښوونکي د منځنیو ښوونځیو زده

کوونکو لپاره د تاریخ زده کړه ډېره مهمه بولي او دا مني، چې د تاریخ په تدریس کې معلم محوره مېتود څخه گټه اخېستل کېږي. همدا ډول ښوونکو د تاریخ په تدریس کې مختلفې ستونزې په گوته کړې دي، چې د هغوی له جملې څخه د زده کړه ییزو موادو کموالی او د تاریخ په تدریس کې له انگلیسي ژبې څخه گټه اخیستنه شامله وه(Namamba, A., & Rao, 2017). برونو ژفره او شیرالي په (۲۰۰۳) کال کې د نویو ښوونیزو مېتودونو په رڼا کې د تاریخ په زده کړه کې د موجودو ستونزو په اړه څېړنه ترسره کړه او د جان ډیوي د ښوونیزې نظریې پر اساس یې یو موډل رامنځ ته کړ(Bruno Jofre & Schiralli,2002). ویجایا ساري او همکارانو یې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې د موجودو ستونزو له څېړنې څخه وروسته د تاریخ د زده کړې لپاره د نوي ښوونیز موډل په جوړولو بریالي شول( Wijayasari & et al, 2020). د ایران هېواد په پوهنتونونو کې د تاریخ د زده کړې د ستونزو او خنډونو تر عنوان لاندې څېړنې پایلې دا څرگندوي، چې د ایران په پوهنتونونو کې د تاریخ په زده کړه او تدریس کې د تحول د نه رامنځ ته کېدو اصلي لامل په پخوانۍ او مروجه طریقه د تاریخ تدریس دی، یعنې لاهم د ایران په پوهنتونونو کې تاریخ په نویو درسي مېتودنو سره نه تدریس کېږي( فتحي، ۱۴۰۰). د (په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې وضعیت ته یوه کتنه) تر عنوان لاندې یوه بله څېړنه چې په ایران کې ترسره شوي، دا څرگندوي، چې د تدریس په زده کړه کې په درې عمده برخو کې ستونزې شتون لري، چې عبارت دي، له د درسي کتابونو محتوا، درسي مېتودونه او د ارزونې مېتودونه(چنگاني، ۱۳۹۹). همدا ډول د ایران په هېواد کې (د ښوونکو د ژوندیو تجربو له مخې د منځنۍ دورې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو تحلیل) تر عنوان لاندې ترسره شوې څېړنې موندنې ښیي، چې: د منځینو ښوونځیو د تاریخ مضمونونو نصاب بیا کتنې ته اړتیا لري او د دې دورې په ښوونیزو ستونزو کې د درسي کتابونو محتوا لویه ونډه لري؛ ځکه چې د یادو کتابونو درسي مطالب یوازې پېښې انتقالوي او د پېښو پر تحلیل باندې ډېر لږ تمرکز لري او همدا رنگه د تاریخ په تدریس کې له نویو درسي مېتودونو څخه تر ډېره گټه نه اخیستل کېږي او معلم محوره مېتود باندې ډېر تمرکز کېږي( بابایي و صالحي، ۲۰۲۴).

**د تدریس تعریف**

د تدریس په اړه بېلابېل تعریفونه شتون لري، چې یو څو بېلگې یې په لاندې ډول وړاندې کوو:

په تاریخي توگه او د عامو وگړو له نظره تدریس د بیان یا ابلاغ (Imparting) له مهارت او پوهې څخه عبارت دی او د خواصو له لوري د تاریخ په اړه یو شمېر علمي تعریفونه شوي دي، د بېلگې په توگه، گیج (۱۹٦۳) تدریس د اشخاصو ترمنځ د اړیکو یوه بڼه او شکل بولي او وايي، چې دا اړیکه د ځانگړو مېتودونو او طریقو له لارې ترسره کېږي(Gage, 1963, p. 94).

امیدون او هانټر تدریس یو تعاملي پروسه گڼي، چې لومړنۍ بڼه یې په درسي ټولگي کې د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ خبرو کول دي، چې یادې خبرې د بشپړ تعریف شویو فعالیتونو په تر سره کولو سره صورت نیسي (Amidon & Hunter, 1966).

د ډېرى علماوو او پوهانو له انده تدریس د منظم او موخه لرونکي پلان پر اساس د زده کوونکي په کړنو کې د مثبت بدلون رامنځ ته کولو لپاره د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ دوه اړخیزه کړنو او تعامل څخه عبارت دی. په تدریس کې مختلف مفاهیم لکه: تمایلات، چلندونه، باورونه، عادتونه، د کړنو طریقې او په عام ډول ټول هغه بدلونونه، چې غواړو د زده کوونکي په وجود کې یې رامنځ ته کړو شامل دي. د تدریس په تعریف کې څلور مهمې نقطې شتون لري:

الف: د زده کوونکي او ښوونکي ترمنځ د تعامل شتون.

ب: له مخکې ټاکل شوې پوهنیزې موخې، مهارتونه او د پوهې د ترلاسه کولو تګلاره.

ج: امکاناتو او موقعیت ته په کتو د منظم پلان شتون.

د: د زده کړې اسانتیاوو او فرصتونو رامنځ ته کول(غوري، ۲۰۱۵)

په لنډه توګه ویلای شو، تدریس د یو منظم او موخه لرونکي پلان له مخې د زده کوونکي په کړنو کې د مثبت بدلون رامنځ ته کولو په موخه د ښوونکي او زده کوونکي ترمنځ د متقابل عمل دی. ښوونکی باید له محتوا وروسته د تدریس مناسب مېتود وټاکي؛ څکه د یو غوره او مناسب مېتود ټاکنه له زده کوونکو سره مرسته کوي، ترڅو درسي موخو ته ورسیږي(ملکشاهي و شاهرخي، ۱۴۰۲، ص ۸۳).

**د تاریخ د زده کړې اهمیت**

تاریخ په عمومي او کلي مفهوم سره، د تېرو وختونو محتوا په ګوته کوي او په مختلفو ژبو کې ور څخه مختلف تعبیرونه شوي دي. لغت پوهان د تاریخ د کلمې له مفهوم څخه ډېر تعبیرونه لري، د بېلګې په توګه د (فرهنګ عمید) لیکوال داسې لیکي: « د تاریخ کلمه د یو شي د وخت ټاکنې، د وخت پېژندنې، د هغې زمانې ساتنه، چې په هغې کې یوه مهمه پېښه رامنځته شوې وي، د پخوانیو خلکو ژوند او پېښو بیان، معلوم وخت او معلومې زمانې څخه عبارت دی» (حسن، ۱۳۶۲، ص۲۹۳). په لغت نامو او دایرة المعارفونو کې د تاریخ کلمې لپاره دوه ډوله تعریفونه موندل کېږي: لومړی تېر یا څه چې پخوا تېر شوي دي یعنې د تېر مطالعه او یا د هغو پېښو مطالعه چې پخوا تېر شوي دي. د دې تعریف له مخې ویلای شو، تاریخ د هغو پېښو ټولګه ده، چې په تېرې زمانې پورې اړه لري. په دویم ډول تعریف کې تاریخ له هغه کړنې یا هڅې څخه عبارت دی، چې هماغه په تېرې زمانې پورې اړوند پېښو ټولګه راپېژني. باید یادونه وکړو، چې تاریخ په تېر پورې اړوند د ټولو پېښو مطالعه نه کوي؛ بلکې یوازې هغه پېښې څېړي، چې په انسانانو پورې اړه ولري( ګل محمدي، ۱۳۹۸).

د ابن خلدون له انده تاریخ د پېښې او د هغې د رېښې په اړه پوهیدنه او څېړنه او د هغې د اصلي لاملونو له پېژندنې څخه عبارت دی او داسې یوه پوهه ده، چې د پېښو څرنګوالی او د هغوی د پېښیدو اصلي لاملونه څېړي، له همدې امله تاریخ له حکمت او فلسفې څخه سرچینه اخلي او ددې حق لري، چې د فلسفې له برخو څخه وشمېرل شي(ابن خلدون، ۱۳۳۶، ص ۲).

ابن خلدون د تاریخ په اړه ځینې نظریې لري، لکه هغه وایي، چې «د تاریخ محرک جغرافیایي چاپېریال دی» همدا ډول وایي، چې « تاریخ د بېلابېلو ټولنیزو پېښو ټولګه ده او د تاریخ عیني او ذهني لاملونه له

یو او بل سره تر دې کچې نږدې دي، چې له یو او بل څخه جدا کېدای نه شي»(محمود،۱۳۷۷، ص۱٦).
ډاکټر مبارک علي په ډېر ساده ډول تاریخ داسې راپېژني: « تاریخ د بشري خوځښتونو د مطالعاتي مشاهدې نوم دی» او یا دا چې: «د تېر مهال د انسان د کارنامو د ثبتولو نوم تاریخ دی»( مبارک علي، ۱۳۸۵.ص۱۷).

له علمي اړخه تاریخ د یوې علمي څانګې په توګه له دوه ډوله ارزښت څخه برخمن دی. اول د تاریخ ښوونیز او زده کړه ییز ارزښت دوهم د تاریخ معرفتي(علمي) ارزښت. د تاریخ زده کړه او ښوونه په خپل ځان کې بېلا بېل ارزښتونه لري، لکه: د ټولنې د وګړو د پوهې او ذهن په جوړولو، د تاریخي کلتورونو او تمدنونو په پېژندلو، ټولنې د افرادو ته د هویت په ورکولو، د ټولنې وګړو ته د تاریخي- کلتوري میراثونو په لېږدولو او همدا ډول د حال او راتلونکي په اړه د پوهې او معلوماتو په برابرولو کې اسانتیاوې رامنځ ته کوي. له علمي او معرفتي اړخه هم تاریخ خپل ځانګړی ارزښت لري، چې د هغې په وسیله کولای شو، اقتصادي، سیاسي، ټولنیزې، حقوقي، کلتوري او جغرافیایي پدیدې په ژوره توګه تحلیل او وڅېړو. بناً تاریخ د انساني او ټولنیزو پدیدو د څېړلو، توصیف او طبقه بندۍ په خدمت کې دی.(نجاتی حسینی، ۱۳۸۲، ص ۱۵۸).

قرآنکریم هم انسان څوارلس ځلې د تاریخ مطالعې ته رابللی دی( اوه ځلې د امر او اوه ځله یې د پېښو په اړه په پوهېدنه او پوښتنه ټینګار کړی دی) او هر ځل یې انسانان تقریباً په څمکه کې د ګرځېدلو او د تېرو ملتونو د حالاتو په اړه پوهېدنې ته دعوت کړي دي( پرهون، ۱۳۸۲،ص ۳٦).
د تاریخ د زده کړې اړتیا او ارزښت په دریو حوزو کې په لاندې ډول ښیو:

**الف- تاریخ او هویت:** که چېرې د هر وګړي پېژندپاڼه د هغې فردي هویت وبولو؛ نو کولای شو، چې تاریخ د ملي هویت هنداره وبولو. د هویت کلمه د یو چا د پېژندلو په مفهوم دی او دا د بشر یوه اړتیا ده، چې په ټولنه کې خپل نوم او پېژندنه ولري. تاریخ هم د هر ملت د ملي هویت په رامنځ ته کولو کې ځانګړې او حساسه ونډه لري. د یو ملت د هویت رېښې د هغه په تاریخ کې شتون لري او ملي هویت د هغې ساقې په څېر دی، چې د یو ملت ټولې کلتوري څانګې پر هغې باندې تکیه وي(زردند، ۱۳۹۴، ص ۲۸). په لنډ ډول ویلای شو، چې تاریخ هویت جوړونکی علم دی.

**ب- تاریخ او ملي یووالی:** انسان د ځمکې پر مخ آزاد پیدا شوی دی او تل یې هڅه کړې، چې خپلواک ژوند وکړي. د خپلې خپلواکۍ لپاره یې مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې له هېڅ ډول سرښندنې څخه ډډه نه ده کړې. د هغو هېوادونو وګړي خپل تاریخ ویاړمن بولي، چې د خپلواکۍ او آزادۍ په لاره کې یې له ځانه مېړانه او شهامت ښودلی دی. د وطن پالنې دا حس د تاریخ له برکته دی، چې له تېرو نسلونو څخه نویو نسلونو ته انتقال شوی دی او بالاخره د هغه ملت د ملي یووالي باعث ګرځېدلی دی، د وطن پالنې او خپلواکۍ احساس په هغوی کې ژوندی پاتې شوی دی او دا د همدې تاریخ برکت دی، چې د یو ملت معنوی او ملي ښکلاوې راتلونکو نسلونو ته انتقالوي( بهار خوګیانی، ۱۳۹۱، ص ۸۹). په دې

مانا، چې د تاریخ په اوږدو کې یوه ټولنه یوه مشترکه ماضي لري، چې په هغې کې بریالیتوبونه او ماتې شاملي دي، چې دا د هغوی ترمنځ د ملي یووالي لامل کېږي. یاد موارد تاریخ په خپل ځان کې ساتي او نور ته یې انتقالوي(چنګایي، ۱۳۹۹).

**ج- تاریخ او عبرت اخیستنه:** د تاریخ پېښنو پر مطالعې باندې ټینګار د دې لپاره کېږي، ترڅو د تمدنونو د راپورته کېدو، د قومونو او ملتونو د عروج او زوال لاملونو، د انقلابونو د رامنځ ته کېدو او د تاریخي بدلونونو له زده کړې څخه د عبرت درس واخلو. قرآنکریم هم په ځمکه د ګرځېدلو تاکید کوي، چې اصلي موخه یې همدغه د تاریخ مطالعه ده( پایدار، ۱۳۸۰، ص ۹).

تاریخ او د هغې پېښنو ته پاملرنه کول، انسان ته د دې موقع برابروي، ترڅو له هغه کړنو څخه عبرت واخلي، چې نورو ترسره کړي دي. دا چې ابن خلدون په خپل کتاب باندې د «کتاب العبر» نوم ایښی دی، معلومېږي، چې هغه تاریخي تجربو ته څومره ارزښت ورکړی دی. که څه هم تاریخي پېښې په جزیاتو کې له یوې او بلې سره توپیر لري؛ خو هغه لاملونه، چې د دې پېښو د رامنځ ته کېدو لامل شوي دي، له یو او بل سره ډېر توپیر نه لري؛ په دې اساس د یو قوم تاریخ د بل قوم لپاره ګټور تامیدلی شي. په حقیقت کې تاریخ تېرې تجربې زموږ اوسنیو تجربو ته پرمختګ ورکوي او د ټولنې د ښیرازۍ او پرمختګ لامل کېږي( زرین کوب، ۱۳۷۵، ص ۷).

**د تاریخ د تدریس مېتودونه**

د تاریخ دتدریس لپاره ځانګړي مېتودونه شتون نه لري؛ بلکې په بېلابېلو شرایطو کې د بېلابېلو موضوعاتو د تدریس لپاره له بېلابېلو مېتودونو ګټه اخېستل کېږي. دا هم شونې ده، چې موضوع ته په کتو په یو درسي ساعت کې په پرلپسي توګه څو مېتودونه وکارول شي. هغه څه چې د درسي مېتود په ټاکنه او ګټه ا خېستنه کې اهمیت لري، دا ده، چې د ښوونکي او زده کوونکو ترمنځ سمه دوه اړخیزه اړیکه او په زده کوونکو کې انګېزه رامنځ ته کړي او موضوعات د اوږد مهال لپاره د هغوی په حافظه کې پاتې شي. د تاریخ په تدریس کې عمومي مېتودونه عبارت دي له: توضیحي مېتود( لیکچر)، د سوال او ځواب مېتود، د فیلم ننداره، د تمثیل( رول پلې) ترسره کول، د علمي سیر مېتود او د بحث ( مناظرې) مېتود (احمدي و احمدي، ۱۳۹۷، ص ۲۷).

**د څېړنې موندنې**

| د زده کړو کچه | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| بکلوریا | ۱ | ۳,۸ |
| نیمه لوړې زده کړې | ۳ | ۱۱,۵ |

| | | |
|---|---|---|
| لیسانس | ۲۲ | ۸۴,٦ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |

(۱) ګڼه جدول

له پورته لومړی ګڼه جدول څخه معلومیږي، چې په دغه څېړنه کې ۲٦ تنو ښوونکیو ګډون کړی دی، چې له یادې جملې څخه یې(۱) بکلوریا، (۳) تنه نیمه لوړې زده کړې او پاتې (۲۲) تنه ښوونکي تر لیسانس کچې زده کړې لري.

| تحصیلي رشته | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| تاریخ | ۵ | ۱۹,۲ |
| دله رشته | ۲۱ | ۸۰,۸ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |

(۲) ګڼه جدول

په دویمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې ۲۱ تنه ښوونکي یې د بدلې رشتې لرونکي دي، یوازې ۵ یې مسلکي دي. دې ارزونې ته په کتو سره ویلی شو، چې د خوست ولایت په مرکزي لېسو کې ۸۰,۸ سلنه ښوونکي غیر مسلکي دي؛ نو ویلی شو چې د ښوونکو غېر مسلکیتوب د تاریخ د تدریس په برخه کې لویه ستونزه ګڼل کېږي.

| د عمر کټګوري | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| ۲۵ -۳۵ | ۱۸ | ٦۹,۲ |
| ۳٦ -۴۵ | ۵ | ۱۹,۲ |
| ۴٦ -۵۵ | ۳ | ۱۱,۵ |
| ۵٦ -٦۵ | ۰ | ۰ |
| ټولټال | ۲٦ | ۱۰۰ |

(۳) ګڼه جدول

په درېیمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې ۱۸ تنه ښوونکي له ۲۵ – ۳۵ کلونو عمر لرونکي دي، چې سلنه یې ٦۹,۲ کېږي.

همدارنګه ۵ تنه ښوونکي د ۳٦- ۴۵ کلونو عمر لرونکي دي، چې سلنه یې ۱۹,۲ کېږي او پاتې ښوونکي چې ۱۱,۵ سلنه کېږي،

د ۴٦- ۵۵ کلونو عمر لرونکي دي.

| د خدمت موده | تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| ۱- ۱۰ | ۱۳ | ۵۰,۰ |
| ۱۱- ۲۰ | ۱۱ | ۴۲,۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۱- ۳۰ | ۲ | ۷,۷ |
| ۳۱- ۴۰ | ۰ | ۰ |
| ټولټال | ۲۶ | ۱۰۰ |

(۴) ګڼه جدول

په څلورمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې ۱۳ تنه ښوونکي د (۱- ۱۰) کلونو پورې، چې سلنه یې ۵۰ کېږي. ۱۱ تنه ښوونکي د (۱۱- ۲۰) کلونو پورې چې سلنه یې ۴۲,۳ کېږي او پاتې ښوونکو یې له (۲۰) کلونو څخه زیات خدمت کړی دی.

| ګڼه | د درسي مېتودونو اړوند پوښتنې | ټولټال | د ځوابونو تکرار | | | | موډ (Mode) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ډېر زیات | زیات | نسبتاً | هیڅ | |
| ۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د سوال او ځواب له مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۹ | ۱۴ | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۲ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې یوازې د لکچر مېتود څخه ګټه پورته کوئ؟ | ۲۶ | ٦ | ۷ | ۱۱ | ۲ | ۳ |
| ۳ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د رول پلې مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۳ | ۳ | ۱۲ | ۸ | ۳ |
| ۴ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د کنفرانس مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۳ | ٦ | ۱۲ | ۵ | ۳ |
| ۵ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د مسئلې حل مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۷ | ۱۰ | ٦ | ۳ | ۲ |
| ٦ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د پروژې مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۴ | ۷ | ۵ | ۱۰ | ۴ |
| ۷ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د مباحثې او مناظرې میتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۴ | ۱۱ | ۹ | ۲ | ۲ |
| ۸ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د علمي سیر مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۲ | ۵ | ۱۱ | ۸ | ۳ |
| ۹ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د پېښو ترمنځ مقایسوي مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۵ | ۱۰ | ۸ | ۳ | ۲ |
| ۱۰ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د داستان ویلو مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۷ | ۸ | ۵ | ٦ | ۲ |
| ۱۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د ګروپي کار مېتود څخه ګټه اخلئ؟ | ۲۶ | ۱۰ | ۱۳ | ۱ | ۳ | ۲ |

(۵) ګڼه جدول

په پنځمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې د مېتود اړوند بېلا بېلو ۱۱ پوهنتې د خوست ولایت مرکز اړوند خصوصي او دولتي لېسو کې (۲٦) ښوونکیو څخه شوې دي، د لومړۍ پوهنتې لپاره (۹) تنو ښوونکیو ډېرزیات، (۱۴) تنو ښوونکیو زیات، (۲) تنو ښوونکیو نسبتاً او پاتې یو تن یې هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. دویمه پوهنتنه د لکچر مېتود اړوند ده، چې د یادو ښوونکیو له جملې څخه(٦) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۷) تنو ښوونکیو زیات، (۱۱) تنو نسبتاً او پاتې (۲) تنو یې د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې موډ یې له (۳) سره برابر دی. دریيمه پوهنتنه د رول پلې ( تمثیل) مېتود په اړه ده، دې پوهنتې ته (۳) تنو ښوونکو د ډېر زیات، (۳) تنو زیات، (۳) تنو زیات، (۱۲) تنو نسبتاً او (۸) تنو هېڅ ځواب ویلی دی، چې موډ یې له (۳) سره سمون خوري. څلورمه شمېره پوهنتې ته (۳) تنو ډېر زیات، (٦) تنو زیات، (۱۲) تنو نسبتاً او (۵) تنو هېڅ ځواب ویلي دی، چې موډ یې له (۳) سره برابر دی. پنځمه پوهنتنه د مسئلې حل مېتود په اړه ده، چې د (۷) تنو ښوونکیو لخوا ورته ډېر زیات، (۱۰) ښوونکیو لخوا د زیات، ( ٦) تنو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې (۲) کېږي. شپږمه ګڼه پوهنتنه د پروژې مېتود په اړه ده. ذکر شوې پوهنتې ته (۴) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۷) تنو زیات، (۵) کسانو نسبتاً او پاتې (۱۰) ښوونکیو لخوا د هېڅ ځواب ورکړل شوی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. اوومه پوهنتنه د مباحثې مېتود اړوند ده. نوموړې پوهنتې ته(۴) تنو ښوونکیو ډېرزیات، (۱۱) تنو زیات، (۹) تنو نسبتاً او پاتې (۲) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. پورته جدول کې د اتمه پوهنتنه د علمي سېر مېتود په اړه ده، چې نوموړې پوهنتې ته (۲) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۵) تنو ښوونکیو زیات، (۱۱) تنو د نسبتاً ځواب ورکړی دی او (۸) تنو ښوونکیو ورته هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۳) سره برابر دی. نهمه پوهنتنه د پېښو تر منځ د مقایسوي مېتود په اړه ده، چې د خوست ولایت مرکزي لېسو ښوونکیو لخوا ځواب شوېده. یادې پوهنتې ته (۵) تنو ډېرزیات، (۱۰) تنو ښوونکیو زیات، (۸) کسانو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. لسمه پوهنتنه د داستان ویلو مېتود په اړه ده، چې د ځواب ورکوونکیو لخوا ورته (۷) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (۸) تنو د زیات، (۵) کسانو نسبتاً او پاتې (٦) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره مساوي دی. یوولسمه پوهنتنه د ګروپي کار مېتود په اړه ده، چې (۱۰) تنو ښوونکیو ډېر زیات، د (۱۳) تنو ښوونکیو زیات، (۱) تن ښوونکي نسبتاً او پاتې (۲) تنو ورته د هېڅ ځواب ورکړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی.

| ګڼه | د درسي وسایلو اړوند پوښتنې | ګډونوال | د ځوابونو تکرار: ډېر زیات | زیات | نسبتاً | هېڅ | موډ(Mode) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د له تختي کار اخلئ؟ | ۲٦ | ۲۲ | ۲ | ۲ | ۰ | ۱ |
| ۲ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له عصري درسي ( کمپیوټر، پروجکټور او سکرین ) وسایلو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۱ | ۷ | ۴ | ۱۴ | ۴ |
| ۳ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې د تاریخي دورو او پېښو په اړه له چارتونو او جدولونو ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۴ | ٦ | ۹ | ۷ | ۳ |
| ۴ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له مستندو ویډیویي فلمونو ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۴ | ۴ | ٦ | ۱۲ | ۴ |
| ۵ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له لارښود کتاب څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ٦ | ۸ | ۸ | ۳ | ۲ |
| ٦ | آیا تاسو په ښوونځي کې معیاري کتابتون شتون لري؟ | ۲٦ | ۱۰ | ٦ | ۷ | ۳ | ۱ |
| ۷ | آیا زده کوونکي د مطالعې لپاره له کتابتون څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۸ | ۱۱ | ۵ | ۲ | ۲ |
| ۸ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس له تاریخي اطلسونو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۲ | ۹ | ٦ | ۹ | ۲ |
| ۹ | آیا تاسو د تاریخ په تدریس کې له نقشو څخه ګټه اخلئ؟ | ۲٦ | ۱۰ | ۹ | ۴ | ۳ | ۱ |
| ۱۰ | آیا ټولو زده کوونکو ته درسي کتابونه رسیدلي دي؟ | ۲٦ | ۱۴ | ۳ | ۷ | ۲ | ۱ |

(٦) ګڼه جدول

شپږمه ګڼه جدول کې په عمومي ډول د درسي وسایلو په اړه پوښتنې شوې دي، چې له دې جملې څخه لومړی پوښتنه د تختې څخه ګټې اخیستنې په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۲۲) تنو ښوونکیو د ډېر زیات، (۲) تنو زیات، (۲) تنو ښوونکیو نسبتاً ځواب ورکړی دی، چې موډ یې له (۱) سره برابر دی. دویمه ګڼه پوښتنه د عصري درسي وسایلو لکه کمپیوټر، پروجکټور او نورو ... په اړه شوې ده، چې (۱) تن ښوونکي ډېر زیات، (۷) تنو زیات، (۴) کسانو نسبتاً او پاتې (۱۴) تنو ښوونکیو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. موجوده جدول کې درېیمه پوښتنه د تاریخي دورو، چارټونو او جدولونو په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۴) تنو ښوونکیو ډېر زیات، (٦) کسانو زیات، (۹) تنو د نسبتاً ځواب، (۷) تنو ښوونکیو د هېڅ ځواب ورکړی دی. د یادې پوښتنې Mode د (۳) سره مساوي دی. څلورمه پوښتنه د مستندو فلمونو په اړه ده. نوموړې پوښتنې ته (۴) تنو ډېر زیات، (۴) کسانو زیات، (٦) تنو نسبتاً او (۱۲) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۴) سره برابر دی. پنځمه

پوښتنه د لارښود کتاب اړوند ده، چې نوموړې پوښتنې ته (٦) تنو ډېر زیات، (۸کسانو زیات، (۸) تنو نسبتاً او (۳) تنو ښوونکیو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۲) سره برابر دی. شپږمه پوښتنه د معیار کتابتون په اړه ده، چې یدې پوښتنې ته (۱۰) تنو ډېر زیات، (٦) کسانو زیات، (۷) ښوونکیو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۱) سره مساوي دی. په همدې گڼه جدول کې اوومه شمېره پوښتنه د کتابتون څخه د استفادې اړوند ده، چې د (۸) تنو ښوونکیو له ډېر زیات، (۱۱) تنو زیات، (۵) ښوونکیو نسبتاً او پاتې (۲) تنه ښوونکیو د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې (۲) کېږي. اتمه شمېره پوښتنه د تاریخي اطلسونو څخه د گټې اخیستنې اړوند ده، چې (۲) تنو ډېر زیات، (۹) کسانو زیات، (٦) تنو نسبتاً او پاتې (۹) ښونکیو ورته هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې (۲) دی. نهمه گڼه پوښتنه د نقشو اړونده ده، چې یادې پوښتنې ته (۱۰) تنو ښوونیکو ډېر زیات، (۹) تنو زیات، (۴) ښوونکیو نسبتاً او پاتې (۳) تنو ښوونکیو ورته د هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې له (۱) سره برابر دی. همدارنگه په (٦) گڼه جدول کې لسمه پوښتنه د درسي کتابونو د رسیدو اړونده، چې (۱۴) تنو ښوونکیو یادې پوښتنې ته د ډېر زیات، (۳) تنو زیات، (۷) کسانو نسبتاً او پاتې (۲) تنو ښوونکیو هېڅ ځواب په نښه کړی دی، چې Mode یې (۱) کېږي.

| گڼه | د درسي چاپېریال اړوند پوښتنې | ټولټال | د ځوابونو تکرار | |
|---|---|---|---|---|
| | | | هو | نه |
| ۱ | آیا تاسو د تدریس لپاره مناسب تعمیرلرئ؟ | ۲٦ | ۲۰ | ٦ |
| ۲ | آیا د طبیعي پېښو له امله درسي بهیر کله د خند او ځنډ سره مخ شوی دی؟ | ۲٦ | ۵ | ۲۱ |
| ۳ | آیا تاسو د تدریس پر مهال د کار له فشار سره مخ یی؟ | ۲٦ | ۲۱ | ۵ |
| ۴ | آیا تاسو ته د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه دیر شوي دي؟ | ۲٦ | ٦ | ۲۰ |
| ۵ | آیا تاو د تدریس لپاره مناسب رواني او عاطفي چاپېریال لرئ؟ | ۲٦ | ۱٦ | ۱۰ |
| ٦ | آیا تاسو د تدریس لپاره مناسب ټولنیز چاپیریال لرئ؟ | ۲٦ | ۱۹ | ۷ |

(۷) گڼه جدول

اوومه گڼه جدول کې بېلا بېلې شپږ پوښتنې موجودې دي، چې د درسي چاپېریال اړوند دی. لومړی پوښتنه د مناسب تعمیر په اړه ده. یادې پوښتنې ته د (۲۰) تنو ښوونکیو لخوا (هو) ځواب او (٦) تنو استادانو د (نه) ځواب ورکړی دی. دویمه پوښتنه د د طبیعي پېښو په اړه ده، چې د (۵) تنو لخوا ورته (هو) او (۲۱) تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. درییمه پوښتنه د کار پر مهال د فشار اړوند ده، چې (۲۱) تنو ښوونکیو ورته د (هو) او (۵) تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. څلورمه پوښتنه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په اړه ده. نوموړې پوښتنې ته (٦) تنو ښوونکیو (هو) او پاتې (۲۰)

تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. پنځمه پوښتنه د رواني عاطفې په اړه ده. یادې پوښتنې ته (۱٦) تنو ښوونکیو (هو) او (۱۰) ښوونکیو ورته د (نه) ځواب ورکړی دی. د پورته جدول وروستی پوښتنه د پوهنتون چاپېریال اړوند ده. نوموړې پوښتنې ته(۱۹) تنو ښوونکیو د (هو) ځواب او پاتې (۷) تنو ښوونکیو ورته د (نه) ځواب رکړی دی. د ذکر شویو پوښتنو تر څنګ یوه خلاصه پوښتنه په پوښتنلیک کې شتون لري، چې د نوموړې پوښتنې په مرسته لاندې ځوابونه تر لاسه شوي دي.

- د تاریخ درسي کتابونو محتوا زیاته او درسي ساعتونه کم ورته په نظر نیول شوي دي.
- د محتوا په املاء او انشاء کې ستونزې موجودې دي.
- محتوا کې د موضوعاتو ترمنځ تسلسل شتون نه لري.
- دولتي ښوونځیو کې زده کوونکي د کتابونو له کمښت سره مخ دي.
- د ځینو تاریخي پېښو نېټې دقیقې نه دي.
- د زده کوونکو د زده کړې انګېزه کمزورې ده.

**مناقشه**

په (۲۰۱٦) مېلادي کال په ګانا هېواد کې د تاریخ په تدریس کې د ستونزو تر عنوان لاندې څېړنې پایلې ښیي، چې د درسي نصاب لپاره انساني سرچینې ( ښوونکي ) کم دي او په ټولګیو کې د زده کوونکیو شمېره له معیاري حد څخه زیاته ده، زموږ څېړنه هم ورته پایلې په ګوته کوي. د تانزانیا د کیګوما سیمې په منځنیو ښوونځیو کې په ۲۰۱۷ مېلادي کال په منځنیو ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې په اړه ترسره شوې څېړنې پایلې ښیي، چې د تاریخ په تدریس کې درسي او زده کړه ییز توکي کم دي، دغه څېړنه د درسي موادو د کمښت په برخه کې ورته پایلې لري. په ۱۳۹۹ کال کې د د ایران هېواد په ښوونځیو کې د تاریخ د زده کړې د وضعیت په اړه ترسره شوې څېړنې پایلې ښیي، چې د کتابونو په درسي محتوا، درسي مېتودونو او د ارزونې مېتودونو کې ستونزې شتون لري، موجوده څېړنه هم د درسي کتابونو په محتوا کې او د تدریس په مېتودونو کې ستونزې مني او زیاتوي چې درسي محتوا زیاته او درسي ساعتونه کم دي. بله څېړنه چې په ۱۴۰۰ کال کې د ایران په پوهنتونونو کې ترسره شوې؛ دې پایلې ته رسیدلې ده، چې د تاریخ په تدریس کې له زړو مېتودونو څخه ګټه اخیستل کېږي، موجوده څېړنه هم ورته پایلې په ګوته کوي.

**پایله**

ستاسو په لاسونو کې موجوده څېړنه د خوست ولایت په مرکزي (دولتي او خصوصي) (۲۰) لېسو کې سرته رسیلې ده، چې د تر لاسه شویو معلوماتو له تحلیل څخه وروسته مو لاندې پایلې تر لاسه کړې. پورته لېسو کې (۲٦) تنه د تاریخ ښوونکي شتون لري، چې (۲۲) تنه یې لیسانس دي. باید واضح کړو، چې له یادو (۲٦) تنو څخه یې (۵) تنه د تاریخ مسلکي او پاتې (۲۱) تنه یې غیرمسلکي ښوونکي دي. همدا ډول د (۵۰) سلنه ښوونکیو د خدمت موده له (۱- ۱۰) کلونو پورې ده. له دې څخه معلومیږي،

چې ډېری ښوونکي د تدریس لږه تجربه لري. باید یادونه وشي، چې په یادو لېسو کې له اووم ټولګي څخه تر دوولسم ټولګي پورې (۱۴۹۳۲) تنه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي. د دې څېړنې په نتیجه کې په نوموړیو ښوونځیو کې د تاریخ په تدریس کې د علمي سېر، تمثیل (رول پلې) او پروژې مېتودونو څخه ګټه نه اخیستل کېږي. همدارنګه په یادو ښوونځیو کې د درسي وسایلو په برخه کې له تعلیمي ټکنالوژۍ (کمپیوټر، پروجکټور او سکرین)، مستندو فلمونو او تاریخي اطلسونو څخه د نه شتون له امله استفاده نه کېږي. موجوده څېړنه کې د درسي چاپېریال په اړه لکه: کاري فشار، مناسب عاطفي او رواني محیط او ښوونکیو ته د ظرفیت لوړونې برنامې په نظر کې نه نیول د ستونزې په توګه په ګوته شوې دي.

**وړاندیزونه**

پورته څېړنه، چې د خوست ولایت په مرکزي لیسو کې د تاریخ د تدریس په وړاندې د ستونزو په اړه ترسره شوې ده، چې د هغې په پایله کې یو شمیر ستونزې په ګوته شوې، چې د څېړنې په پایلیزه کې ورڅخه یادونه شوې ده. ددې لپاره چې یادې ستونزې حل او یا تر یوه بریده حل شي؛نو د پوهنې وزارت او په ځانګړي ډول د خوست ولایت پوهنې ریاست ته لاندې وړاندیزونه لرو.

۱- دا چې اوس مهال د هېواد له بېلابېلو پوهنتونونو څخه د تاریخ مسلکي لیسانس کادرونه فارغ شوي دي، چې ډېر شمېر یې دندې نه لري او یا په نورو کارونو مصروف دي، بناً غوښتنه کېږي، چې په ټولو دولتي او خصوصي لیسو کې دې د تاریخ مسلکي ښوونکي په دندو وګمارل شي، تر څو له یوې خوا په ښوونځیو کې د تاریخ مسلکي ښوونکي ولرو او له بلې خوا به کار اهل کار ته سپارل شوی وي. په همدې ډول له خصوصي لیسو او ښوونځیو له مالکانو هم غوښتنه کېږي، چې د معیاري تدریس په موخه دې، د تاریخ مسلکي ښوونکي جذب کړي.

۲- ښوونکو ته دې په خپل مسلک کې د ظرفیت لوړونې (ورکشاپونه، سیمنارونه.....) پروګرامونه په لاره واچول شي.

۳- په ډېری لیسو کې د زده کوونکو په تناسب د ښوونکو شمېر لږ دی، غوښتنه کېږي، چې د ښوونکو شمېر زیات شي.

۴- د لېسو لپاره دې معیاري تعمیرونه جوړ شي، چې معیاري درسي خوني، معیاري صحن، معیاري او ارامه چاپیریال ولري. همدا ډول یو شمېر خصوصي لیسي په غیرمعیاري ودانیو کې خپلې چارې پرمخ وړي غوښتنه کېږي، چې د خصوصي لیسو مالکان دې د معیارونو مطابق خپلې ودانۍ جوړې کړي.

۵- د تاریخ د عملي زده کړې لپاره دې د تاریخ لابراتوارونه جوړ شي، چې بېلابېلې تاریخي او سیاسي نقشي ، تاریخي انځورونه و، تاریخي اطلسونه، د تاریخي اسنادو ارشیف، تاریخي کتابونه او مستند فلمونه ولري. ددې ترڅنګ د تاریخ لابراتوار دې په نوې ټیکنالوژۍ سمبال شي، لکه: کمپیوټري اسانتیاوې او جغرافیایي معلوماتو سیستمونه (GIS)، چې په یادو اسانتیاوو سره به نه یوازې ښوونکي؛ بلکې زده کوونکي هم نوښتونه رامنځ ته کړي.

٦- د تاریخ په درسي نصاب باندې دې بیا کتنه وشي، ځکه یاد درسي نصاب د یو شمېر محتوایي ستونزو برسېره په ځینو ټولګیو کې د پېښو تاریخي تسلسل نه لري.
٧- دا چې د تاریخ په کتابونو کې د موضوعاتو حجم زیات دی او اوسني درسي ساعتونه نشي کولای، چې د کال تر پایه ټول موضوعات په پوره ډول پای ته ورسوي، بناً غوښتنه کېږي، چې د تاریخ مضمون د درسي ساعتونو شمېر دې زیات شي.

**مأخذونه**

القرآنکریم

ابن خلدون، عبدالرحمان. (١٣٣٦). مقدمه، ابن خلدون. ترجمه: محمد پروین گنابادي، تهران: بنگاه ترجمه و نشر کتاب. https://s6.picofile.com/d/8377295142/c37af3ce-e435-4aa5-8e86-32393f3a8bar

حمدی, احمدی & ,غلامعلی. (١٣٩٧). آموزش؛ آموزش تاریخ ضرورت ها و شیوه های نوین .*رشد آموزش تاریخ* .31-26 ,(20)*69*

بابائی, مظهر, صالحی, پرستو. (٢٠٢۴). تحلیل تجارب زیستهی معلّمان تاریخ از چالش‌های برنامه درسی و آموزش دروس تاریخ متوسطه دوم. *مدیریت و برنامه ریزی در نظام های آموزشی*, *17*(1).

بهارخوگیانی، سید محمد کریم.(١٣٩١). مبادي تاریخ. هند- ممبیي: مطبعه ریپرو اندیا( Repro India Ltd).

پرهون، حسن. (١٣٨٢). ضرورت بازنگري و اصلاح روش های آموزش تاریخ. مجله رشد آموزش تاریخ، شماره ١٣.

چنگایی، مهتاب. (1399). نگاهی به وضعیت آموزش تاریخ در مدارس. پژوهش در آموزش تاریخ، 1(3 )، 83-100.

حسن، عمید. (١٣٦٢). فرهنگ فارسي عمید. تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر.

زردند، علي.(١٣٩۴). روش های تقویت هویت دیني و ملي به کمک درس تاریخ . مجله رشد آموزش تاریخ، شماره دوم، دوره هفدهم. SID. https://sid.ir/paper/374689/fa

زرین کوب، حسین. (١٣٧٥). تاریخ در ترازو. تهران: انتشارات امیر کبیر.

غوري، عبدالغیاث.(١٧ /اکتوبر/ ٢٠١٥). روش های فعال تدریس. Retrieved 9 30, 2024, from . جام غور: https://jameghor.com/article/

فتحی، کوروش. (1400). موانع و چالش های آموزش تاریخ در دانشگاه های ایران. فصلنامه علمی- تخصصی پژوهش در آموزش تاریخ، 2(7 )، 92-107. SID. https://sid.ir/paper/950174/fa

گل محمدی,احمد. (2010). باز تعریف تاریخ سیاسی پیشنهاد برای سامان‌دهی تاریخ سیاسی‌پژوهی. *تاریخ نگری و تاریخ نگاری, 20*(5),107-128.
https://hph.alzahra.ac.ir/article_836_de8ec372d51c4119f7b8df2bee28a6e9.pdf

مبارک علی.(۱۳۸۵). تاریخ او د تاریخ فلسفه.(محمدنوید، ژباړونکی)، لاهور: اکرم پریس

محمود، شاه محمود. (۱۳۷۷). تاریخ نویسي در افغانستان. کابل: ناشر مؤلف.

ملکشاهي، هاشم و سیدعلاءالدین شاهرخي. (۱۴۰۲). در آمدی بر روش های نوین تدریس تاریخ در مدارس کشورهای مختلف. پژوهش در آموزش تاریخ، دوره چهارم، شماره دوم، تابستان ۱۴۰۲، ۸۰- ۹۹.

نجاتی حسینی، سید محمود. (۱۳۸۲). واکاوی هویت تاریخی، تاریخ نگاری و جامعه شناسی تاریخی ایران : مالحظات نظری و روش شناختی، فصلنامه مطالعات ملی؛ 95 ،سال چهارم، شماره 9.
https://www.rjnsq.ir/article_103514.htm

Amidon, E. J., & Hunter, E. (1966). Improving teaching: The analysis of classroom verbal interaction. New York: Holt Reinhart and Winston.

Boadu, G. (2016). Teachers' perceptions of the problems faced in the teaching of History in senior high schools. *Journal of Arts and Humanities*, *5*(7), 38-48.

Bruno Jofre, R., & Schiralli, M. (2002). Teaching history: A discussion of contemporary challenges. Encounters on Education, 3, 117-127.

Gage, N.L. (Ed.). (1963). *Handbook of research on teaching*. Rand McNally: Chicago

Namamba, A., & Rao, C. (2017). TEACHING AND LEARNING OF HISTORY IN SECONDARY SCHOOLS: HISTORY TEACHERS'PERCEPTIONS AND EXPERIENCES IN KIGOMA REGION, TANZANIA. *European Journal of Education Studies*.

Wijayasari, E., Wati, K., & Winarsih, M. (2020). Challenge of History Teachers in Teaching and Learning Higher Order Thinking Skills (Hots). Historical Studies Journal, 30(1), 36-45,

# د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل

پوهنمل محمد شاهد، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: mohammadshahedshahed@gmail.com

**لنډیز**

دا چې د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل ، اوږده تاریخچه لري، څکه په دنیا کې الله ج د بنی آدمانو پلار حضرت ادم علیه السلام خلیفه نومولی او هغه ته یې د خلافت غظیمه دنده سپارلې ده، د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل کېدل له همدې ځایه را پیل کېږي، د خلیفه ټاکل کیدل او د اسلامي حکومت بنسټونه له هغه مو ضوعاتوڅخه دي، چې لوستونکې به تشویق کړي، چې د اسلامي حکومت بنسټونه، خلیفه یا امیر په اړه کافي معلومات لاسته راوړي. د دغه موضوع ، هدف د اسلامي حکومت بنسټونو او د خلیفه ټاکلو شرایطو پیژندل او په اړه یې د روښانه معلوماتو وړاندې کول دي، د دغو معلوماتو په راټولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخېستل شوې او دمعتبرو موثقو علمي سر چینو څخه په کې استفاده شوې ده.د دې مقالې په اساس به هغه نیمګړتیاوې رفع شي، چې لو ستونکي، د خلیفه یا امیر ټاکلو او د اسلامي حکومت بنسټونو په هکله ورسره مخامخ شوی دي. د څېړنې پایله په اسلامي نظام او اسلامي حکومت بنسټونو، لکه عدالت، اطاعت، شورا، حاکمیت او د امیر د ټاکل کېدو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې او عمده پوښتنو ته به ځواب ووایي او په څنګ کې مو د اسلامي حکومت د خلیفه یا امیر القاب چې په مختلفو وختونو کې علماوو ذکر کړي، څېړلي دي.

**کلیدي کلمې:** اسلام کې شورا، انصاف، اطاعت، د شورا اهمیت، درې ګونې قواوې، عدل.

**موخې**

دا چې د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکلو موضوع یوه مهمه او د ارزښت څخه برخمنه موضوع ده، د دې څېړنیزې مقالې موخه دا ده، چې د اسلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل او مشخصات به په واضح ډول بیان کړی شي او همدارنګه به د اسلامي حکومت جوړښت او د هغې رول په ښه ډول سره واضح شي.

**د موضوع اهمیت**

دا چې د ا سلامي حکومت او خلیفه ټاکلو مو ضوع یوه حیاتي مو ضوع ګڼل کېږي، نو د دغې مو ضوع اهمیت په دې کې دی چې د اسلامي حکومت او خلیفه رول به په ټولنه کې وپېژندل شي. په څنګ کې به د خلیفه ځانګړتیاوې هم روښانه شي.

**د کار مواد او مېتود**

دا مقالــه د تحلیلي څېړنې له ډول څخه ده چې د اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. په دغه څېړنیزه مقاله کې د معتبرو موثقو علمي سرچینو څخه استفاده شوې ده او هم د څېړنې ټول اساسات په کې مراعات شوي دي.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد الله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدنا ونبینا محمد وعلی اله واصحابه اجمعین آمابعد:**

د ا سلامي حکومت بنسټونه او د خلیفه ټاکل د ا سلامي حکومت د حیاتي مسایلو څخه ګڼل کیږي، دا چې موږ او تاسو ته بهتره معلومه ده چې وضعي نظامونه او قوانین د بشـــر په لاس جوړ شوي دي او د بشــر د ذهن محصول ګڼل کیږي، چې نه شي کولای د ژوند ټولو مشکلاتو ته ځواب ووای او هم د هر عصر او زمان سره مطابقت وکړي، نو د اسلامي حکومت قوانین د هر عصـر او زمان سره مطابقت کوي، چې هغه د اســلام مبارک دین دی. لنډه دا چې اســلام داســې یو کامل دین دی چې د انســانانو لپاره په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي برخو کې لارښود او رڼاه ده، نو ما هم په دغه څېړنېزه مقاله کې د اسلامي حکومت بنسټونه، د خلیفه د ټاکلو لارې چارې، د اسلامي حکومت د امیر اوصاف د اسلامي حکومت درې ګونې قواوې، د خلافت تاریخ او په اسلامي حکومت کې د امیر رول او د علماوو بېلابېل نظریات په مفصل ډول سره څېړلي دي.

**لومړی: د اسلامي حکومت تعریف**

ا سلامي حکومت هغه سیاسي نظام دی، چې د الله جل جلاله له پلوه ټول بشریت ته غوره کړی شوې دی، ټول قوانین او هدایات یې الله تعالی نازل کړي دي، ابـــدي، تلپاتې او جامع دی، زړښت نه لري، ترمیم ته اړتیا نه لري، ټول قوانین یې ګټور، و سیع او د بشریت د سعادت متضمن دي، مترقی یو اړخیز دي، مادي او معنوي ارزښت لري، د دنیا او اخرت لپاره دي.

د خلافت یا اسلامي حکومت په اړه علماوو مختلف تعریفونه کړي چې یوڅو یې دلته ذکرکوو:

- ابوالبقا حنفي یې داسې تعریفوي: اسلامي حکومت یا خلافت یو تصـرف دی چې امر او نهي د کولو په محور باندې په اسلامي چوکاټ کې څرخي.

- ابوالحسن الماوردي خلافت یعنې اسلامي حکومت داسې تعریف کړی: اسلامي حکومت د دې لپاره جوړېږي چې د ا سلام د سپېڅلي دین د ساتنې او د دنیا د نظم او نسق په چلولو کې د نبي علیه السلام نیابت وکړي.

- شاولي الله دهلوي فرمایي: خلافت عبارت له هغه عمومي ریاست څخه دی چې عملاً د دین د اقامې په لور متوجه وي( زاهدی، ۱۳۸۳ه ش، مخ ص. ۹۴ ).

### د اسلامي حکومت بنسټونه

### لومړی اصل ـ د خدای ج حاکمیت

په سیاسي اصطلاح کې اعلی اقتدار یا مطلق ځواک ته حاکمیت وایي، نو په دې اساس هغه څوک چې اراده او خوښــه یې د قانون سرچینه او حکم یې په ټولو لوړ وي، د ځواک خاوند او اعلی حاکم ورته وایي، د اســلام د حکومتي نظام او شرعي ســیاســت لومړی اصــل دی، چې حاکمیت او لوړ اقتدار د مخلوقاتو د څښتن یو صفت دی او د قانون سرچینه انساني عقل نه بلکې الهي وحې ده.

### دویم اصل ـ شورا

د اسلامي حکومتي نظام او اسلامي سیاست دویم بنیادي اصل شورا ده. یعنې د اسلامي ریاست مشر به هم د مسلمانانو د باوري وکیلانو څخه د تشکیل شوې شورا له خوا ټاکل کېږي او د ټاکلو ورو سته به ټولې مهمې او ارزښتناکه پرېکړې د همدې مجلس د تائید وروسته صورت نیســـي، د اسلام په سیاسي فقه کې نوموړې شورا ته اهل و عقد شورا وایي چې غړي به یې متشرع او په دیني تعلیماتو پوه خلک وي. نن سبا مسلمانان سیا ست پوهان شورایت ته ا سلامي جمهوریت وایي. د شورا فضلیت له قران کریم، احادیثو او اجماع څخه ثابت دی چې د قراکریم دا ایت یې ثبوت دی.

(وامرهم شــورا بینهم) او د مســلمانانو چارې په خپلمنځي مشــورې سره سرته رســېږي، همدارنګه پیغمبرعلیه الســلام په ټولو مهمو چارو کې د خپلو اصــحابو کرامو سره مشــوره کوله لکه د بدر، احد او خندق د غزاګانو شوراګانې.

په یوه روایت کې د حضرت عمر رضی الله نه دا ارشاد هم رانقل شوی، چې ( لاخلافه الاعن مشورته ) یعنې له مشورې پرته هېڅ خلافت نه شته. همدارنګه به که ابوبکر صدیق رض ته د کومې پرېکړې لپاره د حضـــرت محمد ص سنت په لاس ورنه راغلل نو د خلکو مشـــران ( وکیلان ) او نیک خلک به یې راغونډ کړل او هغوی سره به یې مشوره کوله، همدارنګه عثمان رض د ده د خلافت د انتخاب نه وروسته د خپلې وروستۍ وینا په ترڅ کې وویل، چې د قران او سنتو وروسته به زه د هغې پرېکړې پابند و اوسم په کومې چې ستاسې رایه یوشان وي ( ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۹۵ ـ ۹٦ ).

### درېیم اصل ـ عدالت

د ا سلامي حکومت بل ا صل عدالت، برابري او مساوات دی، د ا سلام مبارک دین ټول بشریت د دې اصـل په لحاظ په خپلو کې سره مسـاوي بولي، یواځې د نیک عمل کولو سره د دوی ترمنځ په فضـیلت او بهترۍ قایل دی او الله جل جلاله په عدل او احسان سره فیصله کوي ( ان الله یامربالعدل والاحسان ).

د اســلامي حکومت امیر باید عدل اوانصــاف وکړي او هم شرعي ســزاګانې په ځمکه کې تطبیق کړي، چې په ټولنه کې امنیت رامنځته شي او د عادل حکمران یوه ورځ د شــپیتو (٦٠ ) کالونو نفلي عبادت څخه غوره دی او یوه شرعي ســزا چې د حق او انصــاف په رڼا کې یې په ځمکه قایموي د څلویښــت ( ۴۰ ) ورځو باران څخه ډېر برکت او خیر راوړي ( ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۹۷ ).

**څلورم اصل ـ اطاعت**

اسـلامي نصـوص يې څرګندوي چې د اسـلام دين په مسـلمانانو باندې د خپلو اميرانو او اسـلامي امير اطاعت او تابعداري فرض ګرځولې او د هغوی څخه نافرماني يې حرامه ګڼلې ده. ( يايها الذين امنواطيعوالله واطيعوالرسول واولي الامرمنكم)

ژبـــاړه: ای مومنانو الله جل جلاله او د رسول ص اطاعت وکړئ او د هغه اميرانو اطاعت وکړئ چې له تاسو څخه دي.

دا خبره بايد ذکرکړو، چې د اميرانو اطاعت مطلق نه دی، بلکې د دې لپاره يو حد ټاکل شوی د حديث شريف نقل دی چې د الله ج د معصـيت ( نافرنانی) په صـورت کې د اميرانو امر منل نشـته. په لاندې شرايطو پورې د امير اطاعت تړلی دی.

۱ ـ د اولوالامرکړه وړه بايد د شريعت سره برابر وي

۲ ـ د خلکو ترمنځ به په انصاف سره پرېکړه کوي

۳ ـ خلکو ته به په معصيت امر نه کوي (ثاقب، ۱۳۹۱ ه ش، صفحه. ۹۸).

**د اسلامي حکومت درې ګوني قواوې**

**الف: مقننه قوه**

په اوسنيو دستوري حکومتونو کې د قانون جوړولو واک او اختيار د پارلمانونو سره دی، دوی د زمانو او خلکو د غوښتنو او مصالحو پر اساس قوانين او احکام تشـــريع کوي او د پلي کېدو لپاره يې وړاندې کوي، مګر په اسـلامي دولت کې د قانون جوړولو صـلاحيت د مجتهدينو کار دی په دې شرط چې له دوه کارونو څخه پکې تېری ونشـي، په کوم شي کې چې نص موجود وي، يوازې په نص د پوهېدنې او د هغه حکم بيانولو صلاحيت لـري چې پرې دلالت کوي او په کوم شي کې چې نص موجود نه وي نو د دوی دنده يوازې پر منصوص حکم قياس کول او د اجتهاد په واسطه د هغه حکم استنباط کولو او د علت را وسـتل دي ځکه اسـلامي دولت يو اسـاسي الهي قانون دی، چې الله جل جلاله په خپل کتاب کې او د خپل رسـول صـلی الله عليه وسـلم په ژبه بيان کړی دی. نو که په دې قانون کې که چېرته هم نص ومونډل شو نو پيروي يې واجبه ده، د تشـــريع څښتنان نور صلاحيت نه لري، يوازې د مراد حکم پېژني لټون يې کولی شي ترڅو نص په صـــحيحه توګه تطبيق شي او که په دې قانون کې کوم نص موجود نه شو نو د اسلامـــي تشـــريع رجال کولی شي چې د اجتهاد او استنباط له لارې د اساسي الهي قانون سره سم د قياس په واسطه په غير منصوصو ځايونو کې احکام تشريع کوي، پاتې شوه د مجتهدينو شتون، په هره زمانـــه هر اسلامي دولت د اجتهاد اهل خلک لري چې د اجتهاد په شرطونو برابر او بشپړ توان لرونکي دي. هغوی ته د اسـاسي الهي قانـــون د پوهېدنې، تطبيق او نويو پېښـو شـويو قضـيو او مصـالحو او اړتياوو پوره کولو په خاطر رجوع وکړي، تر څو ورته تشريعي احکام جوړ کړي. په لومړۍ هجري پيړۍ کې د اسـلامي دولت لپاره له قـــران کريم پرته کوم مدون اسـاسي قانون نه و، کوم چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په دور کې راټول کړای شو، د راشده خلفاوو او اموي دورې په

لومـــړيو کې تشـــريعي قرانکريم او د سنت حافظانو ته رجوع وه که به اصحابو، تابعينو يا تبعه تابعينو څخه کوم اهل شـخص کوم نص ومونـــــد متابعت به يې کاوه او که نه په خپله رايه به يې اجتهاد کاوه مگر د دوی دغه اجتهادي رايې نه تدوين شـــوې او نه قانون او شريعت وگرځولی شـــوې، مگر په دې اعتبار وربانديې تکيه کول کيدای شـوه چې مرجع يې قران او سـنت وو. کله چې د فتحې دايره پراخه او ا سلام په لرې هېوادونو کې خپور شو، د شريعت حافظان او راويان په لرې لرې ناحيو کې تيت او پرک شـول، سره له دې چې د تمدن او بيا رغونې وسـايل هم ډېر وو، د معاملاتو او احوالو په بېلا بېلو څانگو کې نوې نوې پېښـــې او قضـــيې رامنځته شـــوې، د شريعت په احکامو کې د برياليتوب په خاطر ځينې نشرياتو ته اړتيا پېښه شوه، نو دا چاره د دوو کارونو په حيث پيل شوه:

**لومړی:** د حديثونو راټولول، ځکه چې د احکامو په خاطر ورته رجوع په کار وه.

**دويم:** مجتهدينو خپل هغه اجتهادات او اصول تدوين کړل چې په استنباط ولاړ وو. د حديثو د تدوين کار لومړی امام زهره رحمه الله د عمر ابن عبدالعزيز خليفه په امر پيل کړ. امام زهره ټول هغه حديثونه چې ورته رســېدلي وو، په کتابي بڼه راټول کړل او عمر بن عبدالعزيز يې د لومړۍ هجري پيړۍ په وروستيو کې د توزيع امر ورکړ او دويم کار مجتهدينو امامانو د لومړي ځل لپاره تر سره کړ لکه امام ابو حنيفه رحمه الله، امام مالک، امـام شافعي، امام احمد حنبل، امام داود او امام زيد بن علي جعفر صادق رحمت الله علهم او داسې نورو. له همدغه مهاله د تشريع څښتنان کتاب، سنتو او د امامانو اجتهاداتو ته رجوع کوي. په دغه کې څه ســتونزې هم شــته، ځکه د امامانو اجتهاداتو ته يواځې د الله جل جلاله په کتاب، سنتو او د احکام په استنباط کې د استعانت په برخه کې د لارښوونې په خاطر رجوع کېږي نه دا چې دا د دين اصـلي او اسـاسي قانون دی او همدغه د مجتهدينو موخه هم وه. دغه غوښـتل د هغه چا لپاره لاره همواره کړي، څوک چې غواړي د احکامو اســتنباط وکړي او هم د اســتنباط اهليت ولري او هغه څوک چې د استنباط اهليت ونه لري هغوی ته وښيي چې په قران او سنتو باندې حمله ونه کړي. يا په بل عبارت دوی غوښتل چې د راتلونکو کسانو لپاره يوه تشريعي لاره وټاکي.

حقه او سمه خبره دا ده چې پــــه اسلام کې تشريعـــــي سلطه په الهي قانون سمباله ده. د دولت لپاره يې بڼکلی نظام وضع کړی، د اجتهاد په شرايطو پوره کسان يې د انتخاب لپاره معلوم کړي، او د هغو شمېر يې محدود کړی، دولت يې د دوی په رايو پابند کړی، او پــــه بېلابېلو وختونو کې يې د مسـلمانانـــــو اړتياوې پوره کړي دي، البته د اجتهـــاد د دروازې د بندېدلو لامل همدا و چې نا اهله کسانو د اجتهاد په لور مخه وکړه. بېلابېلې رايې او نظرونه به يې ورکول چې د ټولو رايې او نظرونو يو ځايوالی ممکن نه و. حال دا چې اسلامي دولت هغوی ته اړ و، په دې اساس علماوو ددې ستونزې څخه د خلاصون لپاره د اجتهاد دروازې بندې کړې، غوره او مصلحت په دې کې و، چې داسې تشريعي سلطنتي نظام يې جوړ کړی وي چې تشرـــيع او د دوی د رايې ترمنځ وي، ځکه د اجتهاد د دروازې په بندېدلو سره د خلکو اړتياوې او مصالح ختمېږي. په دويمه پيړۍ کې اسامـــه و چې د خلکو اړتياوو او د ښارونو د مصلحتونو په خاطر اجتهاد ته مخه کړې وه نو ځکه بريالی شـــوی هم و، له پورتنۍ څېړنې جوته شـــوه چې د فرد

لپاره د اجتهاد دروازه خلاصــول شر منځ ته راوړي او په مجموعي توګه د اجتهاد د دروازې بندول هم ښه نه ده، ځکه په دې سره د تشریع خوځښت درېږي او د اسلامي قانون د خلکو له مصالحو او ګټو څخه بې برخې کېږي، ځکه د خلکو ګټې او مصــالح په مجموعي اجتهاد کې نغښــتې وې چې همدا د صحابه کرامو لاره هم وه. ابوبکر صدیق رضی الله عنه به چې د کتاب الله او رسول کریم صلی الله علیه وســلم ســنتو کې د یوې موضــوع په اړه څه پیدا نه کړل نو د خلکو غوره مشرــان به یې راټول کړل او هغوی سره به یې مشــوره کوله او د رایو له اتفاق وروســته به یې په یوه شــوي کار فیصــله کوله حضرــت عمر رضی الله عنه هم د ده په څېر وه د اموي دولت په وخت کې به په اندلس کې د قضایي شورا لپاره په قرطبه کې ځانګړی ځای جوړ شــو، د شــورا غړي ســتر علماوو د حکمونو په ثبوت کې همدوی ته رجوع کېدله، همدا لامل و چې د اندلس علماوو د ډیرو په پیژندګلویو کې لیدل کېږي، پلانی مشــاور و یا پلانی یې شورا ته غو ښتنی خو هلته نه تلو امام قرطبي د دې شورا یادونه داسې کړې ده، دې شورا د امام سره په څو مســلو کې مخالفت وکړ چې په هغوی کې د امام ابوالقاســم په قول عمل وشــو، د دیارلسمې پیړۍ په پای کې عثماني دولت هم د دې لپاره چې اسلامي خوځښت ونه درېږي د امت له علماوو څخه یو ټولی جوړ کړ. چې ( جمعة المجلة ) نومېده، هغوی د حنفي مذهب له کتابونو څخه وو (زیرکیار، ۱۳۸۱ ه ش، مخ ص. ۵۵ ).

**ب: قضایه قوه**

په اسلام کې د دې قوې واک د قضا د څښتنانو سره دی. په او سنیو حکومتونو کې د قضا څښتنان د تشــــریع له څښتنانو څخه بېل خلک دي ترڅو د قواوو ترمنځ بېلتون راشي، خو د اسلام په لومړنیو کې تشـــــریعي قوه او قضایي قوه د یو تن په لاس کې وې، او د دواړو د واک والا خلیفه وکه کوم ښکاره دلیل به یې وموند په هغه به یې پریکړه کوله او که پیدا به یې نــه کړله فقیه او مفتیانو اصحابو سره به یې مشوره کوله او چې په کومه خبره به یې رایه راغله په هغه به یې پریکړه کوله، هغه څوک به چې د خلیفه له لوري په قضا وګمارل شو نو ورته کار به یې کاوه، په دې اساس د قضا څښتنان هغه مجتهدین وو چې د دوی سره د تشرــیع د قوې پوره واک و، د دوی قانون کتاب الله، صــحیح ســنت او د ټولو اجماع وه. امام بغوی رحمه الله له میمـــــون بن محران څخه نقل کوي چې ابوبکرصــدیق رضــی الله عنه ته به کله دعوه راغله د هغه حل به یې په کتاب الله کې کتلو، که حل به یې پکې پیدا کړو په هغه به یې پریکړه کوله، که په کتاب الله کې به یې پیدا نکړو، د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنت به ده ته په دغه اړه معلوم وو، په هغه به یې فیصــله کوله، که په دې اړه به ورته معلومات لاســته رانغلل له مســلمانانو څخه به یې پو ښتنه کوله، ویل به یې ماته داسې مسله راغلې ایا تاسې ته په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه و سلم کومه پرېکړه معلومه ده؟ ډېرځلې به صحابه ورته راغونډ شول، هر یوه به د هغه مسلې په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم پرېکړه یادوله، ابوبکرصدیق رضی الله عنه به ویل ټوله ثنا هغه ذات لره ده چې په موږ کې داسې خلک شته چې د خپل نبی کریــم صلی الله علیه و سلم خبرې یادوي که سره له دې به یې هم د مســلې په هکله له چا څخه څه وانه وریدل د خلکو مشـــــران او غوره خلک به یې

راټول کړل او له هغوی سره به يې مشــوره کوله، چې په کومه خبره به يې رايه راغله په هغه به يې پرېکړه کوله، عمر رضـــی الله عنه هم د ابوبکرصــديق رضـــی الله عنه په څېر کار کاوه خو که ده به په قران او سنت کې څه پيدا نه کړل نو پوښتنه به يې کوله چې ايا د ابوبکرصديق رضی الله عنه په دې سلسله کې کومه پرېکړه شته؟ که وه په هغه يې فيصله کوله او که نه به وه د مسلمانانو مشـــران به يې راټول کړل هغوی به چې اجتماع وکړه، په هغه به يې فيصـــله کوله خو لومړنی خليفه چې د قضـــايه قوې لپاره يې څرگند تن وټاکه عمربن خطاب رضی الله عنه و. ابو دردا رضی الله عنه يې مدينه کې په قضـا وگماره. شريح يې په بصره کې او ابوموسی الاشعري يې په کوفه کې په قضا وگمارل، دا اصحابه يې په شريع او قضا دواړو گمارلي وو.

د قاضيانو د گمارنې په کتاب کې راغلي چې عمررضی الله عنه ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته ليک لېږلی و. د هغې په يوه برخه کې داسې راغلي وه. که د رپېښېدونکي کار حل په قران کريم او سنت کې ښـــکاره نه و، نو له فهم او زيرکتيا څخه کار واخله. هرکله چې مجتهدينو خپل اجتهادات تدوين کړل د قضـاء څښـتنانو به هغه مرجع وگڼله او د قاضـيانو ټول کړه وړه د هغه مطابق کول او مجتهدينو تقليد يې کاوه، ان تر دې چې د جاهل قضاء درسته ده د بل په فتوا سره.

له پورته متن څخه څرگنده شوه چې په اسلامي حکومتونو کې قضاء دوه ډوله وه:

۱ ـ د قاضيانو د رجوع ځای اساسي قانون و، د قضايې قوې سره يو ځای د تشريع قوه هم وه.

۲ - د قا ضيانو مرجع دايمه اجتهاد وه، دوی يواځې تقليد کاوه. د قا ضيانو د ټاکنې واک د خليفه سره و، کله کله به خليفه ټاکنې کولې او کله به يې واک د ښـارونو واليانو ته ورکاوه چې قاضـی وټاکي. په دغه باندې د علي بن ابي طالب رضـی الله عنه هغه خبره دلالت کوي چې اشـترالنخعي يې کله چې د مصرـ والي وټاکه، نو هغه ته يې وويل چې بيا د خلکو د پرېکړو کولو لپاره د خپل رعيت څخه غوره شـخص وټاکه، يعنې داسې شخص چې په دوی باندې چارې تنگې نه کړي. داسې هم نه وه چې د خليفه واک پکې سلب، و بلکې والي د هغه نيابت کاوه.

**ج: اجرائيه قوه**

په اوســـنۍ معاصره اصـــطلاح کې د دولت رئيس، وزيران، واليان او نور د دولت ټولو کارکوونکو ته اجرائيه قوه وايي. د دولت رئيس د مقننه اوتنفيذي دواړو قواوو ترمنځ د وصـل رول ترسره کوي، د دغه اجرائيه قوې په راس يعنې سر کې خليفه وي او د هغه لپاره شورا ټاکل شوې وي چې هغه به د شورا د مشورې په واسطه امورات ترتيب او تنظيم کوي همدارنگه د هر ولايت لپاره والي لېږل کېږي.

لکه څرنگه چې د حضرـت محمد صـلی الله عليه وسـلم خپله معاذ بن جبل يمن ته د والي په صـفت لېږلي و. ځينې خلک وايي چې عربو د وزيرکلمه د ايران د سا ساني پاچاهانو څخه اخيستي ده، خو دا خبره غلطه او رد ده، ځکه د اســـلام نه مخکې په عربي ژبه کې دا خبره مروجه وه، په قران کريم کې د وزير کلېمه په دوو ځايونو کې راغلي ده، الله جل جلاله په طه ســـورت کې فرمايلي چې ترجمه يې داســـې ده: موسي (ع) وويل اې زما ربه زما د کور څخه يو وزير راکړې زما ورور هارون (َع) په وسـيله

زما ملا تینگه کړي او هغه زما سره په کارونو کې شریک کړي. د دغه ایت څخه معلومیږي چې د حکمران د هم فکره او هم مسلکه خلکو څخه باید وه اوسي. دوهمه خبره دا ترینه معلومیږي چې وزیر د حکمران د ریاست د نظم د چلولو مسؤل او د هغه په کار کې شریک وي.
الله جل جلاله د موسي (ع) دعاء قبوله کړه، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وزیران هم وو، چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه په دغه اړه روایت شوی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ( ثم نظرفي قلوب العباد فاختارله اصحابا فجعلهم انصاردینه وزرانیبه) ترجمه: بیا نو الله جل جلاله د دغه وروسته د خپلو بندگانو زړونو ته کتل نو د هغه لپاره یې دا سې ملگري انتخاب کړل چې د دین کومک کوونکي او د نبي کریم صلی الله علیه و سلم وزیران وو. همدا رنگه د ابو سعید خدري په یو روایت کې راځي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
فاما وزیرامن اهل الارض ابوبکر(رض) وعمر(رض) ترجمه: یعني د ځمکې د اوسیدونکو څخه زما وزیران ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمررضی الله عنه دی. همدارنگه د جهاد یو امیر په اجرئیه قوه کې ضروري دی لکه څرنگه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خپل وفات په وخت کې اسامه بن زید رضی الله عنه د جهاد عمومي امیر مقرر کړی و او دارنگه په اجرائیه قوه کې ځینې نور امورات هم شته، مثلاً د مالیاتو راټولول، د مظلومانو شکایاتو اوریدل، د پولیسو چارې او ځینې نور اومورات (زیرکیار، ۱۳۸۱ ه ش، صفحه. ٦٠ ).

**د خلیفه د ټاکلو لارې**

**الف: د خلافت تاریخ**

د اسلام سیاسي نظام تاریخ خورا لرغونی دی، دومره لرغونی دی، څومره چې په ځمکه کې د انسان اوسیدو او سکونت تاریخ لرغونی دی، ځکه الله ج د بنیادمو پلار (حضـرت ادم علیه السلام ) خلیفه نو مولی دی او د لومړي ځل لپاره یې هغه ته د خلافت عظیمه دنده سپارلې ده. لکه څرنگه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایلي دي:
«واذ قال ربک للملکة انی جاعل فی الارض خلیفة» ترجمه: او یاد کړه هغه ورځ چې ستا رب پرښتو ته وویل چې بېشکه زه په ځمکه کې د یو خلیفه گرځوونکی (پیدا کوونکی) یم.
دا باید هم ذکر کړو، چې د ا سلام په سیاسي نظام کې د ا ساسي قانون سرچینه د الله تعالی مقدس ذات دی او الله تعالی حقیقي حاکم دی د خلیفه او حاکم دنده د خپل ځان په گډون په بشریت باندې د الله جل جلاله د قانون پلي کول دي او بس.

**ب: د خلافت جوړولو حکم**

په دې اړه ټول علماء او مذاهب متفق دي چې د اسلامي خلافت جوړول یو فرضي حکم دی او د فرضیت دلیل یې د قران کریم په لاندې ایت شریف کې په روښانه ډول څرگندیږي.« یایهاالزین امنوآ طیعوالله وآطیعواالرسول وآولی الامرمنکم» .

دا باید ذکر کړو چې د اسلام په سیاسي نظام کې د اساسي قانون سرچینه د الله جل جلاله مقدس ذات دی او الله ج حقیقي حاکم دی د خلیفه او حاکم دنده د خپل ځان په ګډون په بشریت باندې د الله جل جلاله د قانون پلي کول دي او بس.

د دې لپاره چې د اسلامي حکومت چارې په ښه توګه په مخ لاړې شي نو یو امیر (خلیفه) باید لاندې مشخصات ولري.

۱ ـ خلیفه باید بالغ وي.

۲ ـ خلیفه باید هوښیار وي او عقلي خلل ونه لري.

۳ ـ خلیفه باید مسلمان وي.

۴ ـ خلیفه باید دنیوي او اخروي علم ولري.

۵ ـ خلیفه باید نارینه وي، ښځه نه شي کولی چې د خلافت چارې پرمخ یوسي.

٦ ـ خلیفه باید تقوه ولري ( له ګناهونو پاک وي )

۷ ـ خلیفه باید عادل وي

۸ ـ خلیفه باید جسمي سالمیت ولري

۹ ـ خلیفه باید شجاع وي

۱۰ ـ خلیفه باید ازاد وي ( غلام نه وي )

۱۱ - قریشیت د عمومي خلافت لپاره صدق کولی شي، قریشي قوم د محمد صلی الله علیه وسلم قوم دي او د نوموړي قوم نه باید خلیفه وټاکل شي ځکه مرکزیت هماغلته دی.

۱۲ ـ ځان نه کاندیدول څوک چې په خپله ځان لپاره منصب غواړي الله جل جلاله له هغه سره مرسته نه کوي (رحماني، ۱۳۸۳ ه ش، صفحه. ۵۵).

**۱ ـ انتصاب**

خلیفه د ټاکلو د لارو چارو څخه یوه د انتصاب طریقه ده. لکه څرنګه چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ټاکل شوی، یعني کله چې حضرت محمد صلی الله و سلم وفات شو نو هغه لا دفن شوی نه و، چې په مدینه کې اصحاب راټول شول او ویې ویل چې راتلونکی امیر به له انصارو څخه وي، ځکه چې موږ د همدې ځای څخه یو مګر کله چې د ابوبکرصدیق رضی الله عنه او عمررضی الله عنه خبر شول هغوی لاړل او عمررضی الله عنه داسې فیصله وکړه، چې ابوبکر رضی الله عنه لاس یې اوچت کړ او خپل لاس یې د هغه په لاس کېښود او ویې ویل چې زموږ امیر به ابوبکررضی الله عنه وي ما ورسره بیعت وکړ او تاسې هم ورسره بیعت وکړئ. نو انصار هم چوپ شول بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه مسجد نبوي ته ورغی او خطبه یې وویله او له ټولو خلکو څخه یې بیعت واخیست.

**۲ ـ د ولیعهد په شکل**

دا په دې معنا چې کله یو امیر وفات کېږي، نو د وفات مخکې خپل ولیعهد ټاکي،کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ناروغ شو د کبارو صحاب وو یوه ډله یې راټوله کړه او ورته یې وویل که ستاسو

خو ښه وي نو عمر رضی الله به زما څخه ورو سته د خلافت چارې مخ ته وړي، هغوی هم اجازه ورکړه او له هغې څخه يې يوه وصـيت نامه وليکله او په دې کې يې وليکل چې عمر رضـی الله به د خلافت چارې سرته ورسـوي هماغه و چې کله ابوبکر رضـی الله عنه وفات شـو عمررضـی الله مسـجد نبوی ته راغی او خلکو ته يې وويل چې زه ستا سې لپاره خليفه ټاکل شوي يم، مګر زه پر تا سې کوم فوقيت نه لرم، نو که سـتاسي خوښــه وي ځان لپاره خليفه وټاکئ او يا زما سره بيعت وکړئ نو ټولو خلکو د عمر رضی الله عنه سره بيعت وکړ (ګوهر، ۱۳۸۳ هـ. ش، صفحه. ٦٦).

**۳ ــ د انتصاب په شکل**

کله چې حضرت عمر رضی الله عنه د مجوسي غلام له خوا زخمي شو، نو د بې هوشۍ حالت ور باندې راغی او کله چې لږ په خود شو ويې ليدل چې حالت يې خراب دی. نو شپږ کسيزه شورا يې راوغوښته چې تاسې که هرڅوک غواړی خليفه يې کړی. دغه شپږ کسانو حضـــرت عثمان رضی الله او حضرت علي رضـی الله نامزد کړل او دا فيصـله يې وکړه که هر يو د دوی څخه غواړي چې خليفه دې شي، نو د عبدالرحمن بن عوف کور ته دې ورشي او خپله را يه دې څرګنده کړي، خلک په انفرادي ډول د عبدالرحمن کور ته ورتلل او رايه به يې ورکوله چې بالاخره د حضـرت عثمان رضی الله عنه رايې زياتې شوې او خليفه وټاکل شو.

بايد ووايو چې د امير، رئيس، امام يا خليفه لپاره د وخت او مودې هېڅ تحــديد نــه شته او کله چې مســلمانانو نېغ په نېغه يا د نماينده ګانو په واســطه له امير سره بيعت وکړ، بيا نو هغه تر مرګه پورې د اســلامي امت امام او رئيس دی، مګر دا چې د هغه د عزل کولو عوامل امت دی اړ باســې، چې هغه د رياست او امامت له عظيمې دندې څخه عزل کړي او هغه اسباب او په لاندې ډول ښودلی شو.

۱ ـ لېونتوب

۲ - د ځينې حواسو فقدان د حکومت امام او مشـــر د جسم داسې حواس بيخي له لاسه ورکړي چې په هغوی سره ادراک کوي لکه په دواړو سترګو ړنديدل.

۳ ــ د اندامونو فقدان، مثلاً امام دواړه لاسونه يا پښې له لاسه ورکړي.

۴ ــ بندي کېدل، که خليفه د بيعت وروسته بندي شي، معزول ګڼل کيږي.

۵ ـ کفر او ارتداد: که چېرې امير يا خليفه کافر شي او له اسلام څخه مرتد شي عزل کيدی شي.

٦ - که امام فاســق شي مثلا د شــهوت او نفس په متابعت کبيره ګناهونه کوي، لکه زنا، د ســاز او سرود محفلونو جوړول او نور فســق او فجور يې وکړل، امام ابن الهمام حنفي او شــيخ الاســلام ابن تيميه او دا سې نورو ويلي دي چې د اهل سنت والجماعت پرېکړه دا ده، چې که د فا سق امام په عزلولو سره په امت کې فتنه نه جوړيده نو هرو مرو دې عزل شي، مګر که فتنه ورڅخه جوړيده، نو د امت د وحدت په خاطر بايد عزل نه شي (ثاقب، ۱۳۹۸ ه ش، صفحه. ۱۰۰).

**۴ ـ د اسلام په سیاسي نظام کې د دولت د مشر نومونه او القاب**

د اسلام په سیاسي نظام کې د اسلامي دولت د مشر لپاره درې نومونه او د القاب ذکر شوي. خلیفه، امیرالمؤمنین او امام.

**الف: خلیفه**

خلیفه په لغت کې هغه چاته ویل کېږي، چې د بل چا ځای ناستی وي او د هغه نیابت کې د چارو سرپرستي په غاړه واخلي.

دا چې د اسلامي دولت مشر څخه وروسته د هغه د دندو د سرته رسولو لپاره د هغه پرځای کېني د هغه نایب وي، نو ځکه ورته خلیفه وایي، لومړنی شخص چې د خلیفه لقب ورکړل شو، حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه و.کله چې ابوبکرصدیق رضی الله عنه خلیفه شو؛ نو یو صحابي ورته وویل (یاخلیفه) یعنې اې د الله خلیفه، ابوبکرصدیق رضی الله عنه درته وویل: (لست خلیفه الله، ولکنني خلیفه رسول الله صلی الله علیه وسلم).

ژباړه: زه د الله خلیفه نه یم، لیکن زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه یم.

**ب: امیرالمؤمنین**

د امیرکلمه د امر او امارت څخه اخیستل شوې ده او جمع یې امراء دي، چې د ولایت په معنی ده د امیرالمؤمنین لقب اطلاق د اسلامي دولت په مشر باندې کېږي، د دې لقب لومړی اطلاق په عمربن الخطاب رضی الله عنه باندې وشو، صحابه کرامو د خلافت د دورې په پیل کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلیفه په نوم یاداوه، څه وخت وروسته بیا د مغیره ابن شعبه رضی الله عنه په واسطه د امیرالمؤمنین په لقب ونومول شو.

**ج: امام**

امام د اسلامي دولت د مشر لقب دی، په عربي قاموسونو کې امام هغه شخص ته ویل شوي دی، چې د خلکو پېشوا وي او د هغه پیروي کوي نو دا چې د اسلام دولت مشر ـ پیروي او اطاعت په خلکو فرض دی له دې امله د اسلامي دولت مشر ته امام ویل کېږي.(زیرکیار، ۱۳۸۱ ه ش صفحه. ۴۴).

**پایله**

په پایله کې ویلي شو، چې د اسلامي سیاسي نظام تاریخ خورا لرغونی دی، د اسلام په سیاسي نظام کې د اساسي قانون سرچینه د الله جل جلاله کتاب دی بلې خوا د اسلامي نظام یا حکومت لپاره علماوو زیات تعریفونه کړي دي، د اسلامي نصوصو څخه څرګندیږي چې د اسلامي سیاسي نظام د تطبیق او په ټولنه کې د امنیت رامنځته کولو لپاره اسلامي نظام باید په درې ګونو قواوو او ځینو اصلونو په اساس ولاړ وي، چې دغه اصلونه عبارت دي له شورا چې دغه شورا د مسلمانانو له باوري وکیلانو څخه تشکیل شوي او بل اصل یې عدالت دی، یعنې باید د خلکو ترمنځ عدالت، برابري او مساوات مراعات شي. بل اصل اطاعت او خبره منل دي، د اسلام دین په مسلمانانو باندې د خپلو امیرانو اطاعت فرض

کړی دی. بل ا صل حاکمیت دی، یعنې د الله حکم چې په ټولو لوړ او د مخلوقاتو د څښتن یو صفت دی.

**وړاندیزونه**

۱ ـ د اسلامي حکومت اتباع باید د خپل امیر او خلیفه اطاعت وکړي.

۲ ـ د اسلامي حکومت امیر او خلیفه باید په خلکو کې د عدالت او برابری راوستلو لپاره هڅه وکړي.

**مأخذونه**

احمدزی، زاهدی.( ۱۳۸۳ ه ش). اسلامي نظام او جمهوریت لومړی ټوک. پښور: امیرکړو کتابتون.

ثاقب، نقیب الله .(۱۳۹۸ ه ش). عمومي اساسي حقوق، جلال اباد، یارځپرندیه ټولنه.

خلاف، عبدالوهاب.(۱۳۹۱ه ش ). السیا سة الشرعیة ژباړن: قاري روح الله نجم، ضیاء کتاب پلورنځی، اسحق زی مارکیټ، جلال اباد.

رحماني، محمدشریف.(۱۳۸۳ ه ش). سیاست او اقتصاد د اسلام په رڼا کې، پېښور پیغام خپرندویه ټولنه.

زیرکیار، رحمت ربي.( ۱۳۸۱ه ش ). سیاسي فکرونه او سیاسي نظامونه په اسلامي او لویځه نړۍ کې جرمني، افغان کلتوري ټولنه.

کوهستاني، محمد جعفر.( ۱۳۹۳ ه ش ). عمومي اساسي حقوق، کابل مستقبل خپرندی ټولنه.

گوهر، گوهرالرحمن.(۱۳۸۳ ). اسلامي سیاست، ژباړه: قریب الرحمن سعید، پېښور: پیغام نشراتي مرکز.

صافی، ودیر. (۱۳۸۳ ه ش). حقوق عمومي، کابل افغانستان د ستری محکمې د خپرونو څخه.

# تربیت طفل تا دو سالگی در پرتو اسلام

پوهنمل عبدالصمد روشان، پوهنتون شیخ زاید، پوهنځی زبان و ادبیات، دیپارتمنت پښتو.
ایمیل: abuhanifaroshan@gmail.com

**خلاصه**

اسلام به عنوان یک روش زندگی کامل، به انسان از پیش از وجود او اهمیت می‌دهد. این توجه به دلیل اصلاح محیط و زمینه‌ای است که کودک در آن رشد خواهد کرد. مشکلات که جامعه افغانی با آن رو برو است اصلا بی توجهی به تربیت اطفال می با شد، که این کار منجر به بربادی کشور و عدم اعتماد فرد بالای فرد شده، وهمچنان اشتباهاتی که در اختیار شریک حیات صورت می گیرد در آن هم توجهی درست صورت نه گرفته. هدف این پژوهش آن می با شد که یک فرد قبل از تشکیل خانواده روش انتخاب آن را به عقلمندی کامل تعیین نمایند تا بتواند، فرزندان را تقدیم جامعه کند که مفید آن باشد، نه این که بار دوش محیط و جامعه باشد. اهمیت این پژوهش در آنست که اسلام مجموعه‌ای از احکام، رهنمودها و دستورالعمل‌ها را ارائه می‌دهد که این محیط مناسب را برای کودک پیش از تولد او فراهم کند. به این ترتیب، وقتی چشمان او باز می شود و قلبش می‌تپد، محیط سالم و مناسبی برای رشد و تربیت خود می‌یابد. این امر از طریق مجموعه‌ای بی‌نظیر از رهنمودهای نبوی برای اصلاح محیط انسانی انجام می شود، این پژوهش بعد از تحلیل موضوعات تربیت اطفال به روش توصیفی و تربیتی در قالب منظم مقاله نویسی انجام شده است، تا برای افرادی که روبروی تشکیل خانواده هستند مستفید شوند.

**نقاط کلیدی:** اسلام، انتخاب همسر، تربیت، خانواده، دو سالگی، طفل.

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و أصحابه أجمعین.**
اسلام به عنوان یک روش زندگی کامل، به انسان از پیش از وجود او اهمیت می‌دهد. این توجه به دلیل اصلاح محیط و زمینه‌ای است که کودک در آن رشد خواهد کرد. از این رو، اسلام مجموعه‌ای از احکام، رهنمودها و دستورالعمل‌ها را ارائه می‌دهد که این محیط مناسب را برای کودک پیش از تولد او فراهم می‌کند. به این ترتیب، وقتی چشمان او باز می‌شود و قلبش می‌تپد، محیط سالم و

مناسـبی برای رشـد و تربیت خود می‌یابد. این امر از طریق مجموعه‌ای بی‌نظیر از رهنمودهای نبوی برای اصلاح محیط انسانی انجام می‌شود.
ا سلام انسان را به ازدواج تشویق کرده ا ست، زیرا ازدواج نیازی فطری برای انسان به شمار می‌آید و هدف آن حفظ نسل بشر و انجام مأموریت جانشینی در زمین است. ازدواج دارای ضوابطی است که از انتخاب هم‌سران آغاز می شود و بر چندین ا ساس ا ستوار ا ست، از جمله :دین، اخلاق، سلامت جسم و روان کودک.

**مشکلات تحقیق**

نظر به مشــکلات که در جامعه دیده می شــود آنســت که: در کشــور عزیز مان همه خانواده ها نظر به مشکلات که دارند می خواهند اولادی سالم را به جامعه تقدیم نمایند، ولی مشکل در آنجا ا ست که، والدین به اولاد خود توجه کمتری می دهند، نخستین اشتباه که میکنند در اختیار زوجه است، همهٔ آنها توجه به زیبایی ظاهر زن می نمایند و به حسن سیرت آن بسیار بی توجهی نشان می دهند، که این کار خلاف فرموده حضرـت محمد صـلی الله علیه وسـلم می باشـد، دوم اینکه همه مردم قبل از ازدواج در بین شوهر و هم سر به انسجام فکری، روانی، اخلاقی، و دینی توجه کمتری به خرج می ر سانند، سوم اینکه همه مردم ما بعد از تولد فرزندان شـان وقت مناسـب را برای سـلامت جسـمی و روحی انان نمی دهند. امید است که این پژوهش که در باره تربیت طفل تا دوسالگی است مفید واقع شود و توجه آنان را جلب نماید.

**اهداف تحقیق**

این تحقیق اهداف زیر را دنبال می کند :
توجه به اختیار مادر و به سلامت روحی و جسمی آن.
بررسی زمینه اصلاح طفل قبل از تولد.
دساتیر مناسب برای رشد طفل قبل از تولد.
شناخت راه های تربیت کودک بعد از تولد.
توجه به تربیت دینی، اخلاقی، و سلامت جسمی کودک.

## پیشینۀ تحقیق

پژوهشگران و مربیان در زمینه ازدواج و تربیت طفل کتابها و مقالات ارزشمندی را به چاپ رسانده، تربیت طفل از اساسی ترین مسؤولیت های والدین بشمار می رود. دکتور غسان علی مقالۀ در باره حقوق طفل قبل از تولد را در مجله دانشگاه عراق در جلد سوم سال 2020 به چاپ رسانده، و دکتور فهمی عبادی در مجله تربیه اسلامی مقاله زیر عنوان حقوق طفل قبل از ولادت در پر تو قرآن کریم را در سال 1402به چاپ رسانده. همه علماء دینی و روانشناسی تربیتی توجه خود را به پایه اول تشکیل خانواده که مادر است جلب نموده و تاکید می ورزند که مادر باید از سلامت فکری، دینی، اخلاقی، روانی و اجتماعی برخوردار باشد. تا بتواند یک کودک سالم را به دنیا فرو آورد.

## اهمیت تحقیق

این بژوهش نظر به اهداف فوق می تواند که پدران و مادران را کمک نماید و در تربیت اطفال خود چنان که اسلام و اجتماع اسلامی ما ضرورت دارد همه توان خود را به اصلاح فرزندان خود خرج نمایند، این پژوهش می تواند مشکلات تربیتی که در اولیاء امور اطفال دیده می شود کاهش خواهد آورد.

## روش تحقیق

در این مقاله از روش توصیفی و تربیتی کار گرفته شده، تمامی موضوعات این پژوهش از کتابهای معتبر اسلامی و روانشناسی، ومجله های علمی، وپژوهش های انجام شده در زبان عربی و فارسی جمع آوری شده و بعد از تحلیل آن، به شیوه منظم در قالب مقاله نویسی مجله شیخ زاید جابجا شده است.

## تربیت طفل تا دو سالگی در پرتو اسلام

در مرحله نخست، فرد مکلف است تا بداند که تشکیل خانواده چی مطلب دارد؟ و از کجا شروع می شود؟ چطور می توانند که پدر و مادر خوبی باشند، تا نتیجه يي که از ازدواج آنها بدست میاید، مفید خانواده و جامعه خود باشد، بار دوش دیگران و جامعه نشود. اسلام هم آن روش را دنبال می کند، که در آن صلاح و کامیابی فرد، خانواده و جامعه می باشد، اصولی را وضع می کند تا یک جامعه سالم را داشته باشند.

در اولین مسؤولیت های تشکیل خانواده انتخاب مرد است، حدیثی از ابوهریره رضی الله عنه در باره معیاری را مشخص می کند: "إذا خطب إليكم من ترضون دينه وخلقه فزوجوه، إلا تفعلوا تكن فتنة في

الأرض وفساد كبير». ترجمه: "هرگاه کسی که دین و اخلاق او را می‌پسندید به خواستگاری آمد، او را به همسری دهید، اگر چنین نکنید، فتنه و فساد بزرگی در زمین به وجود خواهد آمد" (ترمذی، 1975، ج3، ص386).

اما در مورد انتخاب زن، ابوهریره رضی الله عنه نیز حدیثی روایت کرده که معیار انتخاب زن را روشن می‌کند: (تُنكح المرأة لأربع: لمالها، ولحسبها، ولجمالها، ولدينها؛ فاظفر بذات الدِّين تربت يداك). ترجمه: "زن به چهار دلیل به همسری گرفته می شود: برای مالش، برای حسب خانواده و نسب اش، برای زیبایی‌اش، و برای دینش، پس کسی را که دین دار است انتخاب کن تا کامیاب شوی" (بخاری، 1414هـ، ج5، ص1958، رقم حدیث 4802).

دانشمندان اثبات کرده اند که صفات ظاهری (خَلقی و خُلقی (اخلاقی) از طریق وراثت منتقل می شوند. همچنین برخی از دانشمندان نظریه‌ای درباره انحراف و عوامل آن ارائه داده‌اند که بر اساس عوامل ژنتیکی و وراثتی استوار است (بوخمیس، 2014، ص110).

تربیت نسل‌های آینده بر اساس پاکی، عفت، و استقامت بنا شده است و به پاکی محیط رشد و منشأ آنها وابسته است. از همین رو، اسلام زنا را در تمام اشکال آن حرام کرده است، زیرا در این صورت کودک نتیجه نطفه‌ای ناپاک و بی‌ارزش خواهد بود که اغلب سرنوشت او گمراهی و فساد است.

همچنین، اسلام برای حفظ پاکی محیط رشد، چندین نوع ازدواج فاسد را حرام کرده است؛ از جمله نکاح متعه، چنان‌که در حدیث آمده است: (نهى النبي صلى الله عليه وسلم يوم خيبر عن المتعة و عن لحوم حمر الإنسية)، ترجمه: که پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم در زمان خیبر از متعه و خوردن گوشت الاغ های اهلی نهی کردند (بخاری، 1414هـ، ج5، ص2102، رقم الحدیث5203).

همچنین نکاح شغار، نکاح تحلیل، ازدواج صوری بخاطر حلال شدن زن برای شوهر اول صورت می گیرد، و نکاح استبضاع ممنوع شده است. در حدیث آمده است: (لا شغار في الاسلام) ( ترجمه: در اسلام نکاح شغار وجود ندارد). (مسلم، 1333، ج4، ص139، رقم حدیث1415). و در حدیث دیگر: (لعن الله المحلل و المحلل له) ترجمه: خداوند لعنت کرده است کسی را که تحلیل می‌کند و کسی که برای او تحلیل انجام می‌شود (أبوداود، 2001، ج3، ص420، رقم حدیث2076).

چون تربیت کودک از پیش از تولد آغاز می‌شود، همان‌طور که گفتیم، موضوع تنها به انتخاب همسر محدود نمی‌شود، بلکه باید از جنین در دوران بارداری نیز مراقبت کرد. این امر از طریق موارد زیر انجام می‌شود:

**الف-** بهبود کاشت نخستین بذر: با رعایت آداب روابط زناشویی، از جمله گفتن نام خدا، حفظ حریم و پوشش، نیت داشتن برای فرزندی صالح، و تأمین پاکدامنی.

**ب -** مراقبت از جنین پس از شکل‌گیری در رحم مادر: با تأمین نیازهای مالی مادر، مراقبت از او از نظر روحی و جسمی، و دور نگه داشتن او از هر چیزی که موجب ضعف، نگرانی، و استرس شود؛ زیرا تمام این عوامل مستقیماً به کودک منتقل می‌شود. خداوند متعال می‌فرماید: ﴿وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ (الطلاق آیه:6). ترجمه: و اگر آنان باردار باشند، بر آنان انفاق کنید تا زمانی که بار خود را بگذارند.

شریعت آسان‌گیر اسلام، برخی امور را برای حفظ حقوق کودک در دوران جنین مجاز شمرده است، از جمله:

- اجازه افطار به زن باردار و شیرده برای حفظ سلامتی خود و فرزند.
- تعویق اجرای حد بر زن زناکار تا زمانی که فرزندش را شیردهی کند و از شیر بگیرد.
- حفظ سهم ارث جنین از پدرش در صورتی که پدر پیش از تولد کودک فوت کرده باشد.

این احکام نشان‌دهنده توجه اسلام به حقوق و رفاه کودک حتی پیش از تولد است (بوخمیس، 2014، ص40).

**به طور خلاصه:** پدر و مادر بودن بزرگ‌ترین مسؤولیتی است که بر عهده انسان قرار دارد تا کودک صالحی را در تمامی جنبه‌ها زندگی از نظر جسمی، روانی، و عقلی تربیت کنند.

## مراقبت از کودک پس از تولد تا سن دو سالگی

اسلام به‌عنوان یک نظام جامع، به مراقبت از کودک از نخستین روز تولد اهمیت ویژه‌ای داده و مجموعه‌ای از احکام و رهنمودهای نبوی را وضع کرده است که هدف آن فراهم کردن شرایطی است تا کودک شاد، صالح، و متعادل رشد کند. با مرور این رهنمودها، درمی‌یابیم که این دستورالعمل‌ها به صورت منظم و پیوسته طراحی شده‌اند تا کودک به بهترین شکل ممکن به مرحله از شیر گرفتن برسد. در ادامه، این رهنمودها را به طور مختصر ذکر می‌کنیم.

**اول- اعمال روز اول تولد**

1. بشارت و تهنئت به نوزاد: جامعه مسلمان به تعاون و محبت و رحمت شناخته می‌شود، و از جمله این ا ست که فرشتگان تولد یحی را به پدرش زکریا علیه‌السلام بشارت دادند... (سوید، 2000، ص55).
2. مستحق شدن در میراث: قال الإمام أبو داود عن أبی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: (إذا استهل المولود وُرث)، ترجمه: امام ابوداود از ابی هریره رضی الله عنه و او از نبی صلی الله علیه وسلم روایت می کند، که رسول الله صلی الله علی وسلم گفت: وقتی که طفل به دنیا آمد و چیخ زد مستحق میراث می شود (ابوداود، 2001، ج4، ص545، رقم حدیث2920).
3. اذان در گوش راست او و اقامت در گوش چپ او، تا نخستین چیزی که به گوش کودك هنگام ورودش به دنیا می‌رسد، کلمات اذان باشد؛ که شامل تمجید خداوند، تعظیم او و توحیدش است. ابن القیم در کتابش" تحفة المودود بأحکام المولود "برخی از فواید این عمل را ذکر کرده است (ترمذی، 1975، ج4، ص97، رقم حدیث1514).
4. تحنیك: این عمل به جویدن خرمایی ا ست که ابتدا جویده شده و سپس در دهان کودك قرار داده می‌شود؛ تا نخستین چیزی که به درون معده کودك وارد می‌شود، غذای شیرین باشد. بهتر است که این عمل توسط یکی از افراد صالح انجام شود. تحنیك به عنوان معجزهٔ نبوی در زمینه سلامت کودك شناخته می‌شود، چرا که از نظر علمی فواید زیادی برای ورود شیرینی به دهان نوزاد در روز اول زندگی ثابت شده است (سوید، 2000، ص57).

**دوم: أعمال روز هفتم تولد**

و اعمال این روز در حدیث سمرة بن جندب رضی الله عنه آمده ا ست که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمودند: "کُلُّ غلامٍ رهینةٌ بعقیقتِه، تُذبح عنه یومَ سابعِه، و یُحلقُ، و یسمی" ترجمه: هر پسر بچه گروگان عقیقه‌اش ا ست؛ که در روز هفتم از او ذبح می شود، سرش تراشیده می شود و نام‌گذاری می شود (الأرنؤوط، 2001، ج4، ص459، رقم حدیث2838).

این سه عمل عبارتند از:

1. نام‌گذاری: در این زمینه انتخاب نام‌های پیامبران، مرسلین، شهدا، و عبد الله و عبد الرحمن پسندیده ا ست، همانطور که در حدیث آمده ا ست همچنین نام‌های همام و حارث نیز به دلیل صداقت آنها مناسب است. پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم نام‌های زشت را به نام‌های زیبا تغییر

می‌دادند، و برخی از علمای اسلام در این مورد تألیفاتی دارند (ابن القیم، 1971، ص105).

2. عقیقه: عقیقه به معنی ذبح حیوان برای نوزاد طبق جنسیت او ست، برای پسر دو بره و برای دختر یک بره. این سنتی مستحب ا ست در میان عموم مسلمانان، در آن رمزی شگفت‌انگیز از فدای ا سماعیل با قربانی کردن قوچ وگو سفند نهفته ا ست و به عنوان فدای نوزاد و رهایی او از د ست شیطان که در روز اول تولد به او آسیب می‌زند، شناخته می‌شود، رسول الله صلی الله علیه وسلم از حسن رضی الله عنه حین تولدش در یک روایت میاید که دو گو سفند را ذبح کردند، و در روایت دیگر آمده که یکی را ذبح کردند، چون این عمل مستحب است پس هردو جائز است (ترمذی، 1975، ج4، ص98، رقم حدیث1514).

3. ترا شیدن سر و صدقه دادن به وزن مو با نقره: این عمل دو فایده دارد: نخست فایده‌ی بهدا شتی برای تقویت مو، و حواس بینایی، بویایی و شنوایی، و دوم فایده اجتماعی با صدقه دادن به فقرا به اندازه وزن موهای تراشیده شده (سوید، 2000، ص72).

4. ختان: ختان یکی از اصول فطرت است و نشانه‌ای از اسلام به شمار می‌آید، و از ویژگی‌های مهم فطرت است؛ چرا که مسلمان را از پیروان سایر ادیان متمایز می‌کند. ختنان برای مردان واجب ا ست، به نظر اکثر فقها، برخلاف نظر احناف. امام مالک در این باره تأکید کرده ا ست که: "اگر کسی ختنه نشود، امامت او پذیرفته نمی‌شود و شهادتش قبول نیست" لهذا ختنان یک عمل پسندیده ا ست، و در حدیث بخاری در شماره 5550 چنین آمده: " (الْفِطْرَةُ خَمْسٌ، أَوْ خَمْسٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: الْخِتَانُ، وَالِاسْتِحْدَادُ، وَنَتْفُ الْإِبْطِ، وَتَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ، وَقَصُّ الشَّارِبِ) ترجمه: پنج چیز در انسان فطری اند: ختنه کردن، تراشیدن موی زیر ناف، کشیدن موی بغل، قلم کردن ناخون، و قطع کردن بروت (البخاری،1414هـ، ج5، ص2209، رقم حدیث5550). این عمل همچنین فواید بهداشتی فراوانی دارد؛ زیرا از بروز بسیاری از بیماری‌ها جلوگیری می‌کند.

### سوم- برای کودک تا دو سالگی شیردهی

پس از آن اسلام برای کودک تا سن دو سالگی شیردهی را فراهم می‌آورد، بلکه آن را بر پدر واجب می‌کند؛ زیرا پدر مسؤول تأمین معیشت و پوشاک خانواده است. پس از اینکه اسلام اولین ارکان خانواده را بنیان‌گذاری کرد، و به عنوان یک روش زندگی برای هر یک از زوجین حقوق و تکالیفی مقرر نمود، بدین صورت که بر عهده شوهر هزینه‌هاست و بر عهده همسر شیردهی و محبت و مراقبت است؛ تا طفل حاجت خود را از سینه مادر براورده کند و راحت عاطفی را حاصل نماید، حینی که او از

مادر خود رفق و نرمی را کسب می کند، این محبت به‌ویژه در شیردهی تا زمان از شیر گرفتن کودک ادامه پیدا می کند. خداوند تعالی می‌فرماید: ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ﴾ (البقرة آیه 233). ترجمه: مادرانی که می خواهند دوران شیردهی را کامل کند، دوسال تمام فرزندانشان را شیردهند. این عمل یک عادت بشـــری است که مختص اسلام نیست؛ و شیردهی مادر به فرزندش همه‌ی علل سلامت روانی، جسمی و ذهنی او را تأمین می‌کند، وهمچنان تحقیقات نشان میدهد که شیردهی نه تنها که به فرزندش فائده دارد بلکه فائده اش برای صحت و سلامت مادر هم می رسد، حتا سبب حفاظت سینه های مادر از مرض سرطان می شود (قنطار، 1992، ص83).

**چهارم- منع بارداری در اثنای شیردهی**

برای اینکه طفل به سلامت روانی، جسمی و ذهنی کلان شود، اسلام از بارداری در دوران شیردهی هم منعه کرده، که در کتابهای احادیث آنرا به (غیله) یاد کرده اند، و از ابن مســعود رضـــی الله عنه روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم ده چیز را خوش نداشـت ... که یکی از آنها فساد و خرابی طفل به سبب بارداری دوباره در جریان شیردهی ا ست، در مسند امام احمد به تحقیق شعیب ارناووط می نویســد که بارداری حرام نیســت بلکه مکروه اســت (الأرنؤوط، 2001، ج6، ص92، رقم حدیث 3605).

**پنجم- حق حضانت طفل برای مادر است**

اسلام به تربیت طفل در طفولت جلب توجه فراوانی داشته است، حتا که در فقه اسلامی این مسأله را به حضـانت یاد شـده، و مادران در حضـانت از مردان پیشـی دارند، زیرا که آنها به صـبر و شـکیبایی و همچنان به محبت و نرمی به صورت فطری افریده شده اند، در حدیث که ابوداود و حاکم از عمرو بن شعیب از پدر کلانش روایت کرده، می گوید: زنی به رسول الله صلی الله علیه وسلم گفت یا رسول الله! این فرزندی من اســت، که شـکمم برایش ارامگاه بود و پسـتانم برایش سـقاء و آب خوره بود، و بغلم برایش آشـیانهٔ بود و حال پدرش من را طلاق کرده و می خواهد که اورا از من بگیرد، رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم گفت: «این طفل حق شـما اسـت تا وقتی که شـما دیگر نکاح نکرده باشـید» (الأرنؤوط،2001، ج.11، ص.311، رقم حدیث6707).

**ششم- حق ولایت طفل**

اسلام حق ولایت طفل را به پدر داده است، زیرا پدر به اداره مالی و سرپرستی او و خانواده می پردازد، و همچنان در امور تربیه و تعلیم او دهان میدهد، این مسـأله را در فقه اسـلامی به «ولایه طفل» ذکر می شود (سوید،2000، ص85).

**نتیجه**

در نتیجه امور که ما به آن در لا بلای این پژوهش توانسـتیم بدسـت بیاوریم، به شـکل زیر قلمداد می نماییم:

اول اینکه اسـلام برای انسـان یک روش کامل زندگی اسـت، تمامی راه های بیرون رفت مشـکلات و معضلات را از راه تربیت سالم به انسانیت پیشنهاد کرده است.

دوم اینکه غریزه شهوت ارضائی را از راه های حلال پیشنهاد کرده و راه های غیر مفید و نا درست را به شـدت منع کرده، از آن جمله نکاح متعه، نکاح شـغار، نکاح تحلیل، نکاح صـوری و نکاح فاسـد می باشد.

سوم اینکه اختیار هردو زوجین باید به اساس دین و اخلاق باشد و هر دو سلامت روانی و فکری داشته باشـند تا بتوانند یک جامعه خوب را تشـکیل دهند. از این رو قبل از تولد طفل برای سـلامت مادر وطفل، بعضی راه های مهم را حین بارداری مادر اختیار نموده، که برای طفل مفید است.

چهارم اینکه روزه خوردن در اثنای حمل، و در وقت شیردهی، همچنان توجه به سلامت مادر در وقت رضاعت، حق حضانت دادن برای مادر می باشد.

پنجم اینکه شـوهران را دسـتور می دهد تا در وقت حمل و بعد از زیمان طفل مصـارف برای سـالم جسمی و اخلاقی و فکری و روانی طفل هر آنچه در توان و قدرت او می با شد مصرف نماید و از هر گونه همکاری با طفل دریغ نه ورزد.

ششم اینکه یک مسلمان حقوق روز اول تا دوسالگی را حسب قوانین و دستور العمل های فقه اسلامی انجام بدهند تا در نتیجه یک کودک سالم و مفید برای خانواده و جامعه تقدیم نمایند.

**مأخذها**

قرآن کریم

ابن القيم، محمد بن أبى بكر بن أيوب. (1971هــ). تحفة المودود بأحكام المولود. دمشق: مكتبة دار البيان.

أبو داود، سليمان بن الأشعث الأزدى. (2009م). سنن أبى داود. تحقيق: شعيب الأرنووط. ج3، بيروت: دار الرسالة العلمية.

أبو داود، سليمان بن الأشعث الأزدى. (2009م). سنن أبى داود. تحقيق: شعيب الأرنووط. ج4، بيروت: دار الرسالة العلمية.

أبو داود، سليمان بن الأشعث الأزدى. (2009م). سنن أبى داود. تحقيق: شعيب الأرنووط. ج6، بيروت: دار الرسالة العلمية.

أبو داود، سليمان بن الأشعث الأزدى. (2009م). سنن أبى داود. تحقيق: شعيب الأرنووط. ج11، بيروت: دار الرسالة العلمية.

أبوعيسى، محمد بن عيسى. (1975م). سنن الترمذي. تحقيق: شاكر، أحمد محمد و محمد فؤاد عبد الباقى، ج3، رقم حديث 1084، مصر: مطبعة البابى الحلبى.

أبوعيسى، محمد بن عيسى. (1975م). سنن الترمذي. تحقيق: شاكر، أحمد محمد و محمد فؤاد عبد الباقى، ج4، رقم حديث1514، مصر: مطبعة البابى الحلبى.

البخارى، أبوعبدالله، محمد بن اسماعيل. (1414هــ). صحيح البخاري. تحقيق: البغا، مصطفى ديب، ج5، رقم حديث4802، دمشق: دار ابن كثير.

بوخميس، بوفو لة. (2014م). انحراف الأحداث من منظور قيمى اخلاقى. الاسكندرية: المكتب الجامعى الحديث.

سويد، محمد نور بن عبدالحفيظ. (2000م). منهج التربية النبوية للطفل، ط3. بيروت: دار ابن كثير.

قنطار، فايز. (1992م). الأمومة ونمو العلاقة بين الطفل والأم. دار النشر: عالم المعرفة.

مسلم، أبوالحسين مسلم بن الحجاج القشيرى. (1333هـ). صحيح مسلم. تحقيق: محمد ذهنى أفندى. تركيا: دار الطباعة العامرة.

# د قضاء او حکمیت ترمنځ توپیرونه

پوهنیار رباني وحدت، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.

برېښنالیک: wahdat.r@gmail.com

**لنډیز**

قضاء او حکمیت د اختلافاتو حل او فصل له پخوانیو روښونو او د اسلام قضایي نظام له مهمو اساساتو څخه شمېرل کېږي. دواړه حل لارې د منازعاتو په حل او فصل او د عدالت په تأمین کې مهم رول لوبوي. د دې موضوع څېړلو اهمیت دا دی، چې د اهل سنت په څلورګونو ( حنفي، حنبلي، مالکي او شافعيٍ) مذاهبو له نظره د حکمیت مشروعیت روښانه شي. اساسي موخه دا ده چې د ذکر شوو روښونو توپیرونه او د منازعاتو په حل او فصل کې یې رول په ډاګه شي. په دې څېړنه کې د څېړنې اصلي پوښتنه چې د قضاء او حاکمیت ترمنځ کوم توپیرونه موجود دي؟ ځواب شوې ده. په څېـړنه کې د توصیفي تحلیلي روش څخه ګټه اخېستل شوې او د معلوماتو او اطلاعاتو د راټولولو روش یې کتابتوني دی. دې پایلې ته ورسېدم چې قضاء او حکمیت ترمنځ د اهمیت، مشروعیت، موضوعي صلاحیت، د ارکانو، د الزامي والي، د قاضي او حَکم د انتخاب، د عزل اسبابو، او د حُکم انشاء له پلوه یو له بل سره توپیر لري، ترڅو د دعوو او اختلافاتو ماهیت ته په کتو د حکمیت څخه ګټه واخېستل شي، ځکه په ټولو موضوعاتو کې د حکمیت څخه ګټه اخېستل جواز نه لري.

**کلیدي ټکي:** توپیرونه، حکمیت، حل او فصل، دعوی، قضاء.

**سریزه**

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَ الْصَّلاةُ وَ الْسَّلامُ عَلى اَشْرَفِ الْمُرسَلِيْنَ وَ عَلى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْنَ.أما بعد:

اختلافات، شخړې او دعوې د انسانانو د ډله ییز او ټولنیز ژوند له لومړنیو پدیدو او پایلو څخه ګڼل کېږي، ځکه له یوې خوا د انسانانو استعدادونه، اړتیاوې، غوښتنې او برداشتونه یو له بل سره توپیر لري او له بلې خوا د ځینو انسانانو ځان غوښتنې، تسلط طلبی او واک غوښتنې ذاتي غرایز په ټولنیز ژوند کې د شخړو، منازعو او دعوو رامنځته کېدو سبب کېږي. په همدې اساس اختلافات او دعوې د ټولنیز ژوند نه بېلدونکې برخه ده.

د اختلافاتو او دعوو د حل او فصل په موخه داسې حل لارو ته اړتیا لیدل کېده، چې رامنځته شوې دعوې ژر تر ژره حل او فصل او عدالت په ښه ډول تأمین کړي. په همدې اساس، ذکر شوو اهدافو ته د رسېدو په موخه قضاء او حکمیت تر ټولو مهم او آغېزمن نهادونه دي او د اسلام سپیڅلي دین له مهمو اساساتو څخه گڼل کېږي.

دا چې د قضاء له لارې د اختلافاتو او دعوو حل او فصل د دولت مهمه دنده ده او د یادې دندې ترسره کولو لپاره قضاء عام او پراخ واکونه لري، مگر امکان لري چې ځینې اشخاص د خپلو شخړو او دعوو د حل و فصل لپاره د قضاء پر ځای حکمیت ته مراجعه وکړي. په همدې اساس، د دواړو روشونو ترمنځ د شته توپیرونو څېړل او پېژندل اړین دي، چې په دې مقاله کې د قضاء او حکمیت ماهیت او توپیرونه څېړل کېږي.

## د څېړنې موخې

- د قضاء او حکمیت لغوي او اصطلاحي تعریفونو، ارکانو او د حکمیت اړوند احکامو باندې پوهېدل.
- د قضاء او حکمیت مشروعیت په اړه د فقهاوو نظریاتو باندې پوهېدل.
- په دې پوهېدل چې د کومو موضوعاتو حل او فصل د قضاء او د کومو مسایلو حل او فصل د حکمیت له لارې جواز لري.
- د قضاء او حکمیت ترمنځ د توپیرونو تشخیصول او روښانه کول.
- لوستونکو ته د قضاء او حکمیت په اړه معلومات وړاندې کول.

## کړنلاره او د کار توکي

دغه یوه څېړنیزه مقاله ده او د تحقیقي ـ توصیفي روش څخه گټه اخېستل شوې ده او د معلوماتو راټولو روش یې کتابتوني دی. په پیل کې مې د هرې موضوع د څېړلو په موخه د الله تعالی سپیڅلي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده؛ وروسته مې سرور کائنات حضرت محمد مصطفی ( صلی الله علیه وسلم ) په مبارکو احادیث استناد کړی دی. په همدې ترتیب د څېړنې په اوږدو کې مې د ځینو معبترو،مستندو او متعمدو مأخذونو ته هم مراجعه کړې ده. د یادولو وړ ده چې د څېړنې د نورو مأخذونو او سرچینو ترڅنگ مې د کمپیوټري کتابتون او ټولنیزو شبکو او معلوماتو څخه هم گټه اخیستې ده، چې د دې څېړنې په بشپړولو کې اړین وو.

ځرنګه چې زما د لیکنې موضوع( د قضاء او حکمیت ترمنځ توپیرونه) ده، د موضوع وضاحت لپاره به لومړی د قضاء او حکمیت د ماهیت په اړه لنډ معلومات او ورپسې به د قضاء او حکمیت ترمنځ په توپیرونو باندې خپله کتابتوني څېړنیزه لیکنه بشپړه کړم.

**د قضاء لغوي معنا**

قضاء مشترکه عربي ژبي کلمه ده چې کڼ شمیر معناوو او قراینو یا هغه عرف ته شاملېږي، چې د متکلم قصد ته په اضافت سره مطلوبه معنی واضحه کوي (نیازی، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ٦). د قضاء لفظ له لغوي پلوه ډېرې معناوې لري چې یو څو معناوې یې په لاندې ډول ذکر کوو.

الف: قضاء د اداء په معنا ده. لکه ځرنګه چې خدای ج فرمایلي دي: ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُم منسِكَكُمْ ﴾ (سورت البقره: آیت ۲۰۰). ژباړه: کله چې تاسو خپل مناسک ترسره کړی.

ب: قضاء د اتمام او اکمال په معنی ده:﴿ فلَمَّا قَضَى مُوسَى الأجل ﴾ ( سورة القصص: آیت ۲۹). ژباړه: کله چې موسی علیه السلام خپل معیاد پوره کړ»

ج: قضاء د حکم او امر په معنی ده:﴿ وقضينا إِلَى بَنِي إِسْرَءِيلَ فِي الْكِتَبِ ﴾ ( سورة الاسراء: آیت ۴). ژباړه: ...او موږ په کتاب کې بنی اسرائیلو ته په کتاب کې پرېکړه کړې وه.

د: قضاء د قطع او فصل په معنی ده:﴿ وَقَضَيْنا﴾ (سورة الاسره: آیت ۴). ژباړه: موږ پرېکړه وکړه.

هـ: قضاء د فراغ په معنی ده: ﴿ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضى نَحْبَهُ ﴾ ( سورة الاحزاب: آیت ۲۳). ژباړه: له هغوی څخه ځینو خپل عهد پوره کړ.

په عامه توګه قضاء د حکم کولو، د یو شي ترسره کولو او د یو شي څخه د فارغېدلو په معنی ده او قاضي ته ځکه قاضي ویل کېږي چې یو حکم ترسره کوي او ظالم له ظلم څخه منع کوي (نیازی، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ٦).

**د قضاء اصطلاحي تعریف**

لکه څه ډول چې له لغوي پلوه قضاء واحده معنی نه لري، په ورته ډول له اصطلاحي پلوه هم واحد تعریف نه لري، فقهاوو د قضاء لپاره بېلا بېل تعریفونه وړاندې کړي دي، چې په لاندی ډول یې ذکر کوو.

۱ـ قضاء د خصومتونو او منازعاتو د حل او فصل څخه عبارت ده.

۲ـ په الزامي توګه د یو شرعي حکم څخه خبر ورکولو ته قضاء ویل کېږي.

**۳ـ** د خدای ج د حکم پربنسټ د دوو خصمینو ( مدعي او مدعی علیه) او یا د دوو خصمینو څخه د زیاتو کسانو ترمنځ فیصلې یا حکم کولو ته قضاء وایي( عبدالعزیز بن مازه،۱۴۱۳هـ ق، ج ۱، ص: ۱۴۲).

**۴ـ** په مخصوصه طریقه د خصومتونو حل او فصل او د منازعاتو له منځه وړلو ته قضاء وایي (زیدان، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۵۰).

**۵ـ** معاصرو فقهاوو قضاء داسې تعریف کړیده: د اسلامي قانون سره سم په ځانګړي کیفیت، د خصومو ترمنځ حُکم کولو ته قضاء وایي (طیرانیان، ۱۳۸۱هـ.ش، ص: ۲۳۴).

**د قضاء ارکان**

قضاء پنځه ارکان لري چې په لاندې ډول یې ذکر کوو:

1. القاضي: قاضي د هغه چا نوم دی چې د دوو یا زیاتو کسانو ترمنځ پرېکړه کوي او هغه شخص ترې مراد دی چې په شرعي چارو کې لاس رسی لري، یعني هغه کس چې د حکم په صادرولو کې صلاحیت لري ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش،ص: ۳۴).
2. المقضی به: د دې څخه هدف هغه حکم دی چې د قضاء پروسې په پای کې حُکم صادر شوی وي.
3. المقضي فیه: د دې څخه مراد هغه موضوع ده چې پرې شخړه او نزاع رامنځته شوې وي.
4. المقضي له: هغه لوری دی چې نهایي حکم د هغې په ګټه او نفع صادریږي.
5. د المقضي علیه: هغه لوری دی چې نهایي حکم د هغې پر ضد صادریږي ( فوزي، ۲۰۱۰م، ص: ۲۴۳).

**د قضاء مشروعیت**

پرته له استثناء څخه هره ټولنه که هغه اسلامي وي یا غیر اسلامي قضاء ته اړتیا لري په همدې اساس اسلام مبارک دین پر قضاء امر کړی دی. د قضاء مشروعیت په اړه په قرآن کریم کې ګڼ شمیر آیتونه موجود دي چې دلته یوازې د دوو آیتونو په ذکر کولو سره بسنه کوو. همدارنګه خدای(جل جلاله) فرمایلي دي: ﴿ وَإِنْ حَكَمْتَ فَأَحْكُم بَيْنَهُم بالقسط إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾( سورة المایده: آیت ۴۲). ژباړه: که ته پرېکړه کوې، نو د انصاف سره پرېکړه وکړه. یقیناً الله تعالی هغه کسان خوښوي چې انصاف کوي. همدارنګه خدای (جل جلاله) په سورة المایده کې فرمایلي دي: ﴿ وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ ﴾ ( سورة المایده: آیت ۴۹). ژباړه: او ته د دوی ترمنځ په هغه څه پرېکړه وکړه چې الله تعالی نازل کړي دي.

**د نبوي سنتو له پلوه د قضاء مشروعیت**

د قضاء د مشروعیت په اړه ډېر نبوي احادیث موجود دي، د بېلګې په توګه د حضرت عمرو بن العاص ( رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:کله چې حاکم فیصله کوي او کوشش پکې وکړي بیا حق ته پکې ورسیږي؛ نو ده لپاره دوه اجرونه دي او کله چې فیصله وکړي او خپل کوشش هم وکړي، مګر په فیصله کې خطاء شي، نو دده لپاره یو اجر دی ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش،ص: ۱۳).

**د اجماع له پلوه د قضاء مشروعیت**

د قضاء مشروعیت په اړه ګڼ شمېر علماوو اجماع کړې ده، د قضاء اجماع په اړه ابن قدمه ویلي دي دي:« أَجْمَعَ المسْلِمُونَ عَلَى مَشْرُوعِيَّةِ نَصْبِ الْقَضَاءِ وَالْحُكْمِ بَيْنَ النَّاسِ.» ژباړه: ټولو مسلمانانو د قضاء او د خلکو ترمنځ د حکمیت په کولو اجماع کړې ده.

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) شخصاً پخپله د قضاء دنده پر غاړه اخیستي وه. لکه څرنګه چې د خلکو ترمنځ یې د منازعاتو په اړه پرېکړې کولې او ځیني ملګري یې له مدینې منورې څخه د باندې د قضاتو په توګه لیږلي وو. علماء کرام هم د قضاء د مشروعیت په اړه د نظر اتفاق لري او داسې استدلال یې کړی، چې د خلکو چارې له قضاء پرته پرمخ نه ځي، په همدې اساس قضاء د جهاد او امانت په څېر د کفایي واجباتو څخه ګڼل کیږي ( زیدان، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۳۴).

**د حکمیت لغوي او اصطلاحي تعریف**

حکمیت له لغوي پلوه واحده معنا نه لري، بلکې بېلا بېلې معناوې او د استعمال موارد لري، چې یو څو معناوې یې په لاندې ډول ذکر کوو:

حکمیت عربي کلمه ده، له تحکیم څخه اخېستل شوی ده او د کلمې اصل یا مصدر حکم دی، چې هغه د حکمیت څخه اخېستل شوی، یعنې په علومو کې د شیانو پېژندلو ته وایي او حکم د علم او فقهې په معنی هم راځي.

همدارنګه حکم د حُکم، حاکم او حکومت سره هم تړاو لري، لکه څه ډول چې ویل کېږي، فلانی یې حَکم انتخاب کړ، یعنې امر یې ورته وکړ، چې د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي او محکم د قاف په فتحې سره هغه شیخ ته ویل کېږي چې تجربه ولري او حکمت ته منسوب وي (نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۲۳۴).

**د حکمیت اصطلاحي تعریف**

د حکمیت لپاره فقهاوو بېلا بېل تعریفونه وړاندې کړي دي، چې د بېلګې په توګه یوازې دوه تعریفونه ذکر کوو:

۱ـ د فقهاوو په اصطلاح کې تحکیم دېته وايي چې د نزاع دواړه لوري، په مشترک توافق شخص د حَکم يا منځګړي په توګه وټاکي، څو د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي ( قضاء مجله، ۱۳۹۵هـ ش، ص: ۱۴۳).

۲ـ حَکم ته په فقه کې د تحکیم قاضي وايي، یعنې هغه کس چې د خلکو له خوا د دعوې طرفینو په خوښه او رضايت د دوی اختلافاتو ته رسېدګي کوي ( لنګرودي،۱۳۷۳هـ ش، ج۱،ص: ۵۱۱).

**د حکمیت ارکان**

حکمیت یو رکن لري، چې عبارت دی له هغه لفظ څخه چې په حکمیت دلالت وکړي. د بېلګې په توګه حَکم ته داسې ووايي: زموږ ترمنځ پرېکړه وکړه یا موږ ته په دغه یا هغه موضوع کې د حَکم په توګه وټاکلې او هغه یې قبول کړي. یعنې د محکّم( د کاف په فتحې سره) په قبول سره هغه کس چې د حُکم واک هغه ته سپارل کېږي ( ابن عابدین، ۱۳۸٦هـ ق، ج۳، ص:۳۹۷).

**د حکمیت مشروعیت**

د حکمیت مشروعیت په اړه د علماوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. د بېلګې په توګه حنفي او حنبلي علماء د حکمیت په جواز قایل دي او حکمیت د مشروعیت لپاره د قرآن کریم، نبوي سنتو او اجماع په رڼا کې دلایل وړاندې کوي، چې هر یو یې د جلا جلا مطالبو په ترڅ کې تر بحث لاندې نیسو.

**دقرآن کریم له نظره د حکمیت مشروعیت**

خدای جل جلاله په قرآن کریم فرمایي:﴿ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَٱبْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِۦ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَآ إِن يُرِيدَآ إِصْلَٰحًا يُوَفِّقِ ٱللَّهُ بَيْنَهُمَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا﴾(سورة النساء:آیت ۳۵). ژباړه: که تاسې د هغوی( ښځې او خاوند) ترمنځ د اختلاف وېره لرئ، نو یو حکم د سړي له کورنۍ او یو حکم د ښځې له کورنۍ وټاکئ. که هغوی دواړه د اصلاح اراده ولري، الله تعالی به د هغوی ترمنځ موافقه وکړي. بېشکه الله تعالی ښه پوه او خبر دار دی.

پورتنی آیت شریف د حکمیت په مشروعیت دلالت کوي. کله چې حکمیت د زوجینو ترمنځ مشروعیت ولري؛ نو دا په دې دلالت کوي چې حکمیت پر نورو خصومتونو او دعوو کې هم جواز لري.

**نبوي سنت**

همدارنګه په هغه حدیث کې چې له شُریح څخه روایت شوی دی، هغه له خپل پلار هاني څخه روایت کوي: کله چې هغه له خپل قوم سره حضرت محمد( صلی الله علیه وسلم) خوا ته ورغی؛ نو خلکو هغه ته ابوالحکم وایه. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه او ویې فرمایل: په حقیقت کې خدای جل جلاله حکم دی او حُکم د خدای جل جلاله سره اړه لري، ته څنګه ځان ته ابوالحکم وایې؟ هغه ورته وویل: کله چې زما قوم کې د کومې موضوع یا شي په اړه اختلاف او شخړه رامنځته شي؛ نو خلک

ماته راځي او زه د دوی ترمنځ حکمیت او منځګړیتوب کوم او د دواړه لوري زما په منځګړیتوب راضي کیږي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ستا دا کار څومره ښه دی او زیاته یې کړه: څو بچیان لرې؟ ابوالحکم وویل: بچیان مې شُریح، عبد او مسلم دي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په دوی کې تر ټولو مشر کوم یو دی؟ ویې ویل: شُریح دی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له دې نه وروسته ستا نوم او کنیه ابو شُریح شو، پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه او د هغه بچیانو ته دُعاء وکړه.

دا حدیث شریف د حکمیت په مشروعیت دلالت کوي، ځکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هغه کار ته ښه وویل ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۵۵).

**د اجماع له پلوه د حکمیت مشروعیت**

د حکمیت مشروعیت په اجماع سره په اثبات رسېدلی دی، ځکه صحابه وو کرامو رضي الله تعالی عنهم هم د حکمیت څخه ګټه اخېستې ده او هیچا هم حکمیت نه دی رد کړی ( زیدان، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۲۴۹).

**له عقلي پلوه د حکمیت مشروعیت**

دا چې د دعوې دواړه خواوې په خپله خوښه د حَکم پرېکړه یا حُکم مني او قناعت پرې کوي؛ نو څه ممانعت پکې نه لیدل کېږي ( قماشي، ۱۳۷۹هـ ش، ص: ۶۳۲).

د پورته ذکر شویو دلایلو باوجود، یو شمېر شافعي علماء حکمیت ته جواز نه ورکوي او ځینې په دې شرط حکمیت ته جواز ورکوي چې په سیمه کې قاضي موجود نه وي. د دوی استدلال دا دی چې حکمیت د حاکم او قاضي هیبت له منځه وړي او له بلې خوا احنافو او حنابله وو ته داسې ځواب ورکوي چې حَکم، د حبس او جزاء پلي کیدو واک نه لري ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۵۶).

همدارنګه ځینې علماء د حکمیت د عدم مشروعیت په اړه په دې آیت شریف باندې استدلال او استناد کوي، چې الله تعالي فرمایلي دي﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴾( **سورة المایده :آیت ۴۴**).

**ژباړه: څوک چې د الله له نازل کړي حکم سره سم پرېکړه نه کوي، نو همدوی کافران دي.**

**د قضاء او حکمیت ترمنځ توپیرونه**

دا چې قضاء او حکمیت د منازعاتو او دعوو د حل او فصل دوه مهم او آغېزمن روشونه دي او یو له بل سره ځینې مشابهتونه هم لري؛ خو په دې فصل کې د مشابهتونو څخه صرف نظر کوو، یوازې توپیرونه یې تر بحث لاندې نیسو. د قضاء او حکمیت ترمنځ مهم توپیرونه په لاندې ډول دي.

**۱ـ د اهمیت له پلوه**

فقهاء په دې آند دي چې د حکمیت مقام د قضاء په پرتله په درجه او رتبه کې ټیټ دی، ځکه چې قضاء د عامه ولایت یوه مهمه برخه ده او حکمیت د عامه ولایت برخه نه ده ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۵۶).

**۲- د مشروعیت له پلوه**

د قضاء مشروعیت په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف نشته، ټول فقهاء د قضاء مشروعیت د قرآن کریم، نبوي سنتو، د اُمت اجماع او عقل پربنسټ مني. مګر د حکمیت مشروعیت په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. حنفي او حنبلي علماء د حکمیت په جواز قایل او د حکمیت د مشروعیت لپاره د قرآن عظیم الشان، نبوي سنتو او اجماع په رڼا کې دلایل وړاندې کوي؛ خو ځینې شافعي علماء حکمیت ته جواز نه ورکوي او ځینې په دې شرط حکمیت ته جواز ورکوي، چې په سیمه کې قاضي موجود نه وي.( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۲۴۵).

ځینې شافعي علماء د حکمیت عدم مشروعیت په اړه د قرآن الکریم په دې آیت شریف استناد کوي:﴿ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴾(**سورة المایده: آیت ۴**).

**۳ـ د موضوعي صلاحیت له پلوه**

د قضاء صلاحیت عام او مطلق دی، کولای شي چې په ټولو قضایاوو کې حکم صادر کړي، لکه: حدود، قصاص، مدني، جزایي، حقوقي او داسې نور او د یادو مسایلو په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف شتون نه لري، مګر د حکمیت صلاحیت عام او مطلق نه دی، ځکه قضایاوو ته د رسیده ګی په برخه کې د حکمیت جواز په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی، چې په لاندې ډول یې ذکر کوو ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۴۵).

**الف ـ د حنفي فقهاوو له نظره**

حنفي فقهاء په دې آند دي چې د خدای جل جلاله په حدودو، قصاص او د عاقله په دیت کې حکمیت جواز نه لري او په نورو مسایلو کې جواز لري. په دې اړه داسې استدلال کوي چې د حَکم یا منځګړي پرېکړه د سولې په څېر ده. په همدې اساس، په هر هغه څه کې چې د سولې په وسیله د هغې استحقاق او لاسته راوړل جایز نه وي، په هغه کې تحکیم هم جواز نه لري. په داسې حال کې چې د سولې په سبب د حدودو او قصاص استحقاق جواز نه لري؛ نو د هغې په اړه تحکیم هم جواز نه لري (زیدان، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۲۴۹).

**ب ـ د مالکي فقهاوو له نظره**

مالکیان په دې باور دي چې حکمیت په مالي منازعاتو او هر هغه څه کې چې د هغې په څېر وي، صورت نیسي. د خدای جل جلاله په حدودو، قصاص، د نسب په اړه ادعا او عتاق یا ولاء کې جواز نه لري. دا شیان د دوی په آند د جایز تحکیم له دایرې څخه مستثناء دي، ځکه چې دا شیان د غیر متحاکمینو لپاره د حُکم اثبات یا د هغې د نفي مستلزم دي او هغوی د حَکَم یا منځګړي په حُکم نه راضي کېږي ( الدسوقی، ۱۴۲۴ هـ ق، ج ۱، ص: ۱۳٦).

**ج ـ د شوافعو له نظره**

د دې موضوع په اړه شافعي فقهاء په دوو ډلو وېشل شوېدي. یوه ډله په دې باور دي، چې د تحکیم جواز په مالي دعوو او معاضوي قراردادونو پورې متخص ده. په حدودو، قصاص، نکاح او لعان کې جواز نه لري، ځکه چې دا ډول چارې چې د هغې اساس په احتیاط اېښودل شوې وي؛ نو د هغې په اړه حکمیت هم جواز نه لري.

د شوافعو بله ډله په دې عقیده ده چې حکمیت په هر هغه څه کې چې خصمین په هغې دعوی لري، جواز لري، لکه څه ډول چې د امام له لوري د ټاکل شوي قاضي حُکم په ټولو دعوو کې جایز دی. دا هغه قول دی چې مغنی المحتاج په خپل کتاب کې هغه تائید کړی دی، چې په شافعي مذهب کې ویل شوې دي:« حکمیت مختص نه دی، ځکه هغه کس چې د هغې پرېکړه د یوې مالي دعوې په اړه صحت لري، په نورو دعوو هم کې هم صحت لري»( زیدان، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ۲۴۹).

**د ـ د حنابلي فقهاوو له نظره**

د حنبلیانو امام ویلي دي، چې په نکاح، لعان، حدودو او قصاص کې حکمیت جواز نه لري او په نورو مسایلو کې جواز لري، ځکه چې د دې قضایاوو څخه پرته د نورو قضایاوو په اړه یوه ګټه او برتري لري؛ نو هغې ته یوازې امام رسیدګی کولی شي او قاضي هم د امام نائب دی، چې د هغه پر ځای کولای شي دا کار ترسره کړي.

ابو خطاب ویلی دي: د احمد( رحمة الله علیه ) د خبرو له ظاهر څخه داسې معلومېږي چې حکمیت په ټولو چارو کې د پلي کیدو وړ دی، یعنې حکمیت د دې څلورو شیانو پرته په ټولو قضایاوو کې جواز لري ( زیدان، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ۲۵۰).

مجله الاحکام(۱۸۴۱ ) ماده داسې صراحت لري: حکمیت په هغو مالي دعوو کې جایز دی، چې د خلکو حقونو سره تړاو ولري ( مجلة الاحکام: ماده ۱۸۴۱).

**۴ ـ د ارکانو له پلوه**

قضاء او حکميت د ارکانو له حيثه هم يو د بل سره تو پير لري، چې په لاندې ډول يې ذکر کوو :

د قضاء ارکان پنځه دي، چې عبارت دي له: القاضی، المقضی به، المقضی فيه، المقظه له، المقظی عليه.

په داسې حال کې چې حکميت يو رکن لري، چې عبارت دی له هغه لفظ څخه چې په حکميت دلالت وکړي.

**۵ ـ د الزامي والي له حيثه**

ټولې هغه پرېکړې چې د قاضي له خوا صادرېږي او قطعي شوې وي، الزامي او د اجراء وړ دي. برابره خبره ده، چې که د دعوې يو لوری يې مني او يا يې نه مني. که څوک د قاضي حُکم له منلو څخه انکار وکړي، په منلو يې مجبوريږي، ان تر دې چې کله کله د زور او قوت څخه گټه اخېستل کېږي.

مگر د هغه حُکم په اړه چې د حکميت له لارې صادر شوی وي، فقهاء يې په اړه يو له بل سره د نظر اختلاف لري ( زيدان، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ۴۹ ).

**٦- د دعوی د طرفينو څخه پرته نورو کسانو ته د حکم د سرايت له حيثه**

د قاضي حکم د دعوی د طرفينو سربيره نورو اشخاصو باندې هم تطبيق کيږي، لکه د خطاء په قتل کې که چېرې قاضي په ديت حکم وکړي؛ نو د قاتل عصبه هم د ديت په ورکولو ملزم دي، مگر د حَکَم پرېکړه داسې نه ده، ځکه د دعوی طرفينو پرته نور خلک پرې ملزم کيدای نشي ( نيازی، ۱۳۹٦هـ ش، ص: ۵۵).

همدارنگه مجله الاحکام هم په ۱۵۴۳ ماده په دې اړه داسې صراحت لري:: د حَکَم يا منځگړي پريکړه يوازې د هغه اشخاصو په حق کې چې يو له بل سره دعوی لري او هغه يې د حَکَم په توگه ټاکلی دی د پلي کېدو وړ ده د مدعی او مدعی عليه پرته به بل چا نه پلي کيږي (مجلة الاحکام: ماده ۱۵۴۳).

**۷ - د انتخاب له پلوه**

په قضاء او حکميت کې د قاضي او حَکم ټاکل کيدل هم يو د بل سره توپير لري، چې د جلا جلا مطالبو په ترڅ کې يې په لنډ ډول روښانه کوو.

**الف - په قضاء کې د قاضي ټاکل کيدل**

په قضاء کې د قاضي ټاکل کيدو لپاره، په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو کې بېلا بېلې طريقې ذکر شوي دي، د بيلگې په توگه په وضعي قوانينو کې د قاضي د ټاکلو لپاره درې طريقې وجود لري، لکه:

۱ـ د انتخاباتو له لارې د قاضي ټاکل: ( يعني قاضي د عمومي انتخاباتو له لارې ټاکل کېږي لکه: په سويس او امريکا متحده ايالتونو کې )

۲- د تعینولو طریقه: قاضي د اجرائیه قوې مقاماتله لوري ټاکل کېږي.

۳- مختلطه طریقه: قاضي دمقاماتو له خوا مقررېږي او د هغه منصفه هیئت د انتخاباتو له لارې ټاکل کېږي.

مګر په اسلامي شریعت کې قاضي د خلیفه او د هغه نائب له خوا ټاکل کېږي(نیازی، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۲۹).

**ب- په حکمیت کې د حَکم ټاکل کیدل**

په حکمیت د حَکَم ټاکلو لپاره څلور طریقې وجود لري:

الف - د طرفینو له خوا. ب - د حکمیت سازمان له خوا. ج- د نصب کوونکي مقام له خوا. د ملي محاکمو له خوا.( قضاء مجله، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۱۲۳).

**۷ - د حُکم تغیر له پلوه**

د اسلامي شریعت د احکامو له مخې د قضاء حکم د کفایي فرضونو له جملې څخه دی او په دې اړه د امامانو ترمنځ د نظر اختلاف نشته، چې د قضاء قیام کفایي فرض ده؛ خو د حکمیت حکم کفایي فرض نه دی. د حکمیت حکم په اړه د فقهاوو او علماوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی ځینې وایي چې حکمیت یو مباح عمل دی او ځینې له مشروعیت څخه منکر دي ( نیازی، ۱۳۹۶هـ ش،ص: ۱۳۴).

**۸ - د عزل اسبابو له پلوه**

**الف-** په قضاء کې د دعوې طرفین د قاضي عزل کېدو واک نه لري، مګر په حکمیت کې طرفین کولای شي، چې د حُکم د صدور څخه وړاندې حَکَم عزل کړي. په اسلامي شریعت او وضعي قوانینو کې د قاضي د عزل کیدو لپاره مختلفې طریقې پیش بیني شوي دي (زیدان، ۱۳۹۶هـ ش، ص: ۱۳۴).

**۹ - د حُکم انشاء او د هغې د تغییر له پلوه**

په قضاء کې قاضي د حکم د انشاء پرمهال د منازعې له طرفینو سره مشوره نه کوي، مګر په حکمیت کې حَکم یا حَکمان خپل نظر د اختلاف د طرفینو سره په سلا مشوره وړاندې کوي.

- اصولاً د قاضي حکم د نقض وړ نه دی، مګر په هغه صورت کې نقض کېږي، چې د هغې خلاف ثابت شي.

خو په حکمیت کې د حَکم نظر د منازعې طرفینو له خوا هر لحظه د تغیر وړ دی ( عبدالعزیر بن مازه، ۱۴۱۳هـ ق، ج ۱، ص: ۳۰).

**پایله**

د موضوع په پای کې دې پایلې ته ورسیدم چې:

قضاء او حکمیت د افرادو ترمنځ د اختلافاتو او دعوو د حل او فصل او د منازعاتو د له منځه وړلو له پخوانیو حل لارو او د اسلام قضایي نظام له مهمو اساساتو څخه ګڼل کیږي.

قضاء او حکمیت د اهمیت له پلوه یو له بل سره توپیر لري، د قضاء په پرتله د حکمیت مقام په درجه او رتبه کی ټیټ دی، ځکه چې قضاء د عامه ولایت یوه مهمه برخه ده او حکمیت د عامه ولایت برخه نه ده.

د قضاء مشروعیت په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف نشته، مګر د حکمیت د مشروعیت په اړه د علماوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. حنفي او حنبلي علماوو په باور حکمیت جواز لري، مګر ځیني شافعی علماء حکمیت ته جواز نه ورکوي او ځینې په دې شرط حکمیت ته جواز ورکوي، چي په سیمه کي قاضي نه وي موجود.

همدارنګه د قضاء صلاحیت عام او مطلق دی، کولای شي چې ټولو قضایاوو کی حکم صادر کړي او پدي اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف نشته، مګر د حکمیت صلاحیت عام او مطلق نه دی. قضایاوو ته د رسیدګی په برخه کې د حکمیت د جواز په اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی.

د قضاء ارکان پنځه یا شپږ ښودل شوي دي: ۱-القاضي، ۲-المقضی به، ۳-المقضي فیه، ۴-المقضي له، ۵ـالمقضي علیه، ٦- د قضاء کیفیت، مګر د حکمیت یو رکن لري، چي عبارت د هغه لفظ څخه عبارت دی چې په حکمیت دلالت وکړي.

د الزامي والي له حیثه هم قضاء او حکمیت یو د بل توپیر لري. هغه پریکړي چي د قاضي د حاکم له لوري د ټاکل شوي قاضي له خوا صادریږي الزامي او د اجراء وړ ده، مګر په حکمیت کی د حَکَم پریکړه په هغه چا پورې تړاو لري، چي د هغه حکم ومني او په هغه شخص، د حَکم فیصله نه مني، الزام راوړونکي نه ده.

د قضاء او حکمیت ترمنځ د قاضي او حَکم د ټاکلو په اړه هم توپیر موجود دی. په قضاء کی د قاضي د ټاکلو لپاره په اسلامي شریعت او وضعي قوانینو کې بېلا بېلې طریقې ذکر شوي دي، پداسې حال کې چې په حَکمیت د حَکم د ټاکلو طریقې له قضاء سره توپیر لري.

د حُکم له حیثه: د اسلامی شریعت د احکامو له مخې د قضاء حکم دکفایي فرضونو له جملې څخه دی او پدی اړه د امامانو ترمنځ د نظر اختلاف نشته؛ خو د حَکمیت حکم کفایي فرض نه دی. د حکمیت د حکم په اړه ځینې فقها وایي چي حکمیت یو مباح عمل دی او ځیني یې له مشروعیت څخه منکر دي.

د عزل کیدو له حیثه هم قضاء او حکمیت ترمنځ موجود دی، په قضاء کی د دعوی لوري د قاضي دعزل کېدو واک نه لري، مگر په حکمیت کی طرفین کولای شي چې د حُکم د صدور څخه وړاندې حَکم عزل کړي.

د ښېګڼو او مزایاوو له حیثه هم قضاء او حکمیت یو د بل سره توپیر لري، همدارنگه قضاء او حکمیت د منازعې د طرفینو سره د مشوري او د حُکم د نقض له حیثه هم یو د بل سره توپیر لري.

په ټولیزه توگه ویلای شو، چې قضاء او حکمیت د اختلافاتو او شخړو د هوارولو دوه سوله ییز او متفاوت روشونه دي.

**وړاندیزونه**

۱- لوړو زده کړو وزارت ته مې وړاندیز دا دی چې د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو د لیسانس او ماسټري دورو په تحصیلي نصابونو کې د قضاء ترڅنګ د حکمیت اړوند مفردات هم زیات کړي، څو محصلان د اختلافاتو د حل او فصل په موخه د قضاء ترڅنګ د حکمیت په ماهیت، اغیز منتوب او رول باندې هم پوه شي.

۲ـ داچې له یوې خوا په قضاء کې د دعوو او اختلافاتو حجم زیات وي، نشي کولای چې ټولو قضایاوو ته په خپل وخت رسیدگي وکړي او له بلې خوا ځیني افراد قضاء ته لاس رسی نه لري؛ نو حکومت ته مې وړاندیز دا دی چې په مدني، سوداګریزو او یو شمېر نورو برخو کې د حَکمیت لپاره د اسلامي شریعت او افغاني عرف او عنعناتو په چوکاټ کې ځانګړي قوانین وضع او پلي کړي.

۳ـ یو شمېر علماوو او دانشمندانو په پښتو ژبه د قضاء په اړه ځینې څېړنې، لیکنې او ژباړې کړي او کوي، مگر په خپلو لیکنو او څېړنو کې یې حکمیت ته ډېره پاملرنه نه ده کړې؛ نو د علم او پوهې خاوندانو ته مې وړاندیز دا دی، چې د حکمیت په اړه هم لیکنې او څېړنې وکړي.

**اخځلیکونه**

القرآن الکریم

اندری. حسن (۱۳۸۱ هـ ش) فرهنگ بزرگ سخن، ج ۴، (لومړی چاپ). تهران: انتشارات سخن.

ابن عابدین، محمد امین (۱۳۸٦هـ) درالمحتار علی الدر المختار.ج۳. کویټه: مکتبه رشیدیه.

الدسوقي، محمد عرفه(۱۴۱۲هـ ق)حاشیه الدسوقی علی الشرح الکبیر. (چاپ، ۱). نشریه: دار الحیاء الکتب العربیه.

زیدان، عبدالکریم(۱۳۹٦هـ ش) نظام قضاء در اسلام. ژباړه: فرید الله هلال. جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

ستانکزی، نصر الله( ۱۳۹۲هـ ش) اصول محاکمات مدنی، ( چاپ،۱). کابل: اتشارات مستقبل.

بن مازه، حسام الدين عمر بن عبدالعزيز (۱۴۱۳هـ ق) ادب القاضی تألیف الفقيه المعروف الخصاف الحنفی. ج،۱.( چاپ، ۱).

طوسی، محمد بن الحس ( ۱۴۱۸هـ ق) اخلاف. ج، ۱. بیروت: موسسه النشر الاسلامی.

طیرانیان، غلام رضا(۱۳۸۱هـ ش)د عاوی تصرف،( چاپ،۱). تهران: گنج دانش.

فوزی، فاروق(۲۰۱۰م) تاریخ النظم الاسلامیه،( چاپ،۱). فلسطین: مکتبه الاسلامیه.

قماشي، محمد سعید(۱۳۷۹هـ ش) قاضي تحکيم يا سیاست خصوصی سازی قضاوت. نشریه: بهار.

لنگرودی، محمد جعفر(۱۳۷۳هـ ش) ترمینولوژي حقوق. ج،۱. تهران: گنج دانش.

نیازي، محمد مصطفی(۱۳۹٦هـ ش)د تجارت نړیوال حقوق. ( چاپ،۲). جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.

نیازی، محمد مصطفی (۱۴۹٦هـ ش) اسلام قضایي نظام.( ژباړن عبدالکریک ادیب). ( چاپ،۲). جلال آباد: مسلم خپروندیه ټولنه.

د افغانستان حکمیت قانون( ۱۳۸۵هـ ش). ماده، ۱۲۳، عدليې وزارت، رسمي جریده، فوق العاده ګڼه، کابل: افغانستان.

حضرت ګل، حسام (۱۳۹٦هـ ش). قضاء مجله، پرله پسې ګڼه ۲۲۴. نشراتي ارګان: ستره محکمه.

ژوبل، محمد عثمان(۱۳۹۵هـ ش) په تجارتو معاملاتو کې حاکمیت،قضاء مجله، پرله پیسې ګڼه ۲۱۱. نشراتي ارګان: ستره محکمه.

کابل پوهنتون حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی(۱۳۸۷هـ ش) قاموس اصطلاحات حقوقي. کابل: انتشارات سعید.

# اداره کې د تعارض رامنځته کېدو پروسه او د هغې مدیریت

پوهنیار نذیرجان نوري، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانگه.
برېښنالیک: nazirnoori.a@gmail.com

**لنډیز**

په اداره کې تعارض یو طبیعي او نه جلا کېدونکی بهیر دی چې د انساني اړیکو، افکارو، باورونو، د گټو توپیرونو، اهدافو او سازماني جوړښتونو د پیچلتیاوو له امله رامنځته کېږي. دا مقاله د ادارو په چوکاټ کې د تعارض د رامنځته کېدو پروسه، د تعارض د عواملو په نظر کې نیولو سره چې په اداره کې د تعارض د رامنځته کیدو سبب کېږي، څېړي. په مقاله کې د تعارض د پرمختگ بېلابېلې مرحلې په علمي توگه تشریح شوي دي. سربېره پر دې، د تعارض پر سازماني اغېزو بحث شوی چې د مثبتو او منفي اړخونو په روښانولو سره یې د مدیریت لپاره لارې چارې وړاندیزوي. همدارنگه، د تعارض د مدیریت مختلف ماډلونه او ستراتیژۍ، چې د اختلافاتو په حل او اداره کې مرسته کوي، په تفصیل سره تحلیل او بیان شوي دي. مقاله د کتابتوني مېتود په واسطه لیکل شوې ده، د مختلفو علمي منابعو څخه مواد راټول شوي، تحلیل او توصیف شوي دي. پایلې ښیي چې د تعارض اغېزمن مدیریت نه یوازې د سازماني موثریت او مثمریت د لوړولو لپاره گټور دی، بلکې د نوښت، ټیمي همغږۍ او کارکوونکو ترمنځ د باور په پیاوړتیا کې هم مرسته کوي. دا څېړنه د مدیرانو، پالیسي جوړوونکو او څېړونکو لپاره ارزښتمنې علمي او عملي سپارښتنې وړاندې کوي ترڅو په پېچلو او متغیرو چاپېریالونو کې تعارض په ښه ډول مدیریت کړي.

**کلیدي اصطلاحات** : اداره ، تعارض، د تعارض پروسه، د تعارض مدیریت، دتعارض د حل ستراتیژۍ.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم ، الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

په انساني ټولنه کې تعارض یوه نه انکارېدونکې پدیده ده چې د انساني اړیکو له پیچلتیاوو او اختلافاتو څخه سرچینه اخلي. تعارض په مختلفو شکلونو کې د تاریخ له پیل راهیسې د ټولنو، کورنیو او سازمانونو په منځ کې شتون درلودلی او اوس هم یوه مهمه او اړینه موضوع گڼل کېږي. په عصري ادارو او سازمانونو کې، د تعارض مفهوم ځانگړې ارزښت لري، ځکه چې دا پدیده د کارمندانو د نظرونو، اهدافو، او شخصیتونو د توپیر له امله را منځته کېږي، او په مستقیم ډول د ادارې پر فعالیت، موثریت، او وده اغېزه لري. د تعارض شتون د افرادو او ډلو ترمنځ د متقابل درک او همکارۍ د کچې د لوړولو لپاره یوه اړتیا

ګډل کېږي؛ خو که دا په مسلکي او علمي توګه مدیریت نه شي، نو کېدای شي چې د ګډو اهدافو پر وړاندې یو خنډ وګرځي.

د تعارض پروسه په څو مرحلو ویشل شوې ده چې هره مرحله یې ځانګړي میتودونه او تګلارې لري. د تعارض د پروسې درک کول او د هغې بیلابیلو برخو ته د سمې پاملرنې ورکول کولای شي له دې پروسې څخه مثبتې پایلې ترلاسه کړي. د تعارض مدیریت یوه مسلکي او ستراتیژیکه پروسه ده چې هدف یې د اختلافاتو له منځه وړل نه، بلکې د هغو پر ځای د یوې رغنده فضا رامنځته کول دي، چې پکې ټولې خواوې د خپلو اندونو په بدل کې یو توافق ته رسېږي او د ګډو ګټو لپاره کار کوي. دا پروسه ادارې ته دا وړتیا ورکوي چې د تعارض له منفي اغېزو ځان وژغوري او د نوو او ابتکاري نظریاتو لپاره زمینه برابره کړي.

د تعارض مدیریت په اداره کې د یو مهم مهارت په توګه د رهبرانو او مدیرانو لپاره اړین دی، ځکه چې د دې مهارت له لارې هغوی کولی شي د کارمندانو ترمنځ د همکارۍ، اعتماد، او متقابل درک فضاء رامنځته کړي. د تعارض د سم مدیریت په وسیله، ادارې د دې توان لري چې د افرادو وړتیاوې په ښه توګه وکاروي، د مختلفو نظرونو څخه ګټه پورته کړي، او په پایله کې د خپلې ادارې په وده او پرمختګ کې مؤثر رول ولوبوي.

په دې مقاله کې به هڅه وشي چې د تعارض پروسه په تفصیل سره وڅېړل شي، د هغې مرحلې او اړوند لاملونه تشریح شي، او د تعارض د مدیریت بیلابیل ماډلونه او میتودونه په علمي او څېړنیز ډول بیان شي. دا مقاله به لوستونکو ته د تعارض د مفهوم، د هغې د حل لارو، او د هغې د مدیریت د موثرو لارو چارو په اړه هراړخیزه پوهه ورکړي. له دې لارې، اداره کولی شي له تعارض څخه په ګټه اخیستو سره د خپل فعالیت کچه لوړه کړي او د مختلفو نظرونو او نظریو له توپیر څخه رغنده ګټه پورته کړي.

**د موضوع اهمیت**

تعارض د انساني ټولنې یوه طبیعي پدیده ده چې په ټولنیزو او سازماني برخو کې د متقابلو اهدافو، ګټو، او ارزښتونو د تضاد په سبب منځته راځي. په ادارو او سازمانونو کې، تعارض د کارمندانو ترمنځ د افکارو، باورونو، او دندو په اړه اختلافات رامنځته کوي چې په پایله کې د تولید او فعالیت پر موثریت اغېز کولی شي. د تعارض د پروسې او مدیریت په اړه پوهه لرل د هرې ادارې لپاره اړینه ده، ځکه چې دا به د هغو لارو او ستراتیژیو موندلو کې مرسته وکړي چې له لارې یې د اختلافاتو منفي اغېزونه کم او مثبت اړخونه زیات کړای شي.

که په ادارو کې تعارض که سم مدیریت شي، کولی شي د نوښت، تخلیق او پرمختګ لامل شي. همدارنګه که د نظرونو او مفکورو اختلافات په مسلکي توګه وڅېړل شي او مدیریت یې په سمه توګه ترسره شي، نو دا به د نویو نظریو او تخلیقي حل لارو د رامنځته کېدو لامل وګرځي. د همدې لپاره، د

دې مقالې اهمیت په دې کې دی چې د تعارض د پروسې او مدیریت په اړه یو علمي او څېړنیز تحلیل وړاندې کړي، ترڅو ادارې وکولای شي د تعارض له فرصتونو څخه په ګټه اخیستو سره پرمختګ وکړي.

**د موضوع موخې**

۱ - د مقالې اساسي هدف دا دی چې لوستونکو ته د تعارض د پروسې او مدیریت په اړه هراړخیزه پوهه ورکړي.

۲- د تعارض مفهوم، د هغې د پروسې مرحلې، او د هغې د مدیریت بیلابیل ماډلونه او ستراتیژۍ په تفصیل سره بیان شي او اړند نهادونه او اشخاص ورڅخه د علمي موضوعاتو په حیث او عملي مشکلاتو د حل په موخه ورڅخه استفاده وکړي.

۳ – د د تعارض د مدیریت له لارې په سازماني چاپېریال کې د تعارض پر حل لارو بحث وشي ، څو لوستونکي وکولای شي په عملي توګه د تعارض د مدیریت په برخه کې پوهه ترلاسه کړي.

۴ - د مقالې هدف دا دی چې یو علمي بنسټ رامنځته کړي چې لوستونکي د تعارض په پروسه او مدیریت کې د متخصصینو د تجربو او نظریاتو په رڼا کې خپل مهارتونه لوړ کړي او په عملي توګه یې په خپلو ادارو او سازمانونو کې تطبیق کړي.

**د څېړنې کړنلاره او د کار توکي**

د دې مقالې په لیکلو کې معلومات د مختلفو لیکلي منابعو څخه راټول شوي، تجزیه او تحلیل شوي دي نو په دې اساس دا مقاله د کتابتوني تحقیق په نتیجه کې لیکل شوي چې د توصیفي تحلیلي روش څخه د موادو په کارونه کې استفاده شوي ده .

**د تعارض پېژندنه**

اکثره خلک د تعارض او اختلاف کلمه د وهلو، ټکولو او جنګ په معنا پېژني خو داسې نه ده تعارض وهل او جنګ نه دی هغه یوازې د تعارض پرمختللی او خطرناک حالت دی، تعارض په اصل کې د ژوند یوه طبیعي او عادي برخه ده او هېڅوک ورڅخه انکار نشي کولی. خو بد بختانه چې د سم مدیریت د نشتوالي له امله ډېری تعارضونه په دښمنۍ بدلېږي او تعارض ته د یوې منفي پدیدې په توګه کتل کېږي.

ددې لپاره چې تعارض په صحیح ډول وپېژنو نو اړینه ده چې د تعارض لغوي او اصطلاحي تعریفونه وکړو، نو د همدې لپاره تعارض په لاندې توګه په لغوي او اصطلاحي ډول تعریف کوو.

**د تعارض لغوي تعریف**

تعارض په لغت کې تضاد، ټکر، عدم توافق، مخالفت، کشمکش او مزاحمت ته وایي( ,1991 , Kabanoffp.115).

د لغاتو په فارسی فرهنګ کې تعارض د دوو یا څو نفرو او ډلو ترمنځ د توافق د نشتون په معنا راغلی دی ( عمید، ۱۳۸۳، ص ٦٦٠)

د لغاتو د ویبستر په فرهنګ کې تعارض د متضادو اړخونو ترمنځ د اختلاف او سیالۍ په معنا راغلی دی.

**د تعارض اصطلاحي تعریف**

تعارض په اصطلاح کې د دوو یا څو افرادو، ډلو او سازمانونو ترمنځ مخالفت او تضاد ته وایي ( ,1991, Kabanoffp.115).

یا په بل عبارت تعارض د هغه ټولنیز وضعیت څخه عبارت دی چې په هغه کې دوه یا څو نفره په سازمان پورې د اړوندو اساسي موضوعاتو په باره کې د یو بل سره عدم توافق یا هم د یو بل سره یوه اندازه احساسي خصومت ولري

(Schermerhorn and others, 1994, p.592).

یا هم تعارض د هغه وضعیت څخه عبارت دی چې په هغه کې (الف) شخص کوښښ کوي چې د (ب) شخص هغه هڅې خنثی کړي چې (ب) شخص یې د خپلو ګټو لپاره کوي (Robbins, 1993, p.368).

اوس د تعارض په لغوي او اصطلاحي تعریفاتو باندې پوه شوو ، نو دا هم باید واضح شي ، چې کله هم موږ د تعارض نوم اخلو نو هغه باید د تعارض طرفینو درک کړی وي؛ څکه چې تعارض په همدوی پورې اړه لري او که چېرته تعارض طرفینو نه وي درک کړی نو عمومي موافقه په دې شوې ده چې دلته اصلاً تعارض وجود نلري.

**د تعارض مدیریت**

د تعارض مدیریت عبارت له هغه مدیریت دی چې مدیر وکولای شي د تعارض د شرایطو په شتون کې سازمان په ښه ډول باندې اداره کړي، د سازمان او افرادو ترمنځ تعادل رامنځته کړي. مدیر باید په دې عقیده ولري چې تعارض د انساني انرژیو د بهبود لپاره ارزښت لري او کولی شي له هغې څخه د افرادو او سازمان په رشد او اصلاح کې استفاده وکړي(درګاهی ۱۳۸۷هـ.ش ,ص ، ۱۵).

**د تعارض د پروسې پېژندل**

مخکې له دې چې د تعارض په پروسه باندې بحث وشي غوره به دا وي چې تعارض په تیر، حال او راتلونکي وخت کې وڅېړو. تعارض یوه داسې طبیعي پدیده ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې د انسان د ژوند سره سم شتون درلود. سوء تفاهمونه، بدبینی، حسادتونه، خودخواهی، رواني عقدې، جنګونه، وچکالی، د منابعو کموالی، د ټولنو ډېروالی، مدیریتي او حکومتي خودکامګی او ډېری نور مسایل ددغه تعارض له عوارضو او عوامل ګڼل کېږي. د تاریخ په اوږدو د انسانانو ژوند هیڅکله له تعارض څخه

خالي نه ؤ. هغه څه چې په قرانکریم کې د نور او تیارو، حق او باطل، خیر او شر، عدل او ظلم تر عنوانونو لاندې راغلي دي همداشان د موسی او فرعون، دقیانوس او اصحاب کهف او داسې نور موضوعات، دا ټول د تعارض نښې نښانې دي. نو ویلی شو چې تعارض یوه داسې پدیده ده چې انکار ورڅخه نه شي کیدای. څوک نشي کولای چې ووایي چې زه له تعارض سره نه مخ کیږم او نه به مخ شم. همداشان دغه تعارض په حال زمانه کې هم موجود دی او بې له شکه چې په راتلونکې کې به هم وجود ولري , (Filley1995,p.12 ).

هغه مرحلې چې په ترځ کې یې ډېری تعارضونه رامنځته کېږي د تعارض له پروسې څخه عبارت ده. چې مراحل یې عبارت دي له: د بالقوه مخالفتونه ، د تعارض ښکاره کیدل یا له تعارض څخه خبریدل ، چلند یا رفتار او پایله. هرې یوې مرحلې ته یې په لنډ ډول کتنه کوو.

**د تعارض پروسه**

تعارض پروسه ده او دا پروسه لاندې مراحل لري چې عبارت د ي له :

**اوله مرحله - بالقوه مخالفتونه**: دا د تعارض د رامنځته کیدو لومړنۍ مرحله ده، دغه مرحله د هغو شرایطو له شتون څخه عبارت دي چې د تعارض رامنځته کیدو ته زمینه مساعدوي، دغه شرایط باید په الزامي توگه د تعارض د رامنحته کیدو سبب نشي ،خو ددغو شرایطو شتون د تعارض لپاره لازمي ده. دغه شرایط موږ په دریو کټګوریو ویشو لکه:اړیکي، جوړښت او شخصي تغیروونکي . هر یوه ته یې په لاندې ډول لنډ وضاحت ورکوو.

**الف - اړیکي**: څېړنې ښیي چې هغه ستونزې چې د خبرو په تعبیر او تفسیر (د زده کړو اختلاف، د فردي برداشتونو تفاوت)، سوء تفاهم، د نیمګړیو اطلاعاتو تبادله او کمزورې اړیکې په هغه صورت کې چې دغه اړیکي په کمه یا زیاته اندازه برقراره شي، یعنې افراط او تفریط په کې وشي، په دواړو صورتونو کې د شدید تعارض سبب کېږي.

یو څه چې موږ ټول یې وایو هغه دا ده چې د تعارض تر ټولو لوی لامل اړیکې دي، ځکه که چیرته موږ وتوانېږو چې له یو بل سره اړیکه جوړه کړو او یا د یو بل سره په ژبه پوه شو نو اختلافات له منځه ځي.

ب - جوړښت: د جوړښت په شرط کې بیا دا مسایل داخل دي: د ډلې اندزه، د تخصص اندازه، د دندو حدود، د د ډلې او د غړیو د اهدافو همغږي، د رهبرۍ سبک او د حقوقو او امتیازاتو د ورکړې سیستم. دغه هغه مسایل دي چې د جوړښت په شرط پورې اړه لري. څېړنې ښیي چې هر څومره سازمان لوی او کارونه یې تخصصي وي نو په هماغه اندازه به د تعارض شدت زیات وي، همداشان د خدمت سابقه له

تعارض سره معکوسه اړیکه لري، هغه په دې ډول چې هر څومره د یو سازمان کارمندان نوي او د هغوی بدلیدل را بدلیدل زیات وي، نو د دوی ترمنځ به د تعارض رامنځته کیدل زیات وي او چې څومره د یو سازمان کارمندان پخواني وي نو د دوی ترمنځ به تعارض هم کم وي. پر دې سربېره هر څومره چې د مسؤلیتونو او دندو حدود او سرحدونه مبهم وي، نو په هماغه اندازه به تعارض هم زیات وي.

**ج - شخصي تغیروونکي**: بعضي شخصیتونه او همدارنګه د افرادو د ارزښتونو د سیستمونو تفاوت د تعارض د ښکاره کیدو سبب کېږي. همداشان د افرادو ترمنځ د اخلاقي او فردي ځانګړتیاوو اختلاف. مثال یو څوک به د زیات اقتدار طلبی وي او یو څوک به زیات قدرت طلبي نه کوي، نو د دوی ترمنځ هم کارونه تر تعارضه رسیږي. یا لکه مثال د یو شخص تور پوستي نه خوښیږي یا یو شخص فکر کوي چې باید د ده کلنی معاش ۳۵۰ زره افغانۍ وي، ولې رئیس یې دا فکر لري چې د نوموړي معاش باید له ۳۰۰ زره افغانیو څخه زیات نه وي(Tjsu and M, 1998, p.237).

اوس هم ځینې داسې شرایط چې د څېړنو له مخې د بې ګټې تعارض لپاره ذکر شوي دي، مطالعه کوو؛ د هغو شرایطو له جملې څخه چې د بې ګټې تعارض د رامنځته کیدو سبب کېږي په لاندې ډول دي:

۱ . د نامناسبو شخصیتونو او سیستمونو رامنځته کول.

۲ . د دندو په توضیحاتو کې لاسوهنه یا د دندې نامعلوم حدود،

۳ . د محدودو سرچینو لپاره سیالي.

٤ . د ډلو او یا د سازمان د مختلفو څانګو تر منځ سیالي.

۵ . نیمګړې اړیکې.

٦ . یو له بل سره تړلې دندې، د بیلګې په توګه یو کارمند نشي کولای خپله دنده بشپړه کړي، مخکې له دې چې نورو خپلې دندې بشپړې کړې وي.

۷ . سازماني پیچلتیا (د سلسله مراتبو او تخصصي کارونو په شمېر کې په زیاتوالی سره تعارض نور هم زیاتېږي)

۸ . غیر معقوله یا ناڅرګنده پالیسي، مقررات او معیارونه

۹ . نامناسب وخت یا ډېر د وخت فشار

۱۰ . اجتماعي تصمیم نیول (هرڅومره چې خلک په پرېکړه کې برخه اخلي نو همدومره د تعارض احتمال زیاتیږي)

۱۱ . د نظرونو د یووالي له مخې پرېکړه کول

۱۲ . بې ځایه تمې ( هغه کارمندان چې د دندې ، معاش او ترفیع په اړه غیر واقعي تمې لري زیاتره د تعارض سره مخ کېږي)

۱۳. نا حل شوي تعارضونه او ملامتیاوې (استیفن پی. رابینز،۱۳۸٦ هـ.ش، ص، ۳۷۱- ۳۷۲).

نوښتګر مدیران لومړی اخطارونو ته په دقت سره ګوري او بیا مناسب اقدام کوي

**دویمه مرحله: له تعارض څخه خبریدل**

هغه شرایط چې په لومړۍ مرحله کې مو ورڅخه یادونه وکړه که چېرته دغه شرایط موجود شول نو په دوهمه مرحله کې د مخالفتونو د فعاله کیدو زمینه برابرېږي. دغه مخالفتونه هغه وخت په تعارض باندې منجر کېږي چې څو ډلې د تعارض اړخونه وي. لکه څنګه مو چې د تعارض په تعریفاتو کې وویل چې اړخونه باید له تعارض څخه خبر وي که چېرته دوی له تعارض څخه خبر نه وي، نو دلته تعارض هیڅ شتون نلري. د تعارض څخه خبرتیا په دې معنی نه ده چې دغه پدیده دې ښکاره شي یا هم کیدای شي (الف) شخص پوه وي چې دی له (ب) شخص سره مخالفت لري خو بیا هم له دغه مخالفته خبریدل ممکن په (الف) شخص باندې کوم اثر ونه کړي نو په دې ځای کې یوازې د احساساتو ښکاره کول پاتې دي چې، طرفین په تعارض کې ګیر شي او طرفین اضطراب، تنشن او دښمني تجربه کړي(Schermerhorn and others, 1994, p.599).

**درېیمه مرحله: رفتار**

کله چې د ډلې یو غړی په داسې کار اخته وي چې د ډلې د بل غړي د استیصال یا هم زیاتو ګټو ته د هغو د رسیدو مانع شي. نو په دغه صورت کې موږ باید پوه شو، چې موږ په درېیمه مرحله کې یو خو دغه عمل به قصدي او آګاهانه وي. په دغه مقطع کې تعارض ښکاره کېږي د تعارض ښکاره کیدل د مختلفو رفتارونو زیږنده، له شدید نیولې تر خفیف پورې. د بېلګې په توګه یو محصل په ټولګي ګې لاس پورته کوي او د هغه څه سره، چې استاد ویلي دي مخالفت ښکاره کوي او پوښتنې مطرح کوي. تعارض په ښکاره ډول د خلکو په چلند کې څرګندېږي. ښکاره تعارض د فرعي او غیر مستقیمو چلندونو او د کنټرول شویو شکلونو زیږنده ده چې د مستقیم تیری کوونکي چلندونه او هغه کشمکشونه په بر کې نیسي چې کنټرول شوي نه وي. هغه سخت تعارضونه چې د اعتصابونو او مظاهرو په بڼه را څرګندیږي د څرګندو تعارضونو بڼې دي.

ښکاره تعارض د شالیدونو په لرې کولو یا بدلولو سره حل کیدای شي. دا ډول تعارض د مغلوبولو له لارې هم کنټرول کیدای شي، پرته له دې چې په شالید کې کوم تغیر راشي؛ د مثال په توګه کله چې اړخونه له یو بل سره په خپلو اړیکو کې د نظر اختلاف ولري خو بیا هم ورته په نشته سترګه وګوري نو دا د تعارض لپاره سطحي او بې ثباته حل دی. چې په دې مرحله کې د تعارض سره د مقابلې کولو لپاره اړخونه له لاندې روشونو څخه استفاده کوي.

**۱. سیالي**: کله چې د تعارض یو اړخ خپلو اهدافو ته د رسیدو او د خپلو ګټو د زیاتوالي لپاره هڅه کوي او کوم اعمال چې ددغو اهدافو او ګټو لپاره کوي د هغې تاثیر ته چې په مقابل اړخ باندې یې لري توجه

نه کوي، نو دغه روش ته د سیالۍ روش وايي. چې دغه روش معمولاً په رسمي ګروپونو یا په سازمانونو کې رواج دی چې هلته لوړ مقامات د خپلو اهدافو او ګټو لپاره له خپل قدرت څخه استفاده کوي او د ټیټو مقاماتو اهدافو او ګټو ته توجه نه کوي.

**۲. همکاري**: کله چې د تعارض اړخونه هڅه کوي چې د یو او بل اهداف او ګټې تامین کړي نو دغه ته د همکارۍ روش وايي. دوی کوښښ کوي چې اختلافات روښانه کړي او داسې یوه حل لاره پیدا کړي چې د دوی ټولو په ګټه وي.

**۳. اجتناب**: کله چې اړخونه د تعارض په مقابل کې شاتګ وکړي، په دې سره دوی غواړي چې تعارض مغلوب کړي، چې دغه روش ته د اجتناب روش وايي.

**۴. تیریدل (ایثار)**: کله چې د تعارض یو اړخ د بل اړخ ګټو ته په خپلو ګټو باندې ترجیح ورکړي ترڅو د هغه اهداف او ګټې تأمین شي او شته اړیکې قطع نشي، نو دغه روش ته تېریدل یا ایثار وايي.

**۵. روغه جوړه یا مصالحه**: کله چې د تعارض دواړه اړخونه یو څه له لاسه ورکړي او یو څه لاسته راوړي او پایله په مشترکه توګه ومني دغې ته روغه جوړه یا مصالحه وايي. په مصالحه کې مشخص ګټونکی او بایلونکی وجود نلري.

**څلورمه مرحله: پایله**

د تعارض شتون او هغې ته د یو حل لارې پیدا کول په یوه مشخصه پایله باندې ختمېږي چې کیدای شي دغه پایله ورانوونکې یا هم جوړونکې وي، که چیري د پرېکړو کیفیت ښه شي، د ابتکار موجب شي او د ډلو د غړیو علاقه له یو بل سره زیاته کړي نو دغه جوړونکی تعارض دی. او که چېرې د ډلې د اهدافو د وروسته کیدو او د غړیو د کشمکشیو لامل شي، نو دغه ورانوونکی تعارض دی. په اداره کې د تعارض د مدیریت موخه یوازې یو توافق ته رسیدل نه دي، بلکې باید هر هغه څه چې بې ګټې دي حداقل ته ورسېږي او تعارض باید مدیریت شي. نو موږ هم دلته د تعارض پایلې په لاندې توګه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

**۱. جوړوونکی تعارض**: هغه وخت تعارض ګټور دی کله چې د پرېکړو د کیفیت د ښه کیدو سبب شي ، افراد او ډلې د خلاقیت او نوښت لوري ته وهڅوي، د کاري ګروپونو په غړو کې لیوالتیا رامنځته کوي. په فعاله تعارض کې د درېو مطالبو پایلو ته تمه کیدای شي: الف - توافق ب - پیاوړې اړیکې ج - زده کړه .

**الف - توافق**: لومړۍ پوښتنه چې ذهن ته راځي دا ده چې توافق باید په کوم قیمت وشي؟ په ځواب کې باید ووایو چې عادلانه او مساوي توافقات د موافقو تر ټولو ښه ډولونه دي. هغه توافق چې د تعارض یو اړخ فکر کوي چې د ناکامۍ سره مخ شوی دی او یا هم د ناوړه ګټې اخیستنې سره مخ شوی دی، نو دا توافق د راتلونکو تعارضونو اساس دی.

**ب ـ پیاوړې اړیکې**: ښې او عادلانه موافقتنامې د خواوو ترمنځ د نیکمرغۍ او باور د پل حیثیت لري او د دوی ترمنځ اړیکې پیاوړې کوي. د دې تر څنګ ډېر احتمال شته چې د تعارض ښکېلې خواوې به په خپلو تړونونو ولاړې وي که دوی پر یو بل باور وکړي او خپلې ښې اړیکې پراخې کړي.

**ج ـ زده کړه**: ګټور تعارض د اړخونو ترمنځ د ځان په اړه پوهاوی زیاتوي او د تخلیقي ستونزو حل ممکنه کوي. د تعارض بریالی مدیریت په عمده توګه د تمرین له لارې زده کېږي. د تعارض د مدیریت په مفکورو او روشونو پوهیدل لومړی ګام دی، مګر دا د عملي تمرین ځای نه نیسي. د عملي روزنې لپاره هېڅ بدیل نشته، په نننۍ تعارضي نړۍ کې د تعارض د مدیریت لپاره ډېر فرصتونه شتون لري.

**۲ . ورانوونکی تعارض**: د تعارض ویجاړونکې پایلې په عمومي ډول د ډلې یا سازمان په فعالیت باندې پېژندل کېږي. د بېلګې په توګه، بې کنټروله مخالفت د ناخوښۍ سبب ګرځي او عادي اړیکو ته زیان رسوي او په پای کې د ډلې د تخریب لامل ګرځي یا سخت تعارضونه د ډلې فعالیتونه په ټپه دروي او د ډلو بقا له ګواښ سره مخ کوي څېړنې ښیي چې د شدیدو ښکاره او زیانمو تعارضونو د ګټورتوب احتمال کم دی او د ورانوونکو تعارضونو برخه ګڼل کیدای شي.

**د تعارض د ورانوالي دلایل**

دلته یو لړ دلایل شتون لري چې د هغې په پایله کې تعارض یو مخرب تعارض ګڼل کېږي، چې په لاندې توګه دي:

- ✓ رقابتي اهداف
- ✓ ناسم برداشتونه او وړاندوینې
- ✓ په احساساتو کې راګیریدل
- ✓ د اړیکو کمښت
- ✓ سخت دریځ نیونه
- ✓ د یو ځای کارکولو پر ځای مقاومت رامنځته کېږي
- ✓ ځینې افرادو د ناکامۍ احساس کوي
- ✓ کله چې د دندو تغییرات زیاتېږي

یو بل عامل چې باید په پام کې ونیول شي، د جوړونکو تعارضونو په شتون کې د ډله ییز فعالیت ډول دی. هرڅومره هغه مسئلې چې کاري ډلې ورسره معامله کوي پلان شوي نه وي او نوښت ته اړتیا لري، د ډلې دننه تعارض به ډېر جوړونکی وي. مګر هغه ډلې چې په بشپړ ډول پلان شوي فعالیتونه ترسره کوي د جوړونکي تعارض څخه کار نه اخلي (Robbins, 1989, p.379).

**د تعارض مدیریت**

د تعارض د مدیریت په وړاندې دوامداره ننګونه لکه څنګه چې مخکې تشریح شوه داده چې تعارض ډېری مخونه لري او د تعارض حل د مدیرانو په غاړه دی څکه چې د سازماني اهدافو ترلاسه کولو

مسولیت ورسره دی. اوس د ګټورو او بې ګټې تعارضونو د ګټور مدیریت په اړه بحث کوو او په دې برخه کې د ګټور تعارض د رامنځته کولو څرنګوالی او د هغې شرایط، د بې ګټې تعارض د مخنیوي څرنګوالی، څنګه منځګړیتوب په اغېزمن ډول د تعارض په وړاندې واقع کېږي او په دې برخه کې د څېړنو ځینې موندنې د تعارض په اړه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

**لومړی : د سازمان جامد حالت**

ځینې وختونه مدیران په داسې شرایطو کې واقع کېږي چې د تعارض د زیاتوالي په صورت کې د دوی د برخې فعالیت ښه شي، ځکه چې د ګټورو او بې ګټو تعارضونو ترمنځ هېڅ روښانه او معین سرحد شتون نه لري(Robbins, 1993, p.455).

**دویم: د ګټورو تعارضونو رامنځته کول**

د ګټور تعارض د رامنځته کولو لپاره لومړی ګام په سازمان کې فرهنګ ته تغییر ورکول دي، چې د لاس لاندې افرادو ته داسې پیغام ورکړل شي، چې تعارض په سازمان کې د حمایت څخه برخمن دی او داسې فرهنګ ایجاد شي چې افراد کولای شي خپل مخالف عقاید او نظریات پرته له کومې وېرې ښکاره کړي، نو د سامان مدیریت کولای شي نوي فکرونه وپېژني او له هغو څخه په خپلو پرېکړو کې استفاده وکړي. کله ناکله پرېکړه کوونکې ډلې او کمیټې د طرز العملونو او توضیحاتو تر تاثیر لاندې راځي چې بیا د پام وړ پرمختګ نشي کولای. په داسې حالت کې د ګټور تعارض رامنځته کول په پوره هدایتي شکل سره یو ځل بیا د نوښتونو د رامنځته کیدو سبب کېږي. مدیران اساساً دوه انتخابونه لري: دوی کولای شي اور ولګوي چې په طبیعي توګه د تعارض لامل کېږي، مګر دا طریقه د اعتبار وړ نه ده. بله لاره د پلان شویو تعارضونو د میتودونو کارول دي. په دې برخه کې کارپوهان پلان شوی تعارض په لاندې ډول تعریفوي: هغه تعارض چې د مدیرانو شخصي احساساتو ته له پام کولو پرته د مختلفو انتخابونو د پیدایښت لامل کېږي پلان شوی تعارض بلل کېږي (Coiser R.A.,1990, p.71 ).

د دې مېتودونو د بریالیتوب رمز دادی چې د شخصي غوره توبونو یا سیاسي ګټو پر ځای، د موجوده حقایقو پر بنسټ د نظریاتو د دفاع کولو یا نیوکې کولو لپاره د خلکو مجبورول دي. دا کار منظم رول ته اړتیا لري. د ګټور تعارض د رامنځته کولو هغه طریقې چې په عمل کې اغیزمنې ثابتې شوې دي عبارت دي له: انتقادي طریقه (شرمناکه)، د مناظرې طریقه (تنازع) (Kotter J.P., 1996, p.168).

**لومړی: انتقادي طریقه**: د دې طریقې نوم په تېرو وختونو کې د رومن کاتولیک کلیساوو د دودیز عمل څخه اخیستل شوی. کله چې به د یو چا نوم مقدساتو ته د ودې لپاره د عالی شورا مخې ته کېښودل شو

نو دا خورا اړینه وه چې دا ډاډ ترلاسه شي چې هغه پاکه سابقه لري. په پایله کې به ددغه سابقې د پیدا کولو لپاره یو کس د "منتقد" په توګه دنده درلوده چې د هغه د حرمت په اړه ټول ممکنه اعتراضونه کشف او روښانه کړي. په اوسنیو سازمانونو کې هم یو شخص یا ډله د منتقد دنده په غاړه لري (Woodward, 1999, p.65).

**دویم: د مناظرې طریقه**: دا طریقه هم لکه د انتقادي مېتود په څېر د وخت نیوونکې ده، د پلان شویو تعارضونو د رامنځته کولو دا ځانګړې طریقه په لرغوني یونان کې د فلسفي ښوونځي ته رسېږي. افلاطون او د هغه پیروانو به هڅه کوله چې د مخالفو دریځونو په کشفولو سره حقیقت ومومي، چې دې ته به یې (تیسس او انټي تیسس) ویل. دا هغه سیسټم دی چې د هغې په مرسته د ډېری هېوادونو قضات خلک د مخالفو نظرونو له مخې ګناهکاره یا بې ګناه ګڼي. د مخالفو نظرونو په اړه دا طریقه یو منظم بحث ته اړتیا لري (Katzenstien,1991, p.317).

د کاري تعارض په رامنځته کولو کې د دغو دوو طریقو اغېزمنتوب یو له بل سره په پرتله کولو کې ځینې شرایط لري، د پرېکړې کولو ډلې د هغو ډلو په پرتله چې د انتقادي یا د مناظرې د طریقو په کارولو سره نظرونو ته د رسیدو هڅه کوي، د غوره کیفیت پرېکړې ترلاسه کوي. د یوې وروستۍ تجربې څخه معلومېږي هغه ډلې چې انتقادي طریقه یې کارولې ډېر احتمالي حلونه یې وړاندې کړي دي او د ستونزو لپاره یې غوره سپارښتنې درلودې، نسبت هغو ډلو ته چې د مناظرې طریقه یې کارولې (Schweiger, 2004, p. 745). د دې ګډو پایلو له مخې مدیران کولای شي چې د سازمان حالت بېرته جامد حالت ته راوګرځوي نو ددغه دوو طریقو څخه د هرې یوې څخه کار واخلي ، انفرادي غوره توبونه او د رول تجربه کیدای شي چې د یوې کړنلارې په غوره کولو کې پرېکړه کوونکي عوامل وي. مهم فکتور دا دی که چېرته اړتیا وي نو ګټور تعارض په ګټوره توګه رامنځته کیدای شي، لکه کله چې د خطر رامنځته کېدل ړانده وي یا د ډلې فکر زیات وي ( Kreitner, 2004, p. 499 )

**څلورم: د بې ګټې یا منفي تعارض د مدیریت مختلف سبکونه**

خلک د منفي تعارض په مدیریت کې مختلف سبکونه کاروي. په دې چوکاټ کې د همکارۍ د دوو ابعادو پر بنسټ (هغه درجې چې د تعارض یو اړخ د بل لوري د غوښتنو د پوره کولو لپاره هڅه کوي) او قاطعیت ( هغې درجې چې د تعارض یو اړخ د خپلو غوښتنو د ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي) د منفي تعارض د مدیریت لپار پنځه سبکونه توپیر شوي دي (Thomas Kenneth W., 1976, p.899-900) دلته هر یو سبک په جلا جلا توګه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

**لومړی: سیالي ( زور او سلطه )**

سیالي د سیال له مداخلې پرته د يوې موخې د ترلاسه کولو لپاره مشروع هڅې ته ويل کېږي، کله چې يو څوک هڅه کوي چې خپل اهداف ترلاسه کړي يا خپلې ګټې زياتې کړي پرته له دې چې د تعارض په بل اړخ کې د هغې اغيزه په پام کې ونيسي نو سيالي کوي ترڅو خپله واکمني زياته کړي. دغه سبک هغه وخت مطرح کېږي چې کله اړخونو ته هدف له اړيکو څخه زيات مهم وي. ددغه سبک د درلودونکي اړخ مقابل اړخ به د نرمښت سبک کاروي. د دې ډول تعارض حل کول په رسمي ډلو يا يوه اداره کې د ګټلو او بايللو پر بنسټ ډېری وختونه د هغو يو رسمي چارواکي د واک په کارولو سره ترسره کېږي  چې د تعارض د اړخونو سرپرستي په غاړه لري. او د تعارض هر اړخ هڅه کوي چې  تعارض د هغه په ګټه حل شي، دا سبک ډېری وختونه د "ځواکمن" په نوم يادېږي. دا سبک به  هغه وخت مناسب وي چې يوه ناخوښه حللاره بايد پلې شي يا مسئله جزوي وي يا هم ټاکل شوې نېټه نږدې وي. د واکمنۍ سبک په آزاده او مشترکه ساحه کې نامناسب دی. د واکمنۍ سبک اصلي ګټه د هغې سرعت دی او اصلي زيان يې د کارمندانو ترمنځ نارضايتي رامنځته کول دي(Robbins, 1989, p.376).

**دويم:  د باور پر بنسټ همکاري**

کله  چې د تعارض اړخونه په بشپړ ډول دې ته ليواله وي چې په تعارض کې د ښکيلو ټولو اړخونو ګټې تأمين شي، نو ويل کېږي چې دلته همکاري شتون لري. له دغه سبک څخه هغه وخت استفاده کېږي چې کله اړخونو ته اهداف او اړيکې دواړه مهمې وي. همدا شان دغه سبک نظر نورو سبکونو ته ډېر زيات مفيد دی. د اعتماد پر بنسټ په همکارۍ کې د تعارض د ښکېلو خواوو چلند د مختلفو نظرونو د جوړجاړي پر ځای د ستونزو په حل او د اختلافاتو د روښانه کولو پر بنسټ ولاړ وي. د تعارض اړخونه ټول ممکن انتخابونه څېړي او په مختلفو نقطو کې ورته والی او توپيرونه په تفصيل سره پلټي، ترڅو د دوی لاملونه په بشپړ ډول روښانه شي،  په دې دليل چې وروستی حل به د ټولو اړخونو په ګټه وي، نو د باور پر بنسټ د همکارۍ سبک څخه استفاده کوي. دا طريقه د پيچلو مسايلو لپاره چې د سوء تفاهم سره تړاو لري مناسبه ده ؛ مګر دا طريقه د هغو تعارضونو د حل لپاره مناسبه نه ده چې، د نظامونو په ارزښتي سيستمونو کې ريښې لري. د دې سبک اصلي ګټه د هغې دوامدار اغيزه ده؛ ځکه چې يوازې د دې پر ځای چې د تعارض نښې مسايلو ته وغځوي زيربنا تاديه کوي. د دې سبک اصلي زيان دا دی چې دا ډېر وخت ضايع کوي( Kabanoof, 1991, p. 377 ).

**درېيم: پرهېز يا مخنيوی**

هغه وخت چې يو څوک د تعارض شتون تشخيصوي مګر په منفي يا بې ګټې توګه شاته ځي يا په مسئله باندې فشار وي ويل کېږي چې د مخنيوي سبک يې غوره کړی دی. له دغه سبک څخه هغه وخت

استفاده کېږي چې کله اړخونو ته اهداف او اړیکې دواړه مهم نه وي. بې تفاوته کیدل یا ښکاره اختلافاتو ته نه لیوالتیا کولای شي، د شاته تګ لامل شي، په دې صورت کې د تعارض د ښکېلو اړخونو په خپل منځ کې فزیکي جلاوالی رامنځته کېږي او هر یو د خپل ځان لپاره داسې سیمه ټاکي چې له بلې سیمې سره توپیر ولري. که چیرې شاته تګ ممکن نه وي یا مطلوب نه وي، خلک نشي کولای خپل اختلاف څرګند کړي. کله چې د یوې ډلې له غړیو وغوښتل شي چې یو له بل سره اړیکه ونیسي په دې خاطر چې د دوی کار سره تړلی دی نو د وتلو پر ځای د تعارض سرکوب رامنځته کېږي. د دې سبک اصلي ګټه دا ده چې په مبهم یا څرګند حالت کې یو سړی د وضعیت د روښانه کولو او یا پرېکړې کولو لپاره کافي وخت لري او اصلي ضعف یې دا دی چې دا لنډ مهاله اغېزه لري او له بنسټیزو مسایلو سره مقابله نه کوي. دا سبک د تاو تریخوالي څخه کرکه څرګندوي او په تعارض کې اختلاف یا بې طرفي له پامه غورځوي او شخص پرېکړه کوي، چې تر هغه وخته لرې پاتې شي، ترڅو تعارض پخپله حل شي. لکه څرنګه چې د مهمو مسایلو له پامه غورځول د نورو د ناکامۍ لامل کېږي، په خپلمنځي اړیکو کې د دې سبک دوامداره کارول معمولاً د دې لامل شي چې نور خلک په منفي ډول ارزونه وکړي (Kreitner, 2004, p.500).

**څلورم: نرمښت یا تېریدل**

دا هغه سبک دی چې د تعارض یو اړخ غواړي، بل اړخ ارام کړي او په خپلو ګټو باندې د نورو ګټې مخکې کړي، ترڅو اړیکې یې وساتل شي. په حقیقت کې د تعارض یو اړخ له خپلو ګټو تېرېږي او خپلې ګټې له پامه غورځوي، ترڅو هغه بل اړخ خپلو هیلو ته ورسېږي ، لکه د مېړه او میرمنې ترمنځ تعارض چې په دغو تعارض کې دغه سبک ډېر کاریږي. د نرمښت سبک کیدای شي د اوږدې مودې د ستراتیژۍ یا د عاجزانه عمل څرګندوی وي ترڅو نور خلک همکارۍ یا د نورو غوښتنو ته تسلیمیدو ته وهڅول شي. دا سبک معمولاً د نورو لخوا په ښه توګه ارزول کېږي، مګر په ورته وخت کې دا د ضعیف شخصیت او تسلیم شوي روح نښه ګڼل کیدای شي. د دې طرز اصلي ګټه دا ده چې دا همکارۍ ته هڅول کوي او اصلي زیان یې د تعارض لنډ مهاله حل او د تعارض د بنسټیز حل نشتوالی دی، دا سبک د وخیمو او پیچلو مسایلو د حل لپاره مناسب نه دی خو که د امتیاز لاسته راوړل وربانديې کیدای شي بیا مناسب دی (Rahim,1992, p. 84).

**پنځم: پخلاینه یا روغه جوړه**

کله چې د تعارض هر اړخ باید یو څه له لاسه ورکړي او یو څه لاسته راوړي نو مشارکت رامنځته کېږي او روغې جوړې ته لار هوارېږي. په روغه جوړه کې ښکاره ګټونکي او بایلونکي نه وي مګر یو ډول مشارکت ترسره کېږي. یو اړخ کولای شي د هغه څه د جبران لپاره چې بل اړخ یې له لاسه ورکوي یو بل څه چې هغه ته ارزښتناک وي ورکړي. په صنعتي واحدونو کې د مدیریت او د کارګرانو د اتحادیو ترمنځ مذاکره د داسې حالت استازیتوب کوي چې په هغه کې د جوړجاړي طرز په کارولو سره د کارګر په

معاش باندې په قرارداد کې موافقه کېږي. هغه څوک چې له نورو سره جوړجاړی کوي مثبت ارزول کېږي؛ ځکه چې هغه یو داسې شخص ګڼل کېږي چې د همکارۍ روحیه لري او په حقیقت کې د تعارض سره معامله کوي او په راتلونکي کې د ښو اړیکو په ساتلو کې مرسته کوي. ځکه چې د تعارض اړخونه ممکن د اصلي مسایلو پر ځای په راپورته شویو مسایلو باندې جوړجاړی وکړي، هغه مسایل چې په تعارض کې لومړی راپورته کېږي اکثراً اصلي مسایل نه وي. له همدې امله د وخت څخه مخکې جوړجاړی د اصلي مسایلو د بشپړ تشخیص او د موندلو مخه نیسي، د بېلګې په توګه کله چې زده کوونکي د استاد سره یو درس شریکوي چې مواد یې ستونزمن او ننګونکي دي او پوهیدل ورباندې نه کېږي، د زده کوونکو دغه هڅه ممکن د نمرو ترلاسه کولو لپاره وي. بله خبره دا ده چې د لومړني وړاندیز منل آسانه دي، نسبت د داسې انتخابونو پیداکولو ته چې هر اړخ ته د منلو وړ وي. د دې سبک اصلي ګټه داده چې په دیموکراتیک بهیر کې هېڅ زیان نه لري، مګر په ورته وخت کې دا سبک د تعارض لنډ مهاله حل ګڼل کېږي چې کولای شي د ستونزې بنسټیز حل ګډوډ کړي (Kreitner, 2004, p.500).

**څلورم مبحث: د تعارض د مدیریت د مختلفو سبکونو اغېزمنتوب**

په ټولو حالاتو کې د تعارض د مدیریت له سبکونو څخه هر یو هم اغېزمن نه دی. څېړنې ښیي چې هر سړی په خپله طریقه کې د تعارض د مدیریت لپاره مخکینۍ مفکورې لري. یا په بل عبارت هرڅوک د تعارض د مدیریت سبک غوره کوي. د هر چا د تعارض د مدیریت سبک د هغه د شخصیت ځانګړتیاوو او افکارو د ترکیب له مخې پیش بیني کیدای شي، له همدې امله ځینې په دې باور دي چې د هرچا د تعارض د مدیریت سبک ثابت دی او دا نه شو ویلای چې د تعارض د مدیریت پنځه سبکونه د وضعیت له مخې اختیاري دي. هر وضعیت ته په کتو سره د هغې څخه استفاده کېږي (Sternberg, 1984, p.115).

بریالي او د عالي فعالیت لرونکي افراد د تعارض په مدیریت کې د باور پر بنسټ د همکارۍ سبک ډېر کاروي. د همکارۍ د سبک کارول د تعارض د رغنده کارونې نښه ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې د تعارض په مدیریت کې د زور او پرهیز د سبکونو کارول منفي اغېزې لري او دا د تعارض د غیر رغنده کارونې نښه ده. نرمښت او د روغې جوړې سبکونه مختلفې اغېزې په خپل ځای پرېږدي (Hellriegel and others, 1998, p.378).

**پایله**

هره پدیده نابېره نه رامنځته کېږي، بلکې له ځان سره ځینې مخکې او وروسته مراحل لري. تعارض هم یوه داسې پدیده ده چې رامنځته کیدل یې نابېره نه دي، بلکې په لومړي سر کې یو لړ شرایط رامنځته کېږي، وروسته ښکاره کېږي همداسې مخته ځي چې پایله یې په تعارض باندې منجر کېږي. هغه مرحلې چې په ترڅ کې یې ډېری تعارضونه رامنځته کېږي عبارت ده د تعارض له پروسې څخه ده. چې مراحل یې عبارت دي له: بالقوه مخالفتونه، د تعارض ښکاره کیدل ، چلند او پایله. دلته یو لړ دلایل شتون لري چې د هغې په پایله کې تعارض یو مخرب تعارض ګڼل کېږي، چې په لاندې توګه دي: رقابتي اهداف، ناسم برداشتونه او وړاندوینې، په احساساتو کې ګیریدل، د اړیکو کمښت او داسې نور..... ځینې وختونه مدیران په داسې شرایطو کې واقع کېږي، چې د تعارض د زیاتوالي په صورت کې د دوی د برخې فعالیت ښه شي ځکه چې د ګټورو او بې ګټو تعارضونو ترمنځ هیڅ روښانه او معین سرحد شتون نلري. د ګټور تعارض د رامنځته کولو هغه طریقې چې په عمل کې اغېزمنې ثابتې شوې دي عبارت دي له: انتقادي طریقه (شرمناکه)، د مناظرې طریقه (تنازع). یو څېړونکی د سازماني پراختیا یوه تیوري وړاندې کوي چې د بحرانونو په تشخیص او اداره کولو کې ګټوره ده، نوموړی وایي چې وده کوونکي سازمانونه نسبتاً د آرامو پنځه دورو څخه تیریږي چې هره دوره یې د بحران او انقلاب د دورې لامل کېږي. خلک د منفي تعارض په مدیریت کې مختلف سبکونه کاروي خو هغه سبکونه چې ډېر کارېږي عبارت دي له سیالي، د باور پر بنسټ همکاري، نرمښت، پرهېز او پخلاینې څخه. په ټولو حالاتو کې د تعارض د مدیریت له سبکونو څخه هر یو هم اغېزمن نه دی. څېړنې ښیي چې هر سړی په خپله طریقه کې د تعارض د مدیریت لپاره مخکینی مفکورې لري. یا په بل عبارت هرڅوک د تعارض د مدیریت سبک غوره کوي. د هر چا د تعارض د مدیریت سبک د هغه د شخصیت د ځانګړتیاوو او افکارو د ترکیب له مخې پیش بینې کیدای شي، له همدې امله ځینې په دې باور دي چې د هرچا د تعارض د مدیریت سبک ثابت دی او دا نه شو ویلای چې د تعارض د مدیریت پنځه سبکونه د وضعیت له مخې اختیاري دي. هر وضعیت ته په کتو سره له هغې څخه استفاده کېږي.

**وړاندیزونه**

1. د تعارض د ابتدایي نښو په پېژندنه تمرکز: ادارت دې د تعارض د رامنځته کېدو د ابتدایي نښو (لکه د اړیکو خرابوالی، د ګټو تضاد، او د کارکوونکو ترمنځ اختلافات) د پېژندلو لپاره ځانګړې سیستماتیکې لارې چارې جوړې کړي. دا به ادارو ته اجازه ورکړي چې د ستونزو د پراختیا څخه وړاندې مداخله وکړي.

2. د تعارض د فرهنګي او سازماني عوامل څېړنه: ادرات او مدیریان دې تعارض د رامنځته کېدو په فرهنګي او سازماني عواملو تمرکز وکړي، ځکه چې کلتوري توپیرونه او سازماني جوړښتونه د تعارض د شدت او ډولونو په ټاکلو کې مهم رول لوبوي.
3. د تعارض مدیریت لپاره تطبیقي ستراتیژۍ: ادارو ته وړاندیز کېږي چې د تعارض د مدیریت لپاره تطبیقي ستراتیژۍ (لکه د خبرو اترو، منځګړیتوب، او همکارۍ پراختیا) جوړې او عملي کړي. د دې لپاره د مختلفو ادارو تجربې او مطالعاتو څخه ګټه اخیستل اړین دي.
4. د مشرتابه رول د تعارض په مدیریت کې: پیشنهاد کېږي چې د ادارو مشران د تعارض د مدیریت په برخه کې وروزل شي، ترڅو د شخړو په حل کې د اغېزمنو او رغنده رولونو ادا کولو وړتیا ولري.
5. د تعارض د رامنځته کېدو د مخنیوي ستراتیژۍ: ادارو ته وړاندیز کېږي چې د تعارض د رامنځته کېدو د مخنیوي لپاره د سازماني کلتور پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکړي. د باور، شفافیت، او همکارۍ پر بنسټ د کارکوونکو ترمنځ اړیکې پیاوړې کول د تعارض د مخنیوي لپاره بنسټیزې لارې دي.
6. د علمي څېړنو زیاتوالي اړتیا: سپارښتنه کېږي چې څېړونکي په اداره کې د تعارض د پروسې او مدیریت په اړه ژورې او اوږدمهاله څېړنې ترسره کړي، ترڅو په دې برخه کې د نوي پوهې او مؤثرو حللارو وړاندیزونه وکړي.

**منابع**

ستیفن پی. رابینز،(۱۳۸٦ هـ.ش)، Essentials of Organizational Behavior، (مبانی رفتار سازمانی)، ترجمان: پارسائیان ،علی و اعرابی، سید محمد، ایران(تهران)، دفتر پژوهشهای فرهنگی.

درگاهی. (۱۳۸۷هـ.ش)، مدیریت تعارض و راهبردهای مرتبط، د بژشکی علوم پوهنتون (تهران).

میرکمالی، سید محمد،(۱۳۷۱هـ.ش)، مدیریت تعارض، مجله دانش مدیریت.

عمید ، حسن. (۱۳۸۳ ه ش) ، فرهنګ عمید، چاپ ۳۰ ، تهران، انتشارات امیر کبیر

Cosier, R. A., & Schwenk, C. R. (1990). Agreement and thinking alike: Ingredients for poor decision-making. *Academy of Management Executive.*

Filley, A. C. (1995). *Interpersonal conflict resolution.* Glenview, IL: Scott, Foresman.

Hellriegel, D., Slocum, J. W., & Woodman, R. W. (1998). *Organizational behavior* (7th ed.). New York, NY: West Publishing Co.

Kabanoff, B. (1991). Equity, power, and conflict. *Academy of Management Review.*

Katzenstein, G. (1996). The debate on structured debate: Toward a unified theory. *Organizational Behavior and Human Decision Processes,* 66(2), 316–332.

Kotter, J. P. (1996, August 5). Kill complacency. *Fortune.*

Kreitner, R., & Kinicki, A. (2004). *Organizational behavior* (7th ed.). New York, NY: Irwin/McGraw-Hill.

Rahim, M. A. (1992). *Managing conflict in organizations* (2nd ed.). New York, NY: Praeger.

Robbins, S. P. (1989). *Organizational behavior: Concepts, controversies, and applications* (4th ed.). Englewood Cliffs, NJ: Prentice Hall.

Robbins, S. P. (1993). *Organizational behavior: Concepts, controversies, and applications* (6th ed.). Englewood Cliffs, NJ: Prentice Hall.

Schermerhorn, J. R., Hunt, J. G., & Osborn, R. N. (1994). *Managing organizational behavior* (5th ed.). New York, NY: John Wiley & Sons, Inc.

Schweiger, D. M., Sandberg, W. R., & Rechner, P. L. (1989). Experimental effects of dialectical inquiry, devil's advocacy, and consensus approaches to strategic decision-making. *Academy of Management Journal.*

Sternberg, R. J., & Soriano, L. J. (1984). Styles of conflict resolution. *Journal of Personality and Social Psychology*.

Thomas, K. W., & Schmidt, W. H. (1976). A survey of managerial interests with respect to conflict. *Academy of Management Journal*.

Tjosvold, D., & Poon, M. (1998). Dealing with scarce resources: Open-minded interaction for resolving budget conflicts. *Group & Organization Management*.

Woodward, K. L. (1999, June 21). Sainthood for a pope? *Newsweek.*

# پر اقتصاد باندې د برېښنايي سوداګرۍ اغېزې

پوهنيار اکمال ناصر اميري، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداره او تجارت څانګه.
برېښناليک: akmal.amiri@yahoo.com

**لنډيز**

په ننۍ نړۍ کې برېښنايي سوداګرۍ داسې يوه اصطلاح ده چې څو کلونه وړاندې يې ان تصور هم نه کيده. يعني د انټرنېټ له لارې د فزيکي اجناسو موندل، اخيستل او د هغو اجناسو په خپل کور کې تر لاسه کول هغه کارونه وو چې پخوا نا ممکن ښکاريدل، مګر نن دا نا ممکن کارونه په پوره اطمنان سره ترسره کيدای شي. د سوداګرۍ پرمختللی شکل برېښنايي سوداګرۍ ده. دا څېړنه به څرګنده کړي چې برېښنايي سوداګرۍ څنګه په اقتصاد باندې اغېزه کوي، په ځانګړې توګه په توليداتو باندې، د څېړنې تشه د مخ پر ودې هيوادونو کې د سوداګرۍ لګښتونو او توليداتو باندې د برېښنايي سوداګرۍ د اغيزې د بشپړې ارزونې کمښت څرګندوي. د څېړنې اصلي موخه دا دی چې برېښنايي سوداګرۍ څنګه د سوداګرۍ په لګښتونو او توليداتو باندې اغيزه کوي، په د مقاله کې د کيفي څېړنې له مېتود څخه ګټه اخستل شوی، چې د دويم لاس معلوماتو پر اساس ترسره شوې ده. دغه معلومات د مختلفو معتبرو کتابونو، مجلو او همداشان د نړيوالو معتبرو انګليسي مقالو څخه راټول شوي دي. پايله ښايي چې برېښنايي سوداګرۍ د پيرودونکو خدماتو، د پلور اجرا کولو، او د تدارکاتو موثريت ښه کولو سره عملياتي لګښتونه په تدريجي ډول کموي. سربېره پردې، نوښت او سيالۍ ته وده ورکوي. د څېړنې موندنې ښايي چې برېښنايي سوداګرۍ د لګښتونو د کمولو او موثريت زياتولو پر اساس د هر هيواد اقتصاد ته د پام وړ وده ورکوي. په پرمختللو هيوادونو کې د برېښنايي سوداګرۍ د اوږد مهاله اغيزو ارزولو لپاره، راتلونکې څېړنه بايد په اوږدمهاله مطالعاتو متمرکزه وي.

**کليدي ټکي**: برېښنايي سيستم، برېښنايي سوداګيري، معلوماتي ټيکنالوجۍ اغيزې، برېښنايي سيستم تاثيرات، برېښنايي تجارت خدامات.

**سريزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

نن ورځ په نړۍ کې د سوداګرۍ نوی او پرمختللی شکل برېښنايي سوداګرۍ ده. په دې ډول سوداګرۍ کې مشتري کولای شي چې د اړتيا وړ توکې په انلاين ډول ومومي، د هغوی په اړه پوره معلومات لاسته

راوړي او له همدې ځای څخه خريداري وکړي. همدارنګه کولای شي چې په انلاين ډول پيسې هم تاديه کړي. په همدې ډول خرڅونکي هم کولای شي چې خپل توکی په ټوله نړۍ کې په انلاين بڼه مشتريانو ته وړاندې کړي. نن سبا هر هغه څه چې موږ يې انټرنيټي کاروبارونه ګڼو، په دې برخه کې د هغه تجربو ټولګه ده چې په وروستيو څو کلونو کې تر لاسه شوي، انټرنېټ د بلې هرې ارتباطي وسيلې په پرتله چټک پرمختګ کړی او ممکن نړيوالو بازارونو ته  د ارتباط د بلې هر يوې وسيلې په پرتله لوی بدلون ورکړي. پر اقتصاد باندې د برېښنايي سوداګرۍ اغېزې د توليد په ساحه کې د تلپاتې ودې غوښتنې پوره کولو لپاره يوه ګټوره لاره په لويه کچې د عملياتو پراخول دي، نو برېښنايي سوداګرۍ نه يوازې سوداګرۍ ته وړتيا ورکوي چې د پيرودونکو غوښتنې په پراخه کچې پوره کړي همدا شان په  لګښتونو کې کموالی او  په بازار کې سيالي پياوړي کوي.

برېښنايي سوداګرۍ د برېښنايي راکړو ورکړو د متن اواز او تصوير د انتقال څخه عبارت دی. دغه سوداګري د بېلابېلو فعاليتونو لکه د توکو او خداماتو برېښنايي تبادله، د ډيجټلي مطالبو، د برېښنايي اسهامو تبادله، د سوداګرۍ طرحو تبادله، د مالي منابعو تبادله، دولتي اخيستنې، مستقيمه بازارموندنه او د خرڅلاو څخه وروسته خداماتو څخه عبارت دی. برېښنايي کاروبار هغه ده چې ډيجيټل تکنالوژي او انټرنېټ د خپلو اساسي کاروباري پروسو لپاره کاروي. برېښنايي سوداګري د شيانو او خدماتو د آنلاين خرڅولو او اخيستلو څخه عبارت دی او په دې کې اعلانات، بازارموندنه، د مشتريانو خدمات، انتقالات او تأديات شامل دي. برېښنايي تجارت پروسه کيدای شي په کامل ډول د الکترونيکي (انټرنېټ)په ذريعه يا هم د دې پروسې کومه برخه په فزيکي ډول (بېدون له انټرنېټه) ترسره شي بناً که چيرې د آنلاين خريداري پروسې مراحل( قيمتونو مقايسه، اقلامو چېک کول، انتقال طريقې انتخاب، تأديه او او ارډر يا فرمايش ځای پرځای کول) ټولې برخې د انټرنېټ په وسيله ترسره شي عبارت د کامل برېښنايي تجارت څخه دی. برېښنايي تجارت په ۱۹۷۰ کال کې کله چې لويو سهامي شرکتونو خپلو شريکانو سره د کاروبار اړوند معلومات د نيټورک له طريقه شريکول چې پورتنۍ پروسه ته EDI ويل کيدل، چې دا لاره دکاروباري ډيټا انتقال يوه ستنډرډ طريقه وه. په دې ميتودونو کې کاغذي کړنو او افرادو ته اړتيا ليدل کيده. د ۲۰۱۶م کال د جنوري مياشتې راپور له مخې د نړۍ تقريباً ۲۱۰ مليونه انټرنېټ  استعمالوونکي دي. زموږ  هېواد د تېرې لسيزې راهيسې د مخابراتي شبکو انټرنېټي  آسانتياوو سره برېښنايي سوداګرۍ کې کافي اندازه پرمختګ راغلی، چې دا پرمختګ د ټولنيزو شبکو لکه فسبوک پيجونو او يا هم شخصي ويب سايټوز په شکل درک کيدای شي، د برېښنايي کاروبار د اندازې او سايز د معلوموالو لپاره مختلفې لارې وجود لري چې موږ کولای شو پرې د يو برېښنايي کاروبار ستروالی يا کوچنی والی نظر نورو

کاروبارونو ته معلوم کړو. د برېښنايي سوداګرۍ مهمه وسیله نړیوال جال (انټرنېټ) او ځينې نورې کمپيوټري شبکې دي. د دغه شبکو په مرسته د کاغذي اسنادو له کاروني پرته، په برېښنايي او ډيجيټلي ډول د راکړې ورکړې معاملې تر سره کېږي. په عمومي توګه دا ډول راکړې ورکړې چارې د وېب پاڼو له لورې چې په همدې موخه جوړېږي، اداره کېږي. يوازې د ويپاڼو له لارې سوداګري برېښنايي سوداګري نه شو ګڼلی بلکې د هر ډول برېښنايي سيستم لکه ټليفون، فاکس، د پيسو د ورکړې اتومات ماشينونه يا ATM او د نورو برېښنايي وسايلو پر مټ تر سره شوي ټول معاملات په برېښنايي سوداګرۍ کې شمېرل کېږي. برېښنايي سوداګرۍ د برېښنايي کاروبار يا E-Commerce له پراخه فعاليتونو څخه يوازې د خرڅلاو او تأدياتو اړخ دی. برېښنايي سوداګرۍ د يو کاروبار د پرمختګ لپاره ستره اړتيا ده، دغه اړتيا که څه هم نوي رامنځته شوي خو په داسې دريځ کې ده چې د يو کاروبار لپاره ډېره مهمه او د نه پوره کولو له امله يې د نن ورځې سوداګريز فعاليتونه نيمګړي ګڼلی شو. برېښنايي سوداګرۍ يو کاروبار له اضافي او عملياتي لوړو لګښتونو څخه ژغوري، په سيالۍ کې يې د سيالو کاروبارونو سره سيال او يا يې له هغوی څخه مخکې کوي او همدارنګه د برېښنايي سوداګرۍ په وسيله د يوه مشتري غوښتنو ته چټک او پر وخت ځواب ويلی شو.

**د څېړنې موخې**

1. د دې لپاره چې وپلټي چې برېښنايي سوداګري څنګه د شرکت لګښتونه اغېزمنوي.
2. د برېښنايي سوداګري د اوسني حالت ارزونه.
3. د دې لپاره چې معلومه کړي چې برېښنايي سوداګري څنګه لګښتونه کموي

**د څېړنې ميتودولوژي**

په دې مقاله کې د کيفي څېړنې له مېتود څخه ګټه اخېستل شوې، چې د دويم لاس معلوماتو پر اساس ترسره شوې ده. دغه معلومات د مختلفو معتبرو کتابونو، مجلو او همداشان د نړيوالو معتبرو انګليسي مقالو څخه راټول شوي دي چې دغه کيفي څېړنه د (Document analysis) باندې بناء ده په کوم کې چې مختلف منابع کارول کېږي، لکه : چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه ، د ادارو پاليسۍ، کتابونه، مقالې او د ادأرتو راپورونه ترڅو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تيار کړي.

**برېښنايي تجارت**

د اجناسو او خداماتو اخيستل او خرڅول د انټرنيټ په وسيله برېښنايي تجارت بلل کيږي. برېښنايي تجارت زيات معاملات د انټرنيټ په واسطه ترسره کوي چې دغه د تجارت يو نوی طريقه يا روش دی ځکه چې پخوا به د انټرنيټ څخه پرته معاملات ترسره کيدل او معاملات په فزيکي ډول وو، زيات وخت

او زیاتو مصارفو ته به ضرورت وو او ځینې نور محدودیتونه لکه: د وخت پابندي او داسې نور به یې درلودل خو اوس د انټرنیټ په مرسته برېښنایي معاملات په چټکۍ سره په کم وخت او پرته له کوم محدودیت څخه د ورځې (24) ساعته په اوونۍ کې په (7) ورځو کې ترسره کوي. برېښنایي کاروبار اکثره وخت په متغیر ډول په انلاین توګه پرچون اخیستل او خرڅولو لپاره استعمالیږي.

**ولې برېښنايي تجارت مهم دی ؟**

برېښنايي تجارت د خداماتو په برخه کې د مشتريانو بدليدونکې اړتياوې پوره کوي څه ته چې اړتيا ولري زيات شمېر فعاليتونه د يوه سازمان له لوري د يوې معاملې په ذريعه سره ترسره کوي. دا ډول فعاليتونه د اقتصادي خداماتو د پيژندنې صنعتي کول دي.

**د برېښنايي تجارت خصوصيات يا ځانګړتياوې**

1. غير دوديز ترون او نوی تجارتي ماډل
2. جهاني او صنعتي اړيکې
3. رقابتي ګټه چې په چټک ډول د ټکنالوژيکي بدلون او سټنډرډ سره وي
4. قانوني او مقرارتي موضوعات اوس هم په انلاين نړۍ کې د بدلون په حال کې دي

برېښنايي تجارت په هر سازمان باندې تاثير غورځوي لکه د معلوماتي ټکنالوژۍ برخه يې په چټکه توګه بدلون مومي، د بانک لپاره د رقابتي ګټې ساتونکي دي همداشان د پرچون فروش، هوائي شرکتونو او نورو باندې تاثير غورځوي. د تجارت تمرکز د موثريت په بدلون د مصرف کموالی، د خداماتو وړاندې کول او همداشان د زيربناوو لپاره د پرمختللو ستراتيژيو جوړول چې په ټول تجارت کې د استعمال وړ وي. برېښنايي تجارت د پيل څخه د مشتريانو لپاره په انلاين ډول د پرمختللي ټکنالوژۍ پواسطه سهولتونه رامنځته کوي چې دا د فزيکې نړۍ سره توپير لري، اوسنۍ نړۍ اړتيا لري د وېش مختلف شکلونه ولري، ارزښت ټاکنه، پرمختللي توليدات ولري او همداشان د خدماتو د وړاندې کولو سطحې يا چينلونه او قيمت ټاکنه ولري او د دې ترڅنګ د مشتريانو رضايت ترلاسه کړي. ځکه مشتريان په نوښت ګرو ستراتيژيو او چټکې پرمختللي ميتودولوژۍ باندې تمرکز کوي، دلته د پام وړ ده چې نوی غوړېدونکي ټکنالوژي او د تجارت ماډل روښانه شي، هغه وخت چې برېښنايي تجارت ته په چاپيريال کې اړتيا موجوده وي او کوم ځای کې چې تجارت ورته ضرورت ولري، د توليد په برخه کې به يې نتيجه ښه وي. کله چې مېتودولوژي او سټنډرډونه په سمه توګه عملي کړي، نو په دې توګه کولای شو چې خطر په سم ډول سره مديريت کړو او د تجارت ګټونکي شو (اکبري، ۲۰۱۸، ص. ٦).

د برېښنايي تجارت ګټې

۱. د ګدام غیر محدود ساعتونه: برېښنايي تجارت د مشتريانو لپاره اووه ورځې په اوونۍ کې د ورځې (۲۴) ساعته خلاص وي بغیر د کوم مصرف څخه مشتريان د ټیلیفون په ذریعې سره کولای شي معاملات ترسره کړي.

۲. په زياته کچې لاسرسی هغه مارکیټونو ته چې پخوا ورته لاسرسی موجود نه وو د انټرنیټ په مرسته دا اجازه وي چې خپل تجارت ته دوام ورکړي خدمات وړاندې کړي د مشتريانو لپاره هم په لېږي پرتو سیمو کې او هم په نړیواله سطحه.

۳. پرمختللي بازارونه: یو مشتري کولای شي چې ستا له ګدام څخه یو شی واخلي ته هغه په مستقیم ډول د انټرنېټ په واسطه کنترول کولای شې. برېښنايي تجارت تاته دا فرصت درکوي چې څوک ستا له ګدام څخه شیان اخلي او ته د هغه بیه یا قیمت د خرڅلاو ورته ښودلی شې.

۴. په لوړه کچې د مشتريانو رضایت او د هغوی وفاداري : برېښنايي تجارت د مشتريانو لپاره د دوی د توقع مطابق خدمات برابروي او دا خدمات چې دوی ترسره کړي وي اسانه دي.

۵. په برېښنايي تجارت کې مصرف راټیټېږي، د تدارکاتو مصرف ټیټ وي، په ګدام کې د موجودۍ مصرف هم ټیټ وي(زکی، ۲۰۱۸، ص. ۳۱۵).

**برېښنايي تجارت ته کتنه**

برېښنايي تجارت بنسټ (۱۹۷۰) کال په جریان کې د **(EFT)** په لېږدولو سره پیل وکړو. د بانکونو او خصوصي شبکو ترمنځ په د معاملاتو ثبت په ډېرې چټکۍ سره په یوه سټنډرډ میتود باندې بدل شو د تأدیاتو او معلوماتو د انتقال په برخه کې. بعضې ډولونه د **(EFT)** د ډبیټ کارت په نوم وپيژندل شو چې په مستقیم ډول په بانک کې ساتل کېدل تقریباً د څلورو تریلیونو ډالرو په اندازه تبادلات چې **(EFT)** او کمپیوټري شبکو په واسطه ترسره کېدل د بانک سره په اړیکه کې وو، په (۱۹۹۵) کال کې تقریباً (۵۵) فیصده تأدیات د امریکا حکومت له لورې ترسره شوي وو هغه هم د **(EFT)** په ذریعه سره. په (۱۹۸۰) کال کې برېښنايي تجارت په زیاته کچې پراخ شو، د کمپنۍ په چوکاټ کې یې د ټکنالوژۍ په مرسته د پیغام په ذریعه سره خدمات وو. برېښنايي تبادلات، **(EDI)** او **(Email)** او نور. ټولې تجارتي راکړې ورکړې چې په دودیز ډول د کاغذ پر مټ ترسره کېدې هغه په برېښنايي ډول شروع شول. **(EDI)** ته اجازه ورکړل شوه چې کمپنۍ یې د لېږل شویو او ترلاسه شویو اموالو او همدارنګه **(Email)** د سازمانونو ترمنځ د مفاهمې یوه برخه شوه. **(EDI)** په مختلفو شکلونو سره ترسره کېده خو هغه ځانګړې او کامیاب شکل یې د پرچون خرڅلاو مدیریت وو چې تولېدات په مناسب قیمت، مناسب ځای او

مناسب مقدار سره مشتریانو ته وړاندې کړي، د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره اخیستل اسانه، مصارف یې ټیټ شول د مشتري او تولېدکوونکي لپاره.

په (۱۹۸۰) او (۱۹۹۰) کالونو کې د پیغام یعنې بریښنالیک په مرسته سوداګري چې د کمپیوټري سیستم په مرسته ترسره کېده. ډېر تمرکز یې په دې باندې وو چې هغه فعالیتونه چې په غېرې برېښنایي ډول ترسره کېده هغه برېښنایي سیستم ته بدل کړي ځکه چې مثمریت یې زیات وو، کله چې ټولنې په دې مجازي نړۍ کې برخه واخیسته نو نړۍ په یو کلي بدله شوه، د معلوماتو تبادله اسانه شوه. په (۱۹۹۰) کال کې (**WWW**) ظهور وکړ د انټرنیټ د تاریخ بدلېدونکې نقطه وه ځکه په دې سره د دې وړتیا پیدا شوه چې څنګه په اسانۍ سره هغه مشکل د ټکنالوژۍ حل کړو هغه که د معلوماتو د نشرولو یا ختڅي کولو برخه کې وي، برېښنایي تجارت په اسانه او ارزانه تجارت باندې بدل شو، په (۱۹۹۷) او (۱۹۹۸) کالونو کې برېښنایي تجارت د انټرنیټ په ذریعه سره صنعتي فعالیتونو ته هم داخل شو ځکه د هغه مصارف ټیټ وو نسبت (**EDI**) ته لویې او کوچنۍ کمپنۍ دې ساحې ته داخلې شوې او برېښنایي تجارت په زیاتې اندازې سره پراخوالی وکړ (خلیلزی، ۲۰۱۷، ص. ۲۲۶).

**د برېښنایي تجارت ډولونه**

**برېښنايي تجارت مختلف ډولونه لري چې يو څو مهم يې دلته ذکر کوو.**

۱. Business to Business: دغه تجارت د دوو کمپنیو ترمنځ ترسره کېږي د مثال په ډول د کمپیوټر یوه تولېدونوکي کمپنۍ د کمپیوټر یا ټولې پرزې په انلاین ډول خرځوي د لاسرسي لپاره یو ویب سایټ لري چې پکې بشپړ معلومات موجود وي هر وخت، هر ځای کې چې څوک موجود وي کولای شي دعه معلومات او مشخصات مطالعه او که یې خوښ شي ویې پیري. کوم محدودیت موجود نه وي (۲۴) ساعته د اوونۍ اووه ورځو کې د مشتریانو لپاره د لاسرسي وړ وي. (B2B) یا د کمپنیو ترمنځ برېښنایي تجارت عواید نسبت (B2C) ته راټلونکې کې زیات وي.

(B2B) برېښنایي تجارت ویب سایټ په لاندې ډول ترتیب کېدلی شي.

د کمپنۍ ویبسایټ: د دې ډول ویبسایټ ترتیبولو هدف نورې کمپنۍ او کارکوونکي دي چې وکولای شي د دې ویبسایټ څخه هر وخت خپل تجارت وګوري او دغه ویبسایټ ځینې وختونه راجسټر شویو مشتریانو لپاره د انټرنیټ د اضافي وخت د ضایع کیدو څخه مخنوی کوي او په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وي.

د توليد عرضه کول او تدارکاتي معاملات: کمپنۍ کولای شي چې د دې څخه په چټک ډول اخيستنه ترسره کړي خو پلورونکي څخه په چټک ډول شيان اخيستلی شي، هغو ته د غوښتنې لپاره پروپوزل وړاندې کوي او په هر خرځلاو باندې د غوښتل شويو شيانو قيمت موجود وي.

د صنعتي فعاليتونو لپاره ويبسايټ: په دې ډول ويبسايټ کې يو بل فرعي ويبسايټ موجود وي چې د توليداتو په اړه پکې معلومات، خصوصيات او د دوی نورې ځانګړتياوې موجودې وي او دغه ويبسايټ د تدارکاتي ويبسايټ په نسبت پراخ مفهوم لرونکی وي چې اخيستنه او خرڅونه په ښه ډول سره حمايه کوي.

**د منځګړيتوب ويبسايټ:** دغه ډول ويبسايټ لکه د نوم څخه يې چې معلوميږي د اخيستونکو او خرڅونکو تر منځ منځګړيتوب ترسره کوي.

**د معلوماتو ويبسايټ:** په دغه ويبسايټ کې د يو ځانګړي صنعت يا کوم بل څيز په اړه ځانګړي معلومات موجود وي، د مشتريانو او کمپنيو دواړو لپاره.

۲.Customer to Customer : دغه برېښنايي تجارت د دوو اشخاصو تر منځ ترسره کيږي او دواړه اشخاص به يې مشتريان وي په دغه ډول برېښنايي تجارت کې د معاملې د ترسره کيدو اسانتياوې موجودې وي، کله چې يو مشتري خپل اجناس په انلاين ډول خرڅوي او بل يې اخلي.

۳.Business to Customer : په دې ډول برېښنايي تجارت کې د اجناسو خرڅول او د خداماتو ترسره کول د يوې کمپنۍ لخوا يو مشتري ته ترسره کXږي او يو ويبسايټ موجود وي چې د دغه ويبسايټ له لارې په مشتري باندې هر څه چې وغواړي خرڅولی يې شي او په ډېرې اسانۍ سره لکه: کتاب، سي ډي او داسې نور په مستقيم ډول مشتري باندې خرڅولای شي او همدارنګه مشتري کولای شي چې دغه اجناس په نغدو، کريډېټ کارت او يا د پرداخت سيستم د کومې وسيلې په واسطه يې ترلاسه کړي او دغه تجارت په ډېرو کمو مصارفو سره زياتې اسانتياوې رامينځته کوي (صافی، ۲۰۲۱، ص. ۳۱۹).

**برېښنايي تجارت خدمات**

برېښنايي تجارت زيات خدامات ترسره کوي چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

۱. مشتريانو لپاره خدامات: د مشتريانو لپاره د پېژندګلوۍ په برخه کې خدامات پراخه لاسرسی موجود وي او د دې تر څنګ نور اعتباري خدامات د برېښنايي تجارت سيستم استعمالوونکو لپاره وړاندې کوي.

۲. د غوښتنې خدامات: د غوښتنې په برخه کې څه ډول معلومات چې د تجارت په برخه کې وغواړي هغه دقيق او منطقي معلومات د استعمالوونکو لخوا د دوی په واک کې ورکوي د ويبسايټ له لارې.

**۳.** د عملیاتي سیستم خدمات: په اساسي ډول په دې کې شامل خدامات، امنیت، مدیریت او د اړیکو په برخه کې خدمات دي.

**۴.** د پراختیا په برخه کې خدمات: هغه ضروري شیان چې د پرمختګ لپاره اړین وي هغه تیاروي د تشبث لپاره پرمختللي ډیټابس تیاروي.

**۵.** د نړیوالو ارتباطاتو په برخه کې خدامات: د نړۍ هر ځای او هرې برخې ته لاسرسی لري د سیستم په ذریعه سره.

**٦.** د بازار موندنې په برخه کې خدامات: د تولیداتو او خداماتو په پراخه ډول خپراوی ترسره کوي.

**۷.** د خرڅلاو په برخه کې خدامات: د تولیداتو مطابق خرڅلاو ترسره کېږي.

**۸.** د تأدیاتو په برخه کې خدامات: توانمند لرونکي کریډیټ کارتونه او نورې د تأدیاتو وسیلې په برېښنایي ډول سره انتقالوي.

**۹.** د تحقق په برخه کې خدامات: دا یوه داسې پروسه ده چې په هغه کې تولیدات د اړډر مطابق لېږل کېږي.

**۱۰.** د موجودې په برخه کې خدامات: ساتنه او راپور ورکونه د موجودې د حالاتو په اړه.

**۱۱.** د اړیکو د خوندیتوب په برخه کې خدامات: د مشتریانو او شریکانو سره اغېزمنې، اعتباري او ښې اړیکې ساتل دي

(Hage and Armstrong, 1997, P. 49-74).

برېښنایي بانکداري (**E-Banking**) نوی عصر د کمپیوټري ټکنالوژي یوه حیرانونکې اختراع ده. (**E- Banking**) څخه مراد معامله دار ته د انټرنیټ په ذریعه د بانکدارۍ د سهولت برابرول دي. د (**E-Banking**) په واسطه معامله دار ته د بانک سره د معاملې(**Transaction**)کولو سهولت هر وخت موجود وي، ځکه چې برېښنایي بانکداري سیستم کې چې هر وخت مشتري وغواړي نو لین دین کولای شي.

روایتي بانکي سیستم کې د کاروبار ټول ریکارډ په لاس لیکل کیده او د یو کتاب په شکل محفوظ ساتل کیدلو د انټرنیټ تکنالوژي د ترقۍ په وجه ټولو بانکونو د خپل کار په طریقه کې بنیادي بدلون راوستی دی او خپلو مشتریانو ته د برقي تکنالوژي د استعمال په واسطه چټک او مفید خدامات ترسره کوي.

الیکترونیکي راکړې ورکړې مختلف ډولونه لري کولی شو هغه په دوو اصلي برخو ووېشو:

۱. د عمده خرڅلاو معاملاتو لپاره د پرداخت سیستم

۲. د پرچون خرڅلاو معاملو لپاره د پرداخت سیستم

د الکترونیکي پرداخت ځانګړنې

1. امنيت: د اطلاعاتو امنيت د دې لپاره اړين دی چې غير مجاز اشخاصو ته د تحريف زمينه مساعده نشي.
2. تقسيم پذير: ډېرى پلورونكي خپل اعتباري كارتونه د حد اقل او حد اكثر راكړې وركړې لپاره قبلوي چې په دې توګه هرځومره چې د وركړې لمن پراخه شي د راكړې د ډېرېدو امكان هم زياتېږي.
3. د بررسۍ قابليت: سيستم بايد ټول مالي عمليات ثبت كړي ترڅو د ضرورت په وخت كې هر ډول اشتباهات او خطاګانې په اسانۍ سره وڅېړل شي.
4. د اطمينان قابليت: سيستم بايد په كاپي اندازه پايدار يعنې مستحكم وي ترڅو د برق د قطع كيدو په صورت كې معلومات او پيسې ضايع نشي يعنې كاروونكی خپلې پيسې له لاسه ورنه كړي.
5. د هويت ساتنه: دغه مطلب په خصوصي حريم پورې اړه لري يعنې ځينې پيرودونكي تمايل لري چې د دوی هويت او د پلورل شوي جنس هويت پټ پاتي شي.
6. عدم تكذيب: د پرداخت يو انټرنېټي سيستم بايد په سيستم كې داخل ګروپونه مطمئن كړي چې هيڅ ګروپ نشي كولی له هغو معاملو انكار وكړي او يا په غيرې قانوني ډول د هغو څخه ځان وباسي. (**Lindsay, P, 2002, P. 31**).

**الكترونيكي بانكداري**

په ټوليز ډول ويلی شو چې الكترونيكي بانكداري عبارت ده له د كارمندانو لپاره د داسې امكاناتو برابرول چې په چټكۍ سره بانكي خدامات، د ادارو ترمنځ او په نړيواله سطحه د بانكونو ترمنځ ارتباطات تأمين كړي. همدا راز مشتريانو ته د هارډ وير او سافټ وير امكانات برابرول ترڅو مشتريان وكولی شي بې له دې چې په فزيكي ډول حضور ولري د خپلو حساباتو معلومات په (۲۴) ساعته ډول كنټرول كړي او معاملات ترسره كړي. يا په بل عبارت الكترونيكي بانكداري د پرمختللو سافټ ويرونو او هارډ ويرونو څخه په استفادې د شبكې يا مخابراتو په موجوديت كې د مالي تبادلو او اطلاعاتو كنټرولول او څېړنه بې له دې چې شخص په فزيكي ډول په بانک كې حضور ولري د الكترونيكي بانكداري څخه عبارت ده (Borenstein, S and Saloner, H , 2001, P. 23-45)**.**

**الكترونيكي بانكداری خدامات**

په الكترونيكي بانكدارۍ كې داسې سيستمونه شامل دي چې د مالي موسساتو مشتريان كولی شي چې په لاندې دريو برخو كې د بانكي خداماتو او سرويسونو څخه استفاده وكړي.
۱. د معلوماتو رسول: دغه برخه د انټرنېټي بانكدارۍ لومړنۍ برخه ده چې پكې بانكونه خپل بانكي خدامات د عمومي يا خصوصي شبكو له لارې معرفي كوي.

۲. ارتباطات: د انټرنیټي بانکدارۍ دغه برخه د مشتري او د بانکي سیستم تر منځ د معاملاتو د ترسره کولو امکانات برابروي دغې برخې خطر نسبت سنتي یا پخوانۍ طریقې ته زیات دی په همدې خاطر د بانک د شبکې او کمپوټرلپاره مناسب امنیتي تدابیر په پام کې نیول کېږي تر څو هر څوک ونشي کولای د بانک د شبکې یا کمپیوټرونو ته لاسرسی ولري.

**۳. انتقالات:** دغه سیستم د خپل ارتباط او معلوماتو په تناسب ډېر زیات د خطر لاندې دی او د یو لوړ امنیتي سیستم په درلودلو سره د چیک صادرول، د پیسو انتقال او د حسابونو افتتاح ترسره کوي **.(Shapiro, C and Varian, H, 1990, P. 30)**

**د برېښنایي سیستم خدمات**

د برېښنایي (**E-Banking**) په واسطه سوداګریز بانکونه د خپل مشتري لپاره لاندي خدمات ترسره کوي.

۱ـ کریډیټ کارت(**Credit Card**)

۲ـ ډېټ کارت(**Debit Card**)

۳ـ**ATM**(**Automatic teller machine**) کارت

۴- ماسټرکارت (**Master Card**)

۵- ویزه کارت (**Visa Card**)

**موندنې**

برېښنایي سوداګري د اقتصاد او سوداګرۍ په پرمختګ کې لوی رول لري او په ورته مهال یې ډېر لوی فرصتونه برابر کړي دي. برېښنایي سوداګري د سوداګرۍ د عملیاتو د اسانتیا لپاره کار کوي او پکې کوشش کېږي، چې د پلورونکو او پیریدونکو لپاره د پلور او پېر اسانتیاوې برابرې کړي، همدارنګه برېښنایي سوداګري د پلور او پېر د تأدیې سیستم، د اجناسو انتقال او په نړیواله سطحه د معاملاتو د ترسره کولو لپاره اسانتیاوې رامنځته کوي چې پلورونکي او پیریدونکي په ډېرې اسانۍ سره کولای شي په برېښنایي بازارونو کې د پلور او پېر په وخت کې تأدیې تر سره کړي. په دې توګه کولای شو چې په مصارفو او وخت کې بچت ترسره کړو او په پلور او پېر کې اسانتیاوې رامنځته کړو. نو د موندنو نه داسې معلومیږي چې برېښنایي سوداګري پر اقتصاد او سوداګرۍ باندې مثبت تاثیر لري او له اقتصاد ،کاروبار او سوداګرۍ سره مرسته کوي چې فعالیتونه یې اسانه او مؤثره شي، چې په دې سره به په برېښنایي بازارونو کې پلور او پیر زیات شي او د برېښنایي سوداګرۍ پر مخ وړونکو ته به د دې لارې زیاته ګټه

سوداګرۍ د چټکې په لاس ورشي.

**پايله**

د برېښنايي ودې له اصلي لاملونو څخه په ځانګړې توګه د سوداګرۍ څخه سوداګرۍ سکتور کې، د ويش، پلور اجرا، تدارکاتو، او خدامات لکه بانکدارۍ پورې اړوند لګښتونو باندې د پام وړ اغيزه لري. برېښنايي سوداګرۍ په توليد کې د پام وړ زياتوالی راولي چه دا اصلاً توليداتو ته د تقاضا زياتوالي دی چه د توليداتو د زياتوالی په نتيجه کې د هيواد صادرات لوړيږي او د صادراتو د زياتوالي په اساس د يو هيواد د تأدياتو بيلانس مثبت طرف ته ځي نو په دې توګه، د دې ګټو ترلاسه کولو لپاره ډېری شيان اړين دي، لکه د برېښنايي سوداګرۍ پليټ فارمونو ته لاسرسی او اړين وړتياوې، مګر هغه څه چې د برېښنايي سوداګرۍ او موثريت ګټې ځانګړي کوي هغه دا چې برېښنايي سوداګرۍ بايد د عرضه کونکو او پيرودونکو ته اجازه ورکړي چې خپل داخلي سيستمونه وکاروي. لکه څنګه چې سوداګرۍ خپل فعاليتونه په بشپړ ډول مدغم کوي. مطالعې وښودله چې برېښنايي سوداګرۍ د کاروبار او سوداګرۍ فعاليتونه اسانه کړي چې په واسطه يې د برېښنايي سوداګرۍ پر مخ وړونکي ډير مفئديتونه تر لاسه کيدای شي. همدارنګه برېښنايي سوداګري د کاروبار او سوداګرۍ لپاره د بازارموندنې ، تأديې سيستم ، پلور او پېر، او د اجناسو انتقال په برخو کې سهولتونه رامنځته کوي چې په واسطه يې د سوداګرۍ د تر سره کيدو په وخت کې اړونده عمليات په ډېرې اسانۍ سره تر سره کيدای شي، همدارنګه مطالعې وښودله چې برېښنايي سوداګري برېښنايي مارکيټونو ته د ډيرو پلورونکو او پېريدونکو د راټوليدو په برخه کې هم کومک کوي چې په مرسته يې پلورونکي او پېريدونکي کولای شي چې له خپله کوره د اجناسو او خدماتو پلور او پېر تر سره کړي، نو په لنډ ډول ويلای شو چې برېښنايي سوداګري نسبت فزيکي سوداګرۍ ته لاندې اغېزمنتياوې لري:

1. د سوداګرۍ په فعاليتونو کې اسانتيا رامنځ ته کول
2. د تأديې په سيستم او د اجناسو په انتقال کې اسانتيا رامنځ ته کول
3. پلورونکو او پيريدونکو ته اسانتيا رامنځ ته کول
4. د پلورونکو او پيريدونکو تراکم کې کومک کول
5. زياته ګټه لاسته راوړل
6. د نړۍ له هره ځايه سوداګري کول
7. د اجناسو د عرضې اسانتيا رامنځ ته کول

**وړانديزونه**

1) په داخلي او بهرني تجارت کې د بايد برېښنايي سيستم او برېښنايي پيسو تاديې په تړاو پروګرامونه او پاليسۍ ترتيب شي تر څو په تجارتي عرف تبديل شي.
2) په عصري ډول د بانکي سېستم رامنځته کول او هېواد ته د اړوند وسايئلو راوړل.
3) له برېښنايي معاملاتو سره د عامو خلکو اشنا کول او همدا رنګه په دې ډول راکړه ورکړه باندې د هغوی باور را منځته کول.

4) په هیواد کې د پس انداز او پانګونې، په خاصه توګه په انلاین کاروبارونو کې د پانګونې لپاره د یوه مثبت ذهنیت را منځته کول.
5) د برېښنايي معاملاتو د اجرأ لپاره باید ټول حکومتونه داسې شرایط برابر کړي تر څو د نړۍ په هره څنډه کې د برېښنايي سوداګرۍ لپاره عیار شویو فرصتونو څخه ګټه واخېستل شي.
6) څرنګه چې د نغدو پیسو په انتقال سره د غلا، ورکیدو او نورو ستونزو سره د مخامخ کیدای شو نو د دغه ډول مشکلاتو څخه د خلاصون لپاره باید د برېښنايي معاملاتو سیستم رواج کیدو په برخه کې د خلکو لپاره د هغې مزایاوې ابلاغ شي او په دې برخه ورته اسانتیاوې برابرې شي.
7) د برېښنايي سیستم څخه د استفادې پخاطر باید شرایط اسان او داسې وټاکل شي تر څو په زیات شمېر خلک ورڅخه برخمن شي او په ضمن کې د هیوادونو د نړیوالو سوداګریزو شرکتونو او بانکونو ترمنځ باید تفاهم نامې لاسلیک شي.

**منابع (References)**

Hage and Armstrong . (1997). Does the new economy measure up to the great inventions of past. *Journal of Economic Perspectives*, P. 49-74.

Borenstein, S. and Saloner, G. (2001). economics and electroinc commerce. *Journal of Economic perspectives*, p.23-45.

Shapiro, C. and Varian, H. (1990). A Strategic Guide to th New Economy. In S. C. H, *information Rules* (p. P.30). Boston: Hardvard Business School Press.

Lindsay, P. (2002). *E-Commerce.* washington D.C: Federal Reserve Bulletin Press.

اکبري, محمد حامد. (۲۰۱۸). *برېښنايي بانکوالي*. کابل: نوي مستقل خپرندویه ټولنه.

خلیلزی, صفي الله. ا. (۲۰۱۷). *کاروبار پېژندنه*. جلال أباد: دعوت خپرندویه ټولنه.

زکي, احمد. (۲۰۱۸). *برېښنايي کاروبار*. ننګراهار: قلم چاپ خپرندویه ټولنه.

صافي, وحید. (۲۰۲۱). *برېښنايي سوداګري*. ننګراهار: سلام خپرندویه ټولنه.

# په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطر مدیریت

پوهنیار توریالی سنګین، شیخ زاید پوهنتون، اقتصادپوهنځی، اداره تجارت څانګه
برېښنالیک: tooryalaisangeen2019@gmail.com

**لنډیز**

ا سلامي بانکداري د ا سلامي شریعت او ا صولو په چوکاټ کې د مالي خدماتو له ارایې او وړاندې کولو څخه عبارت ده. وروستۍ څېړنې او د اسلامي هېوادونو تجربې ښيي چې اسلامي بانکونه د هېوادونو په اقتصادي پراختیا کې د زیاتو لاسته راوړنو شاهد دي. اسلامي بانکداري نسبت عنعنوي بانکدارۍ ته د مالي منابعو په جذب او مصرف کې خاصې ځانګړتیاوې لري، په د غه ډول بانکدارۍ کې مهم ا صل د ګټې او ضرر په حساب کې شریکېدل او همدارنګه له سودي معاملاتو څخه ځان ساتل تشکیلوي. د خطراتو مدیریت د مالي او بانکي سیستم د مهمو او اساسي برخو څخه دی، په دې دلیل اسلامي بانکداري د هغې د طبعیت او ماهیت په نظر کې نیولو سره د ډول ډول خطرونو سره مخ ده چې د هغې پېژندنه او مدیریت د بانکي نظام او سیستم د عملکرد او کړنې په پراختیا کې مهم او اساسي رول لوبوي. په دې څېړنه کې نهایي هڅه شوې تر څو د اسلامي بانکدارۍ مربوط اعتباري خطر مطالعه او همدارنګه د هغې د پوښتنې او جبران طریقې بیان شوي دي، د دې سره سره د اسلامي بانکدارۍ پېژندنه ، د خطر معرفي، د خطر مدیریت، د خطر د مدیریت اهداف، د خطر ستراتیژي تشریح شوي دي.

**کلیدي ټکي**: اسلامی بانکداري، اعتباري خطر، د خطر ستراتیژي، د خطر مدیریت، د خطر د مدیریت اهداف

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

اسلامي مالي صنعت په تېزۍ او سرعت سره د رشد او نمو په حال کې دی او همدارنګه اسلامي مالي ابزار په بازارونو کې د پراخېدو او وسعت په حال کې قرار لري او ډېر نهادونه او مالي سازمانونه میلان او علاقه لري چې مشتریانو ته اسلامي مالي خدمات وړاندې کړي .د نوې تکنالوژۍ او نړیوال کېدو د پدیدو په منځته راتګ سره ټول نهادونه او سازمانونه هڅه کوي چې ځان د هغه سره برابر او وصل کړي او د نړیوال کېدلو څخه ګټه پورته کړي، چې په دغه عصر کې اسلامي

بانکداري په اسلامي هېوادونو کې د بانکدارۍ د یوه خاص صنعت په ډول مطرح شوه چې د عرفي او عنعنوي بانکدارۍ سره توپیر لري. اســلامي بانکــــــداري د ســهمدارانو د دواړه ډولو (بانک او مشتري) ګټې په نظر کې نیسي او د غیر منصفانه مصارفو (ربا) څخه ځان لرې ساتي او اکثره هغه ډول ابزار لکه مضاربت، مشارکت او داسې نور استفاده کوي چې په عنعنوي بانکداري کې شتون نه لري.

په اســلامي مالي تأمین او سرمایه ګذاري پورې تړلیو خطرونو، اســلامي مالي نهادونه د ډول ډول خطرونو سره مخ کړي دي. د اسلامي مالي نظره د دغې خطرونو مطرح کول هغه اړتیا ده چې اکثره اسلامي مالي صنعت په هغه باندې په و سیع ډول د زیاتو څېړنو، مطالعو، مقالو او کنفرانسونو لپاره زمینه مساعده کړېده.

د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې عمومي برداشت دادی چې دګټې (سود) د نشتون له امله زیات امنیت او مفیدیت لري.

د خطراتو د مدیریت کارایي او مؤثریت د مالي سازمان او نهاد په پایښت او موفقیت باندې مستقیم اغېز لرلای شي. د خطراتو مدیریت د ســهمدارانو او شریکانو د بازده په کموالي او زیاتوالي باندې اغېز لری ،په ټوله کې د مالي سیستم ثبات او پایدا ري د خطراتو په مدیریت پورې تړلې ده. د مالي فعالیتونو پیچلتوب او همپالنه د مختلفو خطرونو د رامنځته کېدو لامل ګرځی، خطرونه په عمومی ډول په اسلامي بانکدارۍ کې د خاصو قراردادونو د ساختاري او ساختماي جوړښتونو له امله را منځته کېږي. په ګټه او تاوان کې شراکت د بعضو اسلامي مالي قراردادونو ماهیت تشکیل وي چې د وخت په تېریدو د طرفینو د روابطو د تغییر لامل کیدای شي او دغه مسئله مالي نهادونه د خطراتو سره مخ کولای شي.

**د څېړنې موخې**

۱. د اسلامي بانکدارۍ پېژندنه

۲. په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطر پېژندل

۳. په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطرونو مخنیوي اودمدیریت لارې چارې وړاندې کول.

**د څېړنې مېتودولوژي**

په نوموړې څېړنه کې د کیفي او توصیفي مېتودونو څخه استفاده شوې ده او دغه څېړنه دوهمي معلوماتو ته اړتیا لري چې د غه دوهمي معلومات د مختلفو معتبرو داخلي او خارجي منابعو، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د اسلامي بانک پېژندنه**

اســـلامي بانک هغه ســـوداګریزه، مالي اداره ده چې د اســـلامي شریعت په چوکاټ کې له خلکو شتمنۍ را ټولوي او د ودې او ټولنیز تکافل په موخه یې په کار اچوي.
په اسلامي بانکوالۍ کې درې ټکي مهم دي:
الف: دا سلامي بانکونو ټولې کړنې باید د (ا سلامي شریعت) په چوکاټ کې وي، له مشتریانو څخه د پیســـو راټولونه، تمویل یا کوم بل تجارت چې بانک یې ترسره کوي، ټول باید د شریعت په چوکاټ کې وي. هغه معاملات او سوداګري نشي کولی چې له اسلامي شریعت سره اړخ نه لګوي، د بېلګې په توګه هغه معاملات نشي ترسره کولی چې سود، جهالت او قمار په کې وي، دغه راز هغه سازمانونه، ادارې، فابریکې او شرکتونه نشي تمویلولی چې ناروا کړنې او توکي تولید وي، په همدې موخه په ا سلامي بانکونو کې (شریعي مشورتي بورډ)(sharia Advisory board) شتون لري چې د بانک کړنې څارې او په اړه یې مثبتې مشورې ورکوي.
ب: ا سلامي بانکوالي له سوداګرۍ پرته نشي رامنځته کیدی او هغه دا سې چې ا سلامي بانکونه باید په معاملاتو کې دخیل وي، ځکه چې په اســـلامي بانکوالۍ کې مشـــتریان ( رب المال) او بانک (مضارب) دی او مضارب د رب المال په شتمنۍ سوداګري کوي. د سودي بانکونو په څېر نه دي چې یوازې تر پیســـو اخیســـتلو او پور ورکولو پورې محدود وي چې همدا د ســـودي او اســـلامي بانکونو ترمنځ ستر توپیر دی.
ج: د اسلامي بانکونو له موخو څخه (ټولنیز تکافل) دی چې په همدې موخه له شتمنو څخه زکات، واجب او نفلي صدقات راټولوي او بې وزلو ته یې ورکوي، بې وزلو او اړمنو ته (حسنه پور) ورکوي او دغه راز ټولنې ته صحي او تعلیمي چوپړونه وړاندې کوي(حقاني،۱۳۹۷،ص.۱۹۳).

**د اسلامي او سودي بانکوالۍ ترمنځ توپیرونه**

د اســـلامي بانکوالي او ســـودي بانکوالۍ توپیرونه په دې کې دي چې په ســـودي بانکوالۍ کې په امانتونو سود ورکول کېږي او د غربي عالمانو په نظر سود د سپما ، پانګې اچونې او پولي سیا ست وسـیله ده؛ خو په اسـلامي بانکوالۍ کې په امانتونو سـود نه ورکول کېږي، بلکې یوازې د سـاتونکو دنده پر غاړه لري. د ا سلامي بانکوالۍ سرچینې ا سلامي پورونه دي، چې بانـــک ته ورکول کېږي، همدا پورونه د بانک پانګه هم تشکیلوي. په اسلامي بانکوالۍ کې دوه ډوله امانتونه اېښودل کېږي:
۱) معاملاتي امانتونه: سود پرې نه ورکول کېږي او یوازې اداري لګښتونه ور څخه اخیستل کېږي.
۲) د پانګې اچونې امانتونه: په دې ډول امانتونو سود نه ورکول کېږي، بانک او امانت اېښودونکي د هوکړه لیک له مخې په ګټه او زیان کې سره شریک وي. اســـلامي بانکونه د ګټې او زیان په شریکوالي سره عامو خلکو ته پورونه ورکوي، په اســـلامي بانکـــــوالۍ کې بېلابېل معاملات ترسره کېږي.

### د خطر مفهوم

د یوه کاروبــار د نغده خالص جریان انحراف ته خطر ویل کېږي. یا په بل عبارت خطر هر هغه څه چې د مالي سازمان ، موسسې او یا شرکت د شتمنیو حال یا راتلونکې او یا د عوایدو د لاسته راتلو توانایي تهدید کړي خطر بلل کېږي. د یوې شتمنۍ خطر د راتلونکو احتمالي عوایدو له تغیر څخه عبارت دی، یا په عامیانه ژبه خطـر د یوې حادثې د ظاهریدو او واقع کېدو په باره کې د نه ډاډ(عدم اطمینان) شرایط چې په راتلونکې کې منځته راځي، چې د نه ډاډ زیاتوالی د خطر د زیاتوالي سبب کېږي. یا په بل عبارت خطر یو بالقوه غیر معین او غیر مشـــخص عامل دي چې د بانکونو او نورو مالي موسسو عملیاتي پروسه له زیان سره مخ کوي. د پانگې اچونې بالقوه زیان چې د محاسبې وړ وي خطر بلل کېږي .گالیتز، د عاید هر ډول نوســانات د خطر په نوم یادوي.گالیپ هر هغه حالت چې د پانگه اچوونکي د انتظار وړ نتیجه له لاســه راتلونکې نتیجې څخه منحرفه کړي خطر بلل کېږي(عارف ،۱۳۹۵، ص. ۲۲۲).

همدارنگه په اســلامي بانکدارۍ کې خطر اکثرآ د غرر سره مترادف بلل شــوی دی ، ولې بعضــې بانکداران یې یو له بله متفاوت بولي. غـــرر د خطر، نه ډاډ او مخاطرې په معنې دی. د غرر کلمه په عربي کې د خطر معادل ده او د تقلب او فریب معنی ورکوي. بعضـــې لغت پوهان یې د خطر ، نیرنگ او غفلت په معنی سره هم استفاده کوي. خطر همدا شـان د غرر سره مترادف هغه حالت ته هم وایي چې یو بانکدار خپل ځـــان او یا مال د خطر په حالت کې ویني، همداشان خطر هر هغه څه ته هم اســـتفاده کېږي چې ظاهر یې د خوښـــې وړ ولې باطن یې د خوښـــې وړ نه وي. خطر همدارنگه هغه حالت ته هم اسـتفاده کېږي چې آخر او عاقبت یې نامعلوم وي. خطر هغه حالت ته هم ا ستفاده کیدای شی چې شتون او نه شتون یې م شکوک وي. د ا سلامي فقې په فل سفه کې د خطر د نفی لپاره قاعده په عمل کې محکموالی او ثبات او له نزاع څخه ځان ساتل تشکیلوي، چې دغه اصـــول د خطري معاملاتو د نه تر سره کیدو په معنې دي. همدارنگه باید خلک معاملات په محکم او بې له اشـتباه تر سره کړي او په قراردادونو کې له بې تفاوتۍ او په کارونو کې له ســستۍ څخه ځان وساتي (صادقي او محسنی، ،۱۳۹۵، ص. ۲۵).

په معین فرهنگ کې خطر هر هغه څه چې د هلاکت لامل کیږی او یا د تلف کیدو په معنې سره راغلی دی. د هخدا فرهنگ کې خطر د اخطار په معنی سره راغلی دی. د وبســـتر فرهنگ خطر، د زیان او ریسک په حالت کې واقع کېدل د خطر په نوم یادوي. د آکسفورد په دیکشنري کې، خطر په راتلونکې کې د زیان لرونکې نتیجې د واقع کیدو د امکان په معنی سره اســـتفاده شـــوی دی. د

چینایانو له نظره خطر له هغه حالت څخه عبارت دي چې بانک او مالي نهاد د زیان او فرصـت له ترکیبي شرایطو سره مخ کوي، یا خطر د عاید او پانګې هر ډول زیان او له لاسه ورکول دي .

خطر یعنې د زیان د متحمل کیدو احتمال ته خطر ویل کېږي، چې دغه تعریف د خطر دوه اصلي اړخونه بیانوي:

د زیان مقدار او اندازه باید ممکنه وي.

او د هغې زیان په برخه کې د نه ډاډ امکان شتون ولري.

د خطر ټول شکلونه د لاندې څلورو مشترکو عناصرو درلودونکي دي:

**محتوا:** محتوا یعنې هر هغه زمینه، وضـعیت او محیط چې په هغې کې خطر منظور شـوي وي او د وضعیت پورې د اړوندو فعالیتونو او شرایطو مشخص کوونکي دي. یا محتوا د ټولو سنجول شویو نتیجو آماده کوونکې ده . د یوې منا سبې محتوا له تعین پرته، د خطر او مدیریتي فعالیتونو په تجزیه او تحلیل کې په قطعي ډول دهېڅ فعالیت، شرایطو او نتیجې تعینول په نظر کې نه شي نیول کیدای. په دې اساس محتوا د خطر د مدیریت د راتلونکو ټولو فعالیتونو لپاره د تهداب حیثیت لري. د یوې مناسبې محتوا له تعین وروسته، د خطر پاتې عناصر په مناسب ډول بررسي کیدای شي.

**فعالیت:** د فعالیت عنصر یعنې هر هغه فعالیت یا عمل چې د هغې په نتیجه کې خطر منځته راځي. فعالیت د خطر فعال عنصـــر دی او باید د زیان د ظاهریدو لپاره د څو خاصو شرطونو سره ترکیب او یو ځای شي. د خطر ټول ډولونه په یوه فعالیت سره منځته راځي، د فعالیت پرته د خطر شـــتون محال دی.

**شرایط:** د خطر د منفعلو تشکیلوونکو عناصرو څخه دي، شرایط د جاري وضعیت او یا د حالاتو او وضعیتونو تعینوونکې دي، چې د خطر د منځته راتګ لامل ګرځي.

**نتیجه (پیآمد):** کله چې شرایط د یوه خاص شروع کوونکي فعالیت سره یو ځای شي، د نتیجو یوه ټولګه منځته راوړي. نتیجه د خطر د آخرین عنصر په حیث، د یوه شرط یا خاصـو شرایطو په ترکیب کې د یوه فعالیت نتیجه یا بالقوه اغېز بیانوي (محرابی ،۱۳۹۱، ص. ۳۱).

د خطر او غرر په باره کې دوې معروفې فقهي قاعدې د "من له الغنم فعلیه الغرم" او "الخراج بالضـــمان" څخه عبارت دي، چې د اســـلامي مالي او بانکدارۍ په برخه کې د خطر په توضـــیح ورڅخه ګټه اخیستل کېږي(صادقي او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۴۵).

د اولې قاعدې موخه داده، یعنې زیان او غرامت په هغه چا پورې اړه لري چې عاید لاسته راوړي، چې د دغه قاعدې دلیل د نبی علیه الســـلام حدیث دی چې په لاندې ډول سره یې مفهوم بیان شوی دی: یعنې په ګرو ایښودل شوي شي رابطه له خاوند سره نه قطع کېږي، هر ډول ګټه او زیان

چې ولري ،په خاوند پورې يې تړاو لري. همدارنګه په بل ځای کې وايي چې ، هغه مال چې ګرو دی ،که هر ډول غنيمت او خســاره ولري ، په خاوند پورې يې اړه لري، چې په غنيمت کې يې د تعداد زياتوالی، رشــد او وده او د قيمت زياتوالی او نور شــامليږي. او له دوهمې قاعدې څخه مطلب دادي، هر څوک چې له څه شي څخه فايده لاســته راوړي بايد د خســارې او تاوان جبران هم بايد په غاړه واخلي، يعنې هر څوک چې د يوې موضــوع څخه ګټه اخلي، بايد له هغې څخه منځته راغلي خطر هم بايد په غاړه واخلي(صادقي او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۴۵).

**اعتباري خطر**

اعتباري خطر د قرض اخيســتونکي له طرفه د قرضــې د اصــل او فرعې د نه ورکړې يعنی عدم پرداخت له امله رامنځته شوي خطر ته اعتباري خطر وايی. اعتباري خطر مختلف ډولونه لري چې مهم يې په لاندې ډول ذکر کولای شو:

د نکول خطر، د تمرکز خطر ،د جايګزينی خطر، د پراګندګی خطر، د مخکينۍ تصفيې خطر او د تصفيې خطر (عارف ،۱۳۹۵، ص. ۲۲۲).

يا اعتباري خطر د قرارداد د طرفينو له خوا د هر ډول تأخير، تعويق او د ورکړې د نکول څخه عبارت دی (آکيزيديس او کومار خاندلوال ،۱۳۹۴، ص. ۸۰).

اعتباري خطر هغه وخت را منځته کېږي چې، يو مالي نهاد او بانک د قرارداد د توافق شويو پيسو د لاسته راتلو انتظار ولري، په داسې حال کې چې متعهد يا د قرارداد بل طرف د خپلو تعهداتو د پوره کولو توانايي و نه لري يا په بل عبارت د ورکړې توانايي يا علاقه و نه لري (آکيزيديس او کومار خاندلوال، ص ۱٦۵).

اعتباري خطر د کيفي ماهيت لرونکی دی او په مالي صنعت کې د مهمو او اساسي خطرونو له ډلې څخه بلل کېږي او اعتباري خطر د مالي ســازمان او نهاد د ديوالي کېدو او ورشــکســتګی مهم او اساسي لامل بلل کېږي.

اعتباري خطر د هغې د واقع کيدو څخه د مخه په دقيق ډول نه شــو محاســبه کولای، ځکه د نکول احتمال غير معين وي او د هغې وړاندوينه مشکله او ستونزمنه موضوع ده. اکثره پېښې او حوادث مالي نهاد او بانکي سيستم د اعتباري خطرونو سره مخ کوي، د مثال په ډول شخصي مسايل لکه د يوه متعهد شـخص فردی صـحت تر عمومي اقتصـادي وضـعيت پورې لکه د بازارونو رکود کيدای شي د مالي مشـکلاتو او په ټوله کې د بانکي سيسـتم د مالي تعهداتو د تصـفيې او دوباره ورکړې د ځنډ لامل شي. په مختلفو بازارونو کې د اعتباري خطر د مديريت د پيچلتيا عوامل له، د مالي

بازارونو نړیوال کېدل، د قوانینو او مقرراتو بدلون او بعضــې وختونه د هغې له منځه تلل او معطل کېدل، د رقابتي فضا پراختیا، د هېواد اقتصادي شرایط او د خلکو فرهنګي ځانګړتیاوو څخه عبارت دي.

د اعتباري خطرونو د ارزش ګذارۍ اصلي پارامترونه منتظره او غیر منتظره زیانونه دي، چې د منتظره او غیر منتظره زیانونو د محاسبې لپاره د PD او LGD او EAD سنجش ته اړتیا پیښېږي.

د اعتباري خطر موډل جوړونه کاملا د نکول احتمال د تخمین او د نکول څخه د رامنځته شــوي خطر په اساس صورت نیولای شي. په ټوله کې نکول هغه وخت واقع کیږي چې د قرارداد طرفین د خپلو تعهداتو په عملي کولو کې ناتوانه شي. د نکول وخت د بزل ۲ له مخې تر ۹۰ ورځو پورې د تعهداتو ځنډیدل او نه اداء کېدل دي (صادقی او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۱۲۲).

**د خطر د مدیریت مفهوم**

د خطراتو د مدیریت مرکزي هسته د بانک مفاد تشکیلوي، مګر د بانک تمرکز د وخت په تېریدو سره تغیرکوي، مثلاًپه ۱۶۰ ز کال کې د قرضــونو د مدیریت په منظور د پیســو په مثمره اســتفاده، په ۱۹۷۰ ز کال کې په اکثره غربي هېوادونو کې د انفلاسیون په ایجاد او د ربح د نرخ په تغیر او د ربح نرخ او نقدینګۍ په خطر تمرکز، چې دغه مدیریت د مختلفو دیپارتمنتونو په وسیله تر سره کېدلو. د شــتمنیو او قرضــونو مدیریت(ALM) د بیلانس شــیټ د دواړو طرفونو یو قبلي مدیریت ؤ، چې په ځانګړي ډول د ربح نرخ او نقدینګۍ په خطرونو باندې تمرکز کولو. په ۱۹۸۰ کال کې د خطر مدیریت د بیلانس شیټ څخه بیرون فعالیتونو مدیریت او له ساحې څخه رامنځته شویو خطرونو په شــکل رامنځته شــو ،یعنې علاوه له بیلانس شــیټ څخه د بیروني فعالیتونو او ســاحو خطرات هم د خطرونو په مدیریت کې شامل شول. په اوس وخت کې مدیران نه تنها د سهم لرونکو بلکه د ملي او نړیوالو قانون جوړونکو په وړاندې هم جواب ویونکي دي(حبیبی ،۱۳۹۶، ص. ۳۹).

د خطر مدیریت په حقیقت کې د بانک د بیلانس شــیټ مدیریت ته ویل کېږي، او یو جامع سیستماتیک پروسیجر چې مشخصې ستراتیژي د مختلفو خطرونو د پیژندنې، طبقه بندي او کنټرول لپاره د خطر د واقع کیدو په جریان کې معرفي کوي(Basel Committee,۲۰۰۶).

د خطر مدیریت د بانکونو لپاره یو مهم رقابتي عامل دی ؛ځکه بانکونه د خلکو د پیسو سره سروکار لري، امانات جمع کوي، خلکو ته قرضـــه ورکوي، د مختلفو خطراتو سره مخ دي او که د خلکو پیسې او امانات په ښه ډول مدیریت نه کړي نو دا موضوع په بانک باندې د اعتماد د کمېدو لامل کېږي.

د خطر مدیریت د مالي مدیرانو هغه کړنه او عمل چې د بانک لپاره د مطرح شــویو خطرونو په پېژندنه، اندازه ګیرۍ ،تصـمیم نیونه او نظارت باندې اقدام کوي. یا د خطر مدیریت هغه پروســه ده،

چې موخه يې د يوه آگاهانه اقدام له طريقه د يوې حادثې څخه د پيشبيني شويو منځته راتلونکو ممکنه زيانونو کموالی تشکيلوي. د خطر مديريت څخه د استفادې اصلي دليل د پانگه اچوونکو لپاره د خطر حداقل او د گټې حداکثر حالت ته رسول تشکيلوي. يا په بل عبارت د خطر د مديريت اصلي هدف، د پانگه اچونو څخه د رامنځته کيدونکي زيان کميدل (منفي خطر) او د گټې زياتيدل (مثبت خطر) دی، تر څو مديرانو ته د ډاډ وړ وضعيت په منځته راتلو سره، د شفافو او مؤثرو تصميم نيونو امکان فراهم کړي. د خطراتو د ښايسته او کارآمد مديريت پروسه کې لومړی هغه خطرونه چې امکان د واقع کيدو او زيان يې زيات وي او ورپسې هغه خطرونه چې امکان د واقع کيدو او زيان يې کم وي، پيژندل او کنټرولېږي، چې دغه موضوع خورا مشکله ده، ځکه په دې طريقه د خطرونو کنټرول لپاره توازن د واقع کيدو او زيان برقرارول ستونزمن کار دی.

په يوه سازمان کې د خطر د مؤثر مديريت ميکانېزم د لاندينيو گټو څخه خالي نه دی:

- ✓ استفاده کوونکو ته د ډاډ ورکول
- ✓ له منابعو څخه موثره گټه اخيستنه
- ✓ په تيزۍ او سرعت سره د فرصتونو ارزونه او له هغې څخه په موقع گټه اخيستنه
- ✓ د شرکت د عمليو د بهبود او پراختيا له لارې د زيان کمېدل
- ✓ د کليدي او ستراتيژيکو تصميم نيونو په منظور د مناسبې مبناء فراهم کېدل
- ✓ د تغير او تبديل په برخه کې د نوښتونو زياتوالی
- ✓ سازماني اهدافو ته د لاسرسی زياتوالی.

د خطر مديريت د پروسو د تدوين په ميکانيزم کې اساسي او مهم موضوعات چې بايد په نظر کې ونيول شي په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

- ✓ ارزښت ايجاد کړي
- ✓ د سازماني پروسو نه بېلېدونکی جز وي
- ✓ د تصميم نيونې يوه برخه وي
- ✓ په واضح ډول عدم اطمينان (نه ډاډ) ته ډيره توجو وکړي
- ✓ نظام مند او سيستماتيک وي
- ✓ د بهترينو موجوده اطلاعاتو په بنسټ ولاړ وي
- ✓ د سازمان د اړتياؤ او غوښتنو په بنسټ ولاړ وي
- ✓ انساني عوامل په نظر کې ونيسي
- ✓ شفاف او ټول شموله (فراگير) وي
- ✓ تغيراتو ته ځواب ويونکی او تکرارېدونکی وي.

**د خطر د مدیریت اهداف**

د خطر مدیریت اړوند د پوهې او معلوماتو څخه ډاډ او اطمینان، د بهبود، توسعې او د پروسو د مؤثریت له زیات والي سره کمک کوي او همدارنګه د رقابتي مزیت ایجاد او د سهم لرونکو د اړتیاؤ پوره کېدل د خطر مدیریت له اهدافو څخه بلل کېږي. دغه موضوع شرکت ته دا توانایي ورکوي چې په بهتره ډول د ورځنیو فعالیتونو متداول خطرونه مدیریت او له تصادفي زیانونو څخه په آرامه خیال او فکر، په جامع او مؤثر ډول ورځنیو کړنو ته ادامه ورکړي. د خطر مدیریت د بانک او مالي نهاد سره کمک کوي چې په کمو مصارفو د قبول وړ نتایجو ته لاسرسیی پیدا کړي؛ په دې اساس لازمه ده چې خطر تشخیص او د هغې د مدیریت لپاره هوښیارانه تصمیمونه ونیسي. لاندې شکل د خطر مدیریت اهداف په دوو، داخلي او خارجي برخو کې ښیي:

په حقیقت کې داسې ویلای شو چې د خطر مدیریت اساسي هدف، د خطر تحلیل او ارزونه، پېژندنه ،کنټرول او په آخر کې د خطر مو ډل جوړونه تشکیلوي چې له دې لارې د موجوده وضعې او راتلونکو اټکلونو په برخه کې د ډاډ د زیات والي سبب کیدای شي. او یا د خطر د مدیریت هدف د شرکت د ا رزښت زیاتیدل او یا د شرکت د موخو تحقق بلل کېږي. په دې ډول چې د خطر مدیریت د اهدافو له طریقه کولای شو د شرکت اهداف تعین او وپیژنو .په لنډ ډول د خطر مدیریت اهداف په لاندې ډول هم تشریح کولای شو:

- ✓ بقا او پایښت، د شرکت د خطر په حالت کې واقع شتمنیو کنټرول او نظارت، نامساعدې او نامطلوبې پایلې کموي او د اوږد مهاله تعهداتو د پوره کولو لپاره د شرکت ظرفیت او توانایي ثابته ساتي.
- ✓ صرفه جویي، د نورو اهدافو لکه د شرکت د فعالیت د دوام سره همغږي، چې د ګټه اخیستونکو د ګټو د ساتلو په منظور استفاده کېږي.
- ✓ د نامساعدو نتایجو په وړاندې اطمینان ورکونه، په دې معنی چې د نامساعدو پایلو او حادثو د واقع کېدو په صورت کې د سهم لرونکو او ګټه اخیستونکو منافع په نظر کې نیول کېږي او د هغې ګټې زیاتېږي.
- ✓ د عاید ثبات، د خطر د پوښښ د ښو او عالي طریقو نه په استفادې د عاید باثباته جریان ایجاد او دغه ډاډ فراهم کړي چې د تغیراتو له ډار پرته په اصلي فعالیت تمرکز وکړي.
- ✓ د عملیاتو او کړنو څخه نه دریدل، د محصولاتو په قیمتونو کې د ثبات منځته راتګ، چې له دې طریقه د شرکت د عملیاتو د توقف څخه مخنیوی کېږي.

- ✓ دوام لرونکې وده، د غیر منتظره زیانونو له امله په اقتصـادي وده او پراختیا باندې د منفي اغېز له منځه تگ.
- ✓ ټولنیز مسـئولیت، یعنې د شرکت د فعالیتونو او ټولنیزې حوزې د تعامل په نتیجه کې د نظارت او شواهدو وړاندې کولو مصارف حد اقل ته رسول دي.

همدارنگه په یوه سازمان کې د خطر د مدیریت بل مهم او اساسي هدف، د ښې کړنې او عملکرد وړاندې کول او د پانگې ځخه ښـه او مؤثره گټه اخېسـتنه او د سـهم لرونکو د شـتمنیو د ارزښـت حداکثر ته رسـول دي چې د مناسـبو تدابیرو نه په موقع گټه اخیسـتلو په پایله کې، د اسـلامي بانکدارۍ مهم خطـــرونه لکه اعتباري، بازاري او عملیاتي تر پو ښښ لاندې راولي. له دې امله د خطر مدیریت هدف تنها د بانکي فعالیتونو څخه د خطـر حذف نه، بلکه د خطر او گټې تر منځ د مناسب تعادل ایجاد تشکیلوي (محرابی، ۱۳۹۱، ص. ۷۱).

**پایله اخېستنه**

اسـلامي مالي نهادونو په څو اخیرو لسـیزو کې ظهور او وده کړې ده، هغوی په لومړیو کې په غیر رسـمي ډول په نړیوال اقتصـاد کې حضـور لرلو، ولې د اسـلامي بانکدارۍ په پراختیا سره سـاختار موندونکي اسـلامي مالي صـنعت په فعالیت شروع وکړه. د دغه ډول نظام د منځته راتگ دلایل، د سودي مالي تأمین څخه د مسلمانانو خلاصون، د شریعت په اساس ولاړ د مالي تأمین د ساختمان د ایجاد هڅې، سیاسي او قانوني تغیرات، د نړیوالو اقتصادي نهادونو اقتصادي تغیرات او د مسلمانانو د شـتو (ثروت)زیاتوالی بلل کیږي. د اسـلامي مالي خدماتو صـنعت د ټولنیزو موخو په لرلو سره د ودې او پراختیا په حال کې دی او د اسـلامي مالي خدماتو د هیئت(IFSB) په وسـیله د خطراتو د مدیریت د نړیوال چارچوب ایجاد یوه مهمه او اسـاسي موضـوع ده او همدرانگه د بزل کمیټې په وسـیله د بانکي نظارت لپاره درې اصـله یعنې د پانگې کفایت، بانکي نظارت او د بازار نظم د نوي چارچوب په ډول معرفي شوی دي یعنې په لږ تعدیل سره (CAMELS) او (BCBS) د اسلامي بانکونو د بانکي نظارت لپاره هم استفاده کیدای شي.

د Basel لومړنی قانون چې د بزل ۱ په نوم هم یادېږي د بزل کمیټې لخوا په ۱۹۸۸ م کال کې د بانکونو په اختیار کې ورکړل شـو چې دې قانون فقط درې ډوله خطرات یعنې اعتباري خطر، د مارکیټ خطر او د اداري او مدیریت خطرات شامل وو.

او بالاخره د بانکونو دسـقوط په نتیجه کې د ۲۰۰۰ کال څخه بزل کمیټې دویم قانون چې د بزل ۲ په نوم یادیږي منځته راوړ چې پـدې قانون کې یې عملیاتي خطر هم ځای په ځای کړي ؤ، د بزل ۲

هدف په بانکې امورو کې د بین المللي ســتندرډونو منځته راوړل ؤ ترڅو متشــبثین په بانکي امورو پوه شي چې څومره مقدار بانکي سرمایه د مالي او عملیاتي خطرونو د کنټرول په منظور بیله او ځانګړې شي. د بزل کمیټه پهدې متعقده ده چې دا دې په عملي کولو سره به د مشکلاتو په کمولو کې په مالي سیستم کې ډېرګټور وي.

په ا سلامي بانکدارۍ کې اعتباري خطر د مضاربت او مشارکت په قراردادونو کې د پانګه اچونو د ماتې، د مرابحې په قرارداد کې د قرض ورکولو، د سلم او استصناع په قراردادونو کې د تحویلي د تعهد او د اجارې په قرارداد کې د اجارې له امله منځته راځي . همدا شان اعتباري خطر د پیرونکي لخوا د ثابتو مبالغو په ورکړه کې د نکول له امله منځته راځي ، چې بانک د نقدینګۍ د خطر سره مخ کوي، او د قرارداد د مقابـــل طرف لخوا د دیونو په تصفیه کې د ناتوانۍ له امله هم منځته راتلی شي . چې د هغې د پوښښ په منظور وثیقې او ضمانت نامې استفاده کېږي. ډېرې وختونه اعتباري، بــــازاري او عملیاتي خطرونه په مستقیم ډول د نقدینګۍ خطر باندې اغېزمن واقع کیدای شي. په نړیوالو مالي تبادلاتو او معاملاتو کې سیاسي او د هېواد خطر هم په اعتباري خطر کې شاملېږي.

په لنډ ډول ویلای شو چې د کافي اطلاعاتو د شتون پرته په وخت او درست شکل د خطر پېژندنه، اندازه ګیري، مدیریت، نظارت او کمول مشکل او ستونزمن کار دی. د اعتباري، بازاري او عملیاتي خطرونو محاسبه او د نغدي جریانونو ارزیابي تر زیاته حده اطلاعاتو او مناسب اطلاعاتي سیستم ته لاسرسي پورې تړلي دي. د اطلاعاتـــــو ټولول او تجزیه او تحلیل د خطر مدیریت په ټولو پړاوونو کې مهم او اســـاسي رول لوبولای شي. اطلاعات د ټولو مالي نهادونو او بانکونو په فعالیتونو کې ایجادیږي او باید له اوله ټول شي، تر څو یې د صحـــــت او ډاډ څخه مطمئن شو. په مالي نهاد او بانک کې اعتباري خطر د پروسو، اشخاصو او سیستمونو په کارکرد پورې اړوندو اطلاعاتو په ټولونه او جمع آورۍ پورې تړلي دي. بعضې خطـــرونه د نورو خطرونو د ایجاد لامل کېږي، او کله نا کله بعضــې خطرونه یو له بله سره ترکیب کېږي، او یو نوی ترکیبي خطر منځته راوړي. د مثال په ډول په پانګه اچونه کې خطر کیدای شي اعتباري او همدارنګه بازاري خطـــر واوسي، همدارنګه د بازاري خطر اړوند ناتواني د اعتباري خطـر د منځته راتلو لامل کېږي. په همدې خاطر د اعتباري او بازاري خطرونو روشونه یو ځای په نظر کې نیول کېږي.

**وړاندیزونه**

1. دا چې ا سلامي بانکدا ري په افغانستان کې یوه نوې پدیده ده، نو د مسلکي او فني کادرنو نه شـــتون یوه مهمه او اســـاسي ســـتونزه ده، باید د نوموړې ســـتونزې د حل په منظور علمي پروګرومونه دایر او اشخاص په مسلکي ډول وروزل شي.
2. د مرکزي بانک مسؤلین باید د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې جدا قوانین ترتیب او همدارنګه یې ټول مقررات، لوایح او طرزالعملونه په ملي ژبو وژباړي او انترنیټي ســـایټ ته یې داخل

کړي، تر څو خلک د اســلامي بانکداري د کاري کړنو او ډول په باره کې مناســب معلومات لاسته راوړي.

3. مرکزي بانک باید د اسلامي بانکداري د تدریس په منظور یو تحصیلي انستیتوټ د لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ ایجاد او همدارنګه په دې منظور لنډمهاله کورسونه دایر کړي.
4. په بانکونو کې د خطراتو د مدیریت په برخه کې مستقل او ناپیلي مدیریتونه ایجاد شي.
5. د بانکونو او مالي موسساتو تشویق او ترغیب او د اسلامي بانکدارۍ د ترویج په منظور زمینه برابرول.
6. په پای کې عام خلک باید په خپلو معاملاتو کې چې په اسلامي بانکونو کې یې تر سره کوي، لـــه پوره اخلاص، صداقت او دیانت څخه کار واخلي، تر څو ا سلامي بانکونه د خطراتو په برخه کې له شته ستونزو سره په ښه ډول مبارزه وکولای شي.

**اخځلیکونه**

آکیزیدیس، یونیس او کومار خاندلوال ، ســونیل. (۱۳۹۴). مدیریت ریســک مالی در بانکداری و مالی اسلامی. ژباړن: مهدی
حبیبی، شفیق . (۱۳۹٦). مدیریت خطرات مالی( اول چاپ). کابل :انتشارات تمدن شرق.
حقاني، مفتي عبدالحق. (۱۳۹۷). اسلامي اقتصاد اوبانکوالي. اول چاپ. کابل: افغان پوهنتون.
صادقی شاهدانی ، مهدی او محسنی،حسین. (۱۳۹۵). مدیریت ریسکرد در رویکرد چاپ). ژباړن: علی سعیدی او مصطفی زه تابیان . تهران :انتشارات دانشگاه امام صادق.
عارف، عبدالقیوم. (۱۳۹۵). مدیریت در سیستم بانکی (ا ول چاپ) . کابل :انتشارات یوسف زاد.
محرابی، لیلا. (۱۳۹۱). مدیریت ریسک در نظام بانکداری بدون ریا با تاکید بر ریسک اعتباری. مجله تازه های اقتصادي، شماره ۱۳۰ .

# د خوست ولایت سیاحتي سیمو لنډه پېژندنه

پوهنیار زینت الله آرمان، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د تاریخ او جغرافیه څانگه

برېښنالیک: zinatarman2023@gmail.com

**لنډیز**

سیاحت په نړیواله کچه د یوه نوي صنعت په توگه پېژندل کېږي او د نړۍ په اکثره هېوادونو کې د دغه صنعت لپاره هر اړخیزې هڅې کېږي او له دغه صنعت څخه د پام وړ گټه ترلاسه کوي. په ټوله کې افغانستان او په خاصه توگه خوست ولایت په اکثره ولسوالیو او مرکز کې جغرافیایي، تفریحي، زیارتي او طبیعي سیمې شتون لري، چې د گرځندویانو د توجه وړ دي. خوست ولایت یو غوره او ښه اقلیم لري او د پام وړ تفریحي سیمو څخه برخمن دی، چې له دې امله د سیلانیانو د توجه وړ ولایت دی. له دې اړخه د گرځندوی صنعت لپاره پکښې تر ټولو ښې زمینې برابریدلی شي. که چېرې یادو سیمو ته پاخه سرکونه، ترانسپورتي اسانتیاوې، هوټلونه، واړه پارکونه او پارکېنگونه او نور سهولتي خدمات وړاندې شي لېرې نه ده، چې په خوست ولایت کې به دغه صنعت په ښه توگه وده وکړي او له بلې خوا به د بې کارۍ کچه راټیټه شي. دا مقاله چې د خوست ولایت د سیاحتي سیمو په اړه راټوله شوې، هڅه کړې ده، چې د یاد ولایت د یو شمېر مشهورو سیمو، چې د تفریح، سیاحت او جغرافیایي موقعیت له مخې د اهمیت وړ دي په منظم ډول معرفي کړي دي. ددې مقالې د موادو په راټولونه کې د کتابتوني سرچینو او منابعو څخه گټه اخېستل شوې ده او همدا ډول د یاد مسلک له پوهانو او استادانو سربېره د سیمو له اسیدونکو سره مرکې ترسره شوي دي.

**کلیدي ټکي:** تاریخي آبدې، تاریخي ځایونه، خوست، سیاحت، سیاحتي سېمې

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین**

اَمّا بعد:

**هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ** آیت (۱۵) سوره ملک

ژباړه: هغه زات چې ستاسې لپاره یې ځمکه پسته، حواره او تابع کړې ده، د هغې پر سینه باندې گرځئ او د خدای روزي خورئ، د همغه حضور ته ستاسې په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتگ دی.

توریزم د یوې غوره عایداتي منبع په توگه په اوسني وخت کې د ارزښت وړ دی. دولتونو ته په کار ده، چې دغې برخې ته پام وکړي؛ ځکه دغه صنعت په نړۍ کې مخ پرچټکۍ وده کړې او بعضې هېوادونه متوجې شوي، چې دغه صنعت ته وده ورکړي، هېوادوالو او نړیوالو ته د پام وړ خدمات وړاندې کړي او هم خپل هېوادونه په اقتصادي برخه کې له همدغې صنعت څخه تمویل کړي. د وروسته پاتې هېوادونو لپاره د پام وړ صنعت کېدلی شي؛ ځکه د دغې صنعت گټه بې زیانه ده. په

لږو امکاناتو سره کولای شي، چې دغه صنعت ته وده ورکړي. افغانستان هم د وروسته پاتې هېوادونو له جملې څخه شمېرل کېږي او د سیاحت په برخه کې خورا ښه امکانات لري، نو په کار ده، چې د توریستي خدماتو د ښېړنی ودې او پراختیا لپاره هر اړخیزې هڅې او امکانات برابر شي. د دې برخې ترټولو مهمه برخه د سیاحت په اړه علمي څېړنې دي، چې باید ترسره شي او په دغه برخه کې منظم روزل شوي کادرونه وجود ولري. زما موضوع هم چې (په خوست ولایت کې د مشهورو سیاحتي سیمو لنډه پېژندنه) ده غوره مې وګڼله چې د هېوادوالو او چارواکو پام دغې برخې ته جلب کړم. په خوست ولایت کې یو شمېر سیمې شته، چې د ګرځندویانو لپاره په زړه پورې او زړه راښکونکې جاذبې لري لکه: ادممد، فارم باغ، مېلمه کوټ، حسن کوټ او نورې سیمې، چې دلته یې یادونه او ځای پر ځای کول د دې مقالې له حجم څخه زیاتېږي. یادې سیمې د دې صنعت په وده کې کولای شي د پام وړ رول ولري او له همدغو سیمو څخه یې د بعضو سیمو په تفصیل سره یادونه کېږي.

**موخې**

یو شمېر هېوادونو په خپلو کې د ګرځندوی صنعت او د زیاتو سیلانیانو د منلو له پاره ګڼې هڅې پیل کړې او په خپلو هېوادونو کې د دې صنعت د ودې او پراختیا لپاره کوټلي ګامونه پورته کوي. یو شمېر هېوادونه د سیلانیانو د منلو او د هغوی د پام اړولو له پاره تبلیغاتي شبکې، تلویزیونونه، راډیوګانې، ورځنۍ، اونیزې او مهالنۍ خپرونې لري، چې د یوه هېواد له پاره نه بلکې د یوې سیمې له پاره د سیلانیانو د راماتولو هڅې کوي، د دې موضوع عمومي موخې هم عبارت دي له:

**اصلي موخه**

د خوست ولایت مشهورو سیاحتي سیمو پېژندل

**فرعي موخې**

- ✓ د حسن کوټ سیاحتي سیمې معرفي کول
- ✓ د فارم باغ تفریحې سیمې پېژندل؛
- ✓ د ادممد تاریخي سیاحتي سیمې پېژندنه

**پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**

آیا خوست ولایت سیاحتي سیمې لري؟

**فرعي پوښتنې**

- ✓ که چېرې امارت د ادممد او فارم باغ په سیمو کې پانګونه وکړي، اقتصادي ارزښت به ولري؟
- ✓ آیا زیارتي سیمې د دغه صنعت یوه برخه کېدلی شي؟

**د څېړنې کړنلاره**
د دې تحقیقي مقالې کړنلاره کتابتوني ده، چې د یو شمېر داخلي کتابونو، راپورونو او مقالو څخه پکښې ګټه اخیستل شوې تر څو د یادې موضوع په غني کولو کې ګټوره تمامه شي.
**د موضوع ارزښت**
دا چې د هېواد په سطحه بې کاري زیاته ده، دغه صنعت څو اړخیزه ګټې لري، چې په ترویج سره به یې ټولې خواوې خپلې مزایاوې ترلاسه کړي؛ ځکه دغه صنعت کولای شي چې د ډېرو وګړو لپاره د کار زمینه برابره کړي او د بعضو لپاره د تفریح او یا تاریخي، زیارتي سیمو د لیدولپاره، چې لازمې اسنتیاوې ولري، تسکین شي او روحي آرام ترلاسه کړي. د دې موضوع ارزښت په دې کې دی، چې موږ به د خوست ولایت له یو شمېر سیاحتي سیمو سره بلد شو او د وخت په تېریدو سره به په دې برخه کې د پام وړ کار تر سره شوی وي، تر څو وکولای شو، چې د خوست ولایت سیاحتي سیمې د هېواد په کچه د مهمو سیاحتي سیمو په قطار کې راولو. د نړۍ یو شمېر هېوادونه د خپلو ملي عایداتو زیاته ګټه د سیاحت د صنعت او په هغې پورې اړونده چارو له بابته ترلاسه کوي. په خوست ولایت کې یو شمېر سیمې شته چې په تاریخي، عقیدتي، تجارتي، موسمي او جغرافیایي لحاظ د پام وړ دي. د یوویشتمې پیړۍ تر ټولو مهم او ګټور صنعت توریزم دی. افغانستان او په خاص ډول خوست ولایت دا شونتیاوې لري، چې د نوموړي صنعت څخه په ګټه اخیستنې دا ولایت د افغانستان او نړۍ په کچه د سالمې سیالۍ په قطار کې ځای ولري.
**تېرو اثارو ته کتنه**
په نړۍ کې هر کال په لسګونو ملیونه وګړي د سیلانیانو په توګه ګرځي راګرځي. د دې سره سره چې ټوله نړۍ لا هغسې چې ښایي د ګرځندوی صنعت له پاره نه ده پرانستل شوې، خو د هرکال په تېریدو سره سیل او سیاحت د نړیوال دود په توګه وده کوي او د یوه غوړېدونکي او ګټور صنعت په څېر راڅرګندېږي. اوس په نړۍ کې زیات شمېر هېوادنه د ملي عایداتو پوره او غوښنه برخه د ګرځندوی صنعت او په هغې پورې تړلو چارو له برکته ترلاسه کوي. د هغو خپرو شویو شمېرو څخه چې د بېلا بېلو مؤسسو له لوري وړاندې شوي دي، ۲۰۰۴ مېلادي کال کې د نړۍ د سیلانیانو شمېره ۷۶۳ ملیونه تنو ته رسېدلي وه، چې د ۲۰۰۳م کال په نسبت۱۰،۷ په سلو کې زیاتوالی ښیي. نوموړې شمېره د ۱۹۸۰م کال را په دېخوا تر ټولو زیاته ګڼل شوې ده. د نړیوال ګرځندوی ادارې په وړاندوینه، ښایي له ۲۰۱۰م کال څخه تر ۲۰۲۰م کال پورې د نړۍ د سیلانیانو شمېره په هر کال کې یو ملیارد او شپږ سوه ملیونه تنو ته ورسیږي(باوري، ۱۳۹۶، ص ۳۳،۳۲). مهدي کاظمي په ۲۰۰۷م کال کې په خپل کتاب (د سیاحت مدیریت) کې خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوي: د سیاحت د لومړنیو څېړنو موخه د دې صنعت د اقتصادي ګټو آټکل او محاسبه کولو لپاره د معلوماتو راټولول وو؛ ځکه چې سیاحت د خدماتو صنعت په توګه، په ځانګړې توګه د هغو هېوادونو لپاره، چې نورې سرچینې نلري، د اقتصادي پراختیا لپاره وسیله ګڼل کېږي(صدیقي، ۱۴۰۲، ۱۰۵). زیات سیلانیان هغه هېوادونو ته

تللي دي چې د توریزم او ګرځندوی له پاره اړینې هوساینې لري. هغه لس هېوادونه چې په ۲۰۰۴م کال کې يې تر ټولو زيات سيلانيان منلي فرانسه، اسپانيا، امريکا، چين، ايټاليا، انګلستان، هانکانګ، مکسيکو، المان او اتريش هېوادونه دي (باوري، ۱۳۹۶، ۳۳). سياحت د لاندې مواردو په پراختيا کې مرسته کوي لکه: د ايکوسيستم اهميت او اقتصادي ارزښت زياتوي، د ځايي سيمو لپاره مستقيم او غير مستقيم عايد رامنځته کوي او د چاپېريال ساتنې په برخه کې د دوی هڅه زياتوي، په سيمه ايزه توګه د ټولنو خونديتوب او همغږي رامنځته کول. په دوامداره ډول د طبيعي سرچينو استعمال ته انکشاف ورکول او د ټولنيزو ګواښونو کمول دي (صديقي، ۱۴۰۲، ص، ۱۰۵). د نړۍ هغه لس هېوادونه چې په ۲۰۰۴م کال کې يې د سيلانيانو د راتللو څخه زياته مالي ګټه پورته کړې ده آمريکا، اسپانيا، فرانسه، ايټاليا، آلمان، انګلستان، چين، ترکيه او اتريش هېوادونه دي. له دې ډلې هېوادنو څخه د ترکيې هېواد په همدې کال کې د ۱۳ مليونو او دوه سوه زره تنو سيلانيانو په منلو سره ۱۵ مليارده او ۹۰۰ مليونه امريکايي ډالره ترلاسه کړي دي. د ايران هېواد هم په ۲۰۰۴م کال کې يو مليون او شپږ سوه زره سيلانيان منلي، چې ترلاسه شوی عايد يې يو مليارد او ۷۴ زره آمريکايي ډالرو ته رسيږي (باوري، ۱۳۹۶،ص، ۳۳). همدا راز محترم پوهاند باوري صيب د افغانستان د تاريخ پنځوس پاڼې د مقالو ټولګه، چې په ۱۳۹۲ل کې چاپ شوي د افغانستان مختلفو تاريخي سيمو او ابدو په برخې کې ليکلي په هغې کې د خوست ولايت درې سيمې لکه: ګوډه خاره (ګوډله ښار) يا حسن کوټ، حصار غونډۍ (ويسار غونډۍ) او دلپوريو په سيمه کې د يوې لرغوني غونډۍ څخه يادونه کړې ده. د پوهاند باوري صيب يو بل اثر چې نوم يې د توريزم بنسټونه او په افغانستان کې توريستي امکانات دی په ۱۳۹۶ل کال کې چاپ د افغانستان د نورو ولايتو سر بېره د خوست ولايت يو شمېر سيمې ګودل ښار، حصار غونډۍ او د خوست تفريحي پارک (فارم باغ) څخه په تفصيل سره يادونه کړې. همداراز خوست شيخ زايد پوهنتون د ټولنيزو علومو پوهنځي د استادانو او محصلينو په کله افتکار له يادو سيمو څخه ليدنه کړې او محصلينو ته د يادو سيمو ارزښت او اهميت په ګوته شوی وو. د خوست اطلاعاتو او کلتور رياست لخوا هم يادو او نورو سيمو ته سفرونه ترسره شوي، چې د يادو سيمو ارزښت له پسې غښتلی شوی (باوري، ۱۳۹۶،ص، ۳۴).

**خوست**

خوست ولايت د افغانستان د څلور دېرشو (۳۴) ولايتونو له جملې څخه يو ولايت دی، چې د افغانستان په جنوب ختيځ کې موقعيت لري، مرکز يې د متون په نوم يادېږي. خوست ولايت ۳، ۴۲۳۵ کيلومتر مربع مساحت لري، د بحر له سطحې څخه (۱۱۴۶) متره ارتفاع لري. خوست ولايت د درې واحدونو (لکن، شمل او متون) برسېره (۱۲) ولسوالۍ لري. دغه ولايت د پلازمېنې کابل څخه (۲۴۵) کيلومتره واټن لري. خوست ولايت د شمالي وزيرستان سره (۱۸۴) کيلومتره فرضي کرښې په درلودلو يو سرحدي او ستراتيژيک ولايت دی (زيار، ۱۳۹۷،ص، ۱۱). خوست ولايت د ختيځ طوال البلد په (۲۹) درجو، (۳۹) دقيقو او (۵۸) ثانيو او په شمالي عرض البلد کې په (۳۳) درجو ۵ دقيقو او (۳۴)

ثانیو کې موقعیت لري. همدا راز د پکتیا ولایت مرکز ګردیز څخه ۱۱۴ کیلومتره واټن لري. د خوست ولایت هوا د ژمي په موسم کې معتدله او په اوړي کې نسبتاً ګرمه وي. د دوبي په موسم کې په زیاته اندازه باران اوري، چې د ګرمۍ څخه مخنیوی کوي. د دې ولایت اکثره غرونه د طبیعي ځنګلونو په واسطه پوښل شویدي(حقمل، ۱۳۸۳ل،ص، ۱). د خوست لغوي مانا جزیره یا د دریاب په منځ کې وچې ته ویل کېږي. په غالب ګمان په خوست کې د خلکو د مېشتېدو نه ډېر وړاندې هغه خوړونه چې د ځدراڼو، منګلو او تنیو له سیمې څخه رابهیدل، ټولې اوبه یې په خوست کې ذخیره کېدې، او د اوبو د وتلو لار نه وه او د یوه ډنډ شکل یې غوره کړی و، چې د کلونو په تېرېدو زیات قوي او بحري حیوانات پکې پیدا شول او کېدای شي په سلهاوو کاله ژوند یې کړی وي، مګر کله، چې اوبو د تګ لاره پیدا کړه او د اوسني پاکستان په خوا رواني شوې، نو اوبه ورو ورو کمېدې او د بحري حیواناتو ژوند هم له خطر سره مخامخ کېده او دا امکان هم لري، چې د خوست چار چاپېره ګڼ ځنګلونه وي او لوی لوی ځنګلي حیوانات په کې اوسیدل، چې د دغو حیواناتو یوه بېلګه موږ اوس هم په لاس کې لرو او هغه دا چې د خوست د مدیځېلو په سیمه کې د دغو حیواناتو د پښو او ورنو هډوکي دومره غټ و، چې خلکو په ویالو باندې ایښي وو او د پل کار یې ترې اخیسته(ترکیبي کمیسیون، ۱۳۹۱ل،ص، ۱، ۲).

**سیاحت**

سیاحت ( توریزم) تور لاتیني کلمه ده چې د یوناني tornare له کلمې څخه اخستل شوې ده. د tornas یوناني کلمه د ګرځېدلو او دایرې په مانا کارول شوې ده. د دې کلمې رښتینې منځپانګه هغه دایروي څرخېدل دي چې د پیل نقطې ته بېرته راګرځېدل ولري.

د توریزم په فني تعریف کې درېیو مهمو ټکو ته پام شوی دی. لومړی د سفر موخه ده چې د سوداګرۍ له پاره، د دوستانو د لیدو له پاره او یا نورې موخې ولري. دویم یې د زمان او مهال عنصر دي، چې د څه مودې له پاره تر ټولو ډېر یا لږ مهال وي. درېیم یې موقعیت او ټاټوبی دی، چې سیاح یې لیدلو ته ورځي. ښایي یو شمېر توریستان د خینو توریستي سیمو څخه تېر شي او هغه سیمه یې موخه نه وي. هغه ټاټوبی، چې د توریست له پاره تر ۲۴ ساعته لږ مهال پکښې اوسیږي، د مهال له اړخه توریستي موخه نه ګڼل کېږي(باوري،۱۳۹٦،ص، ۱۲،۱۱). د بین المللي تعریف پر اساس سیلاني هغه څوک دی، چې تفریح، د لیدلو وړ ځایونو څخه بیا لیدنه، درملنه، سوداګري، سپورت او زیارت کولو په منظور بل هېواد ته سفر کوي، په دې شرط چې د اوسېدو مهال یې له ۲۴ ساعتو څخه کم نه وي او له ٦ میاشتو څخه زیات نه وي او فاصله یې له ۷۰ کیلومتره څخه کمه نه وي(کرمی، ۱۳۸۹،ص، ۱۱۰). په توریستي ادبیاتو کې د فراغت وخت هغه مهال ته ویل کېږي چې یو تن د ورځنیو چارو د هر اړخیزه فشارونو څخه ځان لېرې کړي. هغه مهال چې د ورځنیو دندو، تولیدي چارو او دوامداره بوختیاوو څخه بېل شي، یوازې د خپل بدني توان او څواک د بیا را پیدا کولو په نیت د بدني او روحي ستړیا څخه ځان جلا او ازاد وساتي. د توریست یا سیلاني اصطلاح له پاره په

دري کې د جهان ګرد کلمه کارول کېږي. په عربي کې سياح او په انګليسي کې بيا توريست (Tourist) معمول دی. د توريست اصطلاح په (۱۹مه) پېړۍ کې د فرانسې هېواد د اشرافي کورنيو هغو شمېر وګړو ته ويل کېدل چې د زده کړو او يا د نويو تجربو او ليدو کتو له پاره په سفر بوخت وو(باوري، ۱۳۹۶، ۱۲). د سياحت لغوي تعريف: (سياحة) د عربي کلمه ده، چې د ساح يسيح سيحا و سيحانا څخه اخيستل شوې ده، چې د ځمکې پر مخ باندې ګرځېدلو ته وايي يا په بله وينا سياحت هغه ګرځېدل دي، چې د خپل استوګنځي څخه نورو ځايونو ته د ساعت تېرۍ له پاره ځي او يا هغه ښکاره اوبو ته ويل کېږي چې د ځمکې پر مخ باندې بهېږي(صديقي، ۱۴۰۲،ص، ۱۰۶).

**خواجه محمدخان تپه**

د خوست ښار په شمال او شمال لويديځه څنډه کې موقعيت لري ، د مرکزي ښار حاکمه نقطه ده چې د متون بابا مشهور زيارت او لرغونې ډېرينه نظامي کلا چې د کلا په څلورو کونجونو باندې د دښمن د دفاع په خاطر په هرکونج باندې يو يو دفاعي برج شتون لري، په نوموړي غونډۍ باندې جوړه شوې تاريخي کلا د محمدظاهرشاه د واکمنۍ پرمهال په ۱۳۳۷ هـ ل کال کې د المان هېواد په مرسته جوړه شوې ده ، د دغې کلا پرسر د کشف قطعه هم موجوده وه. يادې نظامي کلا د خوست ښار ښې ته ښکلا ورکړې ده.

(۱) ګڼه انځور: انځور اخيستونکی باختر اژانس ۱۳۹۸ه .ش



**تخته بېکه**

تحته بېکه د خوست ښار جنوب لوېديځه څنډه کې موقعيت لري، تخته بېکې دوه غونډۍ دي چې پر سرونو يې پوځي کلاګانې جوړې شوې دي. د دواړو غونډيو تر منځ يو سورنګ(غار) کېندل شوی چې د خطرونو پر وخت به يې د يوې بلې تپې تر منځ له دغه ځمک لاندې لارې څخه استفاده کوله. د يادو غونډيو پر سرونو جوړې شوې کلاګانې په ۱۳۰۸هــ ل کال کې د نادرخان د واکمنۍ

پرمهال جوړې شوې دي. یادې ودانۍ د ډبرو او خښتو څخه د کمانونو په بڼه جوړې دي چې چتونه یې اوسپنې او لرګي نه لري. یادو کلاګانو کې د طالبانو له ریژیم وروسته امنیتي قطعات پرته دي(د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیریت، ۱۳۹۸ه .ش).

(۲) ګڼه انځور: انځور اخیستونکی باختر اژانس ۱۳۹۸ه .ش



**حسن کوټ (ګوډه خاره) ګنبده**

د شمل حسن کوټ (ګوډه خارې) کنبده د خوست ښار ختیځ لوري ته په (۱۵) پنځلس کیلو متري کې پرته ده. دغه تاریخي کنبده شمال عرض البلد په (۳۳،۳۲۴۲۹) درجو او د ختیځ طول البلد په (۷۰،۰۳۲۵۲). درجو ترمنځ موقعیت لري. د حسن کوټ سیمه د بحر سطحې څخه (۱۰۹۱) متره لوړوالی لري(*علمي سفر، ۱۴۰۱، ص،۴).* د دغې ګنبدې د تاریخ او د سیمې د نوم په اړه پوهنیار سیف الله غروال د ګوډه خارې کلي یو مشر حاجي محمد رحیم چې عمر یې(۱۰۴) یو سل او څلور کلونو ته رسېږي، په حواله داسې وویل: دغه ګنبده د احمدشاه بابا په وخت کې جوړه شوې ده. هغه وایي چې دغه ګوډه خاره نه ده، بلکې ګوډل ښار دی یعنې د ګوډلو ښار، خو د وخت په تیرېدو سره په ګوډه خاره بدل شوی دی. چې بیا د ګوډه خارې نه په حسن کوټ باندې بدل شو (غروال).

د ظاهر شاه په وخت کې چې خوست د پکتیا ولایت لویه ولسوالي وه، په دغه وخت کې د پکتیا والي عیسی و. دغه والي د اوسني خوست ولایت د حسن کوټ (ګوډه خارې) کلي ته راغلی و. د والي صیب د ښه راغلاست لپاره ټول خلک راټول شوي وو. د راټولیدنې په اوږدو کې والي صیب د ګوډه خارې د مانا پوښتنه کوي، چې په نتیجه کې د سیمې ټول اوسیدونکي چپ پاتې کېږي. له دې څخه وروسته والي صیب د همدغه کلي د مشر د نوم پوښتنه کوي، چې د کلی مشر څه نومېږي؟ کلیوال په ځواب کې ورته وایي چې سید حسن نومېږي.د پکتیا والي ورته وویل ، چې له دې نه

وروسته به د ستاسو د کلي نوم د شمل حسن کوټ وي. نو ځکه تر نن ورځې پورې دغه سيمه په دوو نومونو سره يادېږي، چې يو ته شمل حسن کوټ او بل ګوډه خاره وايي(نظري، ۱۳۹۱،ص، ۵٦، ۵۷).
د شمل حسن کوټ (ګوډه خاره) ګنبده د خوست ښار ختيځ لوري ته په ۱۵) پنځلس کيلو ميتري کې پرته ده. دغه ګنبده تقريباً (۱۵) متره جګوالی او (۸) متره سور لري. دې ګنبدې ته د شمل د ډېرو کليو خلک د اختر په ورځ، د نوي کال شپو او ورځو کې د مېلو لپاره راځي. داسې ويل کېږي، چې نوموړې ګنبده د احمدشاه بابا په وخت کې جوړه شوې ده. د يادې ګنبدې په د ننه کې د شاه اسمعيل په ګډون نهه(۹) قبرونه شتون لري. دا قبرونه د خټو او پروړو په وسيله کاه ګېل شوې دي. د ګنبدې داخلي جوړښت د منځنی آسيا د سيمې معمولي ضريبو په څېر ده. د هر لوري ديوال يې ريلف په څېر شيشک لري، چې د کمانونو جوړښت يې په خورا موزون ډول شوي دي. د ختيځ ديوال ريليف شيشک د لويديځ ديوال د ريليف شيشک سره او د شمال ديوال ريليف شيشک د سهيل ديوال شيشک سره متناسب جوړ شوي دي.
د ګنبدې له جوړښته مالومېږي چې درې کنګره ايېز يا درې پړاويز جوړښت لري. د قاعدې تر لومړۍ کنګرې څه نا څه شپږ متره لوړوالی لري. د لومړۍ کنګرې تر دوهمې کنګرې څه نا څه دوه متره او دريمې کنګرې تر وروستۍ هرمي څوکې هم څه نا څه څلور متر لوړوالی لري. چې مجموعا ۱۵ مترو ته رسيږي. د قبرونو د ساتنې لپاره ځانګړي ملنګ يا د زيارت ساتونکی نه لري. خو د سيمې خلک يې د خپل نيکه د درنښت له امله پوره ساتنه کوي( باوري، ۱۳۹۲،ص، ۳۴۰).
وړاندې د ګنبدې پاسنۍ برخه د خټو په واسطه پوښل شوې وه، ترڅو زيان ورته ونه رسيږي، خو په دې ورستيو کې د خوست ولايت د اطلاعاتو کلتور رياست په هڅو سره د ترميم چارې فياض عمران او ارشاد حامد شرکت ته په ۱۳۹۸/۹/۱٦ په (۴۲) لکه افغانۍ په قرار داد ورکړل شو. بايد يادونه وکړو چې د رغونې چارې يې په ۱۳۹۹/۳/۱٦ نېټه پای ته ورسېدې. د چارو د بشپړېدو وروسته يې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا ياده پروژه په رسمي توګه تسليم شوه(غروال، ۱۴۰۱،ص، ٦).
ګوډله ښار يا حسن کوټ(د دې سيمې د نوم په اړه ويل کېږي: هغه مهال چې، د ويسار(حصار) غونډۍ ته به د نورو سيمو ځواکونه راورسېدل، يو شمېر به يې د حسن کوټ هوارې سيمې ته راتلل او ګوډلې به يې جوړې کړې او د يوه ښار په څېر به مالوميدل، دا سيمه يې ځکه د ګوډلې ښار په نوم ياده کړه او دا نوم ورو ورو د ګوډلې ښار څخه ګوډه خار ته واوښت.) دا سيمه د خوست ختيځ ته پرته ده پراخه او هواره زراعتي سيمه ده، د دې سيمې ترټولو مشهوره نقطه ګومبذه(ګنبده) ده، دا ګنبده د شاه اسماعيل زيارت په نوم مشهوره ده. ويل کېږي چې، شاه اسماعيل د اکبر پاچا د مهال ستانه و. يوه فلکلوريکه کيسه هم په دې اړه د دې سيمې د مېشتو وګړو او په ځانګړي توګه د شاه اسماعيل د لمسيانو له لوري ويل کېږي، چې وايي( اکبرپاچا وپوښتل چې په دې سيمه کې داسې څوک شته چې زما درنښت او احترام يې نه وي پرځای کړی، چا ځواب ورکړ چې هو، په هاخوا غونډۍ کې يو مشر ستانه ستا درنښت ته نه دی راغلی، اکبرپاچا حکم وکړ چې دوه فيلان وليږئ او دا سړی ډېر ژر تر درباره راولئ، کله چې

لېږلي کسان او فیلان تر هغه سرې ورسېدل، هغه مهال شاه اسماعیل د فیلانو لوري ته وکتل او پر هغوی یې د الله اکبر غږ وکړ او د غږ د اوریدلو سره سم دا فیلان مړه شول. د دې پېښې خبر اکبر پاچا ته ورسېدو او اکبر پاچا بیا خپله د دې ستانه او رسېدلي پیر دربار ته راغی او د شاه اسماعیل احترام یې پرځای کړ( باوري، ۱۳۹۲،ص، ۳۳۹،۳۳۸).

د شاه اسمعیل د ژوند او مرگ په اړه کره معلومات نشته خو د سیمې په خلکو کې دا روایت دی:
(غالباً چې د احمدشاه بابا هند ته د اووم سفر پر مهال د بابا قافله له دغې سیمې څخه تېرېده، دا چې په یاده سیمه کې د ګڼو ونو ځنګل و او شاه اسمعیل په همدې سیمه کې په ګوډلو کې اوسېده ، کله چې د احمدشاه بابا کاروان تېرېده او د شاه اسمعیل بچیان ووېرېدل راپورته شول او کاروانیانو ولیدل ، دوی یو ځآی کېښناستل،کله یې چې شاه اسمعیل ولیده چې نېک سړی دی او دوی ترې د هند د فتحې دوعا وغوښته ، نوموړي دعا وکړه او د کاروان سفر په بریالیتوب سره سرته ورسېده، کله چې راوپس شول احمدشاه بابا سره مخامخ شول او د یاد کس ( شاه اسمعیل) په اړه یې خبره احمدشاه بابه ته واوروله، احمد شاه بابا خپل کسان په شاه اسمعیل پسې ولیږل او ځان ته یې وغوښت خو کله چې د بابا کسان تر ګوډل ښار راغلل، دې وخت کې شاه اسمعیل روح حق ته سپارلی و(د فرهنګي میراثونو د ساتنې مدیریت، ۱۴۰۳ه .ش).

(۳) ګڼه انځور: باختر اژانس، ۱۳۹۸ه .ش



(۴) ګڼه انځور: باختر اژانس، ۱۳۹۸ه .ش



**آدممد**

که اریایان د تاریخ په اوږدو کې وکتل شي، معلومه به شي چې اریایانو کوچیتوب کړی دی. لیکوال د پټې خزانې په قول وايي: شیخ متي، غرغښت، څړبن، خدي ابا ، آدممد نیکه او پیاوی، د هغه وخت شرایطو سره سم د پښتنو ځینې مالدارې کورنۍ د جنوب په لوري د سلیمان غرونو په لمنو کې ځای په ځای شول او کوچیتوب ژوند ته يې دوام ورکړ، چې د هغه خلکو سره تني هم شامل وو. ادممد د تنیو ولسوالۍ په غرب لوري کې موقعیت لري، لویدیځ لوري ته يې د سپېرې ولسوالي، ختیځ لوري ته يې سور کوټ کلی، شمال ته يې د دوه منده ولسوالۍ اړوند سیمې سویل لوري ته يې ورژله او کوچانو کلی موقعیت لري(اجمل، ۱۴۰۳ه ش).

داسې ویل کېږي، چې د تنیو لومړنی ټولنیز کلی سیرکټ (سورکوټ)چې د اوسنۍ ورژلې لمر خاته لوري ته او د نریزې شمال لویدیځ ته موقعیت لري، د اوسیدو ځای و. په دې هکله ځینې روایتونه شتون لري، ویل کېږي، دلته دوه ورونه چې یو يې ادګل او بل يې مادګل نومیده د یاد قوم مشري په غاړه لرله. کله چې چنګېز په غور باندې حمله وکړه او ډېر ښارونه يې د خاورو سره خاورې کړل. د سلیمان غرونو په لمنو کې چنګېز خپل زوی هلاکو ته وظیفه ور کړه چې اکبر پاچا تعقیب کړي. کله چې د هلاکو لښکرې پکتیکا، ارګون، پیرکوټي، زیړوک، ځدراڼو په دره کې پرمختګ کاوه، هلاکو غوښتل چې د سپلګین، وزیرستان په لاره هند ته داخل شي. تني چې ډېر تکړه او جنګي خلک دي، د دې لارې په استقامت پرته وو. د تنیو د یادو خصوصیاتو له مخې دوی وغوښتل چې د هلاکو لښکرو سره د ژوند تر اخري سلګۍ وجنګېږي. تني د خپلو مشرانو سره چې ادګل او مادګل نومیدل یو ځای (۱۲۰۰) کسان د هلاکو لښکرو په مخالفت کې جنګ کولو ته تیار شول. نوموړي کسان د

سریتي د جګې څوکې چې د کوچیانو کلي په شمال لویدیځ کې پرته ده، ځای پر ځای شول او په حاکمو نقطو کې یې څوکۍ جوړې کړې.
د هلاکو لښکرې د ځدراڼو په دره ارګون، پیرکوټيې او نورو سیمو کې د سخت مقاومت سره مخ شوې وې، له همدې امله تڼي د زیات وخت لپاره په یادو سیمو کې د انتظار په حالت کې پاتې شول. یادو سیمو ته د تڼیو قوم ځینو کسانو د خپل ځان سره ماشومان هم بوولي وو، ترڅو چې د چنګېز د لښکرو سره د جنګ له صحنې څخه ونه تښتي. کله چې چنګېز د خپل لښکر د مشکلاتو څخه خبر شو، نو یو بل زوی یې د یولک شل زره (۱۲۰۰۰۰) عسکرو سره راولیږه، ترڅو د هلاکو لښکرې تقویه کړي او پر مخ لاړې شي. د ذکر شویو کسانو د راتلو سره د هلاکو لښکرو شمېره تقریباً درې لکه (۳۰۰۰۰۰) کسانو ته رسیده. هغه وو، چې د یادې ډلې سره یو ځای د هلاکو لښکر پر مختګ ته دوام ور کړ، تر څو د پیرکوټيې ، زیړوک په لاره یې په مخ موجود مقاومت مات او تګ ته یې دوام ورکړ.کله چې د تڼیو قوم د مدافعې خط ته راورسېدل، د تڼیو (۱۲۰۰) کسانو مقاومت وکړ او دوښمن ته یې ډېر تلفات واړول. د تڼیو اربکیو د جنګې تکتیک څخه کار واخیست؛ خو بیا هم د یوې خوا څخه د تڼیو شمېر کم او د هلاکو لښکرو شمېر زیات و، نو هغه وو، چې د هلاکو لښکرې د سېلاب په شان غره ته پورته شوې او د تڼیو (۱۲۰۰) نفره ټول یې د ماشومانو په شمول ځای په ځای شهیدان کړل. د هلاکو لښکرې مخ پر سپیلګین، مچه وزیرو په استقامت لاړې. د تڼیو، شهیدان دوه ورځې وروسته په هغه ځای کې خاور ته وسپارل شول، چې د هغه قبرونو ځینې نښې او اثار معلومېږي. په ځینو مشرانو باندې یې زیارتونه جوړ دي، چې اوس هم دغه زیارتونه د آدممد سیمه کې شتون لري. ویلی شو، چې په نوموړي سیمه کې د ادګل او مادګل قبرونو تر څنګ د ماشومانو زیارتونه هم وجود لري(زیار،ص، ۸- ۱۰).

**(۵) ګڼه انځور: آرمان، ۱۴۰۲**



### د خوست ولايت تفريحي پارک

په خوست ولايت کې د سياحتي ځايونو له جملې څخه يو هم (فارم باغ) دی، چې ګڼ شمېر خلک د تفريح لپاره ورته راځي. فارم باغ د خوست ولايت په سهيل ختيزه برخه کې پروت دی، چې د ښار اړونده سيمه بلل کېږي او له ښار سره نږدې لس کيلومتره واټن لري. دغه باغ د شمل سيند پرغاړه پروت دی چې په دوو اړخونو کې يې ښايسته شنې غونډۍ لري، له دې امله يې طبيعي منظره ډېره ښکلې ده، چې د خلکو پام يې ځانته اړولی دی. فارم باغ ۳۸۰ جريبه مساحت لري. دا باغ د نايب الحکمه فيض محمدخان په وخت کې جوړ شويدی، فيض محمدخان د ظاهرشاه د سلطنت پرمهال د خوست ولايت نايب الحکمه ؤ. --+نايب الحکمه فيض محمدخان د فارم باغ ترڅنګ نور تفريحي ټاټوبي هم جوړ کړې دي لکه د سره فارم، ميلمه کوټ، بلاوټ او د سيګۍ باغونه دي. د فارم نږدې اويا کاله کېږي چې جوړ شوی؛ خو له هغه تردې دمه چې د وخت څومره ناخوالې دي هغه ورباندې تېرې شوې دي، له دې سره سره بيا هم فارم باغ د خپلې طبيعي منظرې د شته والي او ښکلا له امله د خلکو پام ځانته اړولی دی.

فارم باغ ته د هغې د طبيعي ښکلا د شتون له امله چې شمال ته يې د شمل سيند بهيږي، سهيل لوري ته يې ښکلې طبيعي غونډۍ ده، چې سيمې ته يې ځانګړې ښکلا ورکړې ده. په عادي ورځو او د اونۍ په اوږدو کې نږدې پنځه سوه کسان د سيل لپاره ورځي، په ځانګړو ورځو کې لکه اخترونه، نوروز او همدا راز په هغه موسمونو کې چې هوا مرطوبه وي، فارم باغ ته زښت ډېر خلک د سيل او چکر له لپاره راځي دلته مېلې جوړوي، ملي اتڼونه ترسره کوي او بېلا بېلې خوښۍ او لوبې کوي(باوري، ۱۳۹٦،ص، ۲۵۲،۲۵۱).

### ويسار (حصار) غونډۍ

د خوست ښار په ختيځ کې يوه تاريخي کلا(حصار) د منګسو په سيمه کې د غونډۍ د پاسه جوړه ده، چې د قدامت په اړه يې څوک نه دي خبر خو ځايي خلک وايي، چې د دې شاوخوا ځينې ډبرينې مجسمې موندل شوي وې، چې لا درکه دي. کله کله د غير قانوني کېندنو ګنګوسې خپرې شي ؛ خو څوک ورته پام نه کوي. خوست اوس د افغانستان د شتمنو ولايتونو نه يو دی؛ خو د تمدن او د کلتور په اړه يې لږ خلک خبر دي(باوري، ۱۳۹٦،ص، ۲۴۴).

حصار غونډۍ د خوست ښار ختيځ لوري ته په (۲۰) کيلو مترۍ کې موقعيت لري. دغه تاريخي غونډۍ د ځانګړي موقعيت له مخې د پخوانيو اوسېدونکو له لوري د دفاعي او نظامي مرکز په توګه غوره کړل شوې او کارول شوې ده. د حصار غونډۍ د مرکز اړوند موقعيت لري. دغه تاريخي غونډۍ د شمالي عرض البلد په (۳۰،۲۲۸) درجو او د ختيځ طول البلد په )(۷۰،۰۱۰۹۰۹) درجو کې موقعيت لري. د دې ترڅنګ ويلی شو چې دغه سيمه د بحر له سطحې څخه (۱۱۳۷) متره لوړوالی لري( *د علمي سفر مشاهده* ).

ویسار غونډۍ د مستطیل په ډول له شمال څخه د جنوب په لوري پرته ده . د دې تپې جوړښت د نورو طبیعي او مصنوعي تپو سره یوه ځانګړنه لري او دا ځانګړنه دا ده، چې نه یوازې طبیعي تپه ده او نه په بشپړ ډول مصنوعي تپه ورته ویلی شو بلکې مکس یعنې ګډ جوړښت لري. د دې تپې پورتنۍ برخه طبیعي او غرنۍ ده چې ډېرین جوړښت لري او لاندینی برخه یې په مصنوعي ډول جوړه شوې ده. دغه غونډۍ شاوخوا (۱۰۰۰) متره پراختیا او سور یې (۴۰۰) متره پورې رسیږي. همدارنګه ویلی شو چې د یادې غونډۍ لوړوالی تر (۱۰۰)مترو پورې رسیږي(باوري، ۱۳۹۶،ص، ۲۳۲).

د دې غونډۍ په هکله پوهندوی زرولي صدیقي ترتیب کړي معلومات په لاندې ډول وړاندې کړل: د حصار غونډۍ ته د لومړي ځل لپاره فرانسوي لرغونپوهان په (۱۹۶۹) لمریز کال د یادې سیمې څخه لیدنه وکړه، هغه معلومات د یادې ډلې راټول کړي دي، چې زموږ سره په لاس کې نشته. دویمه تخنیکي او مسلکي ډله چې د حصار تاریخي غونډۍ څخه یې لیدنه کړې ده. هغه په (۱۳۸۴- ۱۳۸۵) لمریز کلونو کې د مرکز کابل څخه د لرغونپوهنې مسلکي شخصیتونه راغلل او لیدنه یې ورڅخه وکړه چې په نتیجه کې یې مفصل راپور ترتیب او د افغانستان د لرغونپوهنې ادارې ته یې سپارلی دی. درېیم علمي سفر دغه تاریخي غونډۍ ته مرحوم پوهاند صیب محمد رسول باوري له دې سیمې څخه لیدنه کړې ده چې، په خپلو دوه چاپي آثارو کې یې راټول کړي معلومات چاپ کړي دي. د ټولنیزو علومو پوهنځي دغه علمي سفر د یادې سیمې ته څلورم علمي سفر ګڼل کېږي. صدیقي صیب ټینګار کوي چې هغه مسائل چې د یو مورخ توجه راجلب کوي هغه د باوري صیب په لیکنه بې علمي یا کم علمي ښودلی شو، ځکه چې دقیق معلومات د باوري صیب په لیکنه کې شتون نه لري. خو هغه سیکې چې له یادې سیمې څخه تر لاسه شوې دي، هغه په سلجوقي لړۍ پورې مربوط دي. سلجوقي دوره په تاریخ کې په (۱۰۳۸) میلادي کال کې پیل شوې ده چې لومړی واکمن یې توغرل بیک نومیږي، باید یادونه وکړو چې دغه لړۍ په نیشاپور کې رامنځته شوې ده. همدارنګه ویلی شو، چې نیشاپور پخوانی خراسان او اوسنی د ایران په خراسان پورې مربوط سیمه ګڼل کېږي. وروسته دغه واکمني ماوراالنهر، خوارزم، افغانستان او د هند ترشمال پورې یې پراختیا بیامونده. دغه لړۍ تر (۱۱۵۹) میلادي کال پورې دوام درلوده. د دې لړۍ وروستنۍ واکمن د سلطان سنجر په نوم یادیږي. په پورته ذکر شویو سیمو باندې سلجوقي لړۍ (۱۲۱) کاله واکمني ترسره کړې ده . که د حصار غونډۍ څخه تر لاسه شویو سکو ته د سلجوقي لړۍ وټاکو نو ویلی شو چې له نن څخه (۸۶۳) کاله لرغونتوب لري (*صدیقي، ۱۴۰۱،ص، ۷*).

(٦) گڼه نځور: آرمان، ۱۴۰۲



**غازي ببرک خان کلا:**

یاده کلا د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د گډورې په سیمه کې پرته ده، چې له خوست ښار څخه کابو د ۲۵ کیلومترو په واټن کې ده. دا کلا چه د درېیو(۳)جریبو په مساحت ځمکه کې نقشه اوپلان شوي، د خارجی چاردیوالي عرض ئي له دریو(۳)گزو په حدودوکي جوړشویده. یاده کلا د ختو څخه جوړه شوې ده او د کلا څلور(٤) مستحکم برجونه لري. د یادې کلا خارجي دروازه ډېر ه مستحکمه او د اوسپنی په قوي چادرکې پوښل شوي ده.

یاده کلا د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د امیر په لارښوونه جوړه شوې ده. د کله په عمومي دروازه د داخلېدو سره سم انتظار خونې جوړې شوې او له اتنظار خونې ور ها خوا بله لویه دروازه وه چې د کلا داخل ته پرې دخول کېده. د کلا د انتظار خونې ترڅنگ یوه لویه کوټه د مېلمنو لپاره جوړه شوې وه.

د کلا داخلي جوړښت په دوو (۲) برخوویشل شوی چې شرقي اوغربي قلعه گانې یې جوړې کړي دي، د همدې دوو کلاگانو په منځ کې لویه حربي څوکۍ جوړه وه چې د بازار په نوم یادېدله او په دې موخه جوړه شوې وه چې که کله دښمن کلا ته داخل شي له دې ځایه به پرې دفاعي برید کېږي، هم به د کلا شرقي برخه او هم غربي برخه به یې له دې ځایه څارله. دکلا په داخل کې د کلا د دیوالونو سره متاصل کوټې جوړې دي او د دې عمومي چاردیوالۍ باندنۍ برخه کې د کلا د دفاع په موخه د توپکو تیرکشونه(سوري) جوړ شوي چې د کلا څلورو خواو ته د دفاع لپاره یې ځانگړې ارزښت لاره(خوست اطلاعاتو کلتور ریاست، ۱۴۰۳ه ش).

(۷) گڼه انځور، باختر آژانس



**پایله**

خوست ولایت د افغانستان په اداري جوړښت کې خورا ارزښت لرونکی دی. د دې تر څنګ یاد ولایت د سیاحت لپاره خورا زړه راښکونکې سیمې لري، چې د دې سیمو په لیدو سره به د یاد ولایت اقتصادي وضع لا پسې غښتلې شي.

د توریستي صنعت وده، د هېواد هغه ستونزه چې بې کاري ده، مناسبه حل لاره ده، دغه صنعت زیات لګښت ته اړتیا نه لري، په دې صنعت کې تر ټولو مهم د مسؤلو چارواکو هوډ او اراده ده.

د توریستي صنعت وده د ګران هېواد تاریخي او فرهنګي اثارو په ساتلو کې د پام وړ رول لرلی شي.

دا چې ګران هېواد افغانستان د سیاحت په برخه کې کافي شونتیاوې لري، حکومتونو او اولسونو ته پکار ده، چې د خپلو تاریخي او فرهنګي میراثونو څخه ساتنه وکړي او د پایښت لپاره یې مختلفې لارې چارې ولټوي. ددې څېړنې په نتېجه کې دې پایلې ته رسېږو چې خوست ولایت بېلا بېلې سیاحتي سیمې لري، خو په نوموړیو سیمو کې د سیاحت کوونکیو لپاره اړین سهولتونه شتون نه لري.

**وړانديزونه**

- د خوست ولايت په تفريحي او سياحتي سيمو کې د لازمو اسانتياوو برابرول.
- په خوست ولايت کې د بعضو نويو سيمو په سياحتي سيمو بدلول.
- سياحت ته د يو نوي صنعت په توګه وده ورکول.
- په خوست کې چک ډېمونه جوړيږي، د همدغو چېک ډېمونو سره د امکان په صورت کې د تفريحي پارکونو جوړول.

**سرچينې**


باوري، محمد رسول.(۱۳۹۲). *د افغانستان د تاريخ پنځوس پاڼې ( د مقالو ټولګه)*. کابل: د بهيقي کتاب خپرولو رياست.

باوري، محمد رسول.(۱۳۹۶ ). *د توريزم بنسټونه او په افغانستان کې توريستي امکانات*،آزادئ دولتي مطبعه

ترکيبي ګډ کميسيون.(۱۳۹۱ ).*خوست پېژندنه*، آريانا خپرندويه ټولنه.

حقمل، بسم الله.(۱۳۸۳ ). *خوست به ځنګه جوړ کړو*، حليمي پرينټنګ ايجنسي.

رحيمي، محمد رحيم( ۵/۲/۱۴۰۳). *حصار غونډۍ*. د سيمې او سيدونکی.

زيار, عصمت الله، صديقي، زرولي.(۱۴۰۱). *د تاريخ او جغرافيې ځانګې د علمي سير راپور* . خوست: شيخ زايد پوهنتون.

زيار، عصمت الله.(۱۳۹۷). *د خوست ولايت منطقوي جغرافيه( پوهنيار علمي رتبې آثر)*.شيخ زايد پوهنتون.

صديقي، زرولي. ( ۱۴۰۱/۲/۲۳). *حصار غونډۍ*. ټولنيزو علومو پوهنځي استاد.

صديقي، قدرت الله. (۱۴۰۲). *د افغانستان د يو شمېر سياحتي ځايونو ټولنيز او اقتصادي ارزښت* . خوست: شيخ زايد علمي- څېړنيز ژورنال، دويمه ګڼه.

غروال، سيف الله.( ۱۴۰۱/۲/۲۳). *حسن کوټ* . ټولنيزو علومو پوهنځی

کرمی، پ.(۱۳۸۹).*گردشگری موضوع علم جغرافيا* . سپهر، ۳ .

مدير اجمل.(۱۴۰۳).*آدممد سيمه* . مرکه کوونکی: زينت الله آرمان.

نظري، محمد زمان. (۱۳۹۱).*خوست*. خوست: اطلاعاتو کلتور رياست.

# په خاوره کې د غذايي موادو معلومونې لپاره د خاورې نمونه اخیستنه

پوهنوال عبدالخلیل افغاني، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی، د اګرانومۍ څانګه.
برېښنالیک: aakhalil2007@gmail.com

**لنډیز**

د خاورې څخه د نمونې اخېستنه او د هغې تجزیه په خاوره کې د غذايي موادو معلومولو لپاره یو مهم فکتور دی. د خاورې د نمونو د تجزیه او تحلیل کولو څخه په خاوره کې د شــته غذايي موادو حالت، اندازه او خاورې ته د اړوند فصــل لپاره د غذايي موادو بېرته علاوه کول په ډاګه کېږي. د خاورې څخه د نمونو اخېســتل او د هغوی تجزیه څانګړی مهارت او وســایلو ته اړتیالري. په دغه څېړنیزه کتابتوني مقاله کې د غذايي موادو د تجزیې په موخه په تخنیکي ډول د خاورې د نمونو اخېســتنې په مورد معلومات ځای پر ځای شــوي دي. د خاورې له نمونو اخېســتنې څخه وړاندې د پلان جوړونې، د تجزیې لپاره د خاورې د نمونو د شمېر او منا سب وخت، چې په عام ډول سره د سرو د ا ستعمال څخه وړاندې ښـودل شـوی، د خاورې د نمونه ګیرۍ په موخه د اسـتعمالیدونکو وسـایلو، د خاورې د نمونه ګیرۍ سـتراتیژي، چې پرمټ یې د فارم د سـاحې څخه د نمونه ګیري د ځای تعین صـورت نیسي ـ، د مختلفو مقا صدو په موخه د ځمکې په مختلفو ژوروالو سره د خاورې د نمونو اخیستنې او لابراتوارونو ته په منظمو لیبل شویو خلتو کې د خاورې د نمونو د انتقال په اړه معلومات راټول کړل شوي دي، لکه څرنګه چې په افغانستان کې زیاتره بزګران د خاورې نمونو اخېستنې سره زیاته بلدتیا نه لري، نو دا لیکنه به له دوی سره د نمونو په اخېستنې کې کومک وکړي.

**کلیدي ټکي:** تجزیه، تغذیه، ټسټ، خاوره، لابراتوار، نمونه

**سریزه**

**بســـــم الله الرحمـــــن الرحـیم، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَصَلاةُ وَالسَّلاَمُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ!**

د یو دهقان یا باغوان لپاره معمولاً ډېره عامه ده چې خپل پټي ته پرته له دې چې د پټي یا باغ د خاورې د موجوده حالت په اړه وپوهیږي، خاورې ته سرې، چونه، سـلفر او یا نور مواد ورکوي، دغه کړنه د دې پر ځای چې باغ یا پټي ته مثبت او موثر واقع شي، برعکس د نقصان سبب ګرځي. د زیات مقدار سرو، چونې، سـلفر او د عضـوي یا ډېراني سرو اسـتعمال فصـلونو ته سـتونزې رامنځته کوي، نو له دې کبله د خاورې ازمایښــت د دې ښــودنه کوي چې په خاوره کې په څومره اندازه، کومې سرې یا عضــوي مواد شــتون لري او په څومره اندازه سرو یا نورو غذايي موادو ته اړتیا لیدل کېږي ترڅو د مطلوبه فصـــل په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی رامنځته شي [2]. د خاورې د تجزیې په اړه مهم معلومات راکوي، لکه: د خاورې فزیکي حالت، حاصـلخیزي (غذایی مواد ) او کیمیاوي خصــوصــیات چې د نباتاتو د ودې لپاره د خاورې وړوالی یا افادیت اغیزمنوي او داسې نور. د خاورې په تجزیه کې څلور مرحلې شـاملې

دي چې عبارت دي له: د خاورې څخه د نمونو اخيستنه، په لابراتوارونو کې يې د تجزيې کولو پروسې، د نتايجو د تحليل او ارزونې پروســې او په پايله کې يې د سرو او نورو مديريتي ســپارښــتنو د تطبيق پروســې دي [5]. دا چې د خاورې د غذايي موادو شــتون د يوکال څخه بل کال ته او له يوه پټي څخه بل پټي ته فرق کوي، فلهذا دا په مستقيم ډول د فصلونو په توليداتو باندې اغېز لري. د خاورې ازمايښت د دې لپاره ضروري دی چې معلوم کړو په خاوره کې د سرو اندازه او نور بديل چې د فصــلونو د غوره حاصــل او کيفيت لپاره ضروري دي، پرته له دې چې په چاپيريال منفي اغېزې ولري. د خاورې د ازمويښت نتيجه يوازې د خاورې په تخنيکي ډول د نمونو اخېستو په نتيجه کې تر لاسه کېدای شي.

**موخې**

د دغې څېړنيزې کتابتوني مقالې د ليکلو څخه مې موخه دا ده چې په خاوره کې د غذايي موادو د تجزيې او معلوماتو لپاره د خاورې د نمونه گيرۍ مختلف تخنيکونه په گوته شي ترڅو د مســلک خاوندان په علمي او تخنيکي ډول د خاورې نمونې راټولې او په لابراتوار کې يې د تجزيې لپاره وړاندې کړي.

**د کار مواد او کړنلاره**

د دغې څېړنيزې مقالې په ليکنه کې مې کتابتوني کړنلاره کارول شــوې ده او د معتبرو انټرنيټي پاڼو، مقالو او ليکنو څخه پکې گټه اخېستل شوې ده، چې په دې وروستيو وختونو کې نشــر ته سپارل شوي دي.

**د خاورې نمونه اخېستنه**

د خاورې د غذايي موادو شتون د يوکال څخه بل کال ته او له يوه پټي څخه بل پټي ته فرق کوي، چې دا په مستقيم ډول د فصلونو پر توليداتو بانــدې اغېز لري. د خاورې ازموينه د دې لپاره تر سره کېږي چې معلوم کړو په خاوره کې د سرو اندازه او نور بديل چې د فصــلونو د غوره حاصــل او کيفيت لپاره ضروري دي، پرته له دې چې په چاپېريال منفي اغېزې ولري، ضروري دي. د خاورې د ازمايښت نتيجه يوازې د خاورې د نمونې اخېســتو په نتيجه کې ممکنه ده، چې د دغې کتابتوني مقالې په ترڅ کې به د خاورې د نمونې اخېستنې د مختلفو مرحلو يادونه وشي.

**له نمونو اخيستنې څخه مخکې پلان**

مخکې له دې نه چې د خاورې نمونه (ســامپل) گيري ترسره کړو، هغې پروټوکول ته بايد پاملرنه وشي چې د فصــلونو د ســيســتم لپاره منل شــوي دي، د بيلگې په ډول د خاورې ژوروالی، مناســب وخت او داسې نور. معلومات بايد د خاورې د سروې گانو له نقشو، د هوا له لارې د اخيستل شويو انځورونو او د فارم له ساحې څخه د مديريتي تاريخچې لکه نوموړې ساحه د څومره کلونو راهيسې ترکښت لاندې ده، د دې نه وړاندې د کمپوسټ يا چونې استعمال او د مختلفو فصلونو د کښت د تاريخچې پس منظر په مټ ترلاسه شي، ترڅو د فارم يا پټي څخه د خاورې د نمونې اخېستو ځای په نښه کړل شي.

د خاورې د سامپل اخېستو نه مخکې بايد د خاورې د تجزيې لابراتوار هم معلوم کړل شي او د سامپل اخېســتو څخه د خبرکړل شي، ترڅو د نمونه گيرۍ او د هغې د لابراتوار پورې د انتقال لپاره د دوی ځانگړې غوښتنې او مشورې واخيستل شي. د لابراتوارونو ترمنځ هم د خاورې د ازمايښت کولو طريقې مختلفې وي، نو د دې لپاره چې که وغواړو په مقايســوي ډول د مختلفو لابراتوارونو له لارې د خاورې تجزيه ترسره کړو نو بايد د همغې خاورې څخه د ټيســتونو لپاره د خاورې ســامپلونه وړاندې کړل شي، يعنې د ټولو لابراتوارو له لارې بايد په يوځای، په يوه وخت او له يوې ســيمې نه اخيســتل شــوي نمونې وکاروو ترڅو يې سره مقايسه کړو. د يادونې وړ ده چې د خاورې د تجزيې لابراتوارونه بـــايد د اعتبار سند ولري.




**۱- انځور**. د خاورې د نمونه گيرۍ خلاصه: **(الف)** د هغې ساحې چې له هغې څخه د سامپل اخيستل کېږي، منظم پلان جوړول. **(ب)** دخاورې د سامپل گيرۍ منا سب ژوروالي ته په کتو دهغو اوزارو جمع کول چې د سامپل گيرۍ لپار کارول کېږي. **(ج)** د يوې ساحې يا پټې څخه په منا سب ژوروالي سره د خاورې په زيات شمېرکې د سامپلونو اخيستل. **(د)** د اخيستل شويو سامپلونو په يوه لو ښي کې گډول ترڅو يو مرکب سامپل ترې جوړ شي. **(ذ)** د مرکب سامپل څخه په منظمو ليبل کړل شويو خلتو کې د خاورې د سامپلونو ځای پر ځای کول ترڅو په اسانۍ سره ترلابراتوارونو پورې انتقال کړل شي [4].

**۱. د تجزیې لپاره د خاورې د نمونو شمېر او مناسب وخت**

د خاورې سـامپلونه د کال په هروخت کې ترسره کېدلی شي، لاکن د چونې د اسـتعمال څخه دوه کاله وروسـته او د مرکبو سرو، عضـوي ډیراني سرو یا په في هکتار ځمکه کې د 50 کیلوگرامه څخه د زیات نایتروجن د استعمال نه دوه میاشـتې وروسـته د خاورې سـامپل گیري ترسره کېدلی شي[7]. د خاورې سامپل هم له پټي څخه په داسې وخت کې چې خاوره د خوراکي توکو ښودنه کوي د فوري عکس په شان دی. سامپل اخیستنه په دا سې وخت کې د غوره معلوماتو ښودنه کوي او پروخت یې د مدیریت لپاره موږ ته د تصمیم نیونې چانس په لاس راکوي. د سامپل اخیستنې دقیق وخت د فصلونو په سیستم باندې منحصر دی، حال داچې سامپل گیري باید د سرو د استعمال څخه وړاندې ترسره شي.

د خاورې د تغذیې غلظت او پي ایچ د کال په اوږدو کې په طبعي ډول سره تغیرخوري. په همدې منظور د کال یو داسـې وخت باید د سـامپل اخیسـتنې لپاره غوره کړل شي، چې د کلونوپه اوږدو کې تسلسل ولري او د وخت په تېریدو سره نتایج مقایسه کړل شي. د سامپل گیري شـمېر یا فریکوینسي-اکثر په یوه کال کې بې شمېره وختونه وي ترڅو د چاپېریال د نایتروجن معظله وڅارل شي، یا کله د یوه باغ لپاره پر هرو پنځو کلونو کې یوځلې ترسره کېږي. ډیری د سبزیجاتو بزگران په هرو دوو یا درېیو کلونو کې د خاورې ټست ترسره کوي.

**۲. د خاورې د نمونه گیرۍ وسایل**

د خاورې د نمونې اخیستنې لپاره مناسب افزار باید په پټي یا فارم کې چې د کوم ځای نه نمونه اخیستل کېږي اماده وي، دغه افزار عبارت دي له: د خاوري د سـامپل گیرۍ آله چې په ژوروالي سره تېره څوکه ولري، پاک ستلونه، د خاورې د سامپل گیرۍ خلتې، مارکر / قلم او یوه کتابچه، ترڅو د خاورې سامپلونه ریکارډ کړل شي. همیش لپاره باید پاک افزار په ځانگړي ډول سـتلونه اسـتعمال کړل شي.که چېرته د خاورې سامپلونه د اوسپنې یا زینک د معلومولو په موخه اخېستل کېږي، نو بیا باید د اوسپنې او جستو لوښـې د سـامپل اخیسـتنې په موخه ونه کارول شي. هغه سـتلونه چې پخوا د سرو ( فرټیلایزر، مینیور) د ذخیره کولو لپاره کارول شـوي وي، د سـامپل گیرۍ لپاره باید ونه کارول شي. د سـامپل گیرۍ افزار د خاورې هغه ژوروالي چې ترلاسه کړی مودی، د راجمع کړل شوې خاورې حجم او په پټي کې د نمونو ثبات متاثره کولای شي. د خاورې میل (soil probe) یوه غوره آ له ده چې د خاورې په هرڅومره ژوروالي سره د خاورې یوه اندازه را اخلي. په بیلچې سره به دا ډېره سـتونزمنه وي چې په کافي ژوروالي سره د خاورې څخه یوشـانته سـامپلونه ترلاسـه کړل شي. که چېرته د خاورې نمونې د خاورې د میل په واسطه اخېستل کېږي، لاندې لارښوونې باید په پام کې ونیول شي.

- د اینامیل رنگ یا د نوکانو په رنگ باندې د سامپل گیرۍ د ژوروالي اندازه باید په واضح ډول په نښه کړل شي.

- د سـامپل گيرۍ څخه وړاندې بايد د خاورې د پورتنۍ سـطحې څخه عضـوي مواد ( ملچ، د فصل پاتې شوني، سرې) لرې کړل شي.
- د خاورې ميل بايد په مستقيم ډول د مطلوبه ژوروالي په اندازه لاندې خواته ننه اېستل شي او د هغې وروسته راکش کړل شي.
- که چېرته خاوره ډېره کلکه وه د ميل د پښــو يا د برمې او يا هم د ښــوی ښتک څخه دې استفاده ترسره شي.

This image cannot currently be displayed.

**۲- انځور**: د خاورې د ميل په خاوره کې د ننه ايســتلو څخه مخکې بايد ســطحه پاکه کړل شي او د خاورې ميل دې مطلوبه ژوروالي په اندازه د ايناميل په رنگ باندې په نښه کړل شي.

**۳ . د خاورې د نمونه گيرۍ ستراتيژي (چېرته او څومره)**

د نباتاتو ودېز فصـل، د هغوی د مديريت تاريخچه اود فارم توفوگرافي په اسـاس دا په ډاگه کېدای شي چې د کوم ځای يا ساحې څخه نمونه گيري ترسره شي. دا بايد يقيني کړل شي چې په پټي کې غېرمنظم توب يا گډوډي له منځه لاړه شي، لکه د پټي څنډې (شــايد هلته په زياته اندازه سره د مختلفو سرو استعمال ترسره شوی وي)، زوړ سرک که چېرته د پټي په منځ کې تېرشوی وي (شايد چې زيات اندازه تخته يا کلک شـوی وي) يا د حيواناتو د خوراکي او اوبه ورکونې ځايونه (شـايد په زياته اندازه د سرو غلظتونه ولري). که چېرته د پټي مختلفې برخې چې مختلف حالتونه لري بايد د هرې برخې جدا جدا سامپل گيري ترسره شي. د بېلگې په ډول که چېرته دا سې سېمې وي چې افقي واقع وي او مشبوع وي

او يا هم د غره په ډډه کې واقع وي او توږل شــوې وي نو د دوی د هرې برخې بايد جدا ســامپل ګيري ترسره شي.




**۳- انځور**: د يوه فارم يا يو پټي مختلفې برخې چې مختلف ډوله مديريت ته اړتيا لري، د هرې برخې بايد جدا سامپل ګيري ترسره شي[3].

په کلني فصلي سېستمونو کې ترټولو غوره او عامه طريقه د ټول پټي څخه د نمونې اخېستنې طريقه ده.

- د ټول پټي څخه د د ۱۵-۳۰ پورې د خاورې مغذي ســامپلونه راټول کړل شي، ټول دې سره ګډ او يومرکب سامپل دې ترې جوړ کړل شي، چې د ټول پټي نمايندګي وکړي.
- ســامپلونه د هم په ناټاکلي ډول د ټول پټي څخه د W په شــکل او يا هم په زيګ زاګ ډول راغونډ کړل شي.
- په عام ډول سره هرڅومره چې پټي لوی وي په همغه اندازه ډېرې نمونې بايد ترې واخيســتل شــی، د بېلګې په ډول که چېرته ســاحه د دوو هکتارو څخه زياته وي ۱۵ نمونې دې ترې واخيستل شي او که ساحه د ۱۰ هکتاره څخه کمه وي تر ۳۰ پورې نمونې دې ترې واخيستل شي.
- ساحه که په هره اندازه وي د ډېرو سامپلونو نتيجه به د کمو سامپلونو په نسبت د ډېر اعتبار وړ وي.




**۴- انځور:** د خاورې د سامپل اخېستنې لپاره د **W** شکل کارونه [6].

د يوه باغ (Orchard Crop) د سامپل ګيرۍ لپاه لاندې رهنمود بايد په پام کې ونيول شي.

- د خاورې ډول، مديريت، نوعې او يا هم په پټي کې د باغ د ونو نوعو ته په کتو بايد ټول پټي په مديريتي واحدونو (بلاکونو) کې تقسيم کړل شي.
- يوازې د لانده زون (Wetting Zone) څخه د پنځم نمبر انځور په څېر د خاورې سامپل ګيري ترسره شي.
- د ټرنک او ډرپ لاين ترمنځ د نيمايي لارې څخه دې سامپل ګيري ترسره شي.
- په ناټاکلې توګه د پټي يا بلاک د لانده زون څخه دې ۱۵-۳۰ پورې سب سامپلونه ترسره شي.

**۴ . د نمونه ګيرۍ لپاره د ځمکې ژوروالی (ډير مهم فکتور دی)**

د غذايي موادو غلظت د خاورې په ژوروالي پورې فرق کوي او د لابراتوارونو څخه د خاورې د ټسټونو نتايج د سامپلونو په ژوروالي باندې منحصروي. دا ډېره مهمه ده چې د سامپلونو ژوروالی په ټول پټي کې او د کلونو ترمنځ په متواتر ډول يو شانته وساتو او دغه يادښت له ځان سره د يادښت په کتابچه کې ولرو چې په کومه اندازه ژوروالي سره مو د خاورې سامپلونه اخېستي وو. د خاورې د سامپل ګيرۍ ژوروالي په عام ډول سره د ريښو د ژوروالي سره اړيکه لري، نو د فصلونو د سېستمونو سره په ځانګړي ډول ارتباط لري، مګر دا د سامپل ګيرۍ پر مقاصدو پورې هم تړلې ده، چې د کوم مقصد لپاره ترسره کېږي.

- که چېرته يو فصل ته د پخوانۍ ورکړل شوې سرې معلومول هدف وي نو سامپل ګيري د ريښو د فعاليت سره په تړاو عموماً د ۱۵-۳۰ سانتي مترو په ژوروالي سره اخيستل کېږي.
- که سامپل ګيري د خاورې د نايټريټ معلومولو په موخه ترسره کېږي نو بايد د ۳۰ سانتي مترو په ژوروالي سره سمپل ګيري ترسره شي.

- که چېرته د چونې او یا هم د غیر شودیاره پټي کې د غذایی موادو د معلومولو په موخه سمپل ګیري ترسره کېږي، نو د خاورې سامپل ګیري د ۰،۵ سانتي متر څخه او د ۵-۱۵ سانتي مترو په ژوروالي سره دې ترسره شي.
- که چېرته د خاورې سامپلونه د خاورې په بې شمېره متفاوتو ژوروالیو سره ترسره شوي وي، نو باید مختلف لوښي د مختلفو ژوروالیو لپاره وکارول شي، دلته د یادونې وړ ده چې هر څه باید په واضحه ډول یاداښت کړل شوي وي، یعنې په هر لوښي کې د خاورې د ژوروالي اندازه ثبت وي. د خاورې په یوه میل د خاورې دوه مختلف ژوروالی هم ترلاسه کولای شو، په پنځم نمبر انځور کې یې مشاهده کولای شئ.




5- **انځور**: د خاورې نمونې (په سره رنګ د ایکس علامه) چې د یوه باغ په لانده زون کې اخیستل شوی دی[1].

## ۵ . د خاورې د نمونو یا سمپلونو اداره او انتقال

کله چې د خاورې سطحي نمونې واخیستل شي، په پاکو ستلونو کې دې راجمع کړل شي، دې ته باید پاملرنه وشي چې په ستلونو او د خاورې په میل پورې عضوي یا کیمیاوي سرې موجودې نه وي. له دې نه وروسته دې لاندې مرحلې تعقیب کړل شي.

- د خاورې په نمونو کې دې لوټې په لاس سره میده کړل شي.
- ناولي شیان او خزلې (د نباتاتو پاتي شوني، لرګي، د خاورې د سطحې څخه عضوي مواد، تیږې) دې له نمونو څخه پاکې کړل شي.
- په پلاستیکي کڅوړو او یا هم د نمونو په خلتوکې چې لیبلونه ولري ښه ګډوډ شوې نمونې ( تقریباً دوه پیالي په اندازه ) باید کېښودل شي.
- په احتیاط سره باید نمونې ښه لیبل کړل شي ( نیټه ، د پټي شناخت ، ژوروالی ).
- د نمونو معلومات باید په یوه کتابچه کې یاداښت کړل شي.

This image cannot currently be displayed.

ستلونه چې د خاورې د مختلفو
سامپلونو لپاره کارول کېږي.

**6- انځور :** د خاورې په يوه ميل کې په دوو ژوروالو سره د خاورې سامپل اخيستنه[3].

کله چې نمونې په ليبل شـــويو خلتوکې ځای پر ځای شي، نو د انتقال لپاره اماده دي. دا به غوره وي چې سمدستي نمونې لابراتوارونو ته انتقال کړل شي. سامپلونه د يوې اونۍ لپاره په يخچالونو کې ساتل کېدلی شي او يا په وچه هوا کې (پرته د نايتروجن د ټسټ لپاره). که چېرته سامپلونه د نايتروجني موادو او يا هم د ميکروبي خا صيت معلومولو په موخه ا ستعمالېږي، نو بايد سامپلونه يخ و ساتل شي او که د يخچالونو سهولت شتون ونلري، د يخ يا واورې په واسطه دې چاپېريال ورته جوړ کړل شي.

په عام ډول سره د دې لاندې فکتورونو د معلومولو په موخه د خاورې د تجزيې ټستونه ترسره کېږي.

- ✓ د خاورې د پي ايچ د معلومولو په موخه.
- ✓ په خاوره کې د چونې د اندازې د معلومولوپه موخه.
- ✓ د فاســـفورس، پوتاشـــيم، مگنيزيم د معلومولو په موخه، اندازه يې په ملي گرام في ليتر په حساب سره ښودل کېږي.
- ✓ د سلفر، نايتروجن، فلزي موادو، د خاورې د جوړښت او عضوي موادو د معلومولو په موخه په عام ډول سره د خاورې ټستونه ترسره کېږي[7].

**پايله**

دا چې د خپل بـاغ يا پټي د خاورې د موجوده حالت په اړه وپوهېږو له هرڅه نه وړاندې بايد د نوموړې ساحې د خاورې نمونې د ورکړل شويو معيارونو سره سم واخېستل شي او په معتبرو لابراتوارونو کې د تجزيې څخه وروســـته تحليل کړل شي، ترڅو معلو مه شي چې په څومره اندازه، کومې سرې او نور عناصر شـــتون لري او په څومره اندازه نورې سرې يا کوم ځانگړي عناصر ځمکې ته ورعلاوه کړل شي، ترڅو د مطلوبه فصل په حاصلاتو کې زياتوالی رامنځته شي.

**وړانديزونه**

- بزگرانو یا باغوانانو ته په کار دي چې له هرڅه نه وړاندې د معیاري نمونه گیرۍ په نتیجه کې د خپل باغ یا پټي د موجوده یا شته سرو او نورو عناصرو په اړه معلومات ترلاسه کړي.
- د خاورې د نمونه گیرۍ او د هغې د تجزیې په صـــورت کې د منظم پلان له مخې د ضرورت وړ سرې او نور عناصر خپل پټي یا باغ ته ورعلاوه کړل شي.
- دا باید یقیني کړل شي چې د خاورې نمونې د ورکړل شویو معیارونو سره سم اخیستل شوې دي.
- د دې لپاره چې غوره نتایج ترلاسه کړو په معتبرو او سند لرونکو لابراتوارونو کې باید د خاورې د نمونو تجزیه ترسره شي.

**مأخذونه**


1. Geisseler, D. and W. Horwath. (2016). Soil Sampling in Orchards. University of California Davis Publication. http://geisseler.ucdavis.edu/Guidelines/Soil_Sampling_Orchards.pdf
2. Daniel.K & Rosie Lerner. (2018). Collecting Soil Samples for Testing. Department of Horticulture and Landscape Architecture Jason Ackerson, Department of Agronomy, University of Purdue Publication. Horticulture HO- 71- W CONSUMER.
3. Walsh, O.S., Mahler, R.L. and T.T Tindall. (2020). BUL 915: Soil Testing to Guide Fertilizer Management. University of Idaho Publication. https://www.uidaho.edu/extension/publications/bul/bul915
4. Fery, M., Choate, J. and E. Murphy. (2022). EC 628: A Guide to Collecting Soil Samples for Farms and Gardens. Oregon State University Extension Publication. https://extension.oregonstate.edu/catalog/pub/ec-628-guide-collecting-soil-samples-farms-gardens
5. Walworth. J.L (U.D). Soil Sampling and Analysis. Department of Soil, Water and Environmental Science, University of Arizona.
6. Fizagri. T. Fitzgerald & Crosslow. (2017). Soil Sampling Technique. Take it from https://www.teagasc.ie/crops/soil--soil-fertility/soil-analysis/soil-sampling/
7. Soil Sampling I. How to take a soil Sample, Practical Guide. Farming for a better Climate. www.farmingforabetterclimate.org

# د امیندوارۍ پر مهال د ښځو د تغذیوي اړتیاوو څېړنه

پوهندوی خان وزیر عادل، شیخ زاید پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځي د بیولوژۍ څانګې استاد.
**برېښنالیک:** khanwaziradil@yahoo.com

**لنډیز**

د امیندوارۍ میرمنو تاریخچه په ټولنیز او طبي لحاظ اوږده او پیچلې ده، چې د مختلفو فرهنګونو او دورو پر مهال د هغوی حقوق، چلند او درناوی متغیر و، خو په عمومي توګه د امیندوارۍ بهیر د انسانیت په ټولو دورو کې د اهمیت او ستاینې وړ بلل شوی دی. امیندوارې مېرمنې تر هر بل چا د ډېرې توجه او څارنې مستحقې دي. دوی نه یوازې د خپل بدن، بلکې د خپل مخ پر ودې ما شوم خوراکي اړتیاوې هم پوره کوي. د امیندوارې مور لپاره څلور شیان ډېر مهم دي، چې په پام کې یې باید ونیسي: خوراک، پرهېز، د وزن کنټرول او له ډاکټر او قابلې سره دوامداره مشوره. ښه تغذیه د انسان د روغتیا، خوښۍ او نیکمرغۍ یوبنسټ دی، د ناروغیو په مخنیوي، د روغتیا په ښه کیدو، د معافیت په تقویه کیدو او د ژوند د کیفیت په لوړولو کې برخه لري. د تغذیې د پروګرامونو ښه کول د انسانانو پر بشري حقونو، انساني کرامت، د هېوادونو په ټولنیزه اقتصادي پرمختیا او وده ښه اغېزه کوي.

**کلیدي کلمې:** د امیندوارو میرمنو ګټور غذایي خواړه، تغذیوي اړتیاوې، عمده ستونزې، مزمنې ناروغۍ اوکمزوري حالاتونه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین محمدوعلی اله واصحابه اجمعین. امابعد:**

د امیندوارۍ پر مهال د ښځو د تغذیې اړتیاوې یو له خورا مهمو موضوعاتو څخه دي، چې نه یوازې د مور صحت بلکې د ما شوم د صحي ودې لپاره هم بنسټیز اهمیت لري. د امیندوارۍ پر مهال، ښځې په بېلابېلو فزیکي او هورموني بدلونونو کې ښکېلیږي، چې د بدن تغذیوي اړتیاوې هم ورسره تغیر کوي. دا بدلونونه د مېرمنې د صحت تغذیوي اړتیاوې زیاتوي، ځکه چې د ما شوم وده او مور د بدن د اړتیاوو پوره کولو لپاره اړینه ده، چې هغه مواد چې بدن ورته اړتیا لري، په مناسب مقدار کې سره ترلاسه شي. د امیندوارۍ په دوران کې د تغذیې ځانګړې اړتیاوې لکه پروټین، ویتامینونه په ځانګړې توګه (فولیک ا سید، ویتامین D ، ویتامین C ، کلسیم، او سپنه او اومیګا 3 چې ورسره د شحم تر یو اندازه زیاتېږي. دا اړتیاوې د ښځو د بدن لپاره د حیاتي تغذیوي موادو د کموالي مخنیوی کوي او د ما شوم په صحي وده او د جنین په مناسب پرمختګ کې مهم رول لوبوي. په همدې توګه، د امیندوارۍ پر مهال د ښځو د

تغذيوي اړتياوو پوره کول کولی شي، چې د ګڼو صحي ستونزو لکه؛ د بې خوبۍ، د وينې کموالي او د ماشوم په ښه وده کولو کې احتمالي ستونزو مخه ونيسي.

**موخې**

- د ميرمنو د تغذيوي توکو د کموالي د لاملونو پېژندل
- د مور او ماشوم روغتيا او تغذيې ته پاملرنه
- د حاملګۍ په وخت کې د رامنځته کيدونکو ســتونزو پر وړاندې د اوليه مرســتو په اړه عامه پوهاوی

**د کار توکي او کړنلاره**

د دغه مقالې په ليکنه کې له کتابتوني کړنلارې څخه اســتفاده شــوې ده او تر ډېره هڅه شــوې ده، چې وروستنی څېړنې او موندنې کومې چې په دې وروسـتيو کې تر سره شـوي وکارول شي او همدرانګه له معتبرو داخلي او خارجي معياري کتابونو او ځای ځای له انټرنېټ څخه پکې اسـتفاده شـوې ده، چې د حاملګۍ پر وخت د ميرمنو تغذيوي ستونزو څېړلو په اړه معلومات پکې راټول شوي دي.

**د حاملګۍ پر وخت د مېرمنو تعذيوي ستونزو څېړل**

هغه خواړه چې اميندوارې ميرمنې يې بايد زيات وخوري دا دي: هګۍ، ماهيان، لوبيا، د تک شـــنه خامه سبزي، ژېړ او سرو پاڼو لرونکي سابه، خواړه الوګان، طبيعي ډوډۍ، ماسته، شيدې، سره غوښه او تازه مېوې. د دغو متوازنو خوراکونو خوړل د مور روغتيا ساتي او هم يې تقويه کوي، هم يې د مناسب وزن سبب کېږي، د راتلونکي ماشوم لپاره د شيدو په جوړېدو او هم د انرژۍ په توليد کې ضرور دي. همدارنګه د ماشوم د فزيکي ودې او ذهني انکشاف لپاره حياتي ارزښت لري. البته اميندواره مور بايد د مالګې اندازه کمه کړي، خو بايد مالګه يې ايوډين لرونکې وي. همدا راز د اوسـپنې او فوليک اسـيد ګولۍ بايد اميندوارې مېرمنې له لومړۍ ورځې پيل کړي، که چېرته امکان وي، نو کولای شي چې يادې ګولۍ د اميندوارۍ څخه څه موده مخکې په استعمال پيل وکړي، ځکه دا ډېره ګټوره ده، چې د مور د بدن د اوسـپنې او فوليک اسـيد ذخاير مخکې له مخکې پوره وي. که د اميندوارۍ په لومړۍ مياشت کې مور د اوسپنې او فوليک اسيد له کمښت سره مخ وي، د ماشوم د دماغ او عصبي سيستم په جوړېدو کې داسـې زيانونه رامنځته کيدای شي، چې بيا هېڅکله بېرته نه راګرځي. مور دې د کلسـيم او ويټامين ډي د پوره کولو لپاره د شيدو محصولات او د لمر انرژي نه هېروي. مور دې د شکرې اندازه هم کمه کړي، زنک او ويټامين سي ورته ګټور دي. غوړي دې کم خو د زيتون، تخمونه او ماهي غوړي دې انتخاب کړي، پاکې اوبه په پوره اندازه ډېر اهميت لري چې خاصه توجه بايد ورته وشي [۳].

د اميندوارۍ له درېيمې مياشتې وروسته بايد مور هره ورځ ۳۵۰ او د اوومې مياشتې له پيل وروسته ۴۵۰ کيلو کالوري اضافه انرژي واخلي. د اميندوارۍ پر مهال دې هڅه وشي، چې هره ورځ ۲۵ ګرامه پروټين،

۴۵ گرامه حبوبات تر عادي وختونو اضافه واخیستل شي، اضافي غواړي، شکره، سوډیم (مالگه) او پوتاشیم ضرور نه دي. وزن او کالوري له غوښو، کبانو، چرگانو، میوو، سبو، مستو، شیدو، حبوباتو، وریجو، ډوډۍ او نورو موادو څخه اخیستل کیدای شي. امېندواره مور باید هره ورځ درې لیتره اوبه وڅښي. د پاکې هوا تنفس هم باید په منظم ژور خو ارام ډول تر سره شي. امیندوارې میندې دې هڅه وکړي، چې تر عادي حالت زیات استراحت وکړي. په امیندوارۍ کې باید د مور وزن په مناسبه اندازه زیات شي، تر څو معلومه شي چې بدن یې د ماشوم روزلو ته تیار دی او ماشوم د مور په نس کې مناسبه وده کوي. لکه چې وویل شول مور باید د امیندوارۍ په درېیمه میاشت له ۲۰۰ تر ۳۰۰ کیلو کالوري ا ضافي انرژي له خوړو څخه واخلي. دومره انرژي په ورځ کې د دوه پارچو ا ضافي وچې ډوډۍ او یو گیلاس شیدو څخه هم حاصلېږي. د مور وزن باید د امیندواري په موده کې په تدریج سره له ۱۰ څخه تر ۱۲ کیلو گرامه زیات شي. تر زېږون وروسته هم د مور وزن تر عادي حالت لوړ پاتې کېږي. باید د دغه اضافه شوي وزن د کمولو کوښښ ونه شي، ځکه همدغه ذخایر ماشوم ته د جوړولو لپاره پکارېږي [۳].

مور باید له الکولي مشروباتو، سگرټو، کا فین لرونکو څښاکونو او د ډاکتر له مشورې پرته درملو څخه پرهېز وکړي. الکول زموږ په هیواد کې عام نه دي، خو باید پوه شو چې استعمال یې د ماشوم دماغي او فزیکي ودې او په راتلونکي کې د کار حاصل ته نه جبرانېدونکي زیانونه اړوي او ودې وروسته والي سبب کېږي، د دماغ انکشاف ټکنی کوي، ذهني او سلوکي ستونزې پیدا کوي او د ماغ د نه جبرانېدونکو زیانونو سبب کېږي. د سگرټو د لوگي خطر دواړو مور او ماشوم ته تر حده زیات خطرناک دي. کافین لرونکي څښاکونه لکه، چاې او قهوه باید محدود شي. همدا راز له حیواناتو سره باید تماس کم او په ډېر احتیاط تر سره شي. د ناروغه حیواناتو له پوستکي، تنفس، وینې او مدفوعاتو څخه ځینې ناروغۍ او مضر میکروبونه انسان ته ناروغۍ لېږدولي شي[۲].

امیندواره مور باید هره میا شت د مور ما شوم د څارنې له ډاکتر یا قابلې سره مشوره وکړي، چې پوه شي د ما شوم حالت، وده او د امیندوارۍ پر مختگ سم روان دي که نه؟ دا کتنې که په میا شت کې یو ځل وي، ډېرې ښې دي، خو که هره میاشت ممکنې نه وي، نو د امیندوارۍ په ټوله موده کې باید لږ تر لږه څلور ځلې تر سره شي. تر دې مهمه خبره دا ده، چې زیږون باید په یوه روغتیایي مرکز کې د زیږون د یوه ماهر کارکوونکي تر نظارت لاندې تر سره شي. کیدای شي دا کار کوونکې ډاکتر، نرس یا روزل شوي قابله وي. هره امېندواري خطرناکه کېداي شي. دا معلومه نده چې کومه مور، په کوم ځل امیندوارۍ کې، په کوم عمر او کوم وزن کې له خطر سره مخ کیدای شي. امیندواري په مجموع کې یو ځانگړی حالت دی، ځانگړې توجه غواړي او د ماهر ولادي کارکوونکي تر نظارت لاندې زیږون یې

تر ټولو مهمه توجه ده. د امیندوارۍ پر مهال معمولاً مور له ځینو ســتونزو سره مخ کېږي، چې باید وارخطا ورته نه شي او د مقابلې لارې یې زده کړي. د سهار له خوا زړه بدوالی په ۷۰٪ امیندوارو ښځو کې رامنځته کېږي، خو په لومړیو میاشتو کې له منځه ځي. د خوړو اندازه دې کمه او د خوړلو دفعات دې زیات شي، اوبه دې ډېرې وڅښل شي او هغه مواد دې وخوړل شي چې غذایي ارزښت یې لوړ وي. قبضــیت هم له ۳۵٪ څخه تر ۴۵٪ مېرمنو کې رامنځته کېږي. علاج یې دا دی چې اوبه او فایبر لرونکي خوراکونه لکه، حبوبات وخوړل شي. پیاده ګرځېدل هم ورته ګټه لري، ځینې مېوې لکه انځر ډېره ګټه لري، بله عامه ستونزه د زړه جوشیدل دي چې په ۳۰٪ ـــ ۵۰٪ امیندوارو ښځو کې رامنځته کېږي، چاکلیټونه، مرچ، مســالې او سره کړي خوراکونه دې کم او یا ودرول شي. شـیدې څښـل، ورو ورو خوراک کول، پوره مایعات څښل، ژور خو ارام تنفس اخیستل او پوره خوب ورته ګټور دي [۵].

د امیندواري پر مهال مور ته روحي تقویه، خفیف فزیکي فعالیت لکه پیاده ګرځېدل، د درنو وزنونو له پورته کولو ډډه او ځان خوشاله ساتل هم مهم دي. په امیندوارۍ کې د وینې د لوړ فشار، اکلامپسیا ( د وینې د فشار لوړوالي + د پښو پړسوب+ په ادرار کې پروټین ) او د حمل د وخت د شکرې ناروغۍ امکان شـــته، له ډاکتر سره دوامدراه تماس او خاص پام غواړي. یوه ډېره مهمه خبره چې باید په یاد ولرو، دا ده چې د پوخ عمر د مېرمنو ناروغیو اســـاس د مور په نس کې ایښــودل کېږي. که د امیندوارۍ پر مهال د مور او ماشــوم څارنو ته جدي پام وشي، په زاړه عمر کې به د ملت زیاتره وګړي له ځنډنیو ( مزمنو ) ناروغیو لکه زیات وزن، شـکرې، لوړ فشـار، د هډوکو تکلیفونو او رواني ســتونزو څخه ژغورلي وي. د امنیدوارۍ په باب د بحث په منځ کې د زېږونونو پر مهال د وقفې په باب معلومات ورکول هم یوه مهمه موضــوع ده، چې باید پام ورته وشي. تر ۱۸ کلنۍ کم او تر ۳۵ کلنۍ زیات عمر کې امیندواره کېدل او تر څلـــور څلونو ډېر امیندواره کېدل روغتیا تـــه خطر پېښوي. د دواړو مور او ماشوم د ښې روغتیا لپاره د زیږونونو تر منځ فاصله ضروري ده، تر څلورم ځل امیندوارۍ وروسته د امیندوارۍ خطر زیاتېږي. د کورني تنظیم پلان میندو او پلرونو ته دا امکانات او معلــومات ورکوي، تر څو په ګډه سره ســـلا شي چې کله اولاد ولري، څومره اولادونه ولري، د اولادونو تر منځ څومره فا صله ورکړي او کله د اولاد زیږول بس کړي. د دې لپاره ډېرې خوندي او روغتیایي لارې شته چې د زیږونونو تر منځ فاصلې رامنځته شي او له روغتیایي کارکوونکو سره مشوره وشي [۵].

**د حاملګي په راتلونکي د تغذیې اغېزې**

کومه مور چې حاملګي له کاملې تغذیوي ذخیرې، ښه خوراکي عادتونو او له یو روغتیایي مناسب وزن سره شروع کړي، نو ډېر عالي کار تر سره کوي او د حاملګۍ له ښې پایلې څخه ډاډ حاصلوي. وروسته

کله چې هغه له مغذي غني موادو څخه ګټه اخلي خپل او د نوي زوکړې روغتيا تـــه مخکې له مخکې زمينه برابروي او هغه تنظيموي[۵].

**د حاملګۍ لپاره تياری:** اميندوارې مېرمنې بايد د حمل له پيل نه مخکې يا له لومړيو ورځو څخه د ډاکټر سره مشـــوره وکړي، ترڅو د خپل صـــحت او وضـــعيت په اړه پوه شي او د اميندوارۍ اړوند لارښـــوونې ترلاســـه کړي. د حمل په دوران کې صـــحي او متوازن غذا توکي خورا مهم دي. اميندوارې مېرمنې بايد پروټين، کلسيم، فوليک اسيد، اوســپنه او نور مهم مواد په کافي اندازه ترلاسـه کړي. د دې ټولـــو ټکو په پام کې نيولو سره، ښځې کولی شي،
يو صحي او خوندي حمل تجربه کړي [۲].

**د حمل په دوران کې د اميندوارې مېرمنې حمايتي انساج**

د حمل په دوران کې حمايتي انســاج (Supportive tissues) هغه جوړښـــتونه دي، چې د مور او ماشـــوم د پرمختګ او روغتيا لپاره د فزيکي او رواني ملاتړ په توګه عمل کوي. دا انســـاج په بدن کې مختلفې برخې لري، چې د حمل په دوران کې ځانګړې پاملرنې ته اړتيا لري. د حمل په دوران کې د اميندوارې مېرمنې رحم يو حياتي رول لوبوي. دا د جنين لپاره يو خوندي او مناســب ځای دی. د رحم د ديوالونو وده او پراختيا د جنين د وده کولو لپاره اړين دي. د رحم لپاره اړين عضلات او انساج چې له خپل طبيعي پراختيا سره مرسته کوي، په دې دوران کې د جنين وزن او پرمختګ سره سـم پراخېږي. د امينيوټيک کڅوړه يوه شـــفافه او نرم غلاف دی، چې جنين په کې ځای لري او د اوبو په بڼه د جنين د خونديتوب لپاره مرسته کوي. دا کڅوړه د جنين د حرکت کولو، د زيات فشارڅخه مخنيوی او جنين د بېلابېلو کيمياوي مادو له خطره ساتي. پلاسنټا(Placenta) د جنين د تغذيې لپاره اړين انساج دي. دا د مور د وينې جريان سره نښـــليږي او د جنين لپاره غذا، اکســيجن او نور اړين مواد برابروي. همدارنګه پلوه د جنين فا ضله مواد له بـــــدن څخه د مور بدن ته لېږدوي، ترڅو جنين سالم پاتې شي. د حمل پر مهال د جنين د وزن زياتوالی د ملا (کمر) او ټيټې برخې عضلاتو او پلو باندې فشار راوړي. د دې لپاره مېرمنې بايد د ملا درد کمولو لپاره مناســـب تمرينونه تر سره کړي او په دې اړه له ډاکټر سره لازمې مشورې وکړي [۲].

**د حمل په جريان کې تغذيوي اړتياوې**

د حاملګۍ او شـــيدو ورکولو په جريان کې د يوې ښـــځې تغذيوي اړتياوې د بل هر وخت په پرتله ډېرېږي او په دې وخت کې ځينو معينو تغذيوي اړتياوو ته اړتيا لري.

د حاملګۍ په جريان کې، د غذايي انرژۍ پر وړاندې د اړتيا لوړيدل يو له اړتياوو څخه شـــمېرل کېږي، چې د غير حامله مېندو په پرتله په حامله مېندو کې دغه اړتيا د ٪۱۵ په اندازه ډېروالي کوي. نوموړی مقدار د ورځې د kcal ۳۰۰ په اندازه دی او يوازې په دويم او درېيم درې مياشـــتو کې ورته ضرورت

لیدل کېږي، کم عمره، کم وزنه او یا کم فعالیت لرونکې میندې ممکن له فزیکي بوختیاوو سره سره ډېرې انرژۍ ته اړتیا ولري. سپارښتل شوې غذایي اړتیا Recommended Dietary) Allowance) (RDA)دا وړاندیز کوي چې د حاملګۍ په جریان کې باید د پروټین ورځني اخذ ډېر شي، د هغو کسانو له پاره چې غوښې یا حیواني منابعو څخه استفاده کوي، د نوموړې اندازې مقدار محدود دی او د حاملګۍ په وخت کې د لوړ کېفیت لرونکو پروټین د اړتیا وړ اندازه جدي پاملرنې ته اړتیا لري. په نوموړې تغذیې کې حبوبات، غله جات او تخمونه شامل دي [۲].

**د کاربوهایډریټو تر لاسه کول**

د ورځنۍ انرژۍ په اخیستلو کې باید ٪۵۰ یعنې په kcal ۲۰۰۰ انرژۍ کې kcal ۱۰۰۰ کاربوهایډریټ واخېستل شي (یا د gr ۲۵۰ په حدود کې) یا څلور پیالې شیدې چې هره پیاله د gr ۵۰ په حدودو کې کاربو هایډرېټ مهیا کوي. یوه ماڼه gr ۵ کاربو هایډر ېټ مهیا کوي او د ډوډۍ یوه ټوټه gr ۱۵ کاربوهایډریټ مهیا کوي، نو ځکه د نوموړو موادو ډېر اخذ وجود ته د کافي کاربوهایډرېټ په مهیا کولو کې لویه ونډه لري [۲].

**ویټامینونه**

ویټامینونه د حجراتو د سریع تکثر لپاره اړین دي. فولېټ او ویټامینونه بي ۱۲ د حاملګۍ په وخت کې ډېر اړین دي. نوي حجرات په جنیني ژوند کې په چټکۍ سره وده کوي په دې حالت کې د مور د سرو حجرو شمېر ډېرېږي. بناً د سپارښتل شوې غذایي اړتیا (RDA) په حاملګۍ کې د فولېټ د اخذ له پاره دوه چنده کېږي، تر څو د ورځې تر ۴۰۰ مایکرو ګرامو پورې واخېستل شي. په حاملګۍ کې د فولېټ کمښت له یو شمېر مورزادي نقایصو سره یو ځای وي، چې د عصبي ټیوب د نقایصو په نامه یادېږي، ځکه چې د عصبي ټیوب نقایص د حاملګۍ په مقدمو مراحلو کې واقع کېږي.

داسې سپارښتنه کېږي چې یوه حامله مور باید د اومېندوارۍ په مرحله کې د ورځې تر ۴۰۰ مایکروګرامو پورې فولېټ واخلي. د فولېټ روټین توصیه نه لیدل کېږي. مګر که یوه حامله مور داسې معلومه شي، چې د تغذیې له لارې په کافي مقدار سره فولېټ نه ترلاسه کوي، باید د فولېټ مستحضرات د ورځې د ۳۰۰ مایکرو ګرامو په اندازه ورته توصیه شي، د هغو ښځو لپاره چې له نباتي رژیم څخه ګټه اخلي د ویټامین بي۱۲ توصیه هم اړینه ده [۳].

**د توصیه شوي فولېټ (Folate) اخیستل**

د فولېټ سپارښتل شوې غذایي اړتیا (RDA) په حاملګۍ کې ۴۰۰ microgram/day دي.

هغه غذاګانې چې د فولېټ لرونکي دي په لاندې ډول یې نومونه لیکلی شو:

۱ . شنه سبزیجات

۲. لوبیا او باقلي

۳. ځګیر
۴. د نارنج جوس
۵. نور سبزیجات
٦. غله جات
۷. حبوبات
۸. خسته باب

**د حمل په دوران کې د وزن اخېستل**

په حاملګۍ کې د وزن اخېستلو ایډیال (Ideal) نمونه په لومړیو دریو میاشتو کې د ۴- ۲ پاونډو په حدودو کې ده او هره اونۍ وروسته له زېږون څخه د حاملګۍ په وخت کې د اخېستل شوي، وزن یو پاونډ کمیږي او مقادیر یې په هغه وخت کې چې د وینې حجم نارمل ته ورسېږي، د حاملګۍ د وخت جمع شوي مایعات هم ضایع کېږي. که یوه مور د حمل په لومړیو مراحلو کې له متوقعه وزن څخه ډېر وزن اخلي، هغه باید هڅه ونه کړي چې په وروستیو اونیو کې رژیم واخلي. که څه هم د ناڅاپي بې حده وزن اخېستل یوه د خطر علامه ده، چې ممکن د حمل له امله د ټیټ فشار ښکارندوی وي. د حاملګۍ په دوران کې وزن اخېستل مستقیماً د نوي زوکړې ماشوم په وزن پورې اړه لري. که یوې مور د نظر وړ وزن نه وي اخستی، نو ډېر امکان شتون لري، چې کم وزنه ماشوم نړۍ ته راوړي [۳].

**د حاملګۍ په جریان کې د وزن اخېستلو اجزاوې**

| پرمختیا | وزن اخېستل (پاونډ) |
|---|---|
| د زېږون په وخت کې نوي زوکړې | ۱/۲-۷ |
| پلاسنتا | ۱/۲-۱ |
| د پلاسنتا د حمایې له پاره د مور د وینې د حجم ډېروالی | ۴ |
| د مور د بدن د مایعاتو ډېروالی | ۴ |
| د حمایتي عضلاتو او درحم د اندازې ډېروالی | ۲ |
| د مور د ثدیو (تیونو) د اندازې ډېروالی | ۲ |
| مایعات چې نوي زوکړې یې په امینوټیک کېسې کې احاطه کړي | ۲ |
| د مورني شحمو ذخایر | ۷ |
| مجموعاً | ۳۰ |

**د حمل په جریان کې عمده ستونزې**

**د حاملګۍ شکر** (Gestational diabetes)

حاملګي په ځینو مېندو کې ډیابت ته شدت ورکوي، پلاسنتا د انسولین هورمون کاري طریقې ته تغیر ورکوي، چې نوموړي حالت ته د حاملګۍ شکر(Gestational (diabetes وایي. د وینې ګلوکوز د حاملګۍ په جریان کې تغیر کوي او وروسته له زېږون څخه نارمل حالت ته راځي. که وړ اهتمامات ورته ونه نیول شي، ممکن د ناروغۍ او د نوي زوکړي د مرګ سبب شي. هغه مېندې چې په ډیابت اخته وي، دې ته اړتیا لري. هغه غذاګانې چې له مغلق کاربوهایډریټونو څخه غني وي، لکه حبوبات، سبزیجات او غله جاتو څخه استفاده وکړي او له خوږو شیانو څخه ډډه وکړي، د پروټینونو اخذ هم اړین او لازمې دي. امیندواره مېرمن کولای شي، چې انسولین بدن ته د پیچکاریو له لارې ترزیق کړي، تر څو د وینې ګلوکوز نارمل حد ته ورسېږي[۳].

**د وینې لوړ فشار** (Hypertension)

د وینې لوړ فشار ممکن په حاملګۍ کې د مور د مرګ، د نوي زوکړې د مرګ، د نمو او ودې ځنډ، د زړه د رګونو ستونزو او نورو مورزادي نقایصو سبب شي. مخکې له زېږون څخه څارنې عبارت دي له: د حامله مېندو د وینې د فشار متداوم کنټرول او د وینې د لوړ فشار د شتون په صورت کې د عاجلې درملنې شروع کول. د درملو له لارې درملنه لازمه ده، د مالګې محدودول د درملنې جز نه دی، تر څو چې ثابته شوې نه وي، چې پښتورګي د سوډیم په نارمل ساتلو کې ناکام دي تر هغې دې مېندو ته په نارمل ډول سوډیم توصیه شي [۱].

**د حمل په وخت کې د ښځو سره تړلې جدي طبي حالتونه**

(Eclampsia and Preclampsia)

د امیندوارۍ په دویمې نیمایي کې د یو شمېر امېندوارو مېرمنو د وینې لوړ فشار پورته کیږي او وروسته نارمل حد ته بېرته راښکته کیږي او دا فشار د امیندوارۍ له امله د لوړ فشار (hyprtention PIH (Pregnancy Induced په نامه يادېږي.

PIH یو معمول طبي اختلاط دي، چې په حاملګۍ کې لیدل کېږي او ممکن د پریکلامپسیا د وقوع له پاره یو سګنال وي. نوموړي حالت کې نه یوازې لوړ فشار شتون لري، بلکې پروټین یوریا او ناراحتي پیدا کول هم ورسره یو ځای وي. په PIH کې موجوده ناراحتي یوه عمومي ناراحتي ده چې له موضعي ناراحتي یا د مایعاتو له احتباس څخه چې ښځې یې په نارمل ډول د حاملګۍ په جریان کې

تجربه کوي توپیرېږي. پریکلامپسیا تقریباً د بدن ټول غړي اغېزمنوي، دوراني سېستم، ځیگر، پښتورگي او دماغ که ناروغي پرمختگ وکړي او ناروغ له اختلاج سره یو ځای ولیدل شي، نو باید زر تر زره له ډاکټر سره د درملنې په پار مشوره وکړي [۱].

**سهارنۍ ناروغي** (Morning sickness)

د توضیح شویو حالاتو بر خلاف که د زړه بدوالی په سهار کې شتون ولري او نور په ټولو واقعاتو کې روغ وي، اما دا حالات د یو شمېر مېرمنو له پاره تشویش کوونکي وي. نوموړی آفت د هورموني تغیراتو له امله چې د حاملگۍ په لومړیو مرحلو کې واقع کېږي، چې له خفیف زړه بدېدو تر شدید زړه بدوالی پورې پیدا کوي او له نیمایي څخه زیاتې مېندې پرې اخته کېږي. له کاربوهایډرېټ څخه غني مغذي مواد لکه وچه ډوډۍ او یا سره کړي ډوډۍ شاید تر ډېره بریده مرسته وکړي. هغه مغذي مواد چې د ډېر شحم لرونکي وي، نوموړی حالت نور هم بدتر وي. په شدیدو استفراقاتو کې، هره غذا چې ناروغ ته د تحمل وړ او زړه راښکونکي وي، باید وخوړل شي، تر څو د وزن له ضیاع څخه ډډه وشي. د ډیهایډرېشن د مخنیوي له پاره کولای شو له وریدي مایعاتو او یا له (Total Parenteral TPN Nutrition) (هغه درملنه ده چې د ناروغانو لپاره چې په نارمله توگه خوراک نه شي کولی، د وینې له لارې د بشپړ تغذیې لپاره کارول کېږي) څخه گټه واخلو.

**د زړه بدوالي او استفراقاتو د کنټرول لپاره کلیدي ټکي**

۱. مکرر او په کم مقدار سره غذا خوړل.
۲. له تحریکوونکو غذاگانو څخه چې بوی یې د زړه د بدېدو سبب گرځي، ډډه وشي.
۳. هر شخص توپیر لري، دا باید کنټرول کړي، چې څه شی وخوري او څه شی ستاسې زړه بدوي او څه شی تاسو ته ښه دي.
۴. د ویټامین او اوسپنې مستحضرات په ډکه گېډه یا هر کله چې تاسې د سالمیت احساس وکړ، وخورئ [۵].

**د زړه سوځېدل** (Heart burn)

په عامیانه اصطلاح کې زړه سوزېدل، د مرۍ په تختاني برخه کې د سوځېدو لـــــه احساس څخه عبارت دي، چې په حاملگۍ کې عامه مسله ده. دا چې د ودې په حال کې جنین د حامله مور په معده باندې فشار واردوي، ممکن اسید بېرته تگ وکړي، چې په نتیجه کې حامله مور په ستوني او د سینې د هډوکي شاته د سوزېدو احساس کوي. د زړه سوځېدل د کمولو له پاره کلیدي ټکي عبارت دي له:

۱. د غذا خوړل په کم مقدار ولې په مکرر ډول سره
۲. د غذایي اوقاتو په منځ کې د ډېرو اوبو څښل
۳. له غوړینو او مساله لرونکو غذاگانو څخه ډډه کول
۴. له غذا خوړلو څخه وروسته تر یو ساعت پورې له استراحت کولو څخه ډډه کول

۵. له تمرين کولو څخه دوه ساعته مخکې له غذا اخېستلو څخه ډډه کول [۲].

**قبضيت** (Consutipation)

څرنګه چې د حاملګۍ په وخت کې هورموني تغيرات د ودې په حال کې د عضــلاتو د ټون د تغير باعث کېږي او په کولمو باندې د فشار د واريدېد لو سبب کېږي، چې په پای کې حامله مور له قبضيت څخه شکايت کوي. له فايبر څخه غني رژيم، تمرين او په کافي مقدار د مايعاتو اخېستل د دې ستونزې په حل کې مرسته کوي. همدارنګه د تشناب نيولو په صورت کې د هغې فوري دفع کول هم مرستندويه دي. مسهلات يا لګزاتيف يا د قبضيت ضد درمل يوازې د ډاکټر په مشورې سره توصيه کېږي، بايد له منرال لرونکو غوړو څخه اســتفاده ونشيــ، ځکه چې په شــحمو کې د منحلو ويټامينونو د له منځه تللو سبب ګرځي[۲].

**غذايي انرژي**

يوه شيدې ورکوونکي مور د ورځي د ۲۵ اونس په اندازه (ډېر يا لږ) شيدې تـوليدوي. د شــيدو توليد د نوي زوکړې د غوښــتني له مخې صــورت نيسيــ. دغه مقدار شــيدې په ورځ کې د ۵۲۵kcal په اندازه انرژي توليدوي او مور ډېرې انرژۍ ته اړتيا لري، تر څو دغه مقدار انرژي توليد کړي.

د يوې شيدې ورکوونکې مور د اړتيا وړ انرژۍ مقدار په لومړيو شپږو مياشتو کې له عادي ورځنۍ اړتيا څخه ٦۴۰ kcal په اندازه لوړ دي. د تغذيې کمېټه ۵۰۰ kcal له اضافه شوي غذا څخه توصيه کوي او نور پاتې له جمع شوؤ ذخايرو څخه چې د حاملګۍ په وخت کې صورت نيسي په دې موخه د مور په بدن کې په مصرف رسېږي [۴].

**د وزن بايلل**

د شيدو ورکولو دوره د يوې مور له پاره طبيعي دوره ده، تر څو د حاملګۍ په وخت کې اخېستل شوي شــحميات له لاســه ورکړي. حتی که د انرژۍ آخذ يې له نارمل څخه لوړ هم وي. مطالعو ښــودلې ده، چې د مور له ثديو څخه شيدې ورکونه وروسته له زېږون څخه په لومړۍ مياشت کې د فورموليز شيدو ورکولو په پرتله د مور د وزن په بايللو کې ډېره ونډه اخلي او د نوموړي حالت له امله د مور وزن سريع او چټک ضايع کېږي [۴].

**حمايتي چمتو شوي مواد** (Preparations)

ډېرې شــيدې ورکوونکي مېرمنې کولای شي، ټول د ضرورت وړ مغذي مواد له يو رژيم څخه تر لاســه کړي. د بېلګې په ډول ويټامينونه او منرالونه که يوه مور ناکافي رژيم له لاســه ورکړي، چې د هغې د بدن د اړتيا مطابق مغذي مواد ونه لري. نوموړې ته له مغذي موادو څخه غني رژيم بايد توصــيه شي مېندې کولای شي، چې د پروټين، کاربوهايډرېټ، شــحمياتو، فولېټ او نورو منرالونو لرونکې دي، توليد کړي حتی که ذخيره يې محدوده هم وي. د شيدو غذايي کېفيت د مور د بدن له غذايي ذخايرو

څخه اماده کېږي. د مور په شـیدو کې هغه مغذي مواد چې د ناکافي غذايي رژیم د آخذ له کبله د کمبود سره مخامخ کیږي، له ویټامین A,B12,B6 او D څخه عبارت دي [۴].

**اوبه**

د مخکیني تصور بر خلاف، د ډېرو اوبو څښل د دې باعث نه کېږي، چې په مېرمنو کې د شیدو تولید ډېر شي، هېڅ وخت شـیدې ورکوونکي مېرمنې د ورځې نه شي کولای چې تر دوو لېترو پورې اوبه واخلي، تر څو ځان له ډیهایدرېشن څخه وژغوري. د کافي مایعاتو د اخذ د اطمینان له پاره ښه لاره دا ده، چې کله هر وخت ماشوم ته شیدې ورکوي، یو ګیلاس شیدې، جوس او یا نور مایعات د واخلي او یا هم د هر ځل غذا خوړلو په وخت کې کافي مایعات وڅښي [۴].

**ځانګړي غذاګانې**

ځینې غذاګانې لکه پیاز او اوږه چې تېزه ذایقه لري، ممکن د شـیدو ذایقې او خوند ته تغیر ورکړي . د شـیدو په خوند کې د یو ناڅاپي تغیر له امله ممکن نوي زوکړې د شـیدو له خوړلو څخه ډډه وکړي. نوي زوکړې چې د ځانګړو غذاګانو په مقابل کې لکه پروټین او د غوا د شیدو پر وړاندې حساس دي. ممکن د نوموړو غذاګانو په علاوه کولو سره ما شوم د ناراحتۍ احساس وکړي. ډېرې شیدې ورکوونکي باید د غوا له شیدو څخه استفاده وکړي، ځکه چې هم مور او هم ماشوم ته ګټور دي [۴].

**پایله**

د امیندوارۍ او شـیدو ورکولو په جریان کې د یوې ښـځې تغذیوي اړتیاوې د بل هر وخت په پرتله ډېرېږي او د امیندوارۍ په وخت کې ځینو اړینو تغذیوي توکو ته اړتیا لري. د امیندوارۍ په جریان کې د غذایي انرژۍ د اخیستلو لپاره د امیندوارو مېرمنو د بدن د اړتیا لوړېدل یو له مهمو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي، چې د غیر حامله مېرمنو په پرتله په امیندوارو مېرمنو کې دغه اړتیا د ٪۱۵ په اندازه ډېروالی کوي. نوموړی مقدار د ورځې د kcal ۳۰۰ په اندازه دی او یوازې په دویمه او دریمه میاشـــت کې ورته ضرورت لیدل کېږي، کم عمره، کم وزنه او یا کم فعالیت لرونکي میندې ممکن له فزیکي بوختیاوو سره سره ډېرې انرژۍ ته اړتیا ولري. د دې له پاره چې د صـحت مندې امیندوارې مېرمنې لپاره ولې د تغذیوي حالت دومره اغېزمن دی، یو دلیل یې دا دی، چې آیا مور د دې وړتیا لري، چې حمایتي یا تقویتي انساجو ته پرمختیا ورکړي؟ لکه پلاسنتا، امنیوټیک کیسه او همدارنګه رحم د حمل په جریان او یا مخکې له حمل څخه خوارځواکي، نوموړي انســاج له کاملې پرمختیا څخه وروســته ســاتي. امیندواره مېرمن باید هره میاشــت د ماشـوم د څارنې لپاره د ډاکټر یا قابلې سره مشـوره وکړي، چې پوه شي د ما شوم حالت، وده او د امیندوارۍ پرمختګ سم روان دي که نه؟ دا کتنې که په میا شت کې یو ځل وي، ډېرې ښـې دي، خو که هره میاشـت ممکنې نه وي، نو د امیندوارۍ په ټوله موده کې باید لږ تر لږه څلور ځلې تر سره شي. تر دې مهمه خبره دا ده چې زیږون باید په یوه روغتیایي مرکز کې د زیږون د یوه ماهر کار کوونکي تر نظارت لانــدې تر سره شي. کیدای شي دا کار کوونکی ډاکټر، نرس

یا روزل شوي قابله وي. هره امېندواري خطـــرناکه کېداي شي. دا معلومه نه ده چې کومه مور په کوم ځل امیندواری کې، په کوم عمر او کوم وزن کې له خطر سره مخ کیدای شي.

**وړاندیزونه**

۱ـ هره امیندواره میرمن بایـــــد د حاملګۍ پر وخت د ښـې، مناسـبې، سـالمې او مکملې غذا څخه استفاده وکړي.

۲ـ امیندوارې میرمن ته په کار ده چې مخکې له امیندوارۍ څخه له ډاکټر او یا قابلې سره د خپل وجود د صحت په اړه په پرلپسې توګه لیدنه تر سره کړي .

۳ـ امیندواره میرمن باید له زیات شحم لرونکو او زیاتو پروټیني خوراکونو څخه استفاده ونه کړي.

٤ـ امیندواره میرمن باید خپل غذایي اړتیا پر وخت پوره کړي او د سختو کارونو څخه ډډه وکړي.

۵ـ امیندواره میرمن بایـــد د زیاتو تروشي او مالګینو خوراکونو څخه ګټه پورته نه کړي، ځکه کیدای شي، چې یاد غذایي توکي د امیندوارې میرمن د وینې په فشـــار اغېزه وکړي او ماشـــوم ته یې ضربه ورسېږي.

**اخځلیکونه**


۱ـ احمدزی، ګلاب . (۱۳۹۳). اروایپوهنه، میوند خپرندویه ټولنې مطبعه کابل. مخ (۵۵ـ ٦٧).

۲ـ خاوري، غلام د ستګیر. (۱۳۷٤). مبادي علم جنتیک ، د ا سلامي پوهنتون له خپرونو څخه، پېښور. مخ (۲۲-١٦).

۳ـ خاورین ، غلام دســتګیر. (۱۳۷۸). عمومي بیولوژي، د ســاپي د پښــتو څېړنو او پراختیا مرکز ځانګه پېښور. مخ (۷۷ـ٨٦).

۴ـ زلمی، صنیع الله. (۱۳۹٦). اناتومي او فزیالوژي، ګودر کتاب پلورنځی، ننګرهار. مخ (۷۷ـ ۹٦)

۵ـ شینواری، محمدابراهیم.( ۱۳۹٤). د ژونـــد روغتیایي لارې، دانش خپروندویه ټولنه، کابل. مخ (٦١ ـ ۷۹).

٦ـــ عظیمي، محمدعظیم. (۱۳۹۸). د طبي بیو شیمي ا سا سات، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد. مخ (۴۴ـ ۵۲).

۷ـ منصور، زیارت ګل. ( ۱۳۹۵) عمومي بیولوژي، زیار خپرندویه ټولنه، جلال آباد. مخ (۳۲ـ ۴۴)

۸ـویاړ مومند، جانداد احمد، (ژباړه) دانش، عباس(۱۳۹٦). تغذیه،کلاسیک خپروندویه ټولنه، ننګرهار. مخ (۸۸ـ ۹۵).

# د وزې او غوا د شېدو پرتلنه

پوهنمل خیبر مومند، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی د حیواني علومو څانګه.
برېښنالیک: **Khybermomand2010@gmail.com**

**لنډیز**

شیدې یوه سپین رنګه مایع ماده ده، چې په خپل ترکیب کی د مختلفو غذایي موادو په لرلو سره تقریباً یوه مکمله بلانس شوې غذا ګڼل کېږي او د انسان بدن ورځخه په ښه ډول استفاد کولی شي. څرنګه چې زموږ په ګران هیواد کې زیاتره غریبي کورنۍ د اوزې د شېدو څخه استفاده کوي خو ولي د شېدو غذایې ترکیب یې نسبت نورو حیواناتو لکه غواګانو ته، نه دی مطالعه شوې، چې غذایې ارزښت باید مقایسه او وڅېړل شي. د وزې شیدې د غوا او مور د شېدو په پرتله په لوړ ه کچه کلسیم، مګنیزیم او پوتاشیم لري، خو د ویټامین ډي، ویټامین B12 او فولیت اندازه یې کمه ده. د وزې د شېدو د غوړو د هضم قابلیت د غواګانو په نسبت لوړ دی. ځکه چې د وزې د شېدو د غوړو ذرې کوچنۍ او پراخه سطحه لري، په کولمو کې د لایپز انزایم کولی شي چې غوړ په ډېرې چټکی سره تر حملې لاندې ونیسي. د دې څېړنې موخه د وزې د شېدو اهمیت او ارزښت په ګوته کول دي، ځکه چې وزه د غریب سړي د غوا په توګه پیژندل کیږي او د غریبو کلیوالو په ټولنیز اقتصادي جوړښت کې حیاتي رول لوبوي. په دې څېړنه کې د اووزې او غوا د شېدو ۴۰ نمونې تر مطالعي لاندې نیول شوې او د دواړو حیواناتو د شېدو په راټولي شویو نمونو مختلفي کیمیاوي عملي او میتودونه لکه د شېدو د نمونو کیمیاوي تحلیل دISI ستندرد میتودونو، دشېدو د غوړو د کیمیاوي تجزیي په موخه د ګربر میتود، د شېدو پروتین د جیلدال د میتود په اساس ترسره شوي او ارزښت یې په ګوته شوی دی. همدارنګه په دې څېړنه کې د وزې د شېدو او د غوا د شېدو ترمنځ غذایي او طبي ارزښت د T-Test په اساس پرتله شوی او په پایله کې روښانه شوي، چې د وزې او غوا د شېدو په غذایي ارزښت کې د پام وړ توپیر شتون نه لري، خو د وزې په شېدو کې د شحمو ګلوبولونه کوچني دي، چې د وزې د شېدو د هضم قابلیت او غذایي ارزښت لوړوي. موږ په دې څېړنه کې یواځې د اوزې شېدې د غوا د شیدو سره پرتله کړي، مګر په اوسني بازارونو کې د غوا شیدو ترڅنګ د نورو حیواناتو لکه میښو شېدې هم پیدا کېږي؛ نو باید د هغوی ترکیب هم مطالعه شي او د اوزو د شېدو سره پرتله شي او ترکیبي جوړښت او ارزښت یې خلکو ته ورپیژندل شي.

**کلیدي ټکي:** پروتین، غریب سړي غوا، غوړ، فولیټ، لکتوز، وزې شیدې.

**سريزه**

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ، الحمد لله رب العالمين وا لصلوة و السلام على سيدالمرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.**

**أما بعد:** وزې د کورنيو څارويو په صنعت کې د محصولاتو يوه ارزښتمنه برخه جوړوي او د غريبو کليوالو په ټولنيز اقتصادي جوړښت کې حياتي رول لوبوي. په نړيواله کچه د وزو شمير له نظره هندوستان له چين وروسته دوهم ځای لري او نړۍ 15% وزې لري چې شمير يې تقريباً 120ميليونو ته رسيږي(1). سره له دې چې په هندوستان کې د وزو 70% نسلونه، نه دي پيژندل شوي او غوښين نسلونه ګڼل کيږي، خو بيا هم 20 بيلابيل غوره شيدې ورکونکي نسلونه لري چې له دې ډلې څخه يو شمير نسلونه لکه سورتي، بارباري، جمناپوري او جاخرانا ښه په وړ اندازه شيدې توليدوي. په هندوستان کې وزې د 2.76 ميليونو ټنو په شاوخوا کې شيدې توليدوي چې د نړيوال توليد 22.28% کيږي او د هيواد د شېدو د مجموعي توليد3% تشکيلوي(4).

وزې په نړيواله کچه دکلنۍ عرضه کيدونکي شېدو تقريبا 2% شېدې توليدوي[8].شېدې ورکونکې وزې د شېدو ورکونې لس مياشتنۍ دورې په لومړيو کې (په عمومي توګه په دريمه يا څلورمه دوره د شېدو ورکولو کې) په منځنۍ توګه هره ورځ د 6 تر 8 پونډه( 2.7 څخه تر3.6 ليتره) شيدې توليدوي (تقريباً 3 څخه تر 4 امريکايي کوارت (2.7څخه تر3.6 ليتره)، د لنګون څخه وروسته د شېدو توليد لوړ وي او په تدريجي توګه د شېدو ورکولو د مرحلې تر پايه کميږي.عموماً شيدې يې په منځنۍ ډول 3.5% غوړ لري[13].

## مواد او کړنلاره (Material and method)

مواد: (a) شيدې: شېدې د بېلابېلو خصوصي فارمونو څخه په څلوېښتو تعقيم شوو بوتلونو کې(د شلو غواګانو او شلو اوزو څخه) د خامو شېدو سمپلونه راټول شوي دي، چې اد جلال اباد ښار کې د ختيځ لبنياتو په فابريکي ته د راوړلو وروسته به هره نمونه د 20 ملي ليتره اخيستل کيدله او مربوطه ازمايښتونه او عملي پړې ترسره شوي دي.

**د تحليل طريقه:** (a) کيمياوي تحليل: د شېدو د سمپلونو کيمياوي تحليل دISI ستندرد ميتودونو په اساس شوی. د شېدو د غوړو د کيمياوي تجزيي په موخه د ګربر ميتود په کار وړل شوی دی IS (1224-1958. د نمونو د شېدو پروتين د جيلدال ميتود په واسطه تخمين شوی (5). لکتوز د Fehling solution په وسيله تخمين شوی [6].د pH قيمت د ډيجيټل پي ايچ ميتر د استعمال په وسيله اندازه شوی دی (Labtronics Model No. LT11). تيزابيت د لکتيک اسيد د فيصدۍ په

اساس د تيتريشن ميتود په وسيله محاسبه شوی(6). پورتني ټول ارقام د MilkoScan په واسطه د دويم ځل له پاره ارزيابي شوي دي (FT 120).

(b) احصايوي تحليل: ترلاسه شوې Data احصايوي تحليلونه د SPSS سافټوير د T-Test میتود په کارولو سره په ګوته شوی دی. د وسطونو تر منځ ارزښت لرونکی توپیر هم محاسبه شوی دی.

**پايله او مناقشه:** دا څېړنه په ګوته کوي چې د غوا شيدې د 3.79% په شاوخوا کې غوړ لري په داسې حال کې چې د وزې په شېدو کې غوړ3.73 فيصده دي. د غوا او وزې د شېدو پروټين په ترتيب سره د 2.98 او 3.02% دي ،د غوا او وزې په شېدو کې لکتوز هم په ترتيب سره 4.55%او 4.45% دی؛ نو په همدې اساس د غوا او وزې د شېدو په ترکيب کې کوم د پام وړ توپير، نه په سترګو کيږي خو بيا هم مختلفې څيړنې دا په ګوته کوي چې د وزې شيدې د خپلو غوړو د ذراتو د سايز او په پروټينو کې د امينو اسيدونو د ډولونو له کبله، غوره او په اسانی سره هضميږي.

جی. ایم. جاندل د وزو او ميږو د شېدو فزيکي ـ کيمياوي، طبي، غذايي، بيولوژيکي، راديواکټيويټي او معافيتي ځانګړنو توپيرونه څيړلي. د وزې شېدې د 12 څخه تر 18% په شاوخوا کې وچ/جامد مواد لري چې د دې جامدو موادو له جملې څخه د 3 نه تر 4.5 فيصده پروټين تشکيلوي[7].

د وزې د شېدو د غوړو د هضم قابليت د غواګانو په نسبت لوړ دی. ځکه چې د وزې د شېدو د غوړو ذرې کوچنۍ او پراخه سطحه لري،په کولمو د لايپز انزايم کولی شي چې غوړ په ډېرې تيزۍ سره تر حملې لاندې ونيسي.په هر حال، د وزې د شېدو 20% شحمي اسيدونه د لنډ ځنځير لرونکو شحمي اسيدونو له ډلې څخه دي(C4:O to C12:O) په داسې حال کې چې د غوا د شېدو شحم د 10-20% په دې ډله کې شامل دي. لايپيز د لنډ ځنځير لرونکو شحمي اسيدونو د ester په رابطو باندې چټکه حمله کوي، چې دا توپيرونه د وزو د شېدو د شحمياتو په چټک هضم مرسته کولی شي[6].

د وزې د شېدو پروټينونه ډېر په اسانۍ سره هضميږي او د جوړونکو امينو اسيدونو د جذب مؤثريت يې د غوا د شېدو د امينو اسيدونو په پرتله لوړ دی[2].

د غوا او وزې د شېدو د غذايي ارزښت د معلوملو له پاره د Wistar نارينه موږکانو په دوو ګروپونو باندې چې تازه د شېدو څخه جلا شوي ؤ تر ميتابوليزمي څيړنې صورت وموند، تــر څـــو د وزوې او غوا د شېدو د پروټينو غذايي ارزښت په ګوته شي. د دواړو ګـــروپونو تر منځ د غذا په هضـــم، د ودې په ســـرعت او د پروټينو د مـــؤثريت په تناســب کې د پام وړ ارزښـــت لرونکـــی توپير شتون نه درلود($P > 0.05$). که څه هم، په هغه ګروپ کې چې د وزې شېدو د پروټينو غذايي رژيم کې ؤ،د نايتروجن د هضم قابليت او د غذايي رژيم تعادل يې ډېر لوړ ؤ($P < 0.05$) [11]؛ نو په همدې اساس

اِي راموس مورالس او ملګرو يې په دې مقاله کې داپه ګوته کړه چې د وزو د شېدو د پروټينو غذايي ارزښت د غوا د شېدو د پروټينو په پرتله لوړ دی [10].
مايورو فيسبرګ او ملګرو يې د تعديل شوي پروټين او د شحمياتو د پروفايل په اساس د اوو کالو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو په صحت او تغذيوي حالت باندې د وزې د شېدو د ورځيني خوړلو تأثير، ارزيابي او په ګوته کړ.په هغه ماشومانو کې چې دMFGM او GM د ټريټمينټونو لاندې ؤ، د نورو ماشومانو په پرتله يې د وزن اخيستو کې د پام وړ زياتوالی وليدل شو(په ترتيب سره، 6.44±3.54% او 6.46±5.08% ).د دې تر څنګ د MFGM په وسيله د ټريټ شوو ماشومانو هيموګلوبين له 11.71±1.03 g/dLڅخه تر 12.29±0.43 g/dL(p=0.023) هم زيات شو. په هغه ماشومانو کې چې د وزو د شېدو په وسيله تغذيه شوي ؤ په وينه کې يې د سرو کروياتو زياتوالی هم په سترګو شو. دMFG ټريټمينټ د هيماتولوژيکي پاراميترونو د انکشاف په نظر کې نيولو سره د وزو د عادي شېدو غوره بديل ګڼل شوی دی [3].
د وزو او غوا د شېدو ترمنځ ممکنه توپيرونه، د وزو د پروسس شوو شېدو او محصولاتو اهميت او ګټورتوب د اومو هيوکپيهاي په واسطه وځېړل شو[12]. د وزې د شېدو تيزابيت د غوا په نسبت يو څه کم دی، د مثال په توګه pH6.4 د pH 6.7 په پرتله. د وزې د شېدو ځلور عمده ترکيبي اجزاوې د لکتوز، شحم، نايتروجن لرونکي مرکبات او منرالونو څخه عبارت دي. د غوا په شېدو کې هم نوموړې ترکيبي اجزاوې په ورته توګه شتون لري. په داسې حال کې چې د وزې شيدې په زياته اندازه کوچنې شحمي ګلوبولونه لري، د مثال په ډول د 1.5ملي متر څخه کوچني ګلوبولونه. د نوموړوکوچنيو ګلوبولونو سلنه د غوا د شېدو په پرتله، په ترتيب سره 28 او 10 ده. له دې څخه دا په ګوته کيږي چې د وزې شېدو د غوا دشېدو په پرتله په ښه توګه هضميږي.نو په همدې اساس، د وزې د شېدو مصرفول د لويانو او ودې په حال کې ماشومانو له پاره ډېرې ګټورې دي. د وزو د شېدو پروسس کول د شېدو غذايي ارزښت لوړوي او ساتي يې[9].

**جدولونه:**

**۱ جدول:** د مختلفو شېدو اساسي اجزاوې (منځنۍ اندازه په 100ګرامو کې) [12]

| اساسي اجزاوې | مېږه ( اوزه) | غوا |
|---|---|---|
| شحم (g) | 3.8 | 3.6 |
| پروټين (g) | 3.5 | 3.3 |
| لکتوز (g) | 4.1 | 4.6 |
| ايره (g) | 0.8 | 0.7 |
| ټول وچ مواد (g) | 12.2 | 12.3 |
| انرژي | 70 | 69 |

۲ جدول: د شېدو ترکیبي اجزاوې، په 100 گرامو کې [13]

| اساسي اجزاوې | واحد | غوا | میره (اوزه) |
|---|---|---|---|
| اوبه | G | 87.8 | 88.9 |
| پروتین | G | 3.2 | 3.1 |
| شحم | G | 3.9 | 3.5 |
| کاربوهایدریت | G | 4.8 | 4.4 |
| انرژي | Kcal | 66 | 60 |
| انرژي | kJ | 275 | 253 |
| شکرې (لکتوز) | G | 4.8 | 4.4 |
| کلوسترول | Mg | 14 | 10 |
| کلسیم | IU | 120 | 100 |
| مشبوع شحمي تیزابونه | G | 2.4 | 2.3 |
| یوقیمته غیر مشبوع شحمي تیزابونه | G | 1.1 | 0.8 |
| څو قیمته غیر مشبوع شحمي تیزابونه | G | 0.1 | 0.1 |

دا ترکیب د نژاد، حیوان او د شېدو ورکولو د دورې په اساس فرق کوي.

۳ جدول: د غوا او وزې د شېدو د نمونو کیمیاوي ترکیب (٪)

| ترکیبي جز | د غوا د شېدو وسط ± SD | د وزې د شېدو وسط ±SD |
|---|---|---|
| شحم | 3.79 ± 0.202245 | 3.73 ± 1.972332 |
| T.P. | 2.98 ± 0.373432 | 3.02 ± 0.590274 |
| لکتوز | 4.55 ± 0.72112 | 4.45 ± 0.519626 |

۴ جدول: د غوا او وزې د شېدو د شحم T-Test

| پارامیتر | شحم | |
|---|---|---|
| د شېدو منبع | غوا | وزه |
| د نمونو شمیر | 20 | 20 |
| Min-Max | 3.33 – 4.09 | 1.17_3.92 |
| اوسط | 3.79 | 3.73 |
| S.D. | 0.202245 | 1.972332 |
| مشترکSD | 0.454857 | |
| T Value | 0.118719 | |

Min =اصغري، Max= اعظمي، SD=سټنډرډ ډيويژن

T>1.96 Significant, T <1.96 Non-Significant

5. جدول: د غوا او وزې د شېدو د پروتين T-Tes

| پارامیتر | پروتین | |
|---|---|---|
| د شېدو منبع | غوا | وزه |
| د نمونو شمير | 20 | 20 |
| Min-Max | 2.2 – 3.57 | 2.10 – 4.33 |
| وسط | 2.9815 | 3.0215 |
| S.D. | 0.373432 | 0.590274 |
| مشترکSD | 0.160242 | |
| T Value | 0.249619 | |

Min =اصغري، Max= اعظمي، SD=سټنډرډ ډيويژن

T>1.96 Significant, T <1.96 Non-Significant

٦. جدول: د غوا او د وزې د شېدو د لکتوز T-Tes

| پارامیتر | لکتوز | |
|---|---|---|
| د شېدو منبع | غوا | وزه |
| دنمونوشمير | 20 | 20 |
| Min-Max | 2.2 – 3.57 | 2.90 – 5.19 |
| وسط | 4.5545 | 4.451501 |
| S.D. | 0.721121 | 0.519626 |
| مشترکSD | 0.203913 | |
| T Value | 0.505112 | |

Min =اصغري، Max= اعظمي، SD=سټنډرډ ډيويژن

T>1.96 Significant, T <1.96 Non-Significant

**نتيجه گيري**

شيدې د انسانانو په غذايي رژيم کې د يوې طبيعي غذا په ډول ډېر زيات اهميت لري او په اوسني عصر کې شيدې او د هغې محصولات د نړيوال تجارت ستره برخه تشکېلوي. لکه څرنگه چې شيدې پخپله يوه مکمله غذا ده او د يوې بلانس شوې غذا په حيث د انسان بدن کولای شي ترينه په ښه ډول سره استفاده وکړي. د غوا شيدې په نړيواله کچه د ضروري غذا يوه ستره برخه تشکيلوي. څرنگه چې پروتين

د انسان د ورځني غذا یوه لویه برخه تشکیلوي؛ نو په همدې اساس شیدې د با کیفیته پروتین یوه مهمه منبع ده، شیدې د انساني غذا یوه مهمه برخه ده ځکه شېدې په خپل ترکیب کې باکیفیته غذايي مواد لري، چې د نورو غذايي موادو سره سره شیدې د طبیعي شحمو اساسي منبع ګڼل کېږي

دا څېړنه چې په ختیځ لبنیاتو فابریکه کې په څلویښتو تعقیم شوو بوتلونو کې(د شلو غواګانو او شلو اوزو شخه) د خامو شېدو په راټول شویو نمونو باندې ترسره شوي ده، چې هره نمونه د 20 ملي لیتره اخیستل کیدله او مربوطه ازمایښتونه او عملیې پرې ترسره شوي، چې د پایلو څخه یې څرګندیږي، چې د وزې او غوا د شېدو په غذايي ارزښت کې د پام وړ توپیر شتون نه لري، خو د وزې په شېدو کې د شحمو ګلوبولونه کوچني دي، چې د وزې د شېدو د هضم قابلیت او غذايي ارزښت لوړوي.

موږ په دې څېړنه کې یواځې د اوزې شېدې د غوا د شیدو سره پرتله کړې، مګر په اوسني بازارونو کې د غوا شیدو ترڅنګ د نورو حیواناتو لکه میښو شېدې هم پیدا کېږي؛ نو باید د هغوی ترکیب هم مطالعه شي او د اوزو د شېدو سره پرتله شي او ترکیبي جوړښت او ارزښت یې خلکو ته ورپیژندل شي.

**اخځلیکونه**


1. American Dairy Goat Association, adga.org
2. Cross reference Jenness, R., 1980. Composition and characteristics of goat milk: Review 1968-1979. J. Dairy Sci., 63: 1605- 1630.
3. Cross reference Boulanger, A., Grosclaude, F. and Mahe, M.F., 1984. Polymorphism of caprine (Y g-I-casein and cx g-2-casein. Genet. SelEvol., 16: 157-175
4. FAO. 1997. 1996 Production Yearbook. Food Agr. Organ,UN. Rome, Italy.
5. ISI Handbook of food analysis Part-I, 1980.
6. ISI Handbook of Food Analysis Part-11, 1981.
7. J.M. Jandal, Comparative aspects of goat and sheep milk, Small Ruminant Research 22 (1996) 177-185.
8. "Milk analysis". North Wales Buffalo. Archived from the original on 20070929.http://web.archive.org/web/20070929071651/http://www.northwalesbuffalo.co.uk/milk_analysis.htm. Retrieved 3 August 2009. (Citing McCane, Widdowson, Scherz, Kloos, International Laboratory Services.
9. Modification of constituents and exploration of functional properties of goat's milk: effects on the health and nutritional status of preschoolers Mauro Fisberg, Paula Martins Horta, Luana Caroline dos Santos, Márcia Rocha Amici, Marco AurélioDelmondesBomfim,

Journal of Medicine and Medical Sciences Vol. 1(9) pp. 412-417 October 2010 **.**

10. Nutritional value of goat and cow milk protein E. Ramos Morales, G. de la Torre Adarve, F.D. Carmona López, F. Gil Extremera, M.R. SanzSampelayo and J. Boza, Options Méditerranéennes, Series A, No. 67
11. Park, W .Y.,G.F.W. Haenlein.ed. 2006. Handbook of Milk of Non-Bovine Mammals. Blackwell Publishing.
12. Processed Food Products and Nutrient Composition of Goat Milk OmoOhiokpehai, Pakistan Journal of Nutrition 2 (2): 68-71, 2003
13. . U.K. Pal, P.K. Mandal, V.K. Rao and C.D. Das, 2011. Quality and Utility of Goat Milk with Special Reference to India: An Overview. Asian Journal of Animal Sciences, 5: 56-63

# د خاورې پر حاصلخیزي د شنو سرو اغېزې

پوهنمل محمد اسماعیل مقبل ، شیخ زاید پوهنتون، کرنې پوهنځی د اګرانومي څانګه، خوست

برېښنالیک: mismail350@gmail.com

**لنډیز**

د شنو سرو (Green Manure) کلمه عموماً هغو نباتاتو ته کارول کېږي چې د خاورې حاصلخیزي لوړولو او د خاورې جوړښت اصلاح په موخه کرل کیږي. تاریخي شواهد ښیي چې په دودیزه کرنه کې د شنو سرو نباتات تقریباً د زر کالو څخه پخوا کرل کېدل او د شنې سرې په منظور ترې ګټه اخېستل کېده. دا نباتات د یوې اندازې ودې بشپړولو څخه وروسته په شنه حالت کې په خاوره کې اړول کیږي، چې د خاورې حاصلخیزي په خاطر ځمکې ته عضوي مواد او نایتروجن علاوه کړي؛ نو ځکه، ورته د شنو سرو کلمه کارول کېږي. شنې سرې په کرنیز سیستم کې د خاورې کیفیت ښه کولو لپاره ډیرې ګټورې دي. عموماً د شنو سرو په موخه د لیګیومي نباتاتو (پلي تولیدوونکو نباتاتو) څخه ګټه اخېستل کېږي. خو په کمه اندازه نظر د سیمې اقلیمي شرایطو ته په کتو غیر لیګیومي نباتات هم کرل کېدای شي. شنې سرې د خپل ښیراز توب له امله په چټکۍ سره تجزیه کیږي او شا و خوا ۷۵ ٪ په لومړي موسم کې تجزیه کیږي او وروسته په کمه اندازه د پاتې شونو په ډول تاثیرات پرېږدي. د زیاتې ګټې لپاره باید د شنو سرو نباتات په هر درېیم فصل کې په کرنیز تناوب کې شامل شي. په خاوره کې د عضوي موادو زیاتیدل د شنو سرو د لومړنیو موخو څخه ګڼل کېږي. د دې ترڅنګ، کیمیاوي سرې د خاورې جوړښت خرابیدو سبب ګرځي نو د دې لپاره چې له یوې خوا خاوره حاصلخیزه شوې وي او له بلې خوا د کیمیاوي موادو استعمال څخه چاپېریال ساتل شوی وي. څرنګه چې په افغانستان کې زیاتره بزګران د شنو سرو کرلو او د هغوی د ګټو په اړه کافي معلومات نلري، نو د دې مقالې څخه عمده موخه دا ده چې بزګران او د مسلک اړوند اشخاص د شنو سرو په ګټو او استعمال پوه شي، او باید بزګران په کرنیز سیستم کې شنې سرې وکاروي.

**کلیدي ټکي**: خاورې جوړښت، خاورې حاصلخیزي، عضوي سرې، شنې سرې، لیګیومي نباتات

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين والعاقبه للمتقين والصلاه والسلام علي اشرف المرسلين سيدناومولانا محمد وعلي اله واصحابه ومن تبعهم باحسان الايو م الدين.**

اما بعد: شنې سرې په اوږد مهاله موده کې د خاورې د جوړښت ښه کولو، د کیفیت لوړولو او د خاورې د حاصلخيزي لوړولو لپاره مهمه او ګټوره لاره ده. شنې سرې د بزګرانو د غیر منظمو کرنیزو فعالیتونو له امله د خاورې ضایع شوې حاصلخيزي په بېرته غني کولو کې مهم رول لوبوي [۱]. شنو سرو ته د خاورې حاصلخيزي جوړونې نباتاتو اصطلاح هم کارول کېږي، او په پراخه کچه د خاورې ګټور توب لپاره د کرل کېدونکو نباتاتو په ډول هم تعریف کیږي. په نړۍ کې مختلف النوعه نباتات د شنو سرو په ډول کرل کېږي او د خاورې په حاصلخيزي لوړولو کې ترې استفاده کېږي [۲،۳]. مختلف نباتات مختلفې ګټې لري چې د دې مقالې په جریان کې ورته اشاره شوې ده.

کله چې په ۱۹۸۰ یمو کلونو کې د څېړنو څانګه (HDRA) فعاله شوه نو د شنو سرو ډېرې نباتات و پېژندل شول. په لومړنیو وختونو کې زیاتره کار د پسرلني او مني نباتاتو په جلاوالي یا چڼ کولو باندې تر سره شو. ورسته بیا زیاتره بودیجه دې ته جدا شوه چې د شنو سرو تاثیرات په خاوره او راتلونکي فصل باندې وڅېړل شي[۴]. د نایتریت نایتروجن په مېنځل کیدو او منرالیز کیدو باندې د شنو سرو اغېزو په اړه ډېر زیات ارقام راټول شوي دي؛ په دې نېږدې وختونو کې د HDRA له خوا اوږد مهاله پروژې په کار اچول شوي دي چې د خاورې په حاصلخيزي او د عضوي کرنې په سیستم باندې د شنو سرو اغېزې څرګندې شي [۵].

څرنګه چې د افغانستان مختلفې سیمې د مختلفو خواصو لرونکې کرنیزې خاورې لري، نو د خاورې خواصو (مالګينو، تیزابي او القلي خاورو) ته په کتو د شنو سرو نباتاتو انتخاب غوره عمل دی. ځکه څېړنو ښودلې ده چې په مالګينو خارو کې د مالګو سره د مقاومو شنو سرو کرل دواړه ګټې لري، یعنې تولیدي او ایکالوژیکي ګټې [٦]، همدارنګه د تیزابي او قلوي خاور سره مقاومې شنې سرې عینې ګټې لري. زیاترو مطالعاتو ښودلې ده چې د علوفوي لیګیومي شنو سرو کرل د خاورې خواص اصلاح کوي [۷]. شنې سرې د کرنې په هر ډول سیستم کې استعمالیدلی شي، یعنې په عضوي او غیر عضوي کرنې کې کارول کیدای شي [۸].

## موخې

د دې کتابتوني مقالې د لیکلو څخه موخې په لاندې ډول دي.

۱- په خاوره باندې د شنو سرو اغېزې پېژندل.

۲- بزګران د شنو سرو په ارزښت او ګټو باندې پوه شي.

۳- د مسلک خاوندان په علمي او تخنيکي ډول د خاورې حاصلخيزي او د نباتاتو حاصلاتو لوړولو لپاره شنې سرې استعمال کړي.

**د کار مواد او کړنلاره**

په دې څېړنيزه کتابتوني مقاله کې د مختلفو څېړنيزو مقالو، پروژو، رسالو ، کتابونو او د معتبرو انټرنيټي سايټونو څخه ګټه اخېستل شوې ده چې په دې وروستيو وختونو کې نشر ته سپارل شوې دي.

**شنې سرې**

د شنو سرو (Green Manure) کلمه عموماً هغو نباتاتو ته کارول کېږي چې د خاورې حاصلخيزي لوړولو او د خاورې جوړښت اصلاح لپاره کرل کېږي يا شنې سرې د نباتاتو هغه ډولونه دي چې د خاورې حاصلخيزي او د نباتاتو حاصلاتو لوړولو لپاره په خاوره کې کرل کيږي[۹]. دا نباتات د يوې اندازې ودې بشپړولو څخه وروسته په شنه حالت کې په خاوره کې اړول کيږي چې د خاورې حاصلخيزي په خاطر ځمکې ته عضوي مواد او نايتروجن علاوه کړي[۱۰]. د خاورې عضوي مواد د خاورې د کيفيت او د حاصل توليدي ظرفيت يو له مهمو ځانګړنو څخه ده چې د نباتاتو لپاره په طبيعي او کنټرول شوي چاپيريال کې د غذايي موادو ډېره مهمه منبع ده، عضوي مواد په خپل ترکيب کې د پام وړ غذايي عناصر لري، خاورو ته د مختلفو عضوي موادو علاوه کول ډېر زيات محيطي او اقتصادي اهميت لري[۱۱]. همدرانګه د خاورې عضوي مواد د خاورې مختلف خواص اصلاح کوي لکه: د خاورې جوړښت، د خاورې خاليګاوې، د خاورې د اوبونيولو ظرفيت او د خاورې نور فزيکي خواص[۱۶].

شنې سرې هغه نباتات دي چې خاورې ته د پوښ ورکولو په خاطر کرل کيږي او د خاورې کيمياوي، فزيکي او بيولوژيکي خواص اصلاح کوي [۱۲]، نو همدا وجه ده چې ورته د شنو سرو کلمه کارول کيږي. شنې سرې په کرنيز سيستم کې د خاورې کيفيت ښه کولو لپاره ډيرې ګټورې دي. تاريخي شواهد ښيي چې په دوديزه کرنه کې د شنو سرو نباتات تقريباً د زرو کالو څخه پخوا کرل کېدل او د شنې سرې په منظور ترې ګټه اخېستل کېده. عموماً د شنو سرو په ډول د ليګيومي نباتاتو (پلي توليدوونکو نباتاتو) څخه زياته ګټه اخيستل کيږي، خو په کمه اندازه نظر د سيمې اقليمي شرايطو ته په کتو غير ليګيومي نباتات هم کرل کيداى شي. شنې سرې د وخت يا وديز فصل په اساس د اوړي او د ژمي په نباتاتو باندې وېشل شوي دي، د اوړي شنې سرې عموماً د پسرلي په اويلو کې کرل کيږي او د لنډې مودې څخه وروسته په خاوره کې اړول کيږي، حال دا چې ژمنۍ شنې سرې نباتات په مني کې کرل کيږي او د ژمي څخه وروسته د پسرلي په اوايلو کې په خاوره کې اړول کيږي، د ژمي شنو سرو ودييز فصل نظر د اوړي

شنو سرو ته اوړد وي. لکه مخکې چې ورته اشاره شوې ده چې شنې سرې په خاوره کې د اصلي فصل څخه د مخه په خاوره کې اړول کیږي، ولې د کرنې هغه سیستم چې په هغې کې د نباتاتو د قطارونو ترمنځ نور نباتات کرل کیږي (Intercrop)، په هغوی کې هم د شنوسرو څخه ګټه اخیستلی شو[۱۳].

د Florentín MA [۱۲] راپور پر اساس شنې سرې د لاندې موخو لپاره کرل کیږي.

- خاوره د تخریب څخه ساتي.
- د هرزه بوټو د پراختیا مخنیوی کوي.
- خاورې ته نباتي ژوندی کتله ( **Biomass** ) علاوه کوي ( د عضوي موادو تجمع لپاره، د غذايي موادو علاوه کولو او بېرته استعمال لپاره او د خاورې تغذيې لپاره).
- د خاورې جوړښت اصلاح کوي.
- د خاورې بیولوژیکي خواص اصلاح کوي.
- د ناروغیو او آفتونو پراختیا کموي.

**د شنو سرو ګټې**

شنې سرې زیاتې ګټې لري چې د ځینو مهمو ګټو څخه یې دلته یادونه شوې ده [۱۲، ۱۴].

- شنې سرې اقتصادي ګټور توب لري.
- د آفت وژونکو او هرزه بوټو وژونکو اړتیا کموي.
- د راتلونکي کرونکي فصل حاصلا زیاتوي او کیفیت یې ښه کوي.
- د خاورې تخریب کموي، د خاورې څخه د غذايي موادو مینځل یا لیچنګ کموي او په خاوره کې لنده بل ساتي.
- په خاوره کې د عضوي موادو اندازه لوړوي.
- خاورې ته د نایتروجن په علاوه کولو کې مرسته کوي (لیګیومي نباتات د نایتروجن په نصب کې زیات رول لوبوي).
- د خاورې حاصلخیزي زیاتوي.
- د سرو استعمال مصارف کموي.
- د تخریب په مقابل کې خاورې ساتي.
- د شنو سرو یوه عمده ګټه دا ده چې د هرزه بوټو مخنیوی کوي.

**خاورې ته د عضوي موادو په علاوه کولو کې د شنې سرې رول**

خاوره کې د عضوي موادو زیاتیدل د شنې سرې د لومړنیو موخو څخه ګڼل کېږي. په خاوره کې د شنې سرې اړولو سره هر یوه هکتار ځمکې ته تر ۵ ټنو پورې وچ مواد اضافه کیږي چې دا په خاوره کې د عضوي موادو د زیاتوالي تر ټولو ډاډمن مېتود دی. د شنو سرو زیاتره ګټې په همغه ودییز موسم کې وي

په کوم کې چې په خاورې کې اړول شوي وي، خو بيا هم د خاورې په ځينو شرايطو لکه د اګريګيټونو (دانو) په جوړښت باندې يې اغېزې تر څو کالو پورې دوام کوي. شنې سرې د خپل ښيراز توب له امله په چټکۍ سره تجزيه کيږي او شا و خوا ۷۵ ٪ په لومړي موسم کې تجزيه کيږي او وروسته په کمه اندازه د پاتې شونو په ډول تاثيرات پرېږدي. د زياتې ګټې لپاره بايد د شنو سرو نباتات په هر درېيم فصل کې په کرنيز تناوب کې شامل شي، لکه جوار- ګنډياله- شنې سرې يا سبزيجات- سبزيجات- شنې سرې. شنې سرې د يوه کال يا يو ودييز فصل څخه علاوه د خاورې عضوي موادو په زياتوالي باندې ډېره اغېزه نلري.

د شنو سرو نباتاتو کښت معمولاً د يوه کال څخه د ډېر وخت لپاره مناسب نه دی، ځکه چې ځمکه تر ډېر وخته پورې د توليد څخه لرې کوي. ژمني پوښ ورکوونکي نباتات چې په منې کې وکرل شي او د پسرلي په اوايلو کې په خاوره کې واړول شي امکان لري چې خاورې ته به په کافي اندازه عضوي مواد علاوه نه کړي. که چېرې همدا پوښ ورکونکي نباتات د پسرلي په وروستيو کې چې لږ تر لږه تر ۱۲ انچو پورې يې وده کړې وي په خاوره کې واړول شي، کيدای شي چې په خاوره کې عضوي مواد زيات کړي. د پوښ ورکوونکو نباتاتو څخه لومړنۍ موخه د اوبو او باد تخريب پر وړاندې د خاورې ساتنه ده، په خاصه توګه په هغو فصلونو کې چې کله ځمکې سر لوڅې وي [۱۵].

## د نايتروجن علاوه کول

نايتروجن خاورې ته د نايتروجن نصب پروسې په اساس علاوه کيږي، په هغه صورت کې که چېرې د شنې سرې په نباتاتو کې ليګومي نباتات شامل وي. د نايتروجن نصب هغه پروسه ده چې په هغې کې د ازادې هوا نايتروجن په امونيم نايتروجن بدليږي. ليګيومي نباتات چې د *Leguminosea* يا *Fabacea* کورنۍ نباتات دي، دا وړتيا لري چې د خاورې يو لړ کوچنيو ژونديو موجوداتو (مايکرو ارګانيزم) سره ګډ ژوند وکړي، چې د ګډ ژوند په نتيجه کې ژوندي موجودات د هوا څخه غاز نايتروجن په نايتروجني کيمياوي مرکباتو، چې د امونيا څخه لاسته راځي بدلوي او نصب کوي يې. دغه نايتروجن د نباتاتو ريښو په ناجيلونو (Nodules) کې نصب کيږي او د ليګومي نباتاتو لخوا د ريښو او پورتنيو تنو ودې لپاره په کار وړل کيږي (۱- شکل). زياتره نصب شوی نايتروجن تقريباً دوه پر درېيمه برخه په پورته تنو کې په مصرف رسيږي. که چېرې د نباتاتو پورتنۍ برخې په خاوره کې واړول شي، د عضوي موادو د ورستيدو څخه وروسته نصب شوی نايتروجن د منراليز کيدو په اساس خوشې کيږي. خاروې ته د علاوه شوي نايتروجن اندزه ليګومي نباتاتو ډول سره توپير لري، چې زياتره د نباتاتو پورتنۍ تنې وچو موادو په توليد پورې اړه لري (۱- جدول). د دې لپاره چې د ۱- جدول په څېر د نايتروجن حاصل لاسته راوړو، نو دا ډېره اړينه ده چې د ليګيومي نباتاتو حاصل په کرونده کې تر يو کال پورې پرېښودل شي؛ که نه نو، د نايتروجن نصب به د يادې شوې اندازې څخه ډېر کم وي چې شايد نيمايي يا به د دې څخه هم کم وي. د شنو سرو نباتاتو د اړولو څخه وروسته د علاوه شوي نايتروجن ګټه د هغه نايتروجن سره برابره ده کوم

چې خاورې ته د عضوي موادو علاوه کولو څخه لاسته راځي؛ د شنو سرو اړولو څخه زیاته ګټه په هغه فصل کې لاسته راځي په کوم کې چې دوی کرل شوي او اړول شوي وي.

که چېرې د شنو سرو نباتاتو د پاسنۍ برخې حاصل د بیدې ډول وچ شي نو زیاتره هغه ګټې له منځه وړي کومې چې په لومړیو وختو کې په خاورو کې د اړولو په ډول لاسته راځي. عموماً، د لیګیوم شنې سرې نباتاتو پاسنۍ برخې حاصل اخیستلو سره دومره نایتروجن ضایع کیږي څومره چې د نصب پروسې په اساس خاورې ته علاوه شوی وي او هغه نایتروجن چې په ریښو کې پاتې کیږي د هغې اندازې سره برابر دی چې نباتاتو د خاورې څخه تر لاسه کړی وي [۱۵].

الف



ب




**۱- شکل:** لیګیومي نباتات چې د غوټو یا ناجیولونو لرونکي دي چې نایتروجن پکې نصبیږي، کله چې په غوټو کې نایتروجن نصب شي رنګ یې ګلابي کیږي.

### د شنو سرو لپاره د یو نبات انتخاب

یوه ښه نمونه یې شنه سره ځینې د پام وړ ځانګړتیاوې لري (۲ - جدول)، بغېر له دې چې د کوم بل خاص مقصد لپاره کرل کیږي. د شنې سرې نبات باید په کمزوري خاورو کې په اسانۍ سره کرل کېدونکی او وده کوونکی وي. غیر حاصلخیزه خاورې هغه دي چې د شنو سرو نباتاتو څخه زیاته ګټه اخلي. شنې سرې د شګلنو خاورو د اوبو ساتلو او د غذایي موادو نیولو ظرفیت لوړ وي. د عضوي موادو په علاوه کولو سره کلي خاورې انکشاف کوي او د دانو (اګریګیټونو) په جوړولو او د جوړښت (سټرکچر) په اصلاح کولو کې ورته ګټه رسوي. هغه خاورې چې د نایتروجن له پلوه غیر حاصلخیزه دي، د لیګوم شنو سرو په واسطه د علاوه کېدونکي نایتروجن څخه ګټه ترلاسه کوي. په هرصورت، د شنو سرو حاصلات د نباتاتو د غذایي اړتیا تر څنګ باید یوه کمه اندازه حاصلخیزي ته اړتیا ولري. د دې لپاره چې د تولید مصارف ټیټ وساتل شي، هېڅوک نه غواړي چې د شنې سرې نباتاتو ته د ودې لپاره سرې علاوه کړي. خو بیا هم، که چېرې خاورې دومره غیر حاصلخیزه وي چې د شنې سرې نباتات

وده نشي کولی، نو بايد خاوره کې سرې وکارول شي. که نه نو، د شنو سرو نباتاتو وده به دومره کمزوري وي چې هېڅ ډول ګټه به تر لاسه نشي[۱۵].

**۱- جدول: د ځېنو ليګيومي نباتاتو په واسطه د نايتروجن نصب اندازه راښيي [۱۵]**

| د نبات ډول | نصب شوی نايتروجن، کيلو ګرام پر هکتار |
|---|---|
| خوږه شفتله | ۱۶۸-۲۲۵ |
| شفتله يا الفاالفا | ۱۱۲-۱۶۸ |
| رشقه | ۸۴-۱۱۲ |
| سويابين | ۸۴-۱۱۲ |
| سره شفتله | ۷۴-۱۰۰ |
| لوبيا او نخود | ۳۳-۵۶ |

شنې سرې نباتات بايد چټکه وده کوونکي وي چې په مناسب وخت کې په نوبتي کرنه کې ځای پر ځای شي. د شنې سرې نباتاتو توليد په پرله پسې ډول د يوه کال څخه زيات وخت ته اړتيا نه لري. د اوږد مهال لپاره د شنې سرې نباتاتو کر ځمکه د اصلي نباتاتو توليد څخه تر ډېر وخت پورې لېرې کوي. دشنو سرو لپاره يو ښه حالت هغه وخت رامنځته کيږي چې يو بشپړوونکی فصل (شنه سره) د هغه وخت په مېنځ کې وکرل شي چې يو اصلي يا نغدي محصول په مني کې راټولېږي او بل په پسرلي کې کرل کيږي، نو د دې دواړو فصلونو په منځ کې د شنې سرې نباتات کرل کيږي. دا حالت اکثراً په ګرم اقليم لرونکو سېمو کې واقع کيږي، لکه د متحده اياالاتو په جنوبي سېمو کې. د شنې سرې نباتات بايد په چټکۍ سره خاوره پوښ کړي، تر څو خاوره له تخريب څخه خوندي کړي. د دې نباتاتو مجموعي وده بايد د ۱۸ څخه تر ۲۴ انچو پورې وي، تر څو کافي عضوي مواد توليد کړي او د خاورې حاصلخيزي اصلاح کړي[۱۵].

تقريباً هر هغه نبات چې دغه معيارونه پوره کړي، د شنې سرې لپاره مناسب نبات دی. ځېنې نباتات چې معمولاً د شنې سرې په توګه کرل کيږي په ۳- جدول کې لېست شوي دي. زياتره د دې نباتاتو څخه د شنې سرې په ډول په پراخ اقليمي شرايطو کې د توافق وړ دي. ايټالوي شفتله، شاخل (Vetches) او جاپاني شفتله چې د رشقې يو ډول دی، چې شايد په ګرم اقليم کې د کر لپاره مناسب وي او بايد د څو کلونو لپاره وکرل شي. ويښته لرونکي او نرم شاخل په زياترو سيمو کې د توافق وړ دي.

**۲ - جدول: د شنې سرې یوه ښه هدفمند نبات خصوصیات [۱۵]**

| |
|---|
| تخم یې ارزان وي |
| په اسانۍ سره د کینولو وړ وي |
| په کمزورو خاورو کې ښه وده کونکی وي |
| په چټکۍ سره ځمکه وپوښي |
| په چټکۍ سره وده وکړي |
| پاسینې وده یې په کافي اندازه او پریمانه وي |
| خاورې ته نایتروجن علاوه کونکی وي |

که چېرې د لیگومي او غیر لیگومي نباتاتو زیاتره خصوصیات د ۲- جدول په څېر سره مساوي وي، نو بیا د کر لپاره لیگومي نباتات ښه انتخاب دی. ځکه چې لیگومي نباتات به خاروې ته د نصب عملیې په اساس نایتروجن علاوه کړي. د نایتروجن نصب کېدل د لیگومي نباتاتو او د بکتریاو مشخصو انواعو ترمنځ د گډ ژوند په پایله کې سرته رسیږي. دغه بکتریاوې د لیگومي نباتاتو ریښې اخته کوي او په دوی کې جوړښتونه رامینځ ته کوي چې د ناجیلونو (Nodules) په نوم یادیږي (۱- شکل). دا بکتریا د یو خاص لیگیوم یا د لیگومي نباتاتو یو گروپ ته ځانگړې شوي دي. که چېرې په خاورو کې لیگومي نباتات د څو پرلپسې کلونو لپاره کرل شوي نه وي، ممکن بیا به په خاوره کې یادې بکتریا شتون ونه لري. په عمومي ډول، د بکتریا اناکولم چې د بکتریا سپورونو لرونکي دي او د پیټ سره مخلوط دي، د تخم کرلو څخه د مخه د بکتریاو اناکولم د تخمونو سره مخلوط کېږي او په تخمونو باندې د بکتریا سپورونو پوښ جوړیږي. د تخم زرغونېدو څخه وروسته، دغه بکتریاوې د زرغون شوي نبات ریښې اخته کوي او د نبات سره گډ ژوند پیلوي. په دې گډ ژوند کې نبات د نصب شوي نایتروجن څخه گټه اخلي او بکتریا د لیگومي نباتاتو په واسطه د اماده شوي کاربوهایدریت څخه گټه اخلي. که چېرې لیگومي نباتاتو ته په کافي اندازه نایتروجني سرې، عضوي سرې یا نورې سرې علاوه شي نو په دې صورت کې لیگومي نباتات نایتروجن نشي نصب کولی. دغه لیگومي نباتات د هغه غیر عضوي نایتروجن څخه گټه اخلي چې د سرو په څېر ورعلاوه شوی دی او په دې وخت کې ناجیلونه نشي فعالیدلی[۱۵].

په عمومي ډول لیگیومي نباتات د تخم لپاره ډېر گران بیه دي، لاسته راوړل یې سخت دي، ډېر په ورو (بطي) وده لري، او د غیر لیگیومي نباتاتو په نسبت غوره خاورو ته اړتیا لري. د لیگیومي نباتاتو د تولید لپاره باید د خاورې تیزابیت د ٦ او ٦,٨ پي ایچ تر منځ وي. لیگیومي نباتات د ورو ودې له امله کېدای شي چې په نوبتي کرنه کې د یو کال څخه زیات وخت ته اړتیا ولري. همدارنگه، په پراخه کچه د لیگیومي نباتاتو ښه حاصل، د ببدې (پروړې) لپاره ډېر زیات ارزښتناک دی او په ځمکه کې یې بېرته اړولو مدیریت ډېر کمزوری دی. بېده کیدای شي چې د یوه یا دوو کالو پورې راټوله شي او بیاوروسته د شنې

سرې په څېر په خاوره کې قلبه شي تر څو د شنې سرې په څېر بشپړه گټه ورڅخه تر لاسه شي. که چېرې د ليگيومي نباتاتو حاصلات راټول شي او په خاوره کې قلبه نشي، نو په خاوره کې د نايترجن په مقدار کې زياتوالی نه رامنځته کيږي. ليگيومې نباتات يو پر درېيمه (۱/۳) برخه نايتروجن د خاورې څخه تر لاسه کوي او دوه پر درېيمه (۲/۳) برخه نايتروجن د نصب عمليې څخه تر لاسه کوي. نوموړي نباتات دوه پر درېيمه يا زياته برخه نايتروجن په پورته تنو کې لري او که چېرې د نبات د پورته برخې حاصل واخيستل شي، نو په ريښو کې به هغه مقدار يا کم نايتروجن پاتې شي کوم يې چې له خاورې څخه جذب کړی وي. بزگران بايد په دې پوه شي چې د نصب عمليې په واسطه نصب شوی نايتروجن د نباتاتو په ريښو کې نه پاتې کيږي بلکې د نباتاتو پورته برخو ته انتقالېږي.

**۳ - جدول: ځينې نباتات چې د شنې سرې لپاره مناسب دي په لاندې ډول دي [۱۵]**

| غير ليگيومي نباتات | | ليگيومي نباتات | |
|---|---|---|---|
| جودر | واښين جودر | شفتله | سورگلي شفتله |
| گنډياله | سوډان گراس | خوږه شفتله | شاخل |
| ږدن | شړشم | وطني ډوله شفتله | سويابين |
| يوډول تورغنم | د شړشمو بل ډول | سپينه شفتله | سپينه لوبيا |
| د جارو واښه | هرزه واښه | السيکا يا انگريزی شفتله | رشقه |

په مخلوط ډول د ليگيومي او وښين نباتاتو کرل د شنې سرې ډېر ښه فصل جوړ وي. مخلوطه کرنه د هدف په لاسته راوړلو کې يو څه بريالیتوب يقيني کوي. وښين نباتات ليگوم حمايه کوي او امکان لري چې په ژمي کې يې محافظت وکړي. عموماً يو کلن نباتات چې د عادت له مخې د نورو نباتاتو ساتنې لپاره کرل کېږي ورته نرس (Nurse) نباتات ويل کيږي. د شنو سرو لپاره د نباتاتو تر منځ ښه ترکيبونه عبارت دي له شاخل او جودر يا شفتله او يو ډول واښه (Bromegrass)، بر سيره پر دې د کروندې يا فارم اقليم او خاورې لپاره هر ډول بريالی ترکيب به مناسب وي. نتيجه لرونکي شنې سرې به د زياتو عضوي موادو توليد منعکس کړي، عموماً وښين نباتات به يې د پورتنيو تنو او سطحي تار مانند ريښو په واسطه او ليگيومي نباتات به يې د ناتيرجن علاوه کولو په واسطه زيات کړي. په گډه کرنه کې به ممکن نه د عضوي موادو علاوه کول او نه هم د نايتروجن علاوه کول دومره ډېر وي چې څومره په يوازې ډول د واښين يا ليگيومي نباتاتو په خالصو فصلونو کې لاسته راځي، بلکې د ټولو علاوه کولو لپاره به ممکن د انفرادي کښت په پرتله يو گډ توازن (ترکيب) ډېر گټور وي. د ليگيومي او وښينو نباتاتو مخلوط فصل ته بايد نايتروجني سرې ورنه کړل شي، ځکه چې سرې به د وښينو نباتاتو وده د ليگيومي نباتاتو په پرتله ډېره لوړه کړي.

## په خاورې کې د شنې سرې اړول یا یوځای کول

کله چې د شنې سرې نباتاتو وده او ښیرازتوب په یو ځای اعظمي حد ته ورسېږي باید په خاوره کې واړول شي. دا حالت هغه وخت منځته راځي کله چې د دوی لوړ والی نیمایي ته ورسېږي. د نباتاتو د ودې د مرحلو پیژندلو لپاره د دوی عادت په اړه پوهه اړینه ده. یو بل څه چې شاید ډېر ګټور لاړښود تمام شي، هغه دا چې نباتات د ګل کولو په پیل کې په خاوره کې واړول شي. د ګل کولو څخه د مخه په خاوره کې د نباتاتو اړول شاید د عضوي موادو تولید لپاره به یې کافي وده نه وي کړې. د ګل څخه وروسته نباتات میوو او تخمونو ته غذایي مواد انتقالوي او د شنو برخو څخه په مصرف رسېږي. د نباتاتو د شنې برخو کاربن او نایتروجن (C:N) تناسب به زیات شي او عضوي مواد به په خاوره کې د اړولو لپاره دومره مناسب نه وي لکه څرنګه چې د ګل غوړېدو څخه د مخه وي. همدرانګه د ګل سپړلو څخه وروسته ګلان د تخمونو په جوړولو پیل کوي. که چېرې په خاوره کې د شنو سرو نباتاتو اړولو څخه د مخه تخمونه په کافي اندازه رسیدلي وي، نو کېدای شي چې د اړولو څخه وروسته په خاوره کې زرغون شي او د اصلي فصل لپاره د هرزه بوټو په څېر زیان رسونکي شي.

د شنو سرو لپاره د اړتیا وړ تخم اندازه، د تخم د کرلو وخت او په خاوره کې یې د اړولو وختونه د فصل ډول او د اقلیم نوعیت ته په کتو سره تو پیر لري. پوښ ورکوونکي نباتات د حاصلاتو راټولولو څخه وروسته کرل کېږي. د اصلي فصل د ننه د پوښ ورکوونکو نباتاتو تخمونو کرل، په داسې وخت کې چې اصلي فصل پخوالي ته نېږدې وي تر څو چې په ودییز فصل کې د ډېر ناوخته کیدو څخه مخکې پوښ ورکونکی فصل کرل شوی وي. دا ډول کرنیز عملیات ممکن په پراخو کروندو کې د وړ تجهیزاتو څخه پرته مناسب نه وي چې د پوښ ورکوونکو نباتاتو تخمونه د اصلي نباتاتو په منځ کې ځای پر ځای کړي.

### د شنو سرو ستونزې

د شنو سرو یو لویه ستونزه دا ده چې تولید یې د عمده یا اصلي فصل تولید څخه ځمکه نیسي. شنې سرې باید په دریو کالو کې د یوه کال څخه زیات وخت لپاره ځمکه ونه نیسي. سره لدې چې شنه سره یو ارزښتناکه بیده یا علوفه تشکیلوي، خو د هغې تولید په موخه ورته زیات وخت وقف کول کېدای شي د دې سبب وګرځي چې د شنې سرې په محصول باندې مصارف د خاورې حاصلخیزي ګټې څخه زیات تر سره شي. د دې ستونزې د مخنیوي لپاره باید د چټکې وده کوونکې شنې سرې څخه کار واخیستل شي یا د خاورې حالت اصلاح لپاره د سرې او کمپوسټ په اړه فکر وشي. د خاورې د عضوي موادو ساتلو لپاره سرې او کمپوسټ باید د ځمکې په کوچنیو پلاټونو کې وساتل شي، ځکه چې د ځمکې ساحه ارزښتناکه ده او باید د اصلي فصل کرلو لپاره وکارول شي.

شنې سرې باید په احتیاط سره وکارول شي یا په وچ اقلیم یا په وچو خاورو کې ترې مخنیوی وشي. مخکې له دې چې د شنې سرو نباتاتو په اړه فکر وشي باید د سیمې کلنی اورښت د ۱۸ انچو څخه زیات وي. د شنې سرې نباتاتو په واسطه تبخیر د خاورې اوبو کمښت رامنځته کوي. ژورو ریښو لرونکي نباتات لکه څو کلن لیګیوم به خاوره تر هغه حد پورې وچه کړي چې بیا به یې د اوبو په واسطه بیرته رغوونې لپاره څو کلونو ته اړتیا وي .

شنې سرې باید په خاوره کې د پخوالي په یوه مناسبه مرحله کې واړول شي. رسیدلي نباتات په خاوره کې اړول شاید خاوره د تخمونو څخه ډکه کړي چې په راتلونکي فصل کې به د هرزه بوټو په څېر وده وکړي. همدارنګه کله چې د شنې سرې نباتات پخېږي د کاربن او نایتروجن تناسب یې پراخېږي. په خاوره کې د پاخه شوي فصل (نباتاتو) اړول د نایتروجن د غیرمتحرک کیدو سبب ګرځي چې په پایله کې یې راتلونکی اصلي فصل د نایتروجن د کمښت سره مخامخ کېږي. زیاتره بزګران په خاوره کې د غیرلیګیومي شنې سرې اړولو په وخت کې خاورې ته اضافي نایتروجني سره هم علاوه کوي. دغه علاوه شوی نایتروجن د دې ډاډ ورکوي چې د نایتروجن کمښت به رامنځته نه شي او د دې تر څنګ په خاوره کې د عضوي موادو تجزیه ګړندی کوي تر څو د خاورې د ښه جوړښت ګټې په چټکۍ سره تر لاسه شي. د غیر لیګیومي شنې سرې د تجزیې لپاره شا او خوا ۵۵ کیلو ګرام نایتروجن پر هکتار ساحې لپاره سپارښتنه کیږي.

په ځمکه کې د شنې سرې اړولو او د اصلي نباتاتو د کرلو ترمنځ باید یو څه وخت پرېښودل شي. د دې لپاره تقریباً یوه یا دوه اونۍ ډېر ښه وخت دی. د شنې سرې ځینې نباتات لکه جودر د نورو نباتاتو د ودې د مخنیوي (شنډیدو) په څېر اغېزې کوي چې ورته الیلو پتې (Allelopathy) هم وایي. که څه هم شاید دا اغېزې د هرزه بوټو کنترول لپاره ګټورې وي، خو دا کولی شي چې د اصلي نباتاتو په زرغونیدو کې ځنډ وکړي یا یې د ودې د مخنیوي سبب وګرځي. همدارنګه رسیدلي جودر او نور وښین نباتات کېدای شي چې وچ پاتې شوني ولري او کولی شي چې په لومړیو کې په خاوره کې نایتروجن غیر متحرک کړي یا د تخم بستر ته کمزورې فزیکي ځانګړتیاوې ورکړي. د ودې په نه رسیدلي حالت کې د وښینو نباتاتو اړول نسبتاً د دې ستونزو په لرې کولو کې مرسته کوي. ځینې کروندګر د جودرو پر ځای غنم یا ګنډیاله د ژمني پوښ ورکوونکو په ډول کري ځکه چې دغه نباتات په کمه اندازه وده کوي. د ځمکې پر مخ د ګنډیالي خپور شوی ځادر چې په ژمي کې د منځه تللی وي په اسانۍ سره د خاورې سره مخلوط کیږي. همدارنګه، کېدای شي ګنډیاله د پوښ ورکوونکو نباتاتو په څېر وکرل شي او د ملچ په ډول د خاورې په مخ پاتې شي او عضوي کروندګر به وکولی شي چې د ځمکې اړولو (قلبې) څخه پرته یا د لږې قلبې په واسطه حاصلات تولید کړي. د لیګیوم کورنۍ نبات چې په لوړ مقدار سره نایتروجن

لري د تجزيې لپاره يو څه وخت ته اړتيا لري تر څو چې د امونيم نايتروجن د آزاديدو احتمالي زيان د نايتريفيکشن په واسطه له مينځه لاړ شي.

ځينې راپورنه ښيي چې کېداى شي پوښ ورکوونکي نباتات ځان سره د آفتونو عاملين خوندي کړي. ډيرى وختونه په خاوره کې د دې نباتاتو اړول ياده ستونزه کموي، مګر په ځينو مواردو کې د آفتونو عاملين ممکن د نباتاتو اړولو په وخت کې بل فصل ته هجرت وکړي. په هر صورت، پوښ ورکونکي نباتات کيداى شي چې هغه ځايونه وي چېرته چې ګټور حشرات اوسيږي او که چېرې پوښ ورکونکي نباتات د اصلي فصل سره نيږدې ځمکو کې کرل شوي وي، نو په اصلي فصل کې د آفتونو په کنترول کې مرسته کوي.

**نتيجه ګيري**

شنې سرې د پايښت لرونکې کرنې يو ميتود دى چې ډيرې زياتې محيطي او اګرانوميکي ګټې لري. دا په ثبوت رسيدلې ده چې د نباتاتو حاصلاتو لوړلو لپاره يوه ښه لار ده. شنې سرې د خاورې حاصلخيزي ترميموي، د نباتاتو توليدي وړتيا زياتوي او د کرنيز سيستم پايښت زياتوي. د ليګيومي نباتاتو کرل د شنو سرو په ډول خاورې د نايتروجن په علاوه کول کې مرسته کوي، څېړنو ښودلې ده چې د کرنيز تناوب په سيستم کې بايد شنو سرو ته ځاى ورکړل شي چې د خاورې اصلاح رامنځته کړي. د شنو سرو په ډول کرونکي نباتات بايد په خاوره کې په داسې مرحله کې واړول شي چې کافي وده يې کړې وي. په نتيجه کې ويل کيږي چې په خاورې کې د شنو سرو نباتاتو اړول د خاورې فزيکي، کيمياوي او بيولوژيکي خواص اصلاح کوي او په کرنيز سيستم کې پايښت رامنځته کوي.

**سپارښتنې**

لکه څرنګه چې د شنو سرو په اهميت، ګټو، د نباتاتو په انتخاب او په خاورو کې د هغوى اړولو په اړه په تفصيل سره بحث شوى. نو د کرنې اړوند سکتورونو، بزګرانو او څيړونکو ته ځينې سپارښتنې کيږي.

- چې د شنو سرو په مروج کيدو او د هغوى د ګټو څخه د خاورې په حاصلخيزي کې کټه واخيستل شي.
- همدارنګه د کرنې مسلک استادانو، څيړونکو، محصلينو او د کرنې وزارت اړوند کارمندانو څخه هيله کيږي چې د شنو سرو په مختلفو ډولونو او د افغانستان په مختلفو خاورو کې څېړنې وکړي چې معلوم شي چې د افغانستان په خاورو او اقليم کې کوم ډول شنې سرې زياتې ګټې لري.
- بزګران د خاورې حاصلخيزي په خاطر د شنو سرو استعمال څخه ګټه واخلي.

- لکه څرنګه چې په ژمي کې اکثره ځمکې شاړې پاتې کيږي چې د تخريب مختلف ډولونو سره مخامخ کيږي، نو سپارښتنه کيږي چې په داسې ځمکو د شنو سرو نباتات وکرل شي چې د يوې خوا به د خاورې تخريب مخنيوی شوی وي او له بلې خوا به ځمه حاصلخيزه شوي وي.

**مأخذونه**


1. Iderawumi AM, Kamal TO. Green manure for agricultural sustainability and improvement of soil fertility. Farming and Management. 2022;7(1):1-8.
2. Maitra S, Zaman A, Mandal TK, Palai JB. Green manures in agriculture: A review. Journal of Pharmacognosy and Phytochemistry. 2018;7(5):1319-27.
3. Hasanain M, Kumar S, Verma G, Meena VS, Meena SK, Singh VK. Green manuring for optimal yield and soil health management under changing climate. Indian Farming. 2024 Sep 8;74(9):07-10.
4. OF 0118T. Final report to DEFRA for Optimisation of Nitrogen Mineralization from Winter Cover Crops and Utilisation by Subsequent Crops. Project led by HDRA. 2000;
5. OF 0126T. Final report to DEFRA for Conversion to Organic Field Vegetable Production Phase 1. Project led by HDRA.**2000**;
6. Redondo-Gómez S, Mesa-Marín J, Pérez-Romero JA, López-Jurado J, García-López JV, Mariscal V, Molina-Heredia FP, Pajuelo E, Rodríguez-Llorente ID, Flowers TJ, Mateos-Naranjo E. Consortia of plant-growth-promoting rhizobacteria isolated from halophytes improve response of eight crops to soil salinization and climate change conditions. Agronomy. 2021 Aug 13;11(8):1609.
7. Ramos ME, Robles AB, Sanchez-Navarro A, Gonzalez-Rebollar JL. Soil responses to different management practices in rainfed orchards in semiarid environments. Soil and Tillage Research. 2011 Mar 1;112(1):85-91.
8. Rayns F, Rosenfeld A. Green manures–effects on soil nutrient management and soil physical and biological properties. 2010;
9. Hasanain M, Kumar S, Verma G, Meena VS, Meena SK, Singh VK. Green manuring for optimal yield and soil health management under changing climate. Indian Farming. 2024 Sep 8;74(9):07-10.
10. Rayns F, Rosenfeld A. Green manures–effects on soil nutrient management and soil physical and biological properties.2010

11. Moqbal MI, Shafiqi S, Hamdard S. Effects of Composted Pure Animals Manure and Mixed with Others Plants Residue Compost on plants Growth. Shaikh Zayed University Academic Journal. 2024;33
12. Florentín MA, Peñalva M, Calegari A, Derpsch R, McDonald MJ. Green manure/cover crops and crop rotation in conservation agriculture on small farms. 2010
13. Rayns F, Rosenfeld A, Schmutz U, Rahn C. Green manures–implications of economic and environmental benefits on rotational management.2010
14. Rayns F, Rosenfeld A.The use of green manures. HDRA,HDC Project FV 299. 2010; 1-37
15. Barker AV. Science and technology of organic farming. CRC press; 2010 Apr 5.
16. Jayasanka DJ, Komatsuzaki M, Hoshino Y, Seki H, Moqbal MI. Nutrient status in composts and changes in radioactive cesium following the Fukushima Daiichi Nuclear Power Plant accident. Sustainability. 2016 Dec 21;8(12):1332.

# د څو حده  توزيع قانون لپاره د لوی قاسم ارزونه

پوهنمل محمدزبیر تنویر، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، رياضي څانگه.
برېښناليک: tanweer.zubair@gmail.com

**لنډيز**

چندحده توزيع قانون (Multinomial Distribution) د احتمالاتو په برخه کې د هغو پېښو لپاره کارول کېږي، چې په يوه آزموينه کې څو مختلفې پايلې يا کټګورۍ شتون ولري. دا توزيع د بينوميل توزيع پراختيايي شکل دی، چې د څو بېلابېلو پايلو ترمنځ احتمالاتو محاسبه کوي. چندحده توزيع قانون په اصل کې د احتمالاتو د تئورۍ يوه برخه ده، چې د کارل پيرسن لخوا په ۱۸۹۴ کال کې معرفي شو. دا توزيع د هغو احتمالي پېښو لپاره کارول کېږي، چې څو کټګورۍ يا پايلې لري. د دې توزيع د کارولو لپاره د لوی قاسم ارزونې ميتود د احتمالاتو په برخه کې يو مهم نوښت و. د څوحده توزيع قانون هدف دا دی، چې د n آزموينو په ترڅ کې د هرې پايلې لپاره احتمال او تکرار محاسبه کړو.  د لوی قاسم ارزونه د دې توزيع د پارامترونو د محاسبې لپاره کارول کېږي. د دې ميتود په مرسته، د څوحده توزيع پارامترونه داسې ټاکل کېږي، چې د مشاهدې شويو معلوماتو پراساس د احتمالاتو د بنسټيزې کچې لوړوالی په ګوته شي. د لوی قاسم ارزونه د څوحده توزيع د پارامترونو لپاره دقيق اټکلونه وړاندې کوي. د دې ميتود د تطبيق له لارې، موږ کولی شو د مختلفو احتمالي پايلو لپاره د دقيقو احتمالونو محاسبه ترسره کړو، چې په مختلفو سيستمونو او څېړنيزو تحليلونو کې کارول کېږي. چندحده توزيع قانون د څو بېلابېلو پايلو د احتمالونو محاسبه کولو لپاره مهم دی. د لوی قاسم ارزونه د دې توزيع د پارامترونو د اټکل لپاره يو اغېزمن ميتود دی، چې په احتمالاتو کې د دقيقو تحليلونو او څېړنو لپاره کارول کېږي. نو په همدې اساس په دې مقاله کې موږ د څو حده توزيع قانون لپاره لوی قاسم ارزونه تر بحث لاندې نيسو، موږ دا موضوع د موضعي قضيې له مخې د څو حده  توزيع قانون او د هيلبرت فضأ  لپاره تحليل او تجزيه کوو.

**کليدي ټکي :** احتمالات، تصادفي وکتور، څو حده توزيع، لوی قاسم، موضعي قضيه.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على آله واصحابه اجمعين.**

په احتمالاتو او احصائيه کې، د څو حده توزيع قانون يو له بنسټيزو قوانينو څخه دی، چې د تصادفي ازموينو د پايلو اوړد مهاله چلند تشريح کوي. دا قانون په اساسي ډول بيانوي، چې کله موږ د يوې

تصادفي پروسې د پایلو ګڼ شمېر مشاهدې ترسره کړو، د دې مشاهداتو اوسط به په پای کې د اصلي توزیع ریښتیني اوسط ته ورنږدې کېږي. د لوی قاسم ارزونه د دې قانون اړوند هغه شرایط بیانوي، چې په هغه کې د څو حده توزیع قانون تطبیقېږي.

د څو حده توزیع قانون لپاره د لوی قاسم ارزونه، په ځانګړې توګه د احصائې په هغو ساحو کې کارول کېږي، چېرې چې د تصادفي بدلونونو د چلند درک کول اړین وي، لکه په اقتصاد، انجینري، طب او ټولنیزو علومو کې. دا ارزونه د ازموینو او تجربو په اوږده موده کې د پایلو د استقامت او سمون کچه اندازه کوي.

د څو حده توزیع قانون په ډېرو عملي برخو لکه د بازار څارنه، د انتخابونو تحلیل، د تولید بهیر کې د مختلفو محصولاتو شمولیت او د سروې ګانو په تحلیل کې هم کارول کېږي، خو دا څېړنه به زموږ سره مرسته وکړي، چې د څو حده توزیع قانون د لوی قاسم ارزونې په اړه ژوره پوهه ترلاسه کړو؛ ترڅو په احتمالي تیورۍ، احصائیه او په بېلابېلو ساحو کې د دقیقو او باوري پایلو لپاره د دې کارونې موثریت روښانه شي.

**موخې**

د دغې څېړنیزې مقالې لنډې موخې په لاندې ډول دي:

۱- په احتمالاتو کې د څو حده توزیع قانون اصول او شرایط؛ ترڅو د تصادفي ازموینو پایلې او د اوږد مهاله اوسطونو خوا ته نږدې کېدل درک شي.

۲ – د لوی قاسم ارزونې ارزښت او د هغې اړتیا روښانه کول، ترڅو څرګنده شي، چې ولې دا ارزونه په احتمالاتو او احصائیه کې یو مهم ځای لري.

۳ – د تصادفي پایلو عمومي اوسط ته د نږدې کېدو پروسې معلومول.

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري، په معتبرو نړیوالو ژورنالونو سربېره د نړیوالو تدریسي کتابونو څخه هم د منابعو په توګه استفاده شوې او د دې ترڅنګ د مختلفو الکترونیکي سایټونو څخه هم ګټه پورته شوې؛ ترڅو لوستونکو ته د موضوع اړوند داسې معلومات وړاندې شي، چې په دې وروستیو کې نوي خپاره شوي دي.

**پېژندنه**

د احتمالاتو تیوري د ریاضیاتو یوه مهمه څانگه ده، چې په بېلابېلو برخو لکه د معلوماتو تحلیل، انجنیری، اقتصاد او نورو برخو کې کارول کېږي. د څو حده توزیع قانون (Multinomial Distribution) د احتمالاتو یوه بنسټیزه او پراخه وسیله ده، چې د څو بېلابېلو پیښو ترمنځ د احتمالاتو محاسبه کولو لپاره کارول کېږي. دا توزیع د بینومیل توزیع قانون (Binomial Distribution) پراختیایي شکل دی، چې په کې یوازې دوه احتمالي پایلې (بریا او ناکامي) شتون لري. په دې څېړنه کې، د څو حده توزیع قانون او د لوی قاسم اصولو (Law of Large Numbers) پرمټ د دې توزیع د اهمیت او ارزونې په اړه بحث کېږي. همدارنگه، د موضعي قضیې (Central Limit Theorem) تطبیقونه او د دې توزیع د احتمالاتو تحلیل کولو لپاره عملي ارزونې وړاندې کېږي.

د څو حده توزیع قانون (Multinomial Distribution) د احتمالاتو یوه پراخ تطبیق لرونکی فورمول دی، چې د بېلابېلو پېښو د تکرارونو پر اساس احتمال محاسبه کوي. دا قانون په ځانگړي ډول د هغو حالاتو لپاره کارول کېږي، چې د څو بېلابېلو برخو یا انتخابونو ترمنځ وېش موجود وي او د هر انتخاب د پېښېدو احتمال مشخص وي او د څو حده توزیع د بینومیل توزیع ( Binomial Distribution) د پراختیا لپاره هم کارول کېږي، چې پکې یوازې دوه احتمالي پیښې شتون لري، لکه بریا یا ناکامي، خو د څو حده توزیع قانون په کې د څو بېلابېلو انتخابونو لپاره د احتمالاتو محاسبه کوي.
د څو حده توزیع قانون په هغو حالاتو کې کارول کېږي، چې د n ازموینو په ترڅ کې مختلفې پایلې د مختلفو احتمالونو سره رامنځته شي. په دې توزیع کې، د k بېلابېلو انتخابونو، (چې د احتمالي پایلو شمېر دی) ترمنځ د وقوع احتمال تحلیل کېږي. د دې توزیع بنسټیز فورمول عبارت دی له:

$$P(X_1 = x_1, X_1 = x_2, \dots, X_k = x_k) = \frac{n!}{x_1!\, x_2! \dots x_k!\, p_1^{x_1}\, p_2^{x_2} \dots p_k^{x_k}}$$

چیرې چې:

n د ازموینو شمېر دی.

$x_1, x_2, \dots, x_k$ د هر انتخاب یا نتیجې لپاره د تکرار شمېر دی.

$p_1, p_2, \dots, p_k$ د هرې نتیجې لپاره احتمال دي.

n! د n عدد فاکتوریل دی، چې د ټولې ازموینې د ترتیب شمېر ښیي.

د دې توزیع یوه مهمه ځانگړتیا دا ده، چې د احتمال هر انتخاب لپاره باید د ټولو احتمالونو مجموعه د 1 سره برابره شي، یعنې:

$$p_1 + p_2 + \cdots + p_k = 1$$

د دې فورمول کارونه د احتمال محاسبه کول د هغو حالاتو لپاره اسانه کوي، چې څو انتخابونه موجود وي او د دې انتخابونو ترمنځ د پایلو تکرار احتمال محاسبه کېږي. د دې توزیع تطبیقات په ډېرو مختلفو برخو کې شتون لري. د بېلګې په توګه: لکه د بازار څارنه، کله چې د بازار په مختلفو برخو کې د مصرفوونکو انتخابونه پرتله کېږي، د انتخابونو تحلیل لکه د انتخابونو په اړه د څو کاندیدانو ترمنځ د رایو وېش تحلیل او د سروې کولو لپاره لکه د خلکو د خوابونو د څو مختلفو انتخابونو ترمنځ تحلیل.

د څو حده توزیع قانون یو مهمه غوښتنه د لوی قاسم اصولو (Law of Large Numbers) سره تړاو لري. د لوی قاسم اصولو په وینا، کله چې د ازموینو n شمېر زیات شي، د هرې نتیجې د تکرار احتمال به د هغه د احتمال سره نژدې شي. دا اصول د احتمالاتو د پراختیا او د توزیع ګانو د تطبیق لپاره مهمه وسیله ده.

موضعي قضیه یا Central Limit Theorem د احتمالاتو او احصایې یوه مهمه تیوري ده. د دې تیورۍ له مخې، که چیرې د څو حده توزیع د نښه شوې پېښو تکرارونه ترسره شي او د نمونې اندازه n خورا لویه شي؛ نو د دې پېښو د مجموعې توزیع د نارمل توزیع (Normal Distribution) په توګه نږدې کېږي. د موضعي قضیې د تطبیق له مخې، که موږ د څو حده توزیع د یوې ازموینې لپاره ترسره کړو او د هر انتخاب لپاره د احتمالاتو ارزښتونه $p_1, p_2, \ldots, p_k$ ولرو؛ نو د ازموینو په زیاتېدو سره د ټولې نمونې توزیع د نارمل توزیع سره نږدې کېږي.

د دې څېړنې په لړ کې، موږ د موضعي قضیې له اشتقاق څخه د ډېرو جزیاتو د حذف کولو په ترڅ کې لاندې څرګندونې ترلاسه کوو، په ځانګړې توګه د دوه حده توزیع لپاره:

$$exp\{c_1 \frac{x^3}{\sqrt{npq}} + c_2 \frac{x^4}{npq} + c_3 \frac{x^5}{(npq)^{\frac{3}{2}}} + \cdots\}$$

سربیره پر دې، د دې لپاره چې د $n \rightarrow \infty$ بیان صفر ته تقرب وکړي؛ نو لازمه ده چې :

$$|x| = o(n^{\frac{1}{6}})$$

په دې توګه ، د نورمال تقریب معمولي خلاصه ساحه مساوي ده له :

$$|x| < r, \quad r = o\left(n^{\frac{1}{6}}\right) \ , \qquad n \rightarrow \infty$$

مسله د $|x| > r$ توزیع احتمالاتو څخه رامنځ ته کېږي. دغه مسلې ته د تصادفي متحولینو په جمع کې هم تعمیم ورکړل شوی دی.

یو له لومړنیو کسانو څخه، چې دا موضوع یې څېړلې ده، سرګئی ناتانوویچ برنشتاین ( Sergei Natanovich Bernstein ) دی؛ نو دلته به موږ د هغه له پایلو څخه استفاده وکړو [۱،۲].

**قضیه:** فرض کوو که چیرې د $X_1, X_2, \dots, X_n$ تصادفي وکتورونه د مقدار له مخې په مساویانه ډول د مستقل توزیع سره د هیلبرت په فضأ او د اطمینان وړ شرایطو کې په لاندې ډول راکړل شوې وي:

$$MX_i = 0, \quad MX_i^2 = \sigma^2, \quad \left||X|\right| \le L, \quad S_n = X_1 + \dots + X_n$$

نو

$$P\left(||S_n|| \ge r\sqrt{n}\right) \le 2exp\{nf(z)\}$$

چېرته چې

$$f(z) = \frac{-c}{c-z}\left\{\frac{z^2}{2}\frac{c^2-1}{c^2} + \frac{z^3}{2\cdot3}\frac{c^2-1}{c^3} + \frac{z^4}{3\cdot4}\frac{c^4-1}{c^4} + \frac{z^5}{4\cdot5}\frac{c^4-1}{c^5} + \cdots\right\} \dots \dots (1)$$

$$z = \frac{rc}{r + 2\Lambda L\sqrt{n}}, \qquad \Lambda L^2 = \sigma^2, \quad c = \sqrt{1 + 4\Lambda}$$

د قضیې تر شرط لاندې غیرمساوات په لاندې ډول لیکو:

$$P(||S_n|| \ge r\sqrt{n}) \le 2e^{-\frac{r^2}{2\sigma^2}e^{-\frac{r^2}{2\sigma^2}\left(1+\frac{rL}{2\sigma^2\sqrt{n}}\right)^{-1}}} \qquad (*)$$

**د لوی قاسم اصول**

د لوی قاسم اصول د احتمالاتو یو بنسټیز قانون دی، دا قانون بیانوي چې: که چیرې یوه تصادفي تجربه (ازموینه) تکرار شي او د ازموینو شمېر زیات شي، د هرې نتیجې د تکرار احتمال به د هغې د احتمالي ارزښت سره نژدې شي. په دې توګه د لوی قاسم اصول د ځو حده توزیع قانون سره تړاو لري؛ ځکه چې د ځو بېلابېلو انتخابونو ترمنځ د احتمالاتو توزیع د وخت په تېرېدو سره د احتمالي ارزښتونو سره همغږي کېږي [۳].

اوس د ځو حده توزیع قانون لپاره د لوی قاسم ارزونه په لاندې ډول بیانوو.

فرض کوو چې د $R^{k-1}$ توزیع په مساوي مقدار کې د $X_1, X_2, \dots, X_n$ تصادفي مستقل وکتورونه چې پّ ځانګړي ډول داسې تعریفیږي، چې د هغوی مجموعه عبارت ده له :

$$S_n = X_1 + X_2 + \dots + X_n = (x_1, x_2, \dots, x_{m-1})$$

چېرته چې :

$$x_i = \frac{m_i u_i - (n - m_1 - \dots - m_{i-1})p_i}{\sqrt{p_i u_i u_{i+1}}}, \qquad \overline{m} = (m_1, m_2, \dots, m_{k-1}).$$

د پورتنیو عملیو له ترکیب څخه ترلاسه کوو چې :

$$P(S_n > r\sqrt{n}) = \sum \binom{n}{m_1 \dots m_k} p_1^{m_1} \dots p_k^{m_k}$$

چېرته چې مجموعه د ټولو صحیحو نقطو لپاره ترسره کېږي، د کوم لپاره چې لاندې غیرمساوات صدق کوي :

$$\sum_{i=1}^{k-1} x_i^2 > r^2$$

د مطلوب ارزښت ( د لویو انحرافونو احتمالاتو ) موندلو لپاره لاندې ارزښتونه تعریف کوو:

$E|S_n|^2$ او L

په پام کې نیسو چې :

$$|x_i|^2 = \frac{p_1}{u_1u_2} + \frac{p_2}{u_2u_3} + \dots + \frac{p_{i-1}}{u_{i-1}u_i} + \frac{u_{i+1}}{p_iu_i} =$$

$$= \left(\frac{1}{u_2} - 1\right) + \left(\frac{1}{u_3} - \frac{1}{u_2}\right) + \dots + \left(\frac{1}{u_i} - \frac{1}{u_{i-1}}\right) + \left(\frac{1}{p_i} - \frac{1}{u_i}\right)$$
$$= \frac{1}{p_i} - 1$$

له همدې امله $L = \frac{1}{p_0}$ ، چېرته چې $p_0 = \min p_i$. اوس د څو حده توزیع لپاره مومنټ کاروو.

په اسانۍ سره ښودل کېږي چې:

$$MS_n^2 = k - 1.$$

$$P(S_n^2 > r^2n) < 2exp\left\{-\frac{r^2}{2(k-1)}\left(1 + \frac{r}{2(k-1)\sqrt{n}}\right)\right\} \qquad (2)$$

فرض کوو چې $X_1, X_2, \dots, X_n$ تصادفي مستقل وکتورونه د توزیع M-(k-1) مساوي مقدار سره د اقلیدس فضأ په لاندې ډول تعریفوي:

$$X_j = x_i, \quad (j = 1,2, \dots, n; \quad i = 1,2, \dots, k),$$

چېرته چې:

$$x_j = \left(-\frac{p_1}{\sigma_1}, -\frac{p_2}{\sigma_2}, \dots, -\frac{p_j}{\sigma_{j1}}, 0, \dots, 0\right), \ P(X_j = x_i) = p_i, \quad u_i = p_i + \dots + p_k$$

د عملیو د ترکیب په پام کې نیولو سره لرو، چې د تصادفي وکتورونو مجموعه $S_n$ د څو حده توزیع قانون تابع دی، سر بېره پر دې:

$$P(\ \|S_n\| > r\sqrt{n}\ ) = \sum \binom{n}{m_1\ \dots m_k} p_1^{m_1} \dots p_k^{m_k}$$

چېرته چې زموږ د $(m_1, \dots m_k)$ ټولو نقطو مجموعه، د کوم لپاره چې لاندې غیرمساوات وجود لري:

$$\sum_{i=1}^{k-1} y_i^2 > r^2.$$

د مطلوب ارزښت ( دلویو انحرافونو احتمالاتو ) موندلو لپاره[۹].

یادونه کوو چې:

$$\|x_i\|^2 = \frac{p_1}{u_1u_2} + \frac{p_2}{u_2u_3} + \dots + \frac{p_{i-1}}{u_{i-1}u_i} + \frac{u_{i+1}}{p_1u_i} =$$

$$= \left(\frac{1}{u_2} - 1\right) + \left(\frac{1}{u_2} - \frac{1}{u_3}\right) + \dots + \left(\frac{1}{u_i} - \frac{1}{u_{i-1}}\right) + \left(\frac{1}{p_i} - \frac{1}{u_i}\right) = \frac{1}{p_i} - 1.$$

برسېره پر دې، $L = 1/p_0.$ ته په پام کې نیولو سره چې واریانس یې k-1 دی؛ نو لرو چې:

$$\mathrm{P}(\mathrm{S}_\mathrm{n}^2 > \mathrm{r}^2\mathrm{n}) \le 2\exp\left\{-\frac{\mathrm{r}^2}{2(\mathrm{k}-1)}\left(1 + \frac{\mathrm{r}}{2(\mathrm{k}-1)\sqrt{\mathrm{np}_0}}\right)^{-1}\right\} \qquad (3)$$

**د څو حده توزیع قانون د اهمیت ارزونه:**

د څو حده توزیع قانون په بېلابېلو برخو کې لکه د بازار څارنه، انتخابونو، د تولید بهیر او د سروې تحلیلونو کې په پراخه کچه کارول لري. د دې توزیع له لارې، موږ کولی شو د بېلابېلو انتخابونو ترمنځ د احتمالاتو تحلیل وکړو، لکه د مختلفو محصولاتو د غوښتنې تحلیل، د انتخابونو په اړه د رایو وېش، یا د سروې په پایلو کې د مختلفو ځوابونو تحلیل. د بازار څارنې په برخه کې د څو حده توزیع د بازار څارنې لپاره مهمه وسیله ده. کله چې د بازار د مختلفو محصولاتو غوښتنه تحلیل کېږي، موږ کولی شو د څو حده توزیع له لارې د هر محصول د غوښتنې احتمالات محاسبه کړو.

**مثال**

فرض کړئ چې په یوه ازموینه کې درې مختلف ډولونه شتون لري: A، B او C. موږ غواړو چې د 10 ازموینو پر بنسټ د دې درې انتخابونو د تکرار احتمالات محاسبه کړو. فرض کړئ چې د هر انتخاب احتمال په لاندې ډول دی:

د A انتخاب احتمال $p_A = 0.3$

د B انتخاب احتمال $p_B = 0.4$

د C انتخاب احتمال $p_C = 0.3$

موږ غواړو چې د دې 10 ازموینو په اوږدو کې د A درې ځله انتخاب، د B پنځه ځله انتخاب او د C دوه ځله انتخاب تکرار شي.

**حل**

**1. د څو حده توزیع فورمول:** د څو حده توزیع فورمول په دې ډول دی:

$P(X_A = 3, X_B = 5, X_C = 2) = 10!/3!\,5!\,2!\,(0.3)^3\,(0.4)^5\,(0.3)^2$

اوس د هر انتخاب لپاره احتمالونه محاسبه کوو:

$0.027 = (0.3)^3$

$0.01024 = (0.4)^5$

$0.09 = (0.3)^2$

**4. د ټول احتمال محاسبه**

اوس ټول محاسبات سره یوځای کوو:

$$P(X_A = 3, X_B = 5, X_C = 2) = 3{,}628{,}800/6 \times 120 \times 2 \times 0.027 \times 0.01024 \times 0.09$$

لومړی د فاکتوریلونو ضرب محاسبه کوو:

$1440 = 2 \times 120 \times 6$

بیا ټول احتمال محاسبه کوو:

$P(X_A = 3, X_B = 5, X_C = 2) = 3{,}628{,}800/1440 \times 0.027 \times 0.01024 \times 0.09$

$$2520 = 1440/3{,}628{,}800$$

اوس ټول احتمال محاسبه کوو:

$P(X_A = 3, X_B = 5, X_C = 2) = 2520 \times 0.027 \times 0.01024 \times 0.09$

$$68.04 = 0.027 \times 2520$$

$$0.696 = 0.01024 \times 68.04$$

$$0.06264 = 0.09 \times 0.696$$

**نتيجه**

د دې 10 ازموینو په ترڅ کې د A درې ځله، د B انتخاب پنځه ځله او د C انتخاب دوه ځله تکراریدو احتمال داسې محاسبه شو:

$P(X_A = 3, X_B = 5, X_C = 2) = 0.06264$

یعنې، د دې درې انتخابونو د تکرار احتمال 0.06264 دی.

**پایله**

د څو حده توزیع قانون د احتمالاتو په برخه کې د یوه مهم او پراخه تطبیق لرونکي وسیلې په توګه پېژندل کېږي. د دې توزیع د تحلیل لپاره د لوی قاسم اصول او موضعي قضیه اړینه ده. د لوی قاسم اصول د توزیع په اوږد مهال کې د انتخابونو د احتمالاتو د احتمالي ارزښت سره همغږي کوي او موضعي قضیه د دې توزیع د نارمل توزیع سره د نږدې کولو لپاره مهمه ده. د دې توزیع تطبیقونه په بېلابېلو برخو لکه د بازار څارنه، انتخابونو تحلیل او د سروې تحلیل کې ډیر مهم دي. د دې توزیع د پوهې پراختیا د احتمالاتو او احصایې په برخه کې د یوې مهمې وسیلې په توګه کار کوي. په دې څېړنه کې د څو حده توزیع قانون، د لوی قاسم اصول او د موضعي قضیې تحلیل ترسره شو او د دې توزیع د اهمیت او ارزونې په اړه تفصیل ورکړل شو. د دې توزیع پوهه د احتمالاتو په برخه کې د یوې مهمې وسیلې په توګه پېژندل کېږي.

**مأخذونه**

1. Kalton N.J., Verbitsky I.E. Nonlinear equations and weighted norm inequalities// Trans. Amer. Math. Soc. 1999. V. 351. № 9.
2. N.K. Arenbaev, Asimptotic behavior of the multinomial distribution, Theory of probability and its applications 1976.
3. Feller, William. An Introduction to Probability Theory and Its Applications, Volume 1, 3rd Edition. Wiley, 1968.
4. W. N. Venables and B. D. Ripley. Modern Applied Statistics with S. Springer,
New York, fourth edition, 2002.
5. R Development Core Team. R: A Language and Environment for Statistical Computing.R Foundation for Statistical Computing, Vienna, Austria, 2009.

6. Аренбаев Н.К., Абдулахад Ариан, Оценка больших уклонений для вероятностей мультиномиального распределения, 2016, Математика в казахстане прошлое и перспективы, посвященной 100 летию Ибрашева Хасана Ибрашевича, 2016.
7. Ахмеров Р.Р, Каменский М.И., Потапов А.С. и др. Меры некомпактности и уплотняющие операторы. Новосибирск: Наука, 1986.
8.Фонарёв А.А. О некотором проекционном итерационном методе решения нелинейных уравнений // Некоторые проблемы фундаментальной и прикладной математики и их приложения в задачах физики: Сборник научных трудов. – М.: МФТИ, 2005.
9. Гмурман В.Е. Теория вероятностей и математическая статистика. Базовый Курс. Серия Бакалавр. М.: Юрайт, 2018.
10. Гмурман В.Е. Руководство к решению задач по теории вероятностей и математической статистике. Базовый курс. Серия Бакалавр. М:Юрайт, 2018.
11. Вентцель Е.С. Теория вероятностей: учебник 12-е изд., стер. М: Юстиция, 2018.
12. Вентцель Е.С., Овчаров Л.А. Задачи и примеры по теории вероятностей: учеб. пособие для втузов М.: издат. центр Академия, 2010.

## په ا فغانستان کې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره اغېزمنې لارې چارې؛ ننګونې او فرصتونه

پوهنيار [1]سميع الله حسن او پوهنيار [2]حبيب الله سليمانزی ، شيخ زايد پوهنتون، کمپيوټرساينس پوهنځی، د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه
برېښناليک: samiullah.szu@gmail.com

**لنډيز**

په نړۍ کې د ټکنالوژۍ پراختيا له يوې خوا د پرمختګونو لامل شوې، خو له بلې خوا يې د سايبري جرمونو د پراختيا لپاره زمينه برابره کړې ده. په دې څېړنه کې په افغانستان کې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د اغېزمنو لارو چارو په برخه کې ننګونې او فرصتونه څېړل شوي دي، چې موخه يې د مؤثرو حل لارو موندل وو. څېړنه د کمي (quantitative ) مېتود په کارولو سره ترسره شوې، چې په ياده څېړنه کې سروې په لاره اچول شوې وه. په ترڅ کې له ۵۸ ګډونوالو، چې په ياده برخه کې ماهرين وو، سروې کې برخه اخيستې وه. پايلې څرګندوي چې د سايبري امنيت د متخصصينو کمښت، د پرمختللو ټکنالوژيو او زيربناوو نشتوالی، د قوانينو کمزوری تطبيق او د خلکو ټيټه پوهه هغه جدي ننګونې دي، چې د سايبري امنيت پر وړاندې موجودې دي. سره له دې، څېړنه د نړيوالو سايبري معيارونو د تطبيق، د ټکنالوژۍ نوښتونو، د عامه پوهاوي د لوړولو او د امنيتي ټکنالوژيو لپاره د بوديجې ځانګړي کولو په ګډون يو شمېر مهم فرصتونه هم په ګوته کوي. څېړنه څرګندوي چې د سايبري امنيت پياوړتيا د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره بنسټيز رول لري. همداشان دا څېړنه د سايبري امنيت په برخه کې د پاليسيو جوړونکو سره، د پام وړ مرسته کولای شي. د دې څېړنې اهميت په دې کې دی، چې د افغانستان د سايبري امنيت د حالت د ښه‌والي لپاره د مهمو ننګونو او فرصتونو پېژندنه کوي.

**کليدي ټکي**: افغانستان، سايبري امنيت، سايبري جرمونه، فرصتونه، مخنيوی، ننګونې.

**سريزه**

**بسم الله الرّحمن الرّحيم و الحمدلله ربّ العالمين و الصّلاة و السّلام علی سيدالمرسلين و علی آله و أصحابه أجمعين،**

**اما بعد:**

په اوسني دور کې د ټکنالوژۍ چټک پرمختګ سايبري فضا د ګڼو اسانتياوو ترڅنګ له جدي ګواښونو سره هم مخ کړې ده. په وروستيو کلونو کې سايبري جرمونه په نړۍ کې په بېساري ډول زيات شوي او افغانستان هم له دې ناوړه وضعيت څخه مستثنا نه دی. له همدې امله، د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د مؤثرو حللارو موندل يوه جدي اړتيا ده.

دغه څېړنه کې به هڅه وشي، چې په افغانستان کې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره ځانګړې ننګونې او فرصتونه وڅېړي او د داسې ستراتيژيو وړانديز وکړي چې په سيمه ييزه او نړيواله کچه اغېزمنې وي. په تېرو لسو کلونو کې، نړۍ د ټکنالوژۍ په سمندر کې لامبو وهي، چې د ډېرو فرصتونو دروازې يې پرانيستې

دي. په تېرو دوو لسیزو کې د انټرنیټ اهمیت په بې ساري ډول زیات شوی. انټرنیټ نه یوازې د ملتونو د سیالۍ ورتیا لوړه کړې، بلکې د نوښتونو وده یې چټکه کړې، نړیوال اړیکې یې پراخې او اسانه کړې او د خلکو ورځنۍ ژوند یې د پام وړ بدل او اسانه کړی، همداشان په نننۍ نښلول شوې نړۍ کې د سایبري بریدونو او ګواښونو ستونزه هم یوه جدي نړیواله مسئله ګرځېدلې ده. دا ګواښونه په څو دقیقو کې پراخه مشکلات رامنځته کولی شي. حکومتونه، سوداګري او افراد په پرمختللو مخابراتي شبکو کې د ذخیره او انتقالېدونکو معلوماتو په کارولو لا ډېر متکي شوي دي[۲،۱]. د سایبري بریدونو له امله رامنځته کېدونکي لګښتونه حیرانوونکي دي، چې په کې د عوایدو له لاسه ورکول، د حساسو معلوماتو افشا، د تجهیزاتو زیان، د خدمتونو بندیدو بریدونه او د شبکې د بندیدو پېښې شاملې دي. په تېرو څو لسیزو کې، کمپیوټرونو د ټولنې په مختلفو برخو کې له تمې څخه زیات بدلون راوستی، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري واټنونه یې راکم کړي او بې ساري اسانتیاوې یې رامنځته کړې دي. په هر حال، په معلوماتي او کمپیوټري ټکنالوژۍ باندې زیاته تکیه ټولنه د سایبري جرم ګواښ سره مخ کړې ده. د انټرنیټ د اهمیت زیاتوالی او زموږ پر هغه مخ په ډېریدو تکیه د نوو جرمونو لپاره ګڼ شمېر فرصتونه رامنځته کړي دي. سایبري جرم یوه نړیواله پدیده ده چې نړۍ ته ګڼ شمېر زیانونه رامنځته کوي[۵،۴،۳]. په افغانستان کې هم د انټرنیټ او ټیکنالوژۍ وده په چټکۍ سره روانه ده. سره له دې چې دا پرمختګ ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړې، خو له بده مرغه سایبري جرمونه هم په زیاتېدو دي. له همدې امله اړینه ده چې د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره اغېزمنې لارې چارې وڅېړل شي.

**موخې:** په دې څېړنه کې به په افغانستان کې د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره موجودې ننګونې او فرصتونه وڅېړل شي. همداراز، د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره به اغېزمنې ستراتیژۍ هم وړاندیز شي.

**فرعي موخې:** د سایبري جرمونو د مخنیوی په لاره کې د موجودو ننګونو څېړل.

- په افغانستان کې دسایبري امنیت په برخه کې د موجودو فرصتونو څېړل.
- د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره د اغېزمنو سترایژیو وړاندیز کول.

**مېتودولوژي:** د دې څېړنې لپاره د کمي (quantitative) مېتود کارول شوی، چې د سایبري جرمونو په برخه کې د ننګونو، فرصتونو او اغېزمنو ستراتیژیو د ارزولو لپاره مناسبه لاره ده .د څېړنې د نمونې انتخاب لپاره د (purposive sampling)مېتود کارول شوی. په دې مېتود کې هغه ګډونوال انتخاب شوي چې په افغانستان کې د سایبري امنیت د ننګونو او فرصتونو په اړه مناسبې پوهې او تجربې لري .د څېړنې لپاره پوښتنلیک ترتیب شوی، چې د ګډونوالو نظریات د سایبري امنیت په اړه د مختلفو اړخونو په هکله راټول کړي. د راټول شوو ډاټا تحلیل د احصائیوي تخنیکونو په مرسته ترسره شوی، ترڅو د سایبري جرمونو د مخنیوي په برخه کې د موجودو ننګونو او فرصتونو واضح انځور وړاندې شي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

د سایبري جرمونو د مخنیوي په اړه ګڼې څېړنې ترسره شوې، چې د دې ستونزې د پېژندلو او د هغې د حل لپاره بېلابېلې لارې چارې وړاندې کوي. څېړنې ښيي چې سایبري جرمونه د ټکنالوژۍ د پراختیا او

د ډیجیټل نړۍ د ودې سره په زیاتېدو دي، چې نه یوازې اقتصادي زیانونه اړوي بلکې د خلکو د شخصي حریم او امنیت لپاره هم جدي ګواښونه دي. سایبري جرمونه په چټکۍ سره زیاتېږي،که څه هم د دې جرمونو بشپړ مخنیوی ستونزمن دی، خو د اغېزو کمولو لپاره اړین تدابیر نیول او د معلوماتو د خوندیتوب لارې تعقیبول اړین دي. سربېره پر دې، د سایبري جرمونو په اړه پوهه او هغه قوانین چې خلک د دې جرمونو پر وړاندې ساتي، د دې جرمونو اغېزې کمولی شي[٦].

د انټرنیټ او سایبري نړۍ پرمختګ یوازې مثبت پرمختګونه رامنځته نه کړل، بلکې ځینې منفي پایلې هم ورسره مل وې. له دغو منفي پایلو څخه یو د سایبري جرمونو زیاتوالی دی. د انټرنیټ د فضا او وخت محدودیت له منځه تلل کولی شي هر څه اغېزمن کړي. بېلابېلې ستراتیژۍ د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره رامنځته شوي دي. سایبري جرمونه یوازې د انټرنیټ له لارې نه ترسره کېږي، بلکې دا د داسې شبکو له لارې هم ترسره کېدای شي چې سیګنالونه انتقالوي، لکه د ټیلیفون اړیکې. د اندونیزیا حکومت د آنلاین جرمونو پر وړاندې د مبارزې لپاره قوانین نافذ کړي دي. ځینې له دغو قوانینو مخکې له مخکې په جزایي قانون کې شامل دي، په ځانګړې توګه د معلوماتو او برېښنايي اړیکو قانون د دې سیستم د پلي کولو له لارې، د سایبري جرمونو پېښې هر کال کمېدای شي [٧]. د انټرنېټ کاروونکو  لپاره د ټکنالوژۍ د اغېزمنې کارونې په اړه روزنه ضرور دي ، ځکه چې د سایبري جرمونو پر وړاندې مبارزه یوازې د قانون د تنفیذ ادارو مسؤلیت نه دی، بلکې د انټرنېټ د کاروونکو لپاره مناسب او ښه جوړ شوي د پوهاوي پروګرامونه باید طرحه شي[٧]. ملي حکومتونه باید د خلکو د ځان ساتنې د مهارتونو لوړولو لپاره د عامه پوهاوي کمپاینونه پیل کړي چې د آنلاین جرمونو مخه ونیسي. د ساده امنیتي احتیاطي تدابیر نیول، په ځانګړي ډول د ځوانانو ترمنځ، د سایبري جرمونو کچه د پام وړ راکمولی شي. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره د رسنیو له لارې دوامدار کمپاینونه، د تلویزیوني اعلانونو او ځانګړو ویب پاڼو کارول یو له ممکنه لارو څخه دی. په پای کې، د کمپیوټر خوندیتوب په اړه د عامه پوهاوي لوړول نه یوازې د خلکو معلوماتو د غلا مخنیوی کولی شي ، بلکې هغوی د سایبري جرمونو له قرباني کېدو هم ژغوري[٨].

په دې لسیزه کې د انټرنیټ کاروونکو شمېر په بې سارې توګه زیات شوی دی، او دا زیاتوالی په ټوله نړۍ کې روان دی. سایبري بریدونه نه یوازې زیاتېږي، بلکې ورځ تر بلې پیچلي کېږي. له همدې امله، که د دې بریدونو د مخنیوي لپاره مناسبې زیربناوې شتون ونلري، نو ډېره ممکنه ده چې دا بریدونه کشف نه شي. ملي سایبري امنیت پالیسي یوه ستراتیژي ده چې د هېواد د سایبري خطراتو او ګواښونو مخنیوي لپاره ډیزاین شوې. دا پالیسي د اقتصادي او ټولنیزې هوساینې د هڅولو او د سایبري اړوند ټولنو د سایبري خطراتو څخه د ساتنې لپاره کار کوي. د دې پالیسي مهم عناصر عبارت دي له: د حکومت د پالیسی ، ادارو همغږۍ پرمختګ او د عامه او خصوصي سکتورونو ترمنځ همکاري پیاوړې کول[٩].

**پایلې**

د څېړنې اړوند د کمي برخې پایلې په لاندې برخو کې تشریح او خلاصه شوې دي:

- د ګډونوالو پروفایل

ددې څېړنې ګډونوال د عمر له مخې، په درې برخو ویشل شوي دي. له ۱۸ تر ۲۰ کلونو د عمر لرونکي ګډونوال (٦) تنه چې د ټولو ګډونوالو څخه ۱۰،۳ سلنه جوړوي، چې تر ټولو لږ شمېره ده. همداشان له ۲۱ تر ۳۰ کلونو د عمر لرونکي ګډونوال ۲۱ تنه چې د ټولو ګډونوالو ٣٦،٢ سلنه دي، چې د عمر د منځنۍ ډلې استازيتوب کوي. له بلې خوا تر ټولو ډېره برخه ګډونوال د ۳۱ تر ۴۰ کلونو د عمر لرونکي دي، چې شمېر يې ۳۱ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۵۳،۴ سلنه ته رسېږي. د زده کړو کچې له مخې، ډېرى ګډونوال د ماستر سند لرونکي دي، چې شمېر يې ۴۱ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۷۰،۷ سلنه جوړه وي، په داسې حال کې چې د ليسانس سند لرونکي يوازې ۱۷ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۲۹،۳ سلنه جوړوي برخه اخيستې. د دندې په برخه کې، استادان تر ټولو زياته برخه ګډونوال دي، چې شمېر يې ۳۵ تنه چې د ټولو ګډونوالو ٦٠،٣ سلنه کېږي برخه اخيستې، همداشان د مسلکي کسانو شمېر ۱۱ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۱۹،۰ سلنه دي، همدارنګه تخنيکي يا انجينري برخې کارکوونکي ۱۲ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۲۰،۷۰ سلنه دي، چې ښيي د څېړنې ګډونوال د سايبري امنيت اړوند موضوعاتو سره پېژندګلوي لري. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۱ جدول کې ښودل شوې ده:

**۱ جدول: د ګډونوالو پروفايل**

| عمومي شاخصونه | فرعي شاخصونه | شمېر | سلنه |
|---|---|---|---|
| عمر | له ۱۸ تر ۲۰ کلونو ترمنځ | ٦ | ۱۰،۳ |
| | له ۲۱ تر ۳۰ کلونو ترمنځ | ۲۱ | ٣٦،٢ |
| | له ۳۱ تر ۴۰ کلونو ترمنځ | ۳۱ | ۵۳،۴ |
| زده کړې | ليسانس | ۱۷ | ۲۹،۳ |
| | ماستر | ۴۱ | ۷۰،۷ |
| دنده | استاد | ۳۵ | ٦٠،٣ |
| | مسلکي | ۱۱ | ۱۹،۰ |
| | تخنيکي کارکوونکي /انجينر | ۱۲ | ۲۰،۷ |

## د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره فرصتونه او اغېزمنتيا

- **د عامه پوهاوي کمپاينونه**

عامه پوهاوي کمپاينونه د سايبري جرمونو دکمولو لپاره په بېلابېلو کچو اغېزناک ګڼل شوي دي. د ۵۸ تنو ګډونوالو له ډلې څخه ۹ تنو چې د ټولو ګډونوالو ۱۵،۵ سلنه جوړوي، دوي په دې باور دي چې د عامه پوهاوي کمپاينونه د سايبري جرمونو د کمولو لپاره په منځنۍ کچه اغېزناک دي، چې دا د ګډونوالو لږه برخه جوړوي. په ورته وخت کې، ۲۱ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ٣٦،٢ سلنه کېږي په دې باور ټينګار کوي چې دا کمپاينونه ډېر اغېزناک دي، چې د ګډونوالو د پام وړ برخه تشکيلوي. د ټولو ګډونوالو تر ټولو زياته برخه، يعنې ۲۸ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۴۸،۳ سلنه کېږي، دوی په دې اند دي چې دا کمپاينونه ډېر زيات اغېزناک دي.

په ټوله کې، د ګډونوالو ګډ نظر څرګندوي چې د عامه پوهاوي کمپاينونه د سايبري جرمونو د کمولو لپاره په لوړه کچه اغېزناک دي، ځکه اکثريت ګډونوال يې د اغېزمنتيا کچه تأييدوي. دغه پايله دا ښيي چې د پوهاوي لوړولو لپاره داسې کمپاينونه کولای شي د خلکو امنيتي چلند کې مثبت بدلون راولي او د سايبري ګواښونو پر وړاندې يو قوي دفاعي ديوال جوړ کړي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۲ جدول کې ښودل شوې ده:

۲ جدول : د عامه پوهاوي کمپاينونه د سايبري جرمونو د کمولو لپاره څومره اغېزمن دي؟

| اندازه ګيرى واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| متوسط اغېزمن دي | ۹ | ۱۵،۵ |
| ډېر اغېزمن دي | ۲۱ | ۳٦،۲ |
| ډېرزيات اغېزمن دي | ۲۸ | ۴۸،۳ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق**

د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق د سايبري جرمونو د کمولو لپاره په بېلابېلو کچو اغېزناک فرصت ګڼل شوی دی. د ۵۸ تنو ګډونوالو له ډلې ٦ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۱۰،۳ سلنه کېږي، دوی په دې اند دي چې دا معيارونه لږ اغېزمن دي، چې دا د ګډونوالو لږه برخه جوړوي. په ورته وخت کې ۸ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۱۳،۸ سلنه جوړوي، دا معيارونه په متوسطه کچه اغېزمن ګڼلي دي. د ګډونوالو د پام وړ برخه، يعنې ۲۴ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۴۲،۴ سلنه کېږي باور لري چې د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق ډېر اغېزمن دی. په ورته ډول، ۲۰ ګډونوالو چې د ټولو ګدونوالو۳۴،۵ سلنه جوړوي، دا معيارونه ډېر زيات اغېزمن ګڼلي دي، چې د ګډونوالو د پام وړ برخه تشکيلوي. په ټوله کې، د ګډونوالو ۷۵،۹ سلنه ډېر اغېزمن او يا ډېر زيات اغېزمن د دې معيارونو تطبيق د سايبري امنيت لپاره يو مهم فرصت ګڼلی دی. دغه پايله څرګندوي چې د نړيوالو معيارونو پلي کول کولای شي د سايبري جرمونو په مخنيوي کې مثبت او اغېزناک رول ولوبوي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۳ جدول کې ښودل شوې ده:

| اندازه ګيرى واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| لږ اغېزمن دي | ٦ | ۱۰،۳ |
| متوسط اغېزمن دي | ۸ | ۱۳،۸ |
| ډېر اغېزمن دي | ۲۴ | ۴۱،۴ |
| ډېرزيات اغېزمن دي | ۲۰ | ۳۴،۵ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

۳ جدول: د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق

- **د سايبري امنيت لپاره د تخنيکي وړتياوو لوړول**

د سايبري امنيت لپاره د تخنيکي وړتياوو لوړول او د متخصصينو روزنه دګډونوالو له نظره په عمومي توګه يو ډېر اغېزناک اقدام ګڼل شوی دی. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې ۵ تنو چې د ټولو ګډونوالو ۸،٦ سلنه کېږي دوی په دې نظر دي، چې دا کړنه په متوسطه کچه اغېزمنه ده، چې دا د ګډونوالو لږه برخه جوړوي. په ورته وخت کې ۱۹ تنو چې د ټولو ګډونوالو ۳۲،۸ سلنه کېږي باور څرګند کړی. چې دا کړنه ډېره اغېزمنه ده، چې د پام وړ برخه ګډونوالو استازيتوب کوي .د ټولو څخه ډېره برخه، يعنې ۳۴ تنه چې دټولو ګډونوالو ۵۸،٦ سلنه جوړوي، باور لري چې د تخنيکي وړتياوو لوړول او د متخصصينو روزنه ډېر زيات اغېزمنه ده، چې د ګډونوالو د اکثريت نظر ښيي .په ټوله کې، د ګډونوالو ګډ نظر څرګندوي چې د سايبري امنيت د پياوړتيا لپاره د تخنيکي وړتياوو لوړول او د متخصصينو روزنه يوه بنسټيزه او ډېره اغېزمنه لار ده، چې کولای شي د سايبري ګواښونو پر وړاندې د ټولنې دفاعي توان زيات کړي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۴ جدول کې ښودل شوې ده.

۴ جدول : د سايبري امنيت لپاره د تخنيکي وړتياوو لوړول او د متخصصينو روزنه

| اندازه ګیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| متوسط اغېزمن دي | ۵ | ۸،٦ |
| ډېر اغېزمن دي | ۱۹ | ۳۲،۸ |
| ډېرزيات اغېزمن دي | ۳۴ | ۵۸،٦ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د ټکنالوژۍ نوې حل لارې**

د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د ټکنالوژۍ نوې حل لارې د ګډونوالو له نظره په ټوله کې ډېرې اغېزمنې ګڼل شوې دي. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، ۴ تنو چې د ټولو؛ ګډونوالو ٦،۹ سلنه کېږي، ويلي چې دا حل لارې په متوسطه کچه اغېزمنې دي، چې دا د ګډونوالو لږه برخه تشکيلوي. په ورته وخت کې۱۷ تنو چې د ټولوګډونوالو ۲۹،۳ سلنه جوړوي باور څرګند کړی، چې دا حل لارې ډېر اغېزمنې دي، چې د پام وړ برخه ګډونوال استازيتوب کوي .د ګډونوالو اکثريت، يعنې ۳۷ تنه چې د ټولو ګډونوالو ٦۳،۸ سلنه کېږي ويلي چې د ټکنالوژۍ نوې حل لارې ډېر زيات اغېزمنې دي، چې د ګډونوالو غالب نظر څرګندوي .په ټوله کې، د ګډونوالو له نظره د ټکنالوژۍ نوې حل لارې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره يو خورا مهم او اغېزناک اقدام دی، چې کولای شي د سايبري ګواښونو په وړاندې د ټولنې او سازمانونو مقاومت او خونديتوب زيات کړي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۵ جدول کې ښودل شوې ده.

۵ جدول: د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د ټکنالوژۍ نوې حل لارې

| اندازه ګيری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| متوسط اغېزمن دي | ۴ | ٦.٩ |
| ډېر اغېزمن دي | ۱۷ | ۲۹.۳ |
| ډېرزيات اغېزمن دي | ۳۷ | ٦۳.۸ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰.۰ |

**سايبري جرمونو د محنيوي لپاره ننګونې او ستونزې**

- د سايبري جرمونو لپاره د قوانينو نشتوالی

د سايبري جرمونو لپاره د ځانګړو قوانينو نشتوالی د ګډونوالو له نظره يوه لويه ننګونه ګڼل شوې ده. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، يواځې ۱ تن چې د ټولو ګډونوالو ۱.۷ سلنه کېږي، ويلي چې د قوانينو نشتوالی هيڅ ننګونه نه ده، او بل اړخ ته ۱ تن چې د ټولو ګډونوالو ۱.۷ سلنه جوړوي، فکر کوي چې دا يوازې لږه ننګونه ده .په ټوله کې ۴ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ٦.۹ سلنه جوړوي باور لري چې د قوانينو نشتوالی د منځنۍ کچې ننګونه ده. په ورته وخت کې ۲۵ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ۴۳.۱ سلنه جوړوي، دوی په دې باور دي چې دا يوه لويه ننګونه ده. تر ټولو ډېره برخه، يعنې ۲۷ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ۴٦.٦ سلنه کېږي دوی باور لري چې د سايبري جرمونو لپاره د ځانګړو قوانينو نشتوالی ډېره لويه ننګونه ده.په ټوله کې، د ګډونوالو ۸۹.۷ سلنه لويه يا ډېره لويه ننګونه د قوانينو نشتوالی د سايبري جرمونو په مخنيوي کې يوه جدي او لويه ننګونه ګڼي. دا څرګندوي چې د ځانګړو قوانينو نشتوالی يو له اساسي مشکلاتو څخه دی، چې د سايبري جرمونو په وړاندې د اغېزمنو اقداماتو او چلندونو په رامنځته کولو کې خنډ ګرځېدلی دی. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ٦ جدول کې ښودل شوې ده.

٦ جدول: د سايبري جرمونو لپاره د قوانينو نشتوالی

| اندازه ګيری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هيڅ ننګونه نه ده | ۱ | ۱.۷ |
| لږه ننګونه ده | ۱ | ۱.۷ |
| منځنۍ کچه ننګونه ده | ۴ | ٦.۹ |
| لويه ننګونه ده | ۲۵ | ۴۳.۱ |
| ډېره لويه ننګونه ده | ۲۷ | ۴٦.٦ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰.۰ |

- **د قوانینو کمزوری تطبیق**

د قوانینو کمزوری تطبیق د سایبري جرمونو په مخنیوي کې د ګډونوالو له نظره یوه جدي ستونزه ګڼل شوې ده. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، یواځې ۲ تنو چې د ټولو ګډونوالو ۳،۴ سلنه جوړوي، ویلي چې د قوانینو کمزوری تطبیق هیڅ ننګونه نده، او ۱ تن چې د ټولو ګډونوالو ۱،۷ سلنه کېږي فکر کوي چې دا یوازې لږه ننګونه ده .په ټوله کې، ۲ ګډونوالو چې ۳،۴ سلنه کېږي باور لري چې د قوانینو کمزوری تطبیق د منځنۍ کچې ننګونه ده. په بل اړخ کې، ۱۷ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ۲۹،۳ سلنه کېږي په دې باور دي چې دا یوه لویه ننګونه ده. تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳۶ ګډونوالو چې د ټولو ګډونوالو ۶۲،۱ سلنه کېږي باور لري چې د قوانینو کمزوری تطبیق ډېره لویه ننګونه ده .په ټوله کې، د ګډونوالو ۹۱،۴ سلنه د قوانینو کمزوری تطبیق د سایبري جرمونو په مخنیوي کې یوه جدي ستونزه ګڼي. د پورته پایلو خلاصه د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۷ جدول کې ښودل شوې ده.

۷ جدول: د قوانینو د تطبیق کمزوري

| اندازه ګیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هیڅ ننګونه نه ده | ۲ | ۳،۴ |
| لږه ننګونه ده | ۱ | ۱،۷ |
| منځنۍ کچې ننګونه ده | ۲ | ۳،۴ |
| لویه ننګونه ده | ۱۷ | ۲۹،۳ |
| ډېره لویه ننګونه ده | ۳۶ | ۶۲،۱ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **په قانون پلي کوونکو ادارو کې د تخنیکي پوهې کمښت**

د قانون پلي کونکو ادارو د تخنیکي پوهې کمښت د سایبري جرمونو په مخنیوي کې د ګډونوالو له نظره یوه جدي ننګونه ګڼل شوې ده. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې د ټولو ګډونوالو ۸،۶ سلنه کېږي، ویلي چې د تخنیکي پوهې کمښت د منځنۍ کچې ننګونه ده. ۱۸ تنه چې د ټولو ګډونوالو ۳۱ سلنه جوړوي، باور لري چې دا یوه لویه ننګونه ده .تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳۵ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ۶۰،۳ سلنه جوړوي باور لري چې د قانون پلي کونکو ادارو د تخنیکي پوهې کمښت ډېره لویه ننګونه ده. په ټوله کې، د ګډونوالو ۹۱،۳ سلنه د دې کمښت د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره یوه جدي ننګونه ګڼي، چې ښیي د قانون پلي کونکو ادارو د تخنیکي پوهې پراختیا د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره خورا اړینه ده. د پورته پایلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۸ جدول کې ښودل شوې ده.

۸جدول: د تخنیکي پوهې کمښت په قانون پلي کونکو ادارو کې

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننگونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لویه ننگونه ده | ۱۸ | ۳۱،۰ |
| ډېره لویه ننگونه ده | ۳۵ | ٦۰،۳ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د امنیتي ټکنالوژیو نشتوالی**

د پرمختللو امنیتي ټیکنالوژیو نشتوالی د سایبري جرمونو په مخنیوي کې د گډونوالو له نظره یوه جدي ستونزه گڼل شوې ده. د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ٦ تنو چې د ټولو گډونوالو ۱۰،۳ سلنه کېږي، ویلي چې د پرمختللو امنیتي ټکنالوژیو نشتوالی د منځنۍ کچې ننگونه ده. ۲۱ گډونوالو چې ۳٦،۲ سلنه کېږي، باور لري چې دا یوه لویه ننگونه ده. تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳۱ گډونوالو چې ۵۳۰،۴ سلنه کېږي باور لري چې د پرمختللو امنیتي ټکنالوژیو نشتوالی ډېره لویه ننگونه ده .په ټوله کې، د گډونوالو زیاته برخه د دې نشتوالي د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره یوه جدي ستونزه گڼي، چې ښیي د پرمختللو امنیتي ټیکنالوژیو پراختیا او شتون د سایبري جرمونو په مخنیوي کې خورا مهم دی. د پورته پایلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۹ جدول کې ښودل شوې ده.

۹ جدول: د امنیتي ټیکنالوژیو نشتوالی

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننگونه ده | ٦ | ۱۰،۳ |
| لویه ننگونه ده | ۲۱ | ۳٦،۲ |
| ډېره لویه ننگونه ده | ۳۱ | ۵۳،۴ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د سایبري امنیت متخصصینو کمښت**

د سایبري امنیت متخصصینو کمښت د سایبري جرمونو په مخنیوي کې د یوې جدي ننگونې په توگه ارزول شوی دی. د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې ټولو گډونوالو ۸،٦ سلنه جوړوي ویلي، چې د متخصصینو کمښت د منځنۍ کچې ننگونه ده. ۱۸ گډونوال چې ۳۱ سلنه کېږي باور لري چې دا یوه لویه ننگونه ده. تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳۵ گډونوال چې د ټولو گډونوالو ٦۰،۳ سلنه جوړوي، باور لري چې د سایبري امنیت متخصصینو کمښت ډېره لویه ننگونه ده .په ټوله کې، د گډونوالو ۹۱،۳ سلنه د سایبري امنیت متخصصینو کمښت د سایبري جرمونو د مخنیوي لپاره یوه جدي ننگونه گڼي، چې ښیي د سایبري امنیت په برخه کې متخصصین مهم دي او د هغوی کمښت د گواښونو د مخنیوي لپاره یوه

لويه ستونزه جوړوي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۱۰ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۰ جدول: د سايبري امنيت متخصصينو کمښت

| اندازه گيری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننگونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لويه ننگونه ده | ۱۸ | ۳۱،۰ |
| ډېره لويه ننگونه ده | ۳۵ | ٦۰،۳ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د کافي وسايلو نشتوالی**

د سايبري بريدونو د کشف او غبرگون لپاره د کافي وسايلو نشتوالی د سايبري جرمونو په مخنيوي کې د جدي ننگونې په توگه ارزيابي شوی دی. د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې ۸،٦ سلنه کېږي ويلي چې د وسايلو نشتوالی د منځنۍ کچې ننگونه ده. ۱۷ گډونوال چې د ټولو گډونوالو ۲۹،۳ سلنه کېږي دا لويه ننگونه گڼلې او تر ټولو ډېره برخه، يعنې ۳٦ تنه چې د ټولو گډونوالو ٦۲،۱ سلنه جوړوي د دې نشتوالي يې ډېره لويه ننگونه بللې ده .په ټوله کې، اکثريتو گډونوالو د کافي وسايلو نشتوالی د سايبري بريدونو د کشف او غبرگون لپاره يوه جدي ننگونه گڼلې ده، چې ښيي د دې وسايلو شتون د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره ډېر مهم دی. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۱۱ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۱ جدول: د کافي وسايلو نشتوالی

| اندازه گيری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍکچې ننگونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لويه ننگونه ده | ۱۷ | ۲۹،۳ |
| ډېره لويه ننگونه ده | ۳٦ | ٦۲،۱ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د خلکو ټيټ پوهاوی**

د خلکو ټيټ پوهاوی د سايبري جرمونو په مخنيوي کې يوه جدي ستونزه بلل شوې ده. د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې د ټولو گډونوالو ۸،٦ سلنه کېږي ويلي چې ټيټ پوهاوی د منځنۍ کچې ننگونه ده. ۱۹ گډونوال چې د ټولو گډونوالو ۳۲،۸ سلنه کېږي دا ستونزه لويه ننگونه گڼلې او تر ټولو ډېره برخه، يعنې ۳۴ گډونوالو چې ۵۸،٦ سلنه جوړوي، دوی دا ډېره لويه ننگونه بللې ده. په ټوله کې، د څېړنې پايلې ښيي، چې اکثريت گډونوال په دې باور دي چې د خلکو ټيټه پوهاوی د سايبري جرمونو د

مخنيوي لپاره يوه جدي ستونزه ده، چې ښيي د سايبري امنيت په اړه د خلکو پوهاوی زياتول اړين دي. د پورته پايلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۱۲ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۲ جدول: د خلکو ټيټه پوهاوی او غير مسؤلانه چلند

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننګونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لويه ننګونه ده | ۱۹ | ۳۲،۸ |
| ډېره لويه ننګونه ده | ۳۴ | ۵۸،٦ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د افرادو غير مسؤلانه سايبري چلند**

د افرادو غير مسؤلانه سايبري چلند د سايبري جرمونو په مخنيوي کې يوه جدي ننګونه بلل شوې ده. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې ۸،٦ سلنه جوړوي، ويلي چې غير مسؤلانه سايبري چلند د منځنۍ کچې ننګونه ده. ۱۷ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ۲۹،۳ سلنه جوړوي دا لويه ننګونه ګڼلې او تر ټولو ډېره برخه، يعنې ۳٦ تنه ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ٦۲،۱ سلنه جوړوي، دوی په دې نظر دي چې دا ډېره لويه ننګونه ده .په ټوله کې، د ګډونوالو ۹۱،۴ سلنه د افرادو غير مسؤلانه سايبري چلند د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره يوه جدي ننګونه ګڼي، چې ښيي د سايبري چلند د مسؤليت پوهاوي ته اړتيا ده. د پورته پايلو خلاصه په لاندې ۱۳ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۳جدول: د افرادو غير مسؤلانه سايبري چلند

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننګونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لويه ننګونه ده | ۱۷ | ۲۹،۳ |
| ډېره لويه ننګونه ده | ۳٦ | ٦۲،۱ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د سايبري امنيت لپاره د بوديجې کموالی**

د سايبري امنيت لپاره د بوديجې کموالی د سايبري جرمونو په مخنيوي کې يوه جدي ستونزه بلل شوې ده. د ۵۸ ګډونوالو له ډلې، ۴ تنو چې ٦،۹ سلنه کېږي ويلي چې د بوديجې کموالی د منځنۍ کچې ستونزه ده. ۲۰ ګډونوالو چې دټولو ګډونوالو ۳۴،۵ سلنه ګيږي دا لويه ستونزه ګڼلې او تر ټولو ډېره برخه، يعنې ۳۴ تنه ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ۵۸،٦ سلنه جوړوي، دوی دا ډېره لويه ستونزه بللې ده .په ټوله کې، د ګډونوالو اکثريت د بوديجې کموالي ته د سايبري امنيت د پرمختګ لپاره يوه جدي ستونزه ګڼي. د پورته پايلو خلاصه په لاندې ۱۴ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۴ جدول: د سایبري امنیت لپاره د بودیجې کموالی

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننگونه ده | ۴ | ٦،۹ |
| لویه ننگونه ده | ۲۰ | ۳۴،۵ |
| ډېره لویه ننگونه ده | ۳۴ | ۵۸،٦ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د زیربناوو کمزورتیا**

د زیربناوو کمزورتیا د سایبري جرمونو په مخنیوي کې یوه جدي ستونزه گڼل شوې ده. د څېړنې پایلې ښيي، چې د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ۵ تنو چې د ټول گډونوالو ۸،٦ سلنه کېږي، ویلي چې دا موضوع د منځنۍ کچې ستونزه ده. همداشان ۲۰ گډونوالو چې د ټول گډونوالو ۳۴،۵ سلنه جوړوي دوی په دې باور دي چې دا "لویه ستونزه" ده. ورته ډول تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳۳ تنو گډونوالو چې د تولو گډونوالو ۵٦،۹ سلنه کېږي، دوی په دې نظر دي چې دا ډېره لویه ستونزه ده .په ټوله کې، د گډونوالو ۹۳،۴ سلنه د زیربناوو کمزورتیا یوه جدي ستونزه گڼي چې د سایبري امنیت په ښه کولو او سایبري جرمونو د مخنیوي په لاره کې خنډ جوړوي. د پورته پایلو خلاصه او د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۱۵ جدول کې ښودل شوې ده.

۱۵ جدول: د زیربناوو کمزورتیا

| اندازه گیری واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| د منځنۍ کچې ننگونه ده | ۵ | ۸،٦ |
| لویه ننگونه ده | ۲۰ | ۳۴،۵ |
| ډېره لویه ننگونه ده | ۳۳ | ۵٦،۹ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

- **د سایبري امنیت د پوهاوي کمپاینونو اړتیا**

د دې پوښتنې له مخې، د گډونوالو لویه برخه (۹۱،۴) په افغانستان کې د سایبري امنیت د پوهاوي کمپاینونو ته اړتیا گڼي. د ۵۸ گډونوالو له ډلې، ۵ تنه چې د ټولو گډونوالو ۸،٦ سلنه جوړوي ویلي، چې دې کمپاینونو ته د منځنۍ کچې اړتیا ده، ۱۷ گډونوال چې د ټولو گډونوالو ۲۹،۳ سلنه جوړوي دا یې ډېره اړتیا بللې او تر ټولو ډېره برخه، یعنې ۳٦ گډونوال چې د ټولو گډونوالو ٦۲،۱ سلنه جوړوي دا یې ډېره زیاته اړتیا بللې ده .په ټوله کې، د گډونوالو ټولیز نظر ښيي، چې د سایبري امنیت د پوهاوي کمپاینونو ته په افغانستان کې یوه جدي اړتیا شته، چې باید د خلکو پوهاوی زیات شي ترڅو د سایبري جرمونو مخه ونیول شي. د پورته پایلو خلاصه په لاندې ۱٦ جدول کې ښودل شوې ده.

۱٦ جدول: د سايبري امنيت د پوهاوي کمپاينونو اړتيا

| اندازه ګیری واحد | شمېر | سلنه |
| --- | --- | --- |
| د منځنۍ کچې اړتيا ده | ۵ | ۸،٦ |
| ډېره اړتيا ده | ۱۷ | ۲۹،۳ |
| ډېره زياته اړتيا ده | ۳٦ | ٦۲،۱ |
| ټول | ۵۸ | ۱۰۰،۰ |

**مناقشه**

په افغانستان کې د سايبري امنيت د ننګونو او فرصتونو په اړه زموږ څېړنه څرګندوي، چې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د عامه پوهاوي، قوانين، ټکنالوژۍ او زيربناوو د کمښت په برخه کې ګڼې جدي ننګونې شتون لري. د معلوماتو تحليل ښيي چې په ګډونوالو کې ډېرى باور لري چې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق، د متخصصينو روزنه او د پرمختللو ټکنالوژيو کارونه ډېر اغېزمن فرصتونه دي. خو په ورته وخت کې، د خلکو ټيټه پوهه، د قانون پلي کونکو ادارو تخنيکي کمزورتيا، او د بوديجې کموالی د سايبري امنيت د ښه والي په وړاندې جدي ننګونې ګڼل شوي دي. د سايبري بريدونو د کشف او غبرګون لپاره د کافي وسايلو نشتوالی هم د ګډونوالو له نظره يوه جدي ستونزه ګڼل شوې ده. سربېره پر دې، د زيربناوو کمزورتيا او د سايبري امنيت لپاره د بوديجې نشتوالی د سايبري امنيت په برخه کې د جدي ستونزو په توګه ياد شوي دي. په افغانستان کې د سايبري امنيت د پوهاوي کمپاينونو ته اړتيا د ګډونوالو له نظره په لوړه کچه ارزول شوې، چې ٦۲،۱ سلنه يې دا ډېره زياته اړتيا بولي. دا څرګندوي چې د سايبري جرمونو په وړاندې د عامه پوهاوي کچه لوړول د دې ستونزې د حل لپاره اړين دي.

**نتيجه‌ګيري**

د څېړنې پايلې څرګندوي چې د سايبري امنيت د ښه والي لپاره په افغانستان کې جدي ستونزې او فرصتونه شتون لري. د خلکو ټيټ پوهاوی، د متخصصينو کمښت، د زيربناوو کمزورتيا او د قوانينو کمزوری تطبيق هغه ننګونې دي چې د سايبري جرمونو د زياتېدو سبب شوي دي. له بلې خوا، د نړيوالو سايبري امنيتي معيارونو تطبيق، د ټکنالوژۍ پرمختللي حل‌لارې، او د متخصصينو روزنه هغه فرصتونه دي چې د سايبري امنيت د ښه‌والي لپاره کولای شي ګټور ثابت شي. دغه څېړنه وړانديز کوي چې د سايبري امنيت د پوهاوي کمپاينونه دې زيات شي، د قانون پلي کوونکو ادارو تخنيکي وړتياوې لوړې شي او د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره کافي بوديجه ځانګړې شي. په ورته وخت کې، د نړيوالو معيارونو منل او د پرمختللو ټکنالوژيو کارونه بايد په لومړيتوب کې راوستل شي.

**خلاصه**

دغه څېړنه په افغانستان کې د سايبري جرمونو د مخنيوي لپاره اغېزمنو لارو چارو ته کتنه کوي او د دې لارو چارو سره تړلې ننګونې او فرصتونه تحليل کوي. د څېړنې پايلې څرګندوي، چې په افغانستان کې د

سایبري جرمونو زیاتوالی د تیټ پوهاوي، د متخصصینو کمښت، د زیربناوو کمزورتیا او د قوانینو د کمزوري تطبیق له امله رامنځته شوی دی. دغه ننګوني د سایبري امنیت په برخه کې د جدي ستونزو سبب ګرځي. له بلې خوا، د نړیوالو سایبري امنیتي معیارونو تطبیق، د پرمختللې ټکنالوژۍ کارول او د متخصصینو روزنه هغه فرصتونه دي چې د سایبري امنیت د ښهوالي لپاره اغېزمني او ګټورې لارې چارې برابرولی شي. څېړنه وړاندیز کوي چې د سایبري امنیت د پوهاوي کمپاینونه باید زیات شي، د قوانینو پلي کول باید قوي شي او کافي بودیجه دې ځانګړې شي، ترڅو د سایبري جرمونو مخه ونیول شي. همدارنګه، د سایبري ګواښونو سره مبارزه کې د نړیوالې همکارۍ زیاتوالی او د پرمختللو ټکنالوژیو کارول باید د لومړیتوب په توګه ونیول شي.

**مأخذونه**

1. Oloyede A, Ajibade I, Phillips A, Shittu O, Taiwo E, Kizor-Akaraiwe S. A Review of Cybersecurity as an Effective Tool for Fighting Identity Theft Across the United States. A. Oloyede, I. Ajibade, C. Obunadike, Phillips, O. Shittu, E. Taiwo and S. Kizor-Akaraiwe (2023): A Review of Cybersecurity as an Effective Tool for Fighting Identity Theft across United States, International Journal on Cybernetics and Informatics (IJCI). 2023 Oct 14;12(5).

2. Phillips A, Ojalade I, Taiwo E, Obunadike C, Oloyede K. Cyber-Security Tactics in Mitigating Cyber- Crimes: A Review and Proposal. International Journal on Cryptography and Information Security (IJCIS). 2023;13(2/3).

3. Awhefeada UV, Bernice OO. Appraising the laws governing the control of cybercrime in Nigeria. Journal of Law and Criminal Justice. 2020 Jun;8(1):30-49. Nigeria," J. LAW Crim. JUSTICE, vol. 8, no. 1, 2020, doi: 10.15640/jlcj.v8n1a3.

4. Chaubey RK. An Introduction to Cyber Crime and Cyber Law. Kamal Law House; 2009.

5. Okutan A. A framework for cyber-crime investigation. Procedia Computer Science. 2019 Jan 1;158:287-94.

6. Viraja VK, Purandare P. A qualitative research on the impact and challenges of cybercrimes. In Journal of Physics: Conference Series 2021 Jul 1 (Vol. 1964, No. 4, p. 042004). IOP Publishing.

7. Siahaan AP. Yasmirah Mandasari-Cyber Crime Prevention Strategy in Indonesia.

8. Buono L. Fighting cybercrime through prevention, outreach and awareness raising. InERA Forum 2014 Jun (Vol. 15, No. 1, pp. 1-8). Berlin/Heidelberg: Springer Berlin Heidelberg.

9 Alghamdi MI. A Strategic Vision to Reduce Cybercrime to Enhance Cyber Security. Webology. 2020 Dec 1;17(2)

# په زده کړه کې ChatGPT ته د هڅونې عوامل

پوهنیار دلاورشاه ځواکمن، شیخ زاید پوهنتون، کمپیوټر ساینس پوهنځی، معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه
برېښنالیک: dilawar.szu2@gmail.com

**لنډیز**

ChatGPT د مصنوعي ځیرکتیا (AI) یو پرمختللی ماډل دی، چې د انسان په څېر د متن پوهېدو او تولیدولو وړتیا لري. ChatGPT کاروونکو ته د طبیعي خبرو اترو کولو، پوښتنو ته ځوابونو ویلو، منځپانګې تولیدولو، د لیکلو، کوډ کولو او ستونزو حل کولو په څېر دندو کې مرسته کولو لپاره جوړ شوی دی. لکه څه ډول، چې مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژي ورځ تر بلې وده کوي او د ورځینې ژوند په مختلفو اړخونو یې اغېزه زیاتېږي، نو د دې ټکنالوژۍ په هغو عواملو پوهیدل خورا مهم دي، کوم چې د کاروونکو د منلو په اراده اغېزه کوي. دا کتابتوني څېړنه په لوړو زده کړو کې د ChatGPT د قبلولو او منلو په اړه تجربوي څېړنې تحلیلوي ، د هغه کلیدي عواملو پوهېدلو اړتیا په ګوته کوي چې په ښوونکو او زده کوونکو د نوموړي ټکنالوژۍ کارولو له امله اغېزه کوي. په تائید شوي عواملو کې د پام وړ ګټې احساس، اسانه کارولو احساس، په ChatGPT باور، د فیډبک کیفیت او د سستم غبرګون شامل دي، په دې څېړنه کې (۲۳) هغه تجربوي څېړنې ترکیب او تحلیل شوي دي، چې په زده کړه کې د ChatGPT غوره کولو عواملو کې د نمونو موندلو لپاره د موضوعاتو تحلیل پلي کوي. د دې څېړنې پایلې د راتلونکو څېړنو او د مؤسسو ستراتیژیو ته لارښوونه کوي، ترڅو تعلیمي نهادونو کې د مصنوعي ځیرکتیا ملاتړ وکړي.

**کلیدي ټکي:** ټکنالوژي، چټ جي پي ټي، عوامل، لوړې زده کړې، مصنوعي ځیرکتیا.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین. وعلی آله واصحابه اجمعین.**

د مصنوعي ځیرکتیا (AI) پرمختګ د زده کړې په ګډون په یو شمېر سکتورونو کې د پام وړ اغېزه کړې ده. د مختلفو (AI) ټکنالوژیو په منځ کې، ChatGPT چې د مصنوعي ځیرکتیا څېړنې ادارې OpenAI له خوا جوړ شوی دی، د پرمختللو خبرو کولو او د تعلیمي تجربو د غني کولو وړتیاؤو په درلودلو سره یې د پام وړ توجه جلب کړې ده. د (AI) پر بنسټ Chatbot په توګه، ChatGPT زده کوونکو ته شخصي، متقابل ملاتړ وړاندې کوي، پیچلو پوښتنو ته حل لارې چمتو کوي، د کورنیو دندو په اړه فیډبک ورکوي او د ازادو بحثونو لپاره امکانات برابروي. د دې هر اړخیزو ځانګړنو له کبله، ChatGPT د لوړو زده کړو په دودیزو زده کړو او تدریسي پروسو کې د مثبت بدلون راوړلو وړتیا لري [۱]. په هر صورت، یو شمېر عوامل دي، چې له امله یې زده کوونکي د ChatGPT کارولو ته مخه کوي [۲]. د ChatGPT په بشپړ ډول پېژندلو او تعلیمي نهادونو کې یې په ادغام باوري کولو لپاره د دې عواملو

پېژندل اړین دي. تجربوي څېړنو د ChatGPT د منلو مختلف اړخونه څېړلي، چې په کې د تخنیکي ځانګړتیاوو، د کاروونکو مطلب اخیستل، د موسسې پالیسۍ او پراخ تعلیمي شرایط شامل دي [۳، ۴، ۵].
په دې څېړنه کې، د تجربوي څېړنو هغه پایلې راټولې شوي دي، چې د زده کړې په برخه کې د ChatGPT د منلو په اړه اغېز لرونکي عوامل بیانوي. ددې څېړنې پایلې به تعلیمي ادارو، پالیسیو جوړونکو او ټکنالوژۍ ته پراختیا ورکوونکو سره د ChatGPT په تعلیمي چاپېریال کې د غوره کارونې اوپه پلي کولو کې مرسته وکړي.
د دی څېړنې جوړښت په دې ډول دی، چې د ChatGPT اړوند موضوعاتو لاندې تجربوي موندنې طبقه بندي او تر بحث لاندی یې نیسي او نوموړې څېړنه به لاندې پوښتنې ته ځواب ووایي.

1. **کوم عوامل دي، چې په زده کړو کې د ChatGPT په منلو اغېزه کوي؟**

په دې څېړنیزه مقاله کې ټولو هغو څېړنو ته کتنه کیږي، چې موخه یې په زده کړو کې د ChatGPT کارولو اغېزې ښیي او هغه عوامل په کې مطرح شوي وي، چې په لوړو زده کړو کې د ChatGPT منلو او کارونې اثر پکې څېړل شوی وي.

**موخې:** ددې څېړنیزې مقالې موخې په لاندی ډول دي.

- په زده کړو کې د **ChatGPT** کارولو په اهمیت پوهیدل
- **په زده کړو کې د ChatGPT کارولو ته د هڅوونکو عواملو پېژندل**

**کړنلاره:** په دې کتابتوني څېړنیزه مقاله کې له هغه مأخذونو او منابعو څخه استفاده شوې ده، چې په نړیواله او داخلي کچه معتبر ګڼل کېږي. د دې څېړنې موخه په زده کړه ییزو چاپېریالونو کې د ChatGPT کارونې اړوند څېړنو تحلیل دی. دا بیا کتنه یوه داسې سیستماتیکه پروسه تعقیبوي، چې اړونده څېړنې پیدا کړي، مربوطه ډاټا ترې ترلاسه شي او بالاخره پایلو ته ورسېږي، چې ټوله کړنلاره په لاندې ۱- شکل کې ښودل کېږي.



شکل ۱: د څېړنې ډیزاین مرحله

**سرچيني او د پلټني ستراتيژي**

د اړونده مقالو موندلو په موخه يو شمېر الکترونيکي ډيټابيسونه لکه Scopus، Google Scholar، PubMed، Web of Science، او IEEE Xplore ولټول شول. دا ډيټابيسونه د ټيکنالوژۍ، تعليم او ټولنيزو علومو په برخه کې د علمي مقالو د پراخه پوښښ له امله انتخاب شوي وو. د اړونده مقالو پلټني په موخه ځيني اصطلاحات لکه "ChatGPT"، "لوړې زده کړې"، "زده کړې""منل"، "تجربوي څېړنې"، "د ټکنالوژۍ منلو ماډل"، او "عوامل"، شامل وو. هغه مقالې چې يوازې په انگليسي ژبه کې ليکل شوي وې او له ۲۰۲۳ څخه تر ۲۰۲۴ م کال خپرې شوې وې، غوره شوې دي، تر څو وروستي او اړونده څېړنې ترلاسه شي.

**نتيجه گيري**

په دې څېړنه کې د زده کوونکو په منځ کې د زده کړې لپاره د ChatGPT په نوم د (AI) پر بنسټ د دې وسيلې د منلو او کارولو اغېزې څېړل شوي دي. د ChatGPT يا مصنوعي ځيرکتيا په هکله زياتره مقالې د ۲۰۲۳ او ۲۰۲۴ ميلادي کالونو ترمنځ خپرې شوې دي، دا په گوته کوي چې په تعليمي نهادونو کې د ChatGPT د منلو او کارونې په اړه د څېړنو شمېر زيات شوی دی او دا پراخيدل د ChatGPT د ممکنه اغېزو په اړه د زياتې دلچسپۍ او پېژندنې څرگندونه کوي. څېړونکي په زياتيدونکې توگه دې ته پام کوي چې څنگه ChatGPT په تعليمي کړنو کې ادغام کيدای شي ترڅو د زده کړې پايلې ښې کړي او تعليمي پروسې اسانه کړي. لاندې ۱- جدول کې هغه عوامل ذکر شوي دي، چې له امله يې محصلينو او ښوونکو ChatGPT کارولو ته مخه کړې ده.

۱ – جدول (هڅوونکي عوامل)

| شماره | عامل نوم | مأخذونه |
|---|---|---|
| ۱ | د گټورتوب احساس | [۱، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۲] |
| ۲ | د اسانه کارولو احساس | [۱، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳] |
| ۳ | په ChatGPT باور | [۱، ۶، ۱۰، ۱۲، ۱۴، ۱۷] |
| ۴ | د فيډبک کيفيت | [۱، ۱۰، ۱۲، ۱۶، ۱۹] |

**په زده کړه کې د ChatGPT کارولو هڅوونکي عوامل**

**د اسانه کارولو احساس**

په زيات شمېر سره تجربوي څېړنو تائيد کړې چې د اسانه کارولو احساس (Perceived Ease of Use) په کاروونکو باندې د پام وړ اغېزه کوي، نو له دې امله د ChatGPT کارولو ته مخه کوي. د بېلگې په توگه، هغه محصلين، چې ChatGPT دوستانه گڼي ډېر ليواله دي، چې د زده کړې لپاره ورځخه کار واخلي او په خپلو اکاډميکو کارونو لکه ليکنې او په څېړنيزو برخو کې يې په کار واچوي

[۸،۷،٦]. د ChatGPT ساده ډیزاین او مستقیم فعالیت په زده کړه کې اسانتیاوې رامنځته کوي او د هغو کسانو لپاره هم د لاس رسي او کارولو وړ ګرځي چې محدوده تخنیکي پوهه لري. د اسانه کارولو دا احساس د زده کړې داسې چاپېریال رامنځته کوي، چې محصلین د پیچلو ټکنالوژیکي انټرفیسونو سره مخامخ کېدو پرځای په خپلو تعلیمي اهدافو زیات تمرکز وکړي [۹ ، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳].

**د ګټورتوب احساس**

د کاروني احساس شوې ګټه په دوامداره توګه د کاروونکي په لیوالتیا او چلند مثبته اغېزه کړې ده، ترڅو له ChatGPT څخه ګټه پورته کړي. هغه کاروونکي چې باور لري ChatGPT یې اکاډمیک فعالیت پیاوړی کوي، کارولو ته یې مخه کوي. دا عامل په ځانګړي ډول د ښوونکو ترمنځ مهم دی، چې ChatGPT د تدریس د اسانتیا او د زده کوونکو اضافي ملاتړ لپاره یوه ارزښتناکه وسیله وګڼي. ښوونکي درک کوي، چې ChatGPT د درسي پلانونو په جوړولو کې مرسته ورسره کولی شي، شخصي فیډبک ترلاسه کولی شي او محصلینو سره په زده کړه کې مرسته کوي [ ۱، ۱۰، ۱۱]. د دې ترڅنګ، د اداري کارونو اسانه کولو او د تعلیمي تجربو د غني کولو له لارې، ChatGPT ښوونکو ته اجازه ورکوي، چې په موثرو تدریسي مېتودونو تمرکز وکړي. په اکاډمیکو دندو کې د ښه موثریت او اغېزمنتوب دا درک شوې ګټه زده کوونکي او ښوونکي دواړه په کلکه هڅوي، چې ChatGPT د خپلو تعلیمي وسایلو یوه مهمه برخه وګرځوي [۱، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴].

**په ChatGPT باور**

په ChatGPT باور د کاروونکو اړوند ټکنالوژۍ په اعتبار، دقت او امنیت کې د مرستې او لارښوونې په برخو کې د باور معنی لري [۱۴، ۱۵] . په ChatGPT باور د ټکنالوژۍ کارولو لپاره د کارونکو په چلند او اراده د پام وړ اغېزه کوي. کله چې کاروونکي د سیستم په وړتیا باور لري، نو ډېر احتمال لري، چې دوی نوموړی سیستم وکاروي، ځکه باور په ځانګړي ډول په تعلیمي برخو کې، چیرې چې د معلوماتو دقت او اعتبار خورا مهم دی، ډېر اړین دی. ښوونکي او زده کوونکي باید د ډاډ احساس وکړي، چې ChatGPT کولی شي د دوی اکاډمیکو پوښتنو ته دقیق او باوري ځواب وایي او پرته له غلطیو څخه د تعلیمي فعالیتونو یې ملاتړ وکړي. د باور دا احساس د دوامداره فعالیت، د مصنوعي ځیرکتیا په پروسو کې روڼتیا، د معلوماتو امنیت او محرومیت ډاډمن کولو له لارې رامنځته کیږي. کله چې کاروونکي باور ولري، چې ChatGPT یوه باوري وسیله ده چې اکاډمیک بشپړتیا ساتي، دوی ډېر لیواله دي، چې د زده کړې او تدریس په پروسو کې یې مدغم کړي [۱۷، ۱۸].

په زده کړه کې د مصنوعي ځیرکتیا په بریالۍ ډول پلي کولو کې باور د پام وړ اغېزه لري، او ډاډ ترلاسه کېږي چې کاروونکي د لوړو تعلیمي دندو لپاره په سیستم تکیه وکړي [۱، ۱۰، ۱٦، ۱۹، ۲۰]. په زیات شمېر څېړنو کې د باور اهمیت په دې ټینګار کوي، چې د دې سیستمونو جوړونکي او تعلیمي اداري د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژیو په پراخ ډول تطبیق او کارولو لپاره د باور ساتلو ته لومړیتوب ورکړي [۴، ۱۷، ۱۸، ۲۰].

**د فیډبک کیفیت**

د ChatGPT له خوا د کاروونکو غوښتنو او پوښتنو ته په وخت او دقیق ځواب ویل د فیډبک له کیفیت څخه عبارت دی [۱۶، ۱۹، ۲۰]. د لوړ کیفیت فیډبک چمتو کولو دا وړتیا نه یوازې د کاروونکو د زده کړې تجربې، رضایت او ChatGPT سره ښکېلتیا لوړوي، بلکې په ټکنالوژۍ باور هم رامنځته کوي. زده کوونکي په وخت او د رغنده فیډبک ستاینه کوي، چې د دوی د زده کړې پروسې ملاتړ وکړي او ChatGPT سره زده کوونکي دوامداره ښکېلتیا ته هڅوي [۲۱، ۲۲]. د فیډبک دا ډول میکانیزمونو لخوا رامنځته شوي دوامدار ښکېلتیا ډاډ ورکوي، چې زده کوونکي په فعاله توګه په خپله زده کړه کې ښکېل پاتې کیږي او د باور وړ تعلیمي همکار په توګه د ChatGPT څخه ګټه پورته کوي[۱، ۱۰، ۲۳].

**پایله**

په زده کړه او د تدریس په پروسو کې ChatGPT د پام وړ بدلون راوستلی دی. په دې څېړنیزه مقاله کې د مختلفو تجربوي څېړنو موندنې راټولې شوې دي او هغه مهم عوامل په ګوته کوي چې د زده کوونکو او ښوونکو ترمنځ د ChatGPT په منلو او کارولو اغېز کوي.

د اسانه کارونې وړتیا یو مهم عامل دی، ځکه چې کاروونکی د ChatGPT کارولو وړتیا او اسانه جوړښت ته ارزښت ورکوي. د ګټورتیا احساس یو بل مهم عامل دی، چې تعلیمي تجربې لوړوي او هم د ChatGPT په منلو او قبلولو کې د پام وړ اغېزه لري. باور یو بل اغېزمن عامل دی، د ChatGPT په اعتبار، دقت او امنیت کې د کاروونکو باور د ټکنالوژۍ سره د ښکېلتیا لپاره د دوی په لیوالتیا اغېزه کوي. سربېره پر دې، د فېډبک کیفیت هم یو مهم عامل دی، ځکه چې کاروونکي ChatGPT څخه د دوی پوښتنو په وخت سره، اړونده او رغنده ځوابونو ترلاسه کولو ته ارزښت ورکوي. په زیاته کچه څېړنو په یادو عواملو ټینګار کړی چې په زده کړو کې د ChatGPT په منلو او قبلولو کې د پام وړ رول لوبوي.

**مناقشه**

نن ورځ په ټکنالوژۍ کې د چټک پرمختګ له امله د ژوند په بېلا بېلو برخو کې د پام وړ بدلون راغلی دی. د څېرکو ټکنالوژیو له جملې څخه د ChatGPT په راتګ سره په تعلیمي برخه کې په ځانګړې ډول د زده کړې او د تدریس په مېتودونو د پام وړ اغېزه کړې ده. زده کوونکي کولی شي، چې د ChatGPT پر مټ په ډېره اسانه زده کړه وکړي، خپلو پوښتنو ته په کم وخت کې اړوند، چټک او دقیق ځوابونه پیدا کړي. د متقابلې زده کړې د ودې، انفرادي مرستې په چمتو کولو او د ستونزو د حل لارې په پیدا کولو کې ChatGPT د څېړونکو او متخصصینو پام ځانته اړولی دی.

**وړاندیزونه**

لکه څنګه چې تعلیمي اداري هڅه کوي، چې د زده کوونکو ښکیلتیا لوړه کړي او د زده کړو پایلې ښې کړي، نو غوره ده چې د موثرې زده کړې لپاره تعلیمي اداري د څېرکو تکنالوژیو خصوصاً ChatGPT څخه استفاده وکړي او په زده کړو او په تدریسي پروسو کې یې مدغم کړي.

- دا چې د **ChatGPT** ځینې عوامل لکه د اسانه کارولو احساس، د ګټورتیا احساس، هڅونه، فیډبک کیفیت او د خوشالۍ احساس، زده کوونکي د نوموړې ټکنالوژۍ کارولو او په زده کړو کې مدغم کولو ته هڅوي نو د ټکنالوژیو جوړوونکو او متخصصینو ته وړاندیز کېږي چې یادو عوامل ته لا توجو وکړي.

همداراز د دې څېړنې موندنو پر بسټ د افغانستان لوړو زده کړو وزارت ته د اړتیا په اساس وړاندیز کېږي، چې د پوهنتونونو خصوصاً د کمپیوټرساینس پوهنځي په کریکولم کې د مصنوعي ځیرکتیا مضمون ور اضافه کړي، ترڅو فارغیدونکي محصلین د مصنوعي ځیرکتیا په برخه کې خپله مسلکي وړتیا ښکاره او اړونده برخه کې د هېواد پرمختګ ته غنا وروبخښي.

**مأخذونه**


1. Almogren AS, Al-Rahmi WM, Dahri NA. Exploring factors influencing the acceptance of ChatGPT in higher education: A smart education perspective. Heliyon. 2024 May 25.
2. Opara E, Mfon-Ette Theresa A, Aduke TC. ChatGPT for teaching, learning and research: Prospects and challenges. Opara Emmanuel Chinonso, Adalikwu Mfon-Ette Theresa, Tolorunleke Caroline Aduke (2023). ChatGPT for Teaching, Learning and Research: Prospects and Challenges. Glob Acad J Humanit Soc Sci. 2023 Mar 1; 5.
3. Jo H, Bang Y. Analyzing ChatGPT adoption drivers with the TOEK framework. Scientific reports. 2023 Dec 19; 13(1):22606.
4. Al-kfairy M, Mustafa D, Kshetri N, Insiew M, Alfandi O. Ethical challenges and solutions of generative AI: An interdisciplinary perspective. In Informatics 2024 Aug 9 (Vol. 11, No. 3, p. 58). MDPI.
5. Heng WN. Adoption of AI technology in education among UTAR students: the case of Chatgpt (Doctoral dissertation, UTAR). 2023
6. Qu, K.; Wu, X. ChatGPT as a CALL tool in language education: A study of hedonic motivation adoption models in English learning environments. Educ. Inf. Technol. 2024, 1–33.
7. Masadeh RE, Majali S, Alkhaffaf M, Thurasamy R, Almajali D, Altarawneh K, Al-Sherideh AA, Altarawni I. Antecedents of adoption and usage of ChatGPT among Jordanian university students: Empirical study. International Journal of Data and Network Science. 2024; 8(2):1099-110.
8. Mutammimah H, Rejeki S, Kustini S, Amelia R. Understanding Teachers' Perspective toward ChatGPT Acceptance in English

Language Teaching. International Journal of Technology in Education. 2024; 7(2):290-307.
9. Zou M, Huang L. To use or not to use? Understanding doctoral students' acceptance of ChatGPT in writing through technology acceptance model. Frontiers in Psychology. 2023 Oct 26; 14:1259531.
10. Al-kfairy M. Factors impacting the adoption and acceptance of ChatGPT in educational settings: A narrative review of empirical studies. Applied System Innovation. 2024 Nov 7; 7(6):110.
11. Au WC. Examining the adoption of chatgpt technology among academics in higher education institutions in Malaysia (Doctoral dissertation, UTAR). 2023
12. Tiwari CK, Bhat MA, Khan ST, Subramanian R, Khan MA. What drives students toward ChatGPT? An investigation of the factors influencing adoption and usage of ChatGPT. Interactive Technology and Smart Education. 2024 Jul 24;21(3):333-55.
13. Lai CY, Cheung KY, Chan CS. Exploring the role of intrinsic motivation in ChatGPT adoption to support active learning: An extension of the technology acceptance model. Computers and Education: Artificial Intelligence. 2023 Jan 1; 5:100178.
14. Chivose EM. The Adoption and Usage Patterns of ChatGPT Among Students and Faculty Members in Higher Education: a Study of the University of Nairobi, Faculty of Education (Doctoral dissertation, University of Nairobi). 2023
15. Lee S, Jones-Jang SM, Chung M, Kim N, Choi J. Who is using ChatGPT and why? Extending the Unified Theory of Acceptance and Use of Technology (UTAUT) model. Information Research an international electronic journal. 2024 Mar 19; 29(1):54-72.
16. Almogren AS, Al-Rahmi WM, Dahri NA. Exploring factors influencing the acceptance of ChatGPT in higher education: A smart education perspective. Heliyon. 2024 May 25.
17. Choudhury A, Shamszare H. Investigating the impact of user trust on the adoption and use of ChatGPT: survey analysis. Journal of Medical Internet Research. 2023 Jun 14; 25:e47184.
18. Albayati H. Investigating undergraduate students' perceptions and awareness of using ChatGPT as a regular assistance tool: A user acceptance perspective study. Computers and Education: Artificial Intelligence. 2024 Jun 1; 6:100203.
19. Al-Mughairi H, Bhaskar P. Exploring the factors affecting the adoption AI techniques in higher education: insights from teachers'

perspectives on ChatGPT. Journal of Research in Innovative Teaching & Learning. 2024 Jan 19.

20. Almogren AS, Al-Rahmi WM, Dahri NA. Exploring factors influencing the acceptance of ChatGPT in higher education: A smart education perspective. Heliyon. 2024 May 25.
21. Bilquise G, Ibrahim S, Salhieh SE. Investigating student acceptance of an academic advising chatbot in higher education institutions. Education and Information Technologies. 2024 Apr; 29(5):6357-82.
22. Raman R, Mandal S, Das P, Kaur T, Sanjanasri JP, Nedungadi P. University students as early adopters of ChatGPT: Innovation Diffusion Study. 2023
23. Alhumaid K, Naqbi S, Elsori D, Mansoori M. The adoption of artificial intelligence applications in education. International Journal of Data and Network Science. 2023; 7(1):457-66.

# Factors Influencing Intentions Using ChatGPT in Education

Teaching Assistant Dilawar Shah Zwakman, Information Technology Department, Computer Science Faculty, Shaikh Zayed University.
**Emails:** dilawar.szu2@gmail.com

**Abstract**

ChatGPT is an advanced AI language model developed by OpenAI. It is designed to understand and generate human-like text, allowing users to have natural conversations, get answers to questions, generate content, and even receive assistance with tasks like writing, coding, and problem-solving. With the rapid advancements in AI technology and its increasing impact on various aspects of daily life, it is crucial to comprehend the factors influencing users' intentions to adopt. This systematic literature review synthesizes and analyzes empirical studies on the adoption and acceptance of ChatGPT in higher education, addressing the need to understand the key factors influencing its use by students and educators. The confirmed factors include perceived ease of use, perceived usefulness, trust in ChatGPT, feedback quality, usability, and system responsiveness. This study employs a qualitative synthesis of 23 peer-reviewed empirical studies, applying thematic analysis to uncover patterns in the factors driving ChatGPT adoption. The study’s implications inform future research directions and institutional strategies for integrating AI to support educational innovation.

**Keywords:** Adoption, ChatGPT, Factors, Higher Education, Technology

# Effective Strategies for Preventing Cybercrimes in Afghanistan: Challenges and Opportunities

Teaching assistant Samiullah Hassan[1], Shaikh Zayed University, Faculty of Computer Science, Department of Information Technologies.
Teaching assistant Habibullah Slimanzai[2], Shaikh Zayed University, Faculty of Computer Science, Department of Information Technologies
**Emails:** samiullah.szu@gmail.com and habibullah.slimanzai@gmail.com

## Abstract

The development of technology worldwide has led to advancements, but it has also created opportunities for the expansion of cybercrimes. This research examines the challenges and opportunities in implementing effective strategies to prevent cybercrimes in Afghanistan, intending to identify practical solutions. The research was conducted using a quantitative method, including a survey of 58 experts in the field. The findings reveal that significant cyber security challenges include a shortage of cyber security professionals, a lack of advanced technologies and infrastructure, weak law enforcement, and low public awareness. Despite these challenges, the study highlights several important opportunities, such as adopting international cyber security standards, fostering technological innovations, increasing public awareness, and allocating budgets specifically for security technologies. The study underscores how crucial it is to improve cyber security to prevent cybercrimes. It also provides insightful information for policymakers involved in cyber security. The research being conducted is essential because it uncovers significant challenges and opportunities to enhance Afghanistan's cyber security landscape.

**Keywords:** Afghanistan, Challenges, Cybercrimes, Cybersecurity, Opportunities, Prevention.

**Evaluation of large division for multinomial distribution law**

Senior Teaching Assistant Mohammad Zubair Tanweer, Faculty of Education, Math Department.

**Email add:** tanweer.zubair@gmail.com

**Abstract**

The Multinomial Distribution is a widely applicable formula in probability theory, used to calculate probabilities based on the repetitions of various events. This distribution is employed in cases where there is a division among multiple distinct categories or outcomes and is an extension of the Binomial Distribution. In this distribution, the probabilities of several outcomes (more than two) are analyzed, such as calculating the probabilities of multiple distinct results during a single experiment. The Multinomial Distribution requires the probability of each outcome's repetition in n trials, where each outcome is associated with a specific probability, and the sum of all probabilities must equal 1.

In this paper we examine the large division for multinomial distribution law, we analysis this case from a local theorem for binomial distribution law, and Hilbert space .

**Key words**: large division, multinomial distribution, Central Limit Theorem, random vector.

# The Effects of Green Manures on Soil Fertility

Senior Teaching Assistant. Mohammad Ismail MOQBAL, Shaikh Zayed University, Faculty of Agriculture, Khost.
**Contact Add:** mismail350@gmail.com / Cell Phone: +93 779954141

## Abstract

The term of "Green Manure" is generally refers to those plants that are cultivated to improve soil fertility and enhance soil structure. Historical evidence shows that green manure crops were cultivated in traditional agriculture nearly a thousand years ago and were used for green manure purposes. These plants are incorporating into the soil in a green state after reaching a certain level of growth to add organic matter and nitrogen to the soil to enhance soil fertility. Therefore, the term of green manure is used for them. Green manures are very beneficial for improving soil quality in agricultural systems. Historical evidence shows that green manure plants were grown in traditional agriculture almost a thousand years ago for the purpose of improving the soil. Generally, leguminous plants (nitrogen-fixing plants) are used as green manures, but in some cases, non-leguminous plants can also be cultivated depending on the climatic conditions of the area. Non-leguminous plants do not add nitrogen to the soil like leguminous plants, but they act as nutrient catch crops, meaning they help to protect nutrients from degradation and leaching, making them available for future crops. Green manures decompose quickly due to their freshness, about 75% decomposing in the first season, and the remaining residues have a lesser impact afterward. For maximum benefit, green manure plants should be included in crop rotation every third season. Increasing organic matter in the soil is considered one of the main purposes of green manures. In addition, chemical fertilizers degrade soil structure, so in order to make the soil fertile and protect the environment from chemical use, farmers should incorporate green manures in their agricultural systems.

**Keywords**: Green manure, Legume plants, Organic Matters, Soil fertility, Soil structure,

# Comparison of goat and cow milk

S. Senior Teaching Assistant Khyber Momand, Shaikh Zayed University, Agriculture faculty, Lecturers of Animal Science Department.
**Email:** Khybermomand2010@gmail.com

## Abstract

Milk is a white liquid substance, which is considered to be a complete balanced food with various nutrients in its composition, and the human body can use it well. Since most of the poor families in our dear country use goat's milk, but the nutritional composition of the milk has not been studied compared to other animals such as cows, so the nutritional value should be compared and investigated. Goat's milk has higher levels of calcium, magnesium and potassium than cow's and mother's milk, but it has less vitamin D, vitamin B12 and folate. The fat digestibility of goat's milk is higher than that of cows. Because goat milk fat particles have a small and wide surface area, the lipase enzyme in the intestine can break down the fat very quickly. The purpose of this research is to highlight the importance and value of goat milk, because the goat is known as the poor man's cow and plays a vital role in the socio-economic structure of the poor villagers. In this study, 40 samples of goat and cow milk were studied, and different chemical processes and methods were used on the collected milk samples of both animals, such as chemical analysis of milk samples using ISI standard methods, chemical analysis of milk fat. Objective: Gerber's method, milk protein was measured based on Jeldal's method and its value was determined. Also, in this study, the nutritional and medical value of goat milk and cow milk was compared based on T-Test and as a result, it was clarified that there is a significant difference in the nutritional value of goat and cow milk. No, but the fat globules in goat's milk are small, which increases the digestibility and nutritional value of goat's milk. In this study, we have compared only goat milk with cow milk, but in the current markets, besides cow milk, there are also milk from other animals such as cows; Therefore, their composition should also be studied and compared with goat's milk, and its composition and value should be known to the people.

**Key word:** Fat, Folate, Goat milk, lactose, Poor man's cow and Protein.

# Investigation of Nutritional Needs of Women During Pregnancy

Assistant Porfessor Khan Wazir Adil Shaikh Zayed University, Faculty of Education, Department of Biology.
Email add: khanwaziradil@yahoo.com

**Abstract**

Pregnant women deserve more attention and care than anyone else. They not only fulfill their own nutritional needs but also meet the growing nutritional requirements of their developing baby. There are four things that are very important for a pregnant mother to consider: diet, exercise, weight monitoring, and continuous consultation with a doctor and midwife. Good nutrition is the foundation of human health, happiness, and well-being. It plays a role in the prevention of diseases, improvement of health, strengthening of the immune system, and enhancing the quality of life. Improving nutrition programs has a positive impact on human rights, human dignity, and the social and economic development and growth of countries.

**Key words**: Useful food for pregnant women, nutritional needs, major problems, chronic diseases and weak condition.

# Soil Sampling for Nutrient Analysis

Associate Professor Abdul Khalil Afghani. Shaikh Zayed University, Faculty of Agriculture, Department of Agronomy.
**Email Add:** aakhalil2007@gmail.com

**Abstract**
Soil sampling and analysis play a crucial role in determining soil nutrient content, which is essential for effective soil fertility management. Through the analysis of soil samples, the nutrient status, quantity, and necessary amendments for specific crops can be identified. Soil sampling and its subsequent analysis require specific skills and appropriate tools. In this library-based review study provides a technical overview of soil sampling methods for nutrient analysis. It discusses key aspects such as planning before sampling, determining the appropriate number and timing of samples (typically before fertilizer application), tools used for soil sampling, and strategies for selecting sampling locations within a farm. Additionally, it highlights methods for collecting soil samples at different depths for various agricultural purposes and the proper labeling and transportation of samples to laboratories. Since many farmers in Afghanistan have limited knowledge of soil sampling techniques, this study aims to provide practical guidance to help them improve their soil management practices.

**Key Words:** Analysis, Nutrient, Soil, Sampling, Test.

# A brief introduction to some tourist areas in Khost province

Teaching Assistant. Zinat Arman. Shaikh Zayed University, faculty of Social Sciences, Department of History and Geography.
**Email Add:** zinatarman2023@gmail.com

**Abstract**
Tourism is emerging as a new industry globally, gaining influence from all sides in most industrialized countries of the world and reaping significant benefits from it. Afghanistan as a whole, and Khost province in particular, has many geographical, recreational, pilgrimage, and natural areas in most districts and the center that are worthy of tourist attention. Khost province has a favorable climate and significant recreational areas, making it a province worthy of tourists' attention. In this regard, the best conditions can be created for the tourism industry. If these areas are provided with paved roads, transportation facilities, hotels, small parks and parking lots, and other convenient services, it is not far off that this industry will grow well in Khost province and, on the other hand, the unemployment rate will decrease. This article, which is compiled about the tourist areas of Khost province, has attempted to systematically introduce a number of famous areas of the province that are important in terms of recreation, tourism, and geographical location. In collecting the materials for this article, library sources and resources were used, and interviews were conducted with scholars and professors in the field, as well as with local residents.

**Key word:** Tourism, tourist areas, historical monuments, historical places, Khost

# Credit Risk Management in Islamic Banking

Teaching Assistant،Tooryalai Sangeen, Shaikh Zayed university, faculty economic, deportment business administration
**Email**: tooryalaisangeen2019@gmail.com


## Abstract

Islamic banking is the provision of financial services within the framework of Islamic law and principles. Recent researches and experiences of Islamic countries show that Islamic banks have witnessed great achievements in the economic development of countries.

Compared to traditional banking, Islamic banking has special features in attracting and consuming financial resources. In this type of banking, the important principle is to share the profit and loss account, as well as avoiding interest transactions. This issue has exposed Islamic banks to various risks, the size and types of which are many times more than conventional banking. This issue has caused an increase in risk management in Islamic banking.

In this study, a final attempt has been made to introduce credit risk of Islamic banking. Introduction of Islamic banking, introduction of risk, risk management, objectives of risk management, risk strategy as well as Islamic financial contracts related to Islamic banking are explained.


**Key words**: Islamic banking, Credit risk, Risk strategy, Risk management, Risk management goals.

# The impact of E-commerce on the Economic

Teaching Assistant Akmal Nasir Amiri, Shaikh Zayed University, Economics Faculty, B.B.A Department.
**Email:** akmal.amiri@yahoo.com

## Abstract

E-commerce, as it is known today, was unimaginable just a few years ago. To put it another way, it used to seem impossible to search, purchase, and have tangible products delivered to your home via the Internet, but now days, it is possible to do so with total trust. E-commerce is the business model of the future. This study will describe the economic effects of e-commerce, particularly on manufacturing. A thorough evaluation of the effects of e-commerce on business expenses and productivity in developing nations is lacking, as evidenced by the research gap. The study's main objective is to determine how e-commerce impacts corporate expenses and productivity. Based on secondary data, the study employs a qualitative research methodology. This data was gathered from a variety of credible books, periodicals, and English-language publications with a global reputation. The findings demonstrate how e-commerce enhances customer service, sales execution, and procurement efficiency while progressively lowering operating expenses. It also encourages rivalry and creativity. The findings of the research show that by reducing expenses and increasing productivity, e-commerce may greatly strengthen any nation's economy. The long-term effects of e-commerce in underdeveloped nations should be evaluated through longitudinal studies in future study.

**Keywords**: information technology implications, electronic system affects, electronic commerce effects, and electronic commerce services.

# The Process and Management of Conflict in Administration

Teaching Assistant Nazir Jan Noori, Shaikh Zayed University, Law and Political Science Faculty, Department of Political Science and Inter National Relations
**Email:** nazirnoori.a@gmail.com

**Abstract**
Conflict in organizations is a natural and inseparable process that arises from the complexities of human interactions, thoughts, beliefs, differing interests, goals, and organizational structures. This article examines the process of conflict emergence within organizational frameworks, considering the factors that lead to its occurrence. The various stages of conflict development are scientifically explained, and the organizational impacts of conflict are discussed by highlighting its positive and negative aspects, along with proposing strategies for its management. Furthermore, different models and strategies for conflict management, which aid in resolving and managing disputes, are analyzed and elaborated in detail. The article is based on a library research method, where data from various academic sources have been collected, analyzed, and described. The findings indicate that effective conflict management not only enhances organizational efficiency and productivity but also contributes to fostering innovation, team cohesion, and trust among employees. This research provides valuable academic and practical recommendations for managers, policymakers, and researchers to effectively manage conflict in complex and dynamic environments.

**Keywords:** Administration, Conflict, Conflict Management, Conflict Processes, Conflict Resolution Strategies.

# Differences Between Adjudication And Arbitration

Teaching Assistant Rabani Wahdat, Shaik Zayed University, Law and political science Faculty, Department of Political Science and international relation.
**Email Add**: wahdat.r@gmail.com

**Abstract**
Adjudication and Arbitration are among the ancient methods of resolving disputes and are considered fundamental components of the Islamic Judicial System. Both methods play a significant role in resolving conflicts and ensuring justice.
The importance of studying this topic lies in clarifying the legitimacy of arbitration from the perspective of the four Sunni Schools of thought (Hanafi, Hanbali, Maliki and Shafii). The primary objective is to highlight the differences between the aforementioned methods and their roles in resolving disputes.
The main research question addressed in this study is: What are the differences between Adjudication and Arbitration? A descriptive-analytical method has been employed in the research, and the data collection method is library-based.
The study concludes that there are differences between Adjudication and arbitration in terms of importance, legitimacy, subject-matter authority, components, binding nature, selection of the judge and arbitrator, grounds for impeachment and the issuance of rulings so that arbitration should be utilized based on the nature of the disputes and conflicts, as it is not permissible to resort to arbitration in all matters.
**Keywords:** Differences, Arbitration, dispute resolution, lawsuit, Judiciary.

# Child Upbringing Until the Age of Two in the Light of Islam

Senior Teaching Assistant Abdul Samad Roshan, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
**Email**: abuhanifaroshan@gmail.com

**Abstract**

Islam, as a complete way of life, values human beings even before their existence. This attention is due to the necessity of reforming the environment and conditions in which a child will grow. The challenges faced by Afghan society primarily stem from neglecting children's upbringing, which has led to the country's deterioration and a lack of trust among individuals. Furthermore, mistakes made in choosing a life partner often result from insufficient attention to this crucial decision. The aim of this research is to guide individuals in making wise choices before forming a family so that they can raise children who contribute positively to society rather than becoming a burden on their environment and community. The significance of this study lies in the fact that Islam provides a comprehensive set of laws, guidelines, and instructions to create a suitable environment for a child even before birth. Thus, when a child opens their eyes and their heart begins to beat, they find themselves in a healthy and nurturing environment for growth and development. This is achieved through a unique collection of prophetic teachings aimed at improving the human environment. This research, after analyzing topics related to child upbringing through a descriptive and explanatory method in a structured article format, seeks to benefit individuals preparing to start a family.

**Keywords:** Islam, spouse selection, upbringing, family, early childhood, child.

## Institutions of Islamic government and the appointment of the caliph

Senior teaching assistant Mohammad Shahed, Shaikh Zayed University, Law and Political Science Faculty, Political Science and International Relations Department.
**Email Add:** mohammadshahedshahed792@gmail. com

**Abstract**
The special focus of this article is on the selection of the Caliph on the foundations of the Islamic government and on the three forces of the Islamic government. The issue of the selection of the Caliph and the three forces of the Islamic government is an important issue that the foundations of the Islamic government and the selection of the Caliph play an important role in the formation of the Islamic government and is considered an important part of the strength of the Islamic government. Therefore, in this study article, the foundations of the Islamic government, the methods of appointing the Caliph, the Islamic government of Amir characteristics, history of hilafat, the order of Hilafat and the three forces of the Islamic government, and the main role of three forces in the Islamic government or caliphate, have been discussed in every way. Different definitions and opinions of scholars about the Caliphate or Islamic government are also mentioned.
**Keywords:** Shura, Justice and Equity, Obedience, Importance of Shura, Tripartite Forces.

# Research on the problems faced in teaching history in central high schools of Khost province

Senior Teaching Assistant Saifullah Gharwal and Senior Teaching Assistant Asmatullah Ziar, Sheikh Zayed University, Faculty of Social Science History and Geography Department.
**Email**: gharwalsaifullah@gmail.com, asmatullah.zair@gmial.com

**Abstract**
History plays a vital role in establishing the identity and in the fostering and strengthening of national values; considering this point, special attention is essential to be payed to the teaching and learning of this subject and eliminate all obstacles to it; however, it is observed that there are many problems in the teaching and learning history in the country's educational institutions, where both teachers and students suffered. Therefore, the main purpose of this study was to collect and analyze the problems and challenges facing the teaching of history in the central high schools of Khost province. This was a field study, conducted in the central (Public and Private) high schools of Khost province. Purposive sample was used. A mixed approach (Qualitative and Quantitative) was taken into consideration. The data was analyzed through SPSS 23. The findings of the study indicate that teachers do not have accept to academic tours, do not use role-plays and project methods in teaching history. In teaching facilities, educational technology, documentaries, and historical atlas or maps are not used due to its availabilities. In terms of teaching environment, teachers face work pressure, there is no appropriate emotional and psychological setting and capacity-building programs for teachers have not been implemented so far. In addition, it was found that out of (26) teachers, only five were professionals in the field of history and (21) were non-professionals. The number of students in the classes was high and the content of the textbooks was not consistent and up to date.
**Key Words:** Khost Province, History, teaching, new teaching methods, teaching materials, teaching environment.

# Women's Rights in Islamic Sharia

Senior Teaching Assistant Pasoon Miakhil, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Department of Law, Khost - Afghanistan.
Email: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**Abstract**
It can be stated that Islam has recognized the rights of every human being to whom the term "human" applies. In particular, the Quran dedicates a specific chapter, Surah An-Nisa, to addressing women's rights. Islam acknowledges the status and position of women at a remarkably high level, granting them significant spiritual and social rights. These rights include the right to education, civil rights, political rights, the right to vote, freedom, and various other entitlements.
The significance of this research lies in its clarification of women's rights in the light of Islamic Sharia texts. It provides a comprehensive analysis of all aspects of women's rights, illustrating each right granted to women through examples from the early Islamic era. Additionally, the study examines the social status of women by discussing their rights as sisters, daughters, mothers, and wives.
This research has been conducted with several objectives in mind, including enhancing awareness of women's rights in Islamic Sharia, understanding the specific rights granted to women in various aspects of life, and providing insights into inheritance and commercial rights from an Islamic perspective.
Every research study follows a particular methodology. For this study, a library-based and explanatory method has been adopted. Moreover, the language of the research is standardized, adhering to all academic writing principles. The APA referencing system has been used, and a comprehensive list of sources is provided at the end of the study.
**Keywords:** Women's Sharia Rights, Women's Social Rights, Women's Political Rights, Women's Current Status, Government Initiatives.

# Marketing for the Domestic Products

Senior Teaching Assistant Hafizullahmeen Amin, Shaikh Zayed University, Faculty of Economics, Department of Business and Administration
**Email:** hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**Abstract**

There is no doubt that the issue of economics and scientific thought should be at the forefront of government programs, and the concern for development and taking steps towards progress are considered one of the basic goals of today's society; therefore, supporting production, moderation in consumption, and a sense of economic prosperity for the country are created. Supporting domestic production and educating people about consumption have many positive effects on society, including economic growth, job creation, solving unemployment problems, increasing income, developing domestic talents, growing international trade, developing industries and factories, and so on. Domestic production creates social and economic outcomes and leads to sustainable development, because sustainable development is possible based on domestic production. Domestic production is largely dependent on the agricultural and industrial sectors and is very important in the growth, development, and economic stability of our country; therefore, the agricultural sector is one of the most important sectors for economic growth and development and is considered the most important source of income in the country, as it constitutes a quarter of the Gross Domestic Product (GDP) and more than (50) percent of the country's people are employed in this sector. The industrial sector has a significant contribution to the country's economy and has high potential; because this sector plays a fundamental role in the country's economic chain. The industrial sector includes domestic products such as construction materials, food products, plastic industries, handicrafts, and others. After meeting national needs and demands, products are offered for export to other countries, and the export and trade development community becomes a large and independent economic power in the international arena; Therefore, the positive effects of supporting domestic products and the importance of domestic products on economic growth have been discussed in this article; So that on the one hand, supporting our domestic products and industries can be done in the light of laws and regulations, and on the other hand, we can provide the same in terms of consumption and culture, which means supporting domestic products means growth and development, and on the other hand, employment of the labor force within the country is created and plays a key role in eliminating unemployment.

**Keywords**: Employment, Economic growth, Marketing, Unemployment, Domestic production.

# A short introduction to intellectual property rights

Senior Teaching Assistant Fazal Rahman Ayoubi, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Political Science and International Relations Department.
**Email:** fazal.ayoubi@yahoo.com

**Abstract**
Intellectual property refers to creations of the human mind that are intangible form of property, such as inventions; literary and artistic work; designs; and symbols, trademarks and images used in commerce. Intellectual property provides certain inclusive rights to the inventors or creators of the property, in order to enable them to earn recognition or financial benefit from their creative efforts or reputation. This paper offers a concise introduction to the concept of intellectual property rights, including its various forms. Intellectual property rights encompass various form, including patent, copy rights, trademarks and trade secrets. Patent protect inventions, copyrights safeguard literary and artistic works, trademarks distinguish products and services, and trade secret safeguard confidential business information. By striking the right balance between the interest of innovators and the wider public interest, the intellectual property system aims to nurture an environment in which creativity and innovation can flourish. These rights incentivize innovation, foster economy growth by promoting investment, trade, and technological advancement. This research employs a descriptive design, collected data through the library-based method.

**Keywords**: copyright, intellectual property, trademarks, trade secret, patent.

# The importance of the industrial park in Khost province

Senior Teaching Assistant Khalid Pashtoon, Shaikh Zayed University, Faculty of Economics, Departments of National Economics.
Email addresses: khalid.pashtoon786@gmail.com

**Abstract**

Given that Afghanistan is endowed with rich agricultural and mineral resources, the rate of industrial growth remains significantly low. Industrial parks are crucial for fostering economic development. The absence of an industrial park in Khost province presents a substantial challenge. Consequently, this article aims to elucidate the significance, necessity, opportunities, and challenges associated with establishing an industrial park, thereby laying the groundwork for future initiatives in Khost province. Such parks are deemed essential for economic advancement, innovation, job creation, and the attraction of both domestic and foreign investments. They contribute to heightened employment levels, job opportunities, a reduction in imports, an increase in exports, and the enhancement of the private sector. Furthermore, they play a pivotal role in augmenting national income, drawing in investors, and bolstering domestic production, underscoring the economic importance of these parks. This study aims to explore the significance, necessity, opportunities, and constraints related to the establishment of an industrial park in Khost province. Employing analytical methods, the research identifies security concerns, inadequate 24-hour electricity supply, a shortage of skilled labor, limited raw material processing capabilities, insufficient governmental support, a lack of infrastructure, market demands, and a deficiency of basic services as principal barriers. By leveraging available opportunities, the government can address these challenges and ultimately pave the way for the establishment of a significant manufacturing hub.

**Keywords:** Economic stability, Investment, Khost, Industrial Park, Job opportunities.

# The position of marketing in international economic relations

Senior Teaching Assistant Mamor Din Mangal Shaikh Zayed University,Fculty of Economics,Department of National Economics.
**Email:** mamormangal2019@gmail.com

## Abstract

Marketing is a necessary, long, complicated, social and economic process that observes the flow of transferring goods and services from producers to customers. Marketing is not only important for building and developing relation for new goods and services inside a country while it is a necessity for creating and developing international economic relations. By marking besides the producers customers also maximize their utility and they would have wider options in selecting and procuring goods and services subsequently customers would satisfactory have access to qualitative goods and services that better address their desire and wishes. We need for designing a complex plan in marketing to reflect the needs of both sides. Considering to the importance and influences of marking both sides should look for perfecting the needs of each other as solutions so that by marketing we could develop our social and economic life. This is the only way enterprises and customers can follow to reach to the upper level of success. Marketing encourages producers for producing goods that can compete in international markets so that enterprises will be looking for producing qualitative goods and services. Creating and developing International economic relation causes capital accumulation so that employment will go up and unemployment comes down. If we import capital goods from foreign market and export our internal products this would increase our internal productions in term of both quality and quantity. This all show the role and importance of marketing in foreign economic relation and recommends for permanent endeavors in this area.

**Key words**: marketing international trade، ,investment,increase in employment,competition.

# Political Shifts of Major Powers and Their Effects on Small Countries: A Case Study of Afghanistan's 2021 Political Change

Senior Teaching Assistant Dr. Ahmad Javid Shakib, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism
Email: javid.shakib@gmail.com or javid.shakib@szu.edu.af

## Abstract

Since the Treaty of Westphalia in 1648, the rise of nation-states has prompted major powers to assert influence over smaller countries. European colonial powers, most notably Spain, established colonies across Africa, Asia, and the Americas, a trend that has persisted beyond the era of colonialism. As a result, small nations frequently grapple with instability and crises driven by the political fluctuations of these global powers. This article investigates the impact of the political dynamics of major powers on smaller states and explores the capacity of these nations to resist such external influences. Focusing on Afghanistan's armed resistance during the 2021 regime change, the author contends that while the political shifts of major powers significantly affect smaller countries, domestic revolutionary movements can also catalyze changes in the policies of these powers. Utilizing an inductive methodology informed by international relations theories, this study analyzes the complex interplay between the political fluctuations of major powers and the status of smaller nations. Furthermore, it delves into the role that major powers have played in shaping the economic and political landscape of Afghanistan, offering insights into the broader implications for international relations.

**Keywords**: Great Power, Small countries, Political fluctuations, Armed Resistance, Regime Change.

# How to reform the idea of separation of religion and politics

Senior Teaching Assistant Mohammad Saqi Adel, Shaikh Zayed University, Law and Political Science Faculty, Department of Political Science and International Relations
**E-mail**: mohammadsaqi1@gmail.com

## Abstract

The issue of separating politics from religion has been discussed long ago and this idea is called secularism. The problem is that secularists claim that religion is backward, rigid and strict, fixed, irrational and unreasonable, against progress and modernization, limiting individual and social freedoms, focusing on religious practices and affairs, etc.

Is this claim of secularists true? In this research and wrinting, the author has tried to challenge this claim based on reasonable reasons and the main purpose of this short writing is to show the readers that politics is not separate from religion but is a part of religion, especially the religion of Islam is an inseparable part, researches have been done on it, but in this research, the gaps that have not been discussed and written about have been filled. To achieve this goal, we used the library method as whole, collected quantitative, qualitative or mixed information from national and international reliable books, which were arranged in appropriate topics and topics after the analysis and analysis process. The importance of this article is that it is a policy-making research, so that Muslim rulers and Islamic scholars can use it in making their policies and put an end to this historical problem.

**Key words**: Causes, Politics, Reform, Secularism, Separation, Religion.

# Value of message in Communication

Assistant Prof. Assadullah Tanay, School of Communication and Public Relations, Public Relations Department
**Email:** assad.t.wj@gmail.com

## Abstract

In this article we examine the value of the message in communication. The message is not only the basis of communication, but it also facilitates the exchange of ideas and understanding between people. We will analyze different aspects of the value of the message, its effects, and its value in the light of new technologies.

The value of the message in communication refers to the information, concepts and feelings that are expressed in the message and have an important role in the process of accommodation, communication and understanding. The value of the message is not only limited to the content of the text, but also has an effect on the way it is presented, the mode of communication and the culture and experiences of the addressee. The message should be clear and in simple language, so that the addressee can understand it easily and have the information that will benefit the addressee and match their needs.

In addition to this, the important research books on the communication of today's technology permit are also considered, because the value of the message is an important topic in the science of communication, which is about the content of the message, its form and the way of receiving it. is discussing Message value is important in various fields, especially in social communication, business, and information technology.

It should be noted that the emergence of the Internet in the 20th century gave a new form to the value and concept of the message, that information is now spread at an unprecedented level and speed. Able to increase the quality of communication and give more interest to the interlocutor and make the communication process more powerful. The overall value of the message is the key points in the sincerity, clarity and effectiveness of the communication and its main purpose is that communication helps in the process of exchanging different ideas and information, and the message is

also a basic tool for this process. The other is that the message has been known to humans for a long time, with the development of human communication and communication, the message has also changed over time and cultural changes. The history of the message is expressed through language, artistic symbols and non-verbal communication, which has an important role in the development of human civilization.

As a result, it can be said that the value of the message in communication is the key element of communication effectiveness and communication success. If the message is appropriate and effective, it helps to achieve the desired results and develop the relationship, while inaccurate or unclear messages may cause confusion and bad relationships.

**Keywords:** Communications, Relations, Message, Technology, Audience and Information

**Shaikh Zayed**

**Quarterly Academic and Research Journal 2025, No: 37**

# Editorial Board

- ✏ **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- ✏ **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- ✏ **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- ✏ **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- ✏ **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- ✏ **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- ✏ **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- ✏ **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- ✏ **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- ✏ **Assist. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- ✏ **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- ✏ **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- ✏ **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**